# مورنۍ ژبه، تعلیمي نصاب او ځو نورې مقالې

آصف بهاند

# اهدأ:

استاد زلمي هېوادمل ته!

چې زموږ ژبې او فرهنګ ته يې
د يوې اکاډيمۍ په اندازه کار کړی دی.
د پېژندګلوۍ له پيل نه تر نن پورې يې په ادبي
څېړنو او فرهنګي کارونو کې په ورين تندي او
عالمانه چلند سره، زما مرسته او لارښوونه کړې ده.

(آصف بهاند)

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: مورنۍ ژبه، تعلیمي نصاب او څو نورې مقالې،

لیکوال: آصف بهاند،

د خپریدو نېټه: د ۲۰۲۱ کال اپریل،

د خپریدو ځای: افغان جرمن آنلاین پورتال.

# يو څو خبرې

زموږ ټولنه او خلک د تاريخ په يوه ځانګړي او نازک پړاو کې راګير دی. خپله کړي او بل چا کړي يې هم مالوم دي او ډېرو ته به يې د ولې؟ او څرنګه؟ دلايل هم مالوم وي. اوس خو دا سيمه (افغانستان) او دا خلک (افغانان) د ستونزو په داسې يو توفان کې را ايسار شوي يا را ايسار کړی شوي دي. د حل لار يا لارې او له دې ستونزو څخه د راوتلو چاره څه ده؟

سياسيون مو هر يو د خپل فکر له ادرسه نقشې باسي، ځانونه حق په جانبه او بريالي هم ګڼي، خو پايلې يې يا منفي دي او يا د نورو رسکونو تر څنګ، ګڼشمېر مالي او ځاني تلفات يې هم لرلي دي. نظامي حلالرې خو څو ځلې ازميل شوې دي، لکه ژرندې چې غنم خوري او وړه راباسي، نظامي حلالرې هم د انسانانو ککرۍ خوري او خاورې ايرې زياتوي.

لکه څنګه چې پيشکه د خدای له پاره موږک نه نيسي، له هغې سره د خپلې خېټې فکر دی، دغسې بهرنيان هم د افغانستان او افغانانو د خدمت فکر نه دي ليوني کړي، بلکې د خپلو لنډو او اوږدو موخو د ترسره کولو او خپلو ګټو د ترلاسه کولو په فکر کې دي.

نو دلته ده چې افغانان بايد د غفلت له درانه خوبه راويښ او د خپلو خلکو، وطن او ټولنې په فکر کې شي چې دا خلک او دا وطن بل څوک نه جوړوي، يوازې د همدې خاورې بچيان دي چې دا کار په سمه توګه او اخلاص سره ترسره کولای شي.

کومو ستونزو کې چې نن افغانستان او افغانان را ايسار دي، له دې څخه د خلاصون تر ټولو غوره، کم مصرفه او له کشکړيه خالي او نرمه لار، د نوي نسل روزل دي. دا ښه په ياد ولرئ:

**تر څو نوی نسل په سمه توګه و نه روزل شي، هيڅکله د سمون تمه و نه کړئ. د نوي نسل له روزلو پرته به تل له ستونزو او بدمرغيو سره لاس ګريوان اوسئ!**

ټولې هغه مقالې او کتابونه چې ما د نوي نسل د روزلو په موخه ليکلي دي، په هغو کې مې دا ويلي دي چې د جګړې په ټودېدو سره د نورو ورانيو تر څنګه زموږ د هيواد د څلورو نسلونو له تعليم سره مرورېدل، بې سواده يا کم سواده پاتې کېدل دي؛ خو له دې ټولو نا خوالو سره، سره زموږ نوی نسل زدکړو ته ليوال و او دی، هر کله او هر چېرې چې ډېر لږ امکانات هم ورته برابر شوي دي، له هغو نه په استفادې سره يې، پر ځان هر رنګ زحمتونه ګاللي دي او د نوي عصر نويو زدکړو ته يې د خپل ټېتر او ذهن کتاب پرانستی دی او زدکړې يې کړې دي.

ما څو ځلې په ټينګار سره ويلي دي او اوس بيا هغه په تکرار سره راالخلم او وايم چې:

**ـ د هغو خلکو او قوم تباهي ډېره نږدې ده چې له سواد، کتاب، مطالعې، تعليم، ښوونځي او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!**

**ـ د نــوي نسل د روزلو له پاره هــر پَل چې اوچــتيږي، زه يـې داسي انگيرم چې د نـوي ژوند د کلا پر ديواله يوه نــوې او زريـنه خښته ايښودل کېږي.**

**ـ که په يوه ټولنه کې زدکړي لږ او د گوتو په شمېر وي يا هيڅ نه وي، هغه ټولنه او هغه خلک هره ورځ لا هر ساعت له لسگونو ستونزو سره په عملي ډول لاس گريوان وي.**

**ـ په ټوله نړۍ کي دا يوه منل شوې خبره ده چې: چيرې چې ښونکی وي، هلته ډيوې وي، هلته رڼا وي او چيرې چې ښونکی نه وي، هلته نه ډيوې وي او نه د رڼا څرک.**

**ـ زه په دې عقيده يم چي د نوي نسل سمه روزنه، د ژوند نيالگي ته اوبه ورکول دي. که نوی نسل په علمي ډول، د اوسنۍ زماني له غوښتنو سره سم و نه روزل شي، د ژوند چينه او د راتلونکي نسل ونه مو وچه وگڼئ!**

په افغانستان کې د ورستيو څلورو لسيزو د ستونزو هر اړخ ته چې نظر واچول شي، د رامنځته کيدو عوامل او منفي پايلې يې موږ ته وايي چې د تعليم نشتوالی د ټولو ستونزو د رامنځته کيدو لامل ده؛ نو پر دې بنا د هر ډول تحليل پايله دا وايي چې په افغانستان کې يو ژور تعليمي انقلاب او بدلون ته اړتيا ليدل کېږي.

له پاسنيو يادو ستونزو نه د خلاصون يوازينۍ لار د تعليمي انقلاب په رڼا کې، په نوې بڼه د نوی نسل روزل دي داسي چې  د خپل وطن د ملي، تاريخي حقايقو په رڼا کې په نوې پوهې او هنرونو سمبال ټولنې ته وړاندې شي.

د مقالو په دې ټولگه کې **(مورنۍ ژبه، تعليمي نصاب او څو نورې مقالې)** زما هغه درېځلوېښت (۴۳) مقالې راټولې شوې دي چې د نوي نسل د تعليم په څرنگوالي او روزلو پورې اړه لري. ما دا مقالې په دې موخه په کتابي بڼه برابرې او د درنو لوستونکو په واک کې کېښودې چې گوندې، په نوې بڼه د نوي نسل د روزلو په لړ کې موثرې واقع شي.

په درنښت

پوهندوی آصف بهاند

هيدرسليف

ډنمارک

د ۲۰۲۱ کال اپريل

# د مطالبو فهرست

١ ـ پردۍ چاپېریال او د مهاجرو کوچنیانو د زدکړې مسأله
(د مورنۍ ژبې زدکړه، ساتنه او پالنه)، لومړۍ برخه ٨ ام مخ
٢ ـ پردۍ چاپېریال او د مهاجرو کوچنیانو د زدکړې مسأله
(د مورنۍ ژبې زدکړه، ساتنه او پالنه)، دویمه برخه ١٧ ام مخ
٣ ـ پردۍ چاپېریال او له کوچنیانو سره د ځلند مسأله، دریمه برخه
زوی ته د یوه پلار لیک ٢۶ ام مخ
۴ ـ پردۍ چاپېریال اوله کوچنیانوسره د ځلند مسأله، څلورمه برخه،
پلارته لیک ٢٩ ام مخ
۵ ـ په پردي چاپېریال کې مورنۍ ژبه، د کوچنیانو ادبیات او زدکړه ٣۵ ام مخ
۶ ـ مورنۍ ژبه، ستونزې او حلارې ۴۵ ام مخ
٧ ـ په پردۍ چاپېریال کې د کوچنیانو ادبیات او مورنۍ ژبه ۶١ ام مخ
٨ ـ د مورنۍ ژبې له پاره هڅې او د پښتو پر ځای اردو نصاب ٧٠ ام مخ
٩ ـ مورنۍ ژبه ژوند، پرمختګ، مرینه ٧٢ ام مخ
١٠ ـ پښتو ژبه ـ پښتو ورځ، شعارونه علمي عملي کارونه ٧٧ ام مخ
١١ ـ وړاندیز ته وړاندیز ٨١ ام مخ
١٢ ـ کتاب سوځوونه، د عربي هیوادو داعشیان او زموږ د وطن توپکیان ٨۴ ام مخ
١٣ ـ ځو مقالې، ځو څېړې او یو یادداشت ٨٧ امخ
١۴ ـ پــل، د افغانانو د میډیا په آسمان کې نوی ستوری ٩٠ ام مخ
١۵ ـ «پل» یو کلن شو ٩٣ ام مخ
١۶ ـ تال، د ماشومانو او کوچنیانو له پاره نوې دیوه ٩٧ ام مخ
١٧ ـ د چا؟ کړې ګناه پیټی ١٠۶ ام مخ
١٨ ـ قلم، تویک او چکچکې ١٠٨ ام مخ
١٩ ـ «راتلونکی نسل بناد کړئ» (د نوی نسل نوې روزنه) ١١٢ ام مخ
٢٠ ـ چیرې چې ښوونکی نه وي ١١۵ ام مخ
٢١ ـ پنځم کال دې بختور وي، «د ماشومانو د ادبیاتو کور» پنځمه کلیزه ١٢٠ امخ

۲۲ ـ د تعلیم ارزښت ۱۲۴ ام مخ

۲۳ ـ بیا یو څو ترخې خبرې، تعلیم او نوی نسل ۱۲۹ ام مخ

۲۴ ـ نوی ژوند او زوړ فکر ۱۳۵ ام مخ

۲۵ ـ د الفبا نوی کتاب او د محمود مرهون نوې هڅې،

(د نوی نسل د روزلو له پاره ګدایي) ۱۳۷ ام مخ

۲۶ ـ د تعلیمي نصاب پښتو کتابونه ۱۴۰ ام مخ

۲۷ ـ د سواد زدکړه، تعلمي نصاب، امکانات او زموږ دریځ ۱۴۳ ام مخ

۲۸ ـ د افغانستان تر حملو لاندې تعلیمي نصاب او محکوم زدکوونکي ۱۴۷ ام مخ

۲۹ ـ د ښونیز نصاب بدلون که تشې خبرې ۱۵۲ ام مخ

۳۰ ـ بیا د ښوونیز نصاب بدلون او بیا ټول کنګلونه لمر ته اېښودل ۱۶۰ ام مخ

۳۱ ـ زموږ تعلیمي نظام او د جهادي کتابونو لړۍ ۱۶۵ ام مخ

۳۲ ـ د ښوونې او روزنې کال او له ښونځې نه د نیمایي افغان

کوچنیانو محرومیت ۱۷۱ ام مخ

۳۳ ـ پرانستي ښونځي، له خندا او خوښۍ ډکې خولګۍ ۱۷۴ ام مخ

۳۴ ـ په علمي او مدرنه بڼه د افغانستان د نوي نسل روزنه د وخت اړتیا ده ۱۷۸ ام مخ

۳۵ ـ «ماشومان ګلان دي، ګلان ښه وساتئ!»

(د ماشوم د نړیوالې ورځې په پار) ۱۹۰ ام مخ

۳۶ ـ د پلار په پته د یوه زوی څو خبرې، (د پلار د ورځې په پلمه) ۱۸۷ ام مخ

۳۷ ـ د ښوونکوو نړیواله ورځ او څو غبرګونونه ۱۸۸ ام مخ

۳۸ ـ نوی نسل، نوې هیلې ۱۹۲ ام مخ

۳۹ ـ په پوهنتوني چاپیریال کې، غیر پوهنتوني ستونزې ۱۹۶ ام مخ

۴۰ ـ کابل پوهنتون، پخواني ټپونه، اوسنۍ وینې ۲۰۱ ام مخ

۴۱ ـ تاسو افغانان نه یاست ۲۰۵ ام مخ

۴۲ ـ مشرانو تاسو د ټوپک تخم کرلی ولې؟ ۲۰۷ ام مخ

۴۳ ـ په کابل کې پنځه میلیونه وږي، له غزې سره پنځه لکه مرسته ۲۰۹ ام مخ

۴۴ـ د لیکوال پېژندنه ۲۱۱ ام مخ

# پردی چاپيريال او د مهاجرو کوچنيانو د زدکړې مسآله

## (د مورنۍ ژبې زدکړه، ساتنه او پالنه)

## لومړۍ برخه

### ولي مو کوچنيان تراوسه پورې په خپلو مورنيو ژبو ليک لوست نه شي کولای؟

له خپل وطن څخه لرې، د خپلې ټولنې له چاپيريا ل څخه لرې، د مورنۍ ژبې د اوريدلو او ويلو له دايرې نه د باندې، د پردي کلتورترهراړخيز اغيز لاندې؛ په پردي چاپيريال کې د مورنۍ ژبې زدکړې، ساتنې او پالنې مسأله او د مهاجرت په پردي چاپيريال کې له کوچنيانو او تنکيو زلميانو سره د چلند او اړيکو موضوعات، هغه اړين او لومړني مسايل دي چې بايد قلموال يې هيڅ کله له پامه ونه غورځوي.

دغې اړيني موضوع ته هغه وخت زما پام شو چې په ۱۹۹۲ کال په پيښوركي مې د افغان مهاجرينو حال، د پيښور په يو كمپ (کچه ګړی) کې په خپلو سترګو وليد. بيا د وخت ناكردو او تندو بادونو پسې واخيستم او د روسيې پلازميني ماسكو ته يې ورغوځاركړم. په روسيه كې مې هم د افغان مهاجرينو بد حالت په خپلو سترګو وليد، بيا لكه نا بلد لامبوزن، وروسته له ډيرلاس او پښو اچولو مې پښه غربي اروپا ته ورسيده.

په دې ټولو پرديو چاپيريالونو کې مې د نورو مذهبونو ترتاثير لاندې، د نورو ژبو په دايره کې او د پردي كلتور ترسيوري لاندې وليدل چې څنګه يو ماشوم خپل عقايد، كلتور، ژبه او ټول معنوي شته هيروي او له لاسه يې وركوي. د همدغې غميزې په ليدو او د عيني اړتياوو پربنا مې ځان اړ وګاڼه چې كه نور څه مې له لاسه نه كيږي، حداقل د همدغې غميزې او نيګړتياوو يو تت شا نتې انځور خو د لوستونكو او تاريخ مخې ته كيږدم؛ نو هماغه و چې زړه نازړه مې د «لارورکولارويانو» په ورکولارو کې له ځان سره اخيستي لومړني يادداشتونه او د ماسكو په هراړخيز پردي چاپيريال کې شته ترخه واقعيتونه سره څنګ په څنګ كيښودل، پرتله مې كړل، بيا مې سره ومرورل او همدغه مقاله (پردی چاپيريال او د مهاجرو كوچنيانو د زدکړې مسأله) وليكله، له ماسكو څخه خپريدونكي اخبار«نويد» كې خپره شوه. بيا څه «ژرنده پخه او څه غنم لامده» د بې سرنوشته ژوند ناخوالو دې ته پرې نه ښودم چې د دې سلسلې بله مقاله وليكم، خو يادداشتونه مې څه پركاغذ او څه د حافظې په كمپيوتركي ثبتول.

د مهاجرت د همدې اړودوړ په لړ کې، تونده بادونو د څويم ځل له پاره لكه شكيدلی كاغذ يا وچه پاڼه په هوا كړم، په اروپا كې يې د ډنمارک په نامه په يوه سيمه کې وغورځولم. د توپانونو د لړڅه كرارتيا په پای کې مې ـ د چا خبره ـ نوم مې ايله په پنسل وليكل شو، ما هم لړڅه د ارامتيا احسا س وكړ، ژوره سا مې واخيسته او ارام كيناستم؛ خو خبر نه وم چې دا د بل توپان

نه مخکې غولونکې ارامتیا ده، داسې ارامتیا چې د سرېښنو په اصلې ډنډ کې سړې کېباسي. دا د سرېښنو ډنډ بې وطني ده چې د بې وطنۍ په وجه سړی په خپل لاس، په لیکلې بڼه د یو بل هیواد مقاماتو ته مجبوراً د پناه اخیستلو لیک ورکوي.

کله مې چې په اروپا کې، په ډنمارک کې د مهاجرو افغانانو ژوند، کورنۍ او کوچنیان له نږدې ولیدل، دوی هم له لوی نه نیولې، تروارږه پورې، د فرهنګې فقر د ستونزې ترڅنګ، ترسخت فرهنګې سترس (فشار) لاندې سا ایستله. افغانان لوستي وو، که نا لوستي، په رڼو یې کتلې چې دوی، د دوی زلمیان او کوچنیان خپل ټول معنوي شته له لاسه ورکوي. زه او ما غوندې ځینې نور فرهنګیان کومه اجرایي قوا په اختیار کې نه درلوده چې څه مو ترسره کړي وای؛ بیا مې ځان یوازې په دې ډاډه کاوه چې د دغه بد حالت انځور وکاږم او نورو ته یې وښیم؛ نومې په ماسکوکې د راپیل کړو مقالو لړۍ بیا پیل کړه.

له دې سره جوخت مې هڅه وکړه چې د ډنمارک د هیدرسلیف (Haderslev) په ښارګوټې کې – چې زه دیره یم – باید د رسمې مقاماتو په اجازه او مرسته، دمورنۍ ژبې د زدکړو کورسونه، په پښتو او دري ژبو پیل کړم. هغه شرایط او قانون چې د مورنۍ ژبې د زدکړې له پاره په هغه وخت کې د ډنمارک د حاکم ګوند له خوا وضعه شوي وو، له هغو شرایطو او قوانینو سره سم ما امکانات لرل.

د مورنۍ ژبې د ټولګي د جوړېدو له پاره باید دولس (۱۲) تنه کوچنیان چې عمر یې له څوارلسو کلونو ډېر نه وي، موجود وي چې په یاد ښار کې د افغانانو کوچنیان تردولسو هم ډېر وو. د مورنۍ ژبې د ښوونکې شتوالی، دا ستونزه هم نه وه. د ډنمارک په نورو ښارونو کې اکثراً غیر مسلکې ښوونکې د تدریس له پاره حا ضروو، خو موږ د مورنۍ ژبې د تدریس له پاره مسلکې ښوونکې درلودل. زما میرمن مسلکې ښوونکې وه، دکابل د پیداګوژي انستیتوت فارغ التحصیله ده او د افغانستان په لومړنیو ښوونځیو کې یې د تدریس ښه اوږده سابقه درلوده او ما هم د تدریس او درسې کتابونو د لیکل وښه اوږده تجربه درلوده.

موږ په ګډه هڅه وکړه چې لااقل د افغان کوچنیانو د باسواده کېدو په خاطر د مورنۍ ژبې کورسونه پیل کړو، څه ژرنده پڅه او څه غنم لامده، په کوربه هیواد کې د هغو ګوندونو حاکمیدل چې له بهرنیانو سره یې د مور نه، بلکې د میرې سلوک کاوه. په یوه مکتوب کې، چې ټولو بهرنیانو ته یې په متحدالمال ډول لیږلی و، لیکلې و چې: هغه پیسې چې موږ ستاسې د مورنۍ ژبې په زدکړه لګوو، ولې یې د ډنما رکۍ ژبې په زدکړه ونه لګوو.

بل خوا له بده مرغه ځینو افغانانو داسې انګیرله او انګیري یې چې دا دی دوی د افغانستان د تاوده تناره له سوځنده اور څخه راخلاص شوي او په ګل او ګلزار جنتخانو کې استوګن دي، نور نو مور، مورنۍ ژبه، وطن او خپل کلتور څه کوي. له کوچنیانو سره بې تفاوته برخورد، د هغوی د راتلونکې په باب فکر نه کول او ځینې نور دې ته ورته مسایل د دې لامل شول چې د مورنۍ ژبې کورسونه دایر نه شي. د دې نیمګړتیاوو او ستونزو ترڅنګه، د ایراني متعصبو کړیو د رواني ترور او ورانیو نغري له افغانستانه بهر هم تود دی او د همژبتوب، هم دینتوب اوهم کلتورتوب؟؟؟ ترنامه لاندې دلته هم زموږ د خپلو هیوادوالو په وجود کې خپل ناروا پلانونه تطبیقوي. د دوی له نظره هر پښتون طالب دی، پښتو د طالبانو ژبه ده او... ژوندۍ نمونې یې همدلته د ډنمارک په هیدرسلیف نومې ښار کې زما ترسترګو وړاندې تیرې شوي دي. یو ایراني پلوه ښاغلي؟ افغان داسې فکر کاوه چا چې له مازې پښتو وویله، طالب دی. ده به هرکله یوه پښتو ژبې افغان ته د طالب خطاب کاوه، کله چې له هغه نه د دې ادعا د ثبوت غوښتنه وشوه، هغه په ځواب کې وویل:

«او ده خانه همرای اولادای خود پشتومیګه!»

په همدې هيدرسليف نومي ښار کي يو افغان چي مورنۍ ژبه يي فارسي ده، په ايران او ايراني کلتور داسي مين دی چي د مجنون سر يي ګرولی دی، يوه ورځ چي ما ورته ياده کړه چي خپل کوچنيان د مورنۍ ژبې کورس ته راوليږي، ن ويه زغرده يي راته وويل:

«همرای ايراني ميشانمش، همراه تو نې!»
ځيني افغانان حاضرشول چي کوچنيان کورس ته راوليږي او ځينو يي لا نورې ډمامي غږولي. لنډه دا چي دې کار هم پايله نه درلوده. د همدې ستونزو له امله په هيدرسليف ښار کي د مورنۍ ژبې کورس په رسمي ډول جوړ نه شو، خو ما او ميرمني مي په غير رسمي ډول، پرته له دې چي د ډنمارک دولت او يا د افغان کوچنيانو ميندې، پلرونه کوم مزد راکړي، په خپله خوښه تدريس وکړ، خو اوس په ټپه ولاړ دی.

د ۲۰۰۱ کال په جنوري کي د سويډن په ستاکهولم کي د افغانانو «د قلم کلوب » په نوښت او د سويدن د ښوونې او روزنې وزارت په ملاتړ، په سکندنويايي هيوادونو (ډنمارک، ناروې، سويډن او فنلند) کي د مورنۍ ژبې د ښوونکو د زدکړو او تجربو د غني کيدو او له يو بل سره د علمي اړيکو او د تجربو د راکړې ورکړې د لوړتيا په خاطر، يو تعليمي ورکشاپ جوړشو. ورکشاپ ته زه (آصف بهاند) هم په رسمي ډول وربلل شوی وم. ما د پښت وژبې، ادب او په پردي چاپيريال کي د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتنې، پالنې او د مورنۍ ژبې د تدريس د ستونزو په اړوند د يوې مقالي د حوصلي په چوکاټ کي وينا وکړه.

همدغو کارونو بيا دې ته وهڅولم چي په ماسکو کي د پيل کړو مقالو سلسله بيا راپيل کړم. په دې اړوند مي درې نورې مقالي وليکلي او خپرې مي کړې. له لوستونکوځخه په ښښني سره بايد خپله تيروتنه داسي تصحح کړم:

کومي دوې مقالي چي ما په بيلا بيلو افغاني ويبسايتونو کي د:

پردی چاپيريال او له کوچنيانوسره د چلند مسأله (پلاربې هيروي)،

پردی چاپيريال او له کوچنيانو سره د چلند مسأله (پلارته ليک).

ترسرليکونو لاندې د دې سلسلي د لومړۍ او دويمې برخي په توګه خپرې کړې دي، په حقيقت کي دريمه او ځلورمه برخه ده. لومړنۍ برخه همدا مقاله (پردی چاپيريال او د مهاجرو کوچنيانو د زدکړې مسأله، ما له کلمه نه راځي) او دويمه برخه يي (پردی چاپيريال او د مهاجرو کوچنيانو د زدکړې مسأله، د مورنۍ ژبې زدکړه، ساتنه او پالنه)؛ په حقيقت کي زما د هغې وينا متن دی چي ما په ستاکهولم کي په ياد ورکشا پ کي اورولي وه او له ستاکهولم نه په خپريدونکي فردا مجله کي خپره شوې هم وه (د۲۰۰۲ کال د مارچ او اپريل ګڼه)؛ که خير و، په همدې مقالي پسې به په لړ ځه بدلون سره بيا خپره شي.

او اوس هم په خپله مقاله:

«اورونه بل دي

کورونه سيځي

سکروټې دل دي

دودونه خيځي

داسي ځوک نه شته

## چې دا اورمړکا...»

(لطف الرحمن خاموش)

هوکې دغه ناروا اور زموږ په وطن کې بل کړای شوی دی او د دغه اور خوراک د هرافغان مادي او معنوي شتمني او د دوی غوښې او هډوکي دي. د دغه اور له سوځنده لمبو څخه یو شمیر افغانان نورو هیوادونو ته کډه شوي، د مهاجر نوم یې ځانته کټلی او د چا خبره د سرینو په ډنډ کې راګیر شوي دي.

هجرت خپله ترخه کلمه ده او له بده مرغه دا تریخوالی، اوسنی زماني ترټولو خلکو زیات، افغانانو ته ورڅکلی دی. په هجرت کې انسان ډیر څه له لاسه ورکوي. زما یو فلسفي دوست به هرکله دا خبره یادوله:

«کله چې څوک د چا کره میلمه شي، خپله ډیره سلنه آزادي له لاسه ورکوي، د بل کره ډیر څه په سوال غوښتل کیږي او...»

اوس نو راشه پردی وطن او پردی چاپیریال له پردیو افکارو او پردیو قوانینو سره وګوره. اساسي مسأله دا ده چې اوس خو راپیښه ده او له پیښې څخه خو هسې هم تیښته نه شته. څه د پاسه درې کاله کیږي چې زه هم د دې درې ورې کښتې له هغو سورلیو څخه یم چې ډیرو وطنونو ته مسافر، مهاجر، بې کوره او بې ادرسه شوی یم. ما د مهاجرت د نورو ترخو ترڅنګه، د افغان کوچنیانو راتلونکې زوروي او هرکله په دې فکر کې یم چې په پردیو چاپیریالونو کې به دافغان کوچنیانو د سواد مسأله څنګه کیږي؟ ځکه چې مهاجرت هرڅه له انسان څخه اخلي؛ ژبه، کلتور رواجونه، کور، جومات، مړی، ژوندی، هدیره او...

خو موږ باید ځانونه تسلیم نه کړو. له ټولو میندو او پلرونو سره ښایي چې د نورو ناخوالو سره د مبارزې ترڅنګه، په جدي ډول له دې ستونزې سره هم مبارزه وکړي، ترڅو زموږ کوچنیان له خپل فرهنګ، تاریخ، عقایدو، ادبیاتو، ژبې او... څخه بیګانه او لرې پاتې نه شي او که ځای پرځای لاس ترزنې کینو، خدای مه کړه سبا به زموږ د هریوه کوچنیان بې سواده او له خپل فرهنګ او ژبې سره نا آشنا رالوی شي. بیا به نوی نسل له خپل فرهنګ، ژبې او تاریخ سره نا بلده او بیګانه وي؛ بیا به دا د شرم پیټی چیرته او تر څو پورې پر شا چلوو.

دلته په روسیه کې د اټکل له مخې د مهاجرو افغانانو پنځه نوي سلنه مشران باسواده دي، خو خپلو کوچنیانو ته حد اقل الفبا او د خپلې مورنۍ ژبې لوستل او لیکل نه شي ورزده کولای. وبه منو چې ښوونځي نه شته او شرایط په جدي ډول خراب دي، خو راځئ چې په ډیر ابتدایي ډول یې له کورني سواد څخه پیل کړو. دا خبره کومه نوې خبره نه ده، پخوا هم زموږ په هیواد کې دا رواج و چې په کورونو کې به د لومړني سواد زدکړه پیل کیده. په دې ډول به موږ وتوانیږو چې حد اقل د مورنۍ ژبې د لوستلو توان خپلو بچیانو ته ورکړو او که دا و نه شو کړای، نو زموږ د بچیانو برخلیک به داسې شي چې بیا به لکه ځینې ښاغلي، خپلې کورنۍ ته به هم په خپله مورنۍ ژبه لیک نه شي لیکلای. دلته ماسکو کې به د خپلو سترګو یو لیدلی حال تاسو ته ولیکم:

یوه ورځ په یو ځای کې ناست وم، د دوستانو له ډلې څخه یو تن د وطن په لوري روان و او دی په دې ښه پوهیده چې وطن، کلي او کور ته په رسیدو سره، د دې زلمیانو کوم چې دلته ژوند یا زدکړې کوي او یا د محصل په نامه له وطن څخه رالیږل شوي دي، د دوی کورنۍ خامخا د خپلو زامنو او بچیانو حال او احوال ورځینې غواړي. ټولو ته یې وویل:

هلکانو! خپل احوالونه د لیکونو په ترڅ کې ولیکئ چې زه یې ستاسو کورنیو ته ورسوم. څکه لیک نیم دیدن دی او ستاسو کورنۍ خامخا ستاسو د لیدلو هیله لري. هغوی وویل:

سمه ده.

څو شیبې وروسته یو زلمی کاغذ او قلم په لاس کوټې ته راننوت او وې ویل:

دا دی کاکا، قلم او کاغذ مې راوړل، هرڅه چې زه درته وایم ته یې ولیکه.

وطن ته تګونکي دوست مخ ورواړاوه او ښه بد رد یې ورته وویل. ما په هغې شیبې کې د دې دوست په سترګو او څیره کې یأس او خواشیني ولیدل. ده ورو تر شونډولاندې د قهر په څپو کې دا مطلب زمزمه کاوه:

سرې لمبې مې خوښي دي، خو مړه خوړلن ته نه راځم
دا ځلې کـه لاړم، بـیـا بـه دې وطـن تـه نـه راځم

دغه زلمي چې خپلې کورنۍ ته په بل چا لیک لیکه، وړوکی له وطن څخه راليږل شوی و، مور، پلار او کورنۍ یې نه وه ورسره چې څه یې زده کړي وای. دی په لیلیه، پارک، پوهنځي سرک او نورو ځایونو کې هره شیبه له پردۍ ژبې، پردي کلتور او پردیو خلکو سره مخامخ و او... څکه تر دې سرحده پورې رسیدلی و؛ خو مور او تاسو خو له خپلو بچیانو سره یو ځای یو، سواد هم لرو او د فرهنګ ـ فرهنګ چیغې هم وهو، د دې په باب ولې فکر نه کوو چې:

ولې مو بچیان تراوسه پورې په خپلو مورنیو ژبو لیک لوست نه شي کولای؟

راځئ په دې پوښتنه لږ تم شو، فکر وربانديې وکړو او جدي پاملرنه ورته وکړو. حد اقل باید خپلو زامنو او لونو ته د خپلې مورنۍ ژبې لیک لوست وښایوو، د خپلې ژبې هیرول او د پردیو ژبو لیکل او لوستل او یادول ویاړ و نه ګڼو.

شاعر ډیر ښه او پر ځای ویلي دي:

پردۍ ژبه زده کول که یو هنردی
خپلــه ژبــه هیـرول بې هنري ده

له بده مرغه ما لکه د نورو ډیرو افغانانو په څیر په پاکستان کې د افغان مهاجرو ژوند او هلته د مهاجرت چاپیریال هم ولید. زه به تاسو درنو لوستونکو ته یوه وړه مستنده نمونه ولیکم چې له دې موضوع سره نیغې اړیکې لري. اوس به تاسو ولولئ چې افغان مهاجرو کوچنیانو ژوند او زدکړه ځنګه ده، د هغو کوچنیانو ژوند او زدکړه چې پلرونه یې د اسلام د مقدس دین څخه د دفاع په نامه اړ ایستل شوي وو او اوس هم اړایستل شوي دي، د هغوی کلمه هم نه ده زده.

زه د خپلې کورنۍ له یو شمیر غړو سره د۱۳۷۲ هجري شمسي کال د ثور په وروستیوکې له خپل کور، کلي، جومات، نغري او... څخه مهاجرت ته اړ ایستل شوم او لکه ډیرې افغانان پیښور ته لاړم. په پیښور کې تلاش ډیر دی، هرڅه په هڅه کې دي، هرڅوک زغلي، خوار زغلي، بډای زغلي، روغ زغلي، ناروغ زغلي، هرڅه په تلاش کې دي. د ژوند په تلاش کې، د ژوند د وسایلو او ډوډۍ د پیدا کولو په تلاش کې. څوک په یوه مړۍ ډوډۍ پسې هڅه کوي او څوک بیا د سرمایې د زیاتوالي حرص پسې اخیستي وي او له یوې تیارې تربلې تیارې په منډو سروي. په دې ښارکې د ټولو افغان کډوالو ژوند تریخ دی. شتمن یې هم په عذاب دی او بیوزلی خوهسې هم خدای د عذاب له پاره پیدا کړی دی.

ما په ګاونډیو هیوادونو کې د افغان کډوالو د ترخه ژوند په باب ډېر څه اوریدلي وو، خو د لومړي ځل له پاره مې د پېښور د کچه ګړۍ په کمپ کې د دوی ژوند له نږدې په سترګو ولید، هلته افغان مهاجرینو په داسې بد حالت کې ژوند کاوه چې ما یې کله اټکل هم نه و کړی.

د۱۳۷۲ ل ل کال د سرطان د میاشتې په لومړۍ نیټه مې د کچه ګړۍ د کمپ په کوڅو کې په لسګونو معیوب، خوارځواکي (سؤتغذي) او بې سواده کوچنیان ولیدل. ما ولیدل چې یو اته، نه کلن په دواړو پښو شل او په ژبه ګونګ و. په کونه ښښیده او له خلکو څخه یې په اشارو خیر غوښت. ښایي خپلې کورنۍ ته به یې له همدې لارې ډوډۍ پیدا کوله. کله یې چې زه ولیدلم، نو د آیسکریم کراچۍ ته یې لاس ونیو او د آ آ ، آع آع د غږونو په ایستلو سره یې له ما څخه روپۍ غوښتې. کله چې زه ورنږدې شوم، په ځان مې یې څو زخمونه او داني هم ولیدلې، څو کلدارې مې په لاس کې ورکړې او نور مې یې د لیدلو توان نه درلود.

ما په همدې ورځ ولیدل چې د کال ماډل په یو ښکلي ډاتسون کې یو مجاهد؟ وررور سپور و، په ډېره بیړه یې موټر چلاوه او نږدې و چې د انقلاب او جهاد د لارې محصول ماشوم ترموټر لاندې کړي.

د افغان مهاجرینو په کمپونو کې په سلګونو او زرګونو داسې کوچنیان شته چې د هریوه ژوند د لیکلو او ژړا وړ دی او که موږ د خپلو بچیانو د سواد زدکړې او تربیې ته پاملرنه و نه کړو، په همدې برخلیک به اخته وي. دلته به یې زه یوه ډېره ښه اومستنده نمونه، چې د مصاحبې په ډول لیکل شوې ده، وړاندې کړم:

یوه ورځ مې په پېښور کې د یوې مجلې پر لومړي مخ، پر دغه سرلیک باندې سترګې ولګیدې:

**«ما له کلمه نه راځي.»**

په ډېره بیړه مې د نظر وړ مخ راواړاوه، هلته له دوو عکسونو سره دغه مضمون او مرکه چاپ شوې وه:«

نوم: زین الدین،

د پلار نوم: غواص،

عمر: پنځلس کاله،

علاقه: کندوز، ګورتیپه،

حال: فارست پلوسي کیمپ، پېښور،

ملاقات: نورالبشرنوید.

ما ته یاد نه دي چې زه کله راغلی وم. د مور په غېږ کې وم، وروسته چې لوی شوم، نو په هرڅه پوه شوم. زه افغان مهاجر یم. د کندز ولایت د ګورتیپې اوسیدونکی. دلته وړوکی لوی شوم. پلار مې درې کاله وشول چې په افغانستان کې شهید شو. هغه د کمانډرمسعود سره و، زما پلار خپلو مجاهدو دلته پېښور ته راوړ، ملګرو یې زما مور ته ووې چې دی شهید دی، د خراسان کیمپ سره ښخ کړای شو.

چې زما پلار مړ شو، زما د پلار ملګري هم نه راتلل. زما دوه ماشومان ورونه هم دي. ډوډۍ به نه وه، راشن کارت راسره هم نه و. ما یوه ورځ ماشومان همزولي لیدلي وو چې هغوی خلکو ته سپیلني لوګي کول او خلکو به پیسې ورکولې. ما هم دا ډبې جوړ کړ او مور ته مې ووې چې ستاسو او دوو ماشومانو ورونو له پاره ډوډۍ راوړم. مور راله دوه روپۍ راکړې او ما د سپیلنو

داني په بازارکې واخستې. په اول ځل چې ښار ته راغلم او ما سپیلني چا ته لوګي کړل، نو هغوی شپږ پیسیز راکړو، زه ډیر خوشحاله شوم. ټوله، ټوله ورځ په بازارونو کې وګرځیدم.

ما ته یاد نه دي چې په اوله ورځ ما څو روپۍ پیدا کړي دي، خو چې کور ته لاړم، نو ډیر ستړی وم او ښې مې خوږیدې. ما مور له پیسې ورکړې، بیا مور څه پیسې راکړې او ما ورله ډوډۍ راوړه.

دا زما څه د پاسه یو کال وشو چې د کمپ نه رارawan شم او خلکو ته په پیښورکې سپیلني لوګي کوم. څوک راله دیکې راکړي، راته وقهریږي چې مه کوه لوګي راباندې بد لګیږي. څوک راله څه نا څه پیسې راکړې. ما ته دا هم سوال ښکاریږي چې خیرات وغواړم، خو له دې سوال سره عادت شوم. اول ـ اول به مې زړه خفه کیده، اوس چې مې مور او دواړه ورونه ډوډۍ وخوري، نو ډیر خوشحاله شم. ډیر ځلې خلکو وهلی رټلی یمه، خو مور راته وایي چا سره جنګونه مه کوه، موږ په پردي وطن کې یو، دلته خو ته له خلکو نه ډوډۍ غواړې او چې څوک څه غواړي، نو هغوی ته خلک ستغې سپورې وایي. موږ ته کله ـ کله مور د شپې د خپل وطن قیصې کوي. زموږ زړه ډیر خفه شي چې زموږ کور به هم وران وي.

چې زه خبر شم زما په وطن کې جنګ دی، نو ډیر خفه شم. که زموږ وس کیدای، نو خپل کور ته به تلي وو، خو خلک وایي هلته ډوډۍ نه شته. زه د جمعې په ورځ چهټي کوم خپل ورونه د پلار قبر له بوځم. اول ـ اول به زما ماشومان ورونه او زه قبر ته ډیر ژړیدو، زما مور به هم ډیر ژړل. اوس موږ نه ژاړو. زما مور هم چې قبر له راشي، نو ډیر ساعت خفه وي. زما وړوکي ورور یوه ورځ زما مور ته ویلي وو چې:

موږ خپل وطن ته ځو، نو پلار به هم بوځو. په هغه ورځ زما مور ډیر ژړلي وو. زه هم نه پوهیدم چې زما مور په دې خبره ولې وژړل، خو اوس پوهیږم. زه هم کله ـ کله خوشحاله شم چې خپل کور ته به ځو، خو چې د پلار قبر ته ګورم، نو بیا خفه شم چې زما پلار به دلته پاتې شي.

ما ته دا پیښورهم لکه خپل وطن ښکاري، ځکه چې دلته وړوکی لوی شوی یم. هره ورځ د سپیلنو لوګي کولو له پاره فردوس سینما، مالګې منډیې، خیبربازار او ډبګرۍ ته ځم او واپس بیا روان شم.

ډوډۍ د غرمې په بازارکې چاسره خورم. چې د چا نه ډوډۍ پاتې شي، هغوی یې راله راکړي. بیا چې لاړشم، نو ورونو له ډوډۍ واخلم.

ما ته کله ـ کله پلار ډیر رایاد شي. اول به ډیرژړیدم، خو بیا راله مور ووې چې ستا پلار شهید دی، شهید له خدای پاک جنتونه ورکوي، شهید ډیر لوی وي، ستا پلار د وطن شهید دی؛ نو زه ډیر خوشحاله شم، اوس هم خوشحاله یم چې زما پلار د اسلام له پاره شهید شوی دی.

دا پخې پخې خبرې د کند ز ولایت د ګورتیپې سیمې د یو پنځلس کلن ماشوم خبرې دي چې په عمر کم دی، خو حالاتوله وخت نه وړاندې بالغ کړی دی.

یوه ورځ یو خیرن خیچن ماشوم دفتر ته راننوتو، په غاړه کې یې د کپړې تیلی وه، په هغې کې د سپیلنو داني وې، په لاس کې یې په یوه ډبې کې د سکرو انګارو. له تیلی نه یې داني پر انګار واچولې، لوخړې شوې، ببوزی یې ورته وواهه. یو بل ورته وویل:

ما، ما، ما لوخړې مه کوه. د هغه زړه لکه چې مات شو. دویم چت ته په شپېږدیرش پونکو راختلي ماشوم ته یې په بې ارزۍ وکتل. ما ورته اشاره وکړه. هغه سمدستي څو داني په انګار کې واچولې، ما منع کړو او ورته ومې ویل:

په مور ږ به د چا نظرولګي؟

د نظرشوي خلک خو تاسو ياست چي بې کوره، بې وطنه، بې ياره، بې دلداره شوي ياست.

هغه ودريد او ما يې دريم چت ته په شپږديرش پونکو د راختلو کفاره ادا کړه. هغه تلو، ما منع کړو.

خبره واوره!

هغه ګم سم ودريد.

ما ورته ووې:

- ته د کوم ځای يې؟

- زه، زه د کند ز يم.

- دلته کينه!

زما خوا ته د کندز ولايت د ګورتيپې شهزاده، د ښار د لوګيو خيرن ناست و.

دغه وخت يو بل افغان مهاجر راغی، سپينه ـ ښکلې پاکه ږيره، تک سپين پګړی په سرکړی، تک سور سپين مخ، ما دغه سپين ږيري ته ووې:

راشه ستا وطندارد‌ی. هغه څو ورځې وړاندې ما ته ويلي و چې: زه د کندز د ولايت يم، په سوونو جريبه زمکه لرم، يو زوی مې په سعودي کې دی.

هغه له خپل وطندار سره يو څو خبرې وکړې او بيا يې ورته ووې چې:

اوس ښه سړي له راغلې، هغه ما ته اشاره وکړه او ولاړو.

زما مخې ته د کندز ولايت شهزادګان ناست وو، يو شهزاده چې په مخ کې يې نن هم د خپل وطن... توب سره وو او په پټکي يې دوړه نه وه؛ بل شهزاده د سپيلنو شهزاده و چې د خپل وطن سره يې په مخ کې سوزيدلي وو. په وړوو لاسونو کې يې اور نيولی و، په سپوږمۍ مخ يې د پيښور د لوګو تورکي وو، په سترګو کې يې د رنجو په ځای يأس او ارمان و، د افغانستان د شهيد زوی و، مور او دوو ماشومانو له پاره سوال کولو، ډوډۍ يې غوښته، د خپل وطن ملا ورته ويلي وو چې د اسلام جنګ دی، ورشئ يو د بل سرونه مات کړئ. د اسلام او د وطن په نوم لکونه افغانان قتل شوي. يو طرف ته افغان شهيد شو، بل طرف ته يې افغان ته د شهادت مرتبه واخيسته. زما سره د افغانستان د هغه شهيد زوی ناست و، د چا پلار چې د «اسلام لاره» کې شهيد شوی دی. ما له هغه نه آخري تپوس کړی و او زه يې ګونګی کړی وم:

ــ بچی تا له کلمه درځي؟

ــ کليمه؟ نا، ما له کلمه نه راځي.

ــ بچی، مونځ درځي؟

ــ مونځ؟ مونځ نه راځي.

زه د اسلام د شهيد زوی نه دوو اخري سوالونو په خپله يو سوال کړم. ما وې راسئ اي د لوی نازولي پيغمبر(ص) د موصلې وارثانو!

اې د افغانستان د مذهب استادانو!

د افغانستان د لکونو شهیدانو زامنو ته کلیمه درسته کړئ، مونځ ورته وښايئ. د اسلام او د شهید زوی که درنه نن ډوډۍ، کور او امن غواړي؛ نو کلیمه ورته هم وښايئ. ځکه چې څوارلس کاله د دې بچو پلرونو د «اسلام» له پاره جنګ کړی دی.»

درنولوستونکو!

مهاجرو افغانانو چې هریو باسواده یاست!

راځئ چې کم له کمه هره ورځ یو یا دوه ساعته په خپلو بچو باندې الف او ب زده کړو، د اسلام د مقدس دین لومړني تعلیمات ورزده کړو او خپله مورنۍ ژبه ورزده کړو. داسې نه شي چې د باسواده میندو- پلرونو په شتوالي کې، هغوی د نورو ژبو ماهران او د خپلو ژبو ګونګیان شي.

زه له ټولوفرهنګیانو، په تیره له هغو فرهنګیانو څخه چې عملاً لیکنې او څېړونې کوي، هیله کوم چې د افغان مهاجرو کوچنیانو د ښوونې او روزنې له پاره کم له کمه په خپلو څېړوونو کې جدي پاملرنه وکړي.

ښاغلي جنید شریف د خپلو ژباړو په لړ کې د یوه ژباړل شوي اثر په مقدمه کې لیکلي وو چې:

«... بیت نیکه په دویمه هجري پیړۍ کې په زارۍ او زارۍ د خدای له دربار غوښتلي وو چې:

... دا وګړي ډېرکړې خدایه
لویه خدایـــه، لـویه خدایـــه»

او خدای (ج) دا وګړي ډېر کړل؛ خو اوس ـ اوس داسې څوک نه شته چې یو وار ووایي:

دا وګـړي مـاړه کړې خدایه
لـویـه خدایـه، لـویه خـدایه

دا وګړي باسواده کړې خدایه
لــویـــه خدایه،لویه خدایه !!!

# پردې چاپيريال او د مهاجرو کوچنيانو د زدکړې مسأله

## (د مورنۍ ژبې زدکړه، ساتنه او پالنه)

## دويمه برخه

### ولې مو کوچنيان تراوسه پورې په خپلو مورنيو ژبو ليک لوست نه شي کولای؟

د مورنۍ ژبې زدکړه، ساتنه او پالنه د هر چا د هويت جوړونکی عنصر دی. د همدې اصل پر بنا، په ځانګړې ډول مهاجر افغانان چې د نړۍ په هرګوټ کې مېشت دي، بايد د مورنۍ ژبې په زدکړه، ساتنه او پالنه کې تروسه، وسه پاملرنه وکړي. په دې برخه کې ځانګړې مسؤليت د کوچنيانو ميندو او پلرونو ته ورله غاړې دی. ميندې او پلرونه بايد هڅه وکړي چې په کورني چاپيريا ل کې د ماشوم مورنۍ ژبه وکارول شي او د هغه تر څنګه دا هم هيره نه شي چې ميندې او پلرونه د ښوونکو تر ټولو ستر او مهم مرستندويان دي.

په بې آدرسه لورې، د «لارورکولارويانو» خوځېد ل، هجرت او د هجرت په چاپيريال کې شته ستونزې؛ دا هغه عيني واقعيتونه دي چې د هرمهاجر او له وطن څخه ورک انسان ته په مخ کې پرتې دي.

کلونه پخوا، کله چې زموږ په وطن کې د جګړې اور بل کړای شو، څو تنه جګ شول او د يو شمير خلکو د سرونو د وهلو نيت يې وکړ، خو ناځاپه په خپلو کې سره ولويد ل. ګټونکو د خپل بريا ليتوب اتڼ کاوه، چې يو شمير نورو ورخ ورمات کړ او د پردو لښکرو سور خونړی سيلاو يې پروطن او خلکو باندې رربرابرکړ.

په افغانستان کې د بل کړای شوي اور لمبو کورونو او خلکو ته خو لا څه چې، آسمانونو ته هم خولې اچولې. څو کاله وروسته د واکدارانو آمرين نوي خپلو تيروتنو ته پام شو. کله چې د خپلو تيروتنو د اور په تاو باندې، وسوځيدل، پوه شول چې اور لړونی سم نه خوځېږي. آمرينو د اور لړونکی بدل کړ، خو بيا هم اور د دوی په خوښه نه بليده او کله ـ کله به يې دوی ته هم خولې اچولې. دغه اور ټول وطن نيولی و. نړيوالو دغه اور ته په کرکې، خوشالۍ او تعجب کتل. د نړۍ سياسيونو د وحشي سره يېرږ د راخملولو په خاطر، دغه اور ته د اسلام د ګټلو په پلمه وچ او لامده وراچول، چې د اور لمبې لاپسې مرګونې شي.

سور يېرږ ولويد او د نړۍ ځينو هيوادونو د خپلو برياليتوبونو ګډاوې سر کړې، خو زموږ پرخلکو او وطن باندې ناروا بل کړای شوی اور، نه يوازې مړ نه شو، بلکې نور هم مرګونی

شو، د وحشت یوه بله توره پرده هم ورباندې وغوړېده او یوځل بیا سره ورونه افغانان خپلو منځو کې ولویدل او نوې بې مفهومه جګړې پیل شوې. زموږ یو شمیر هیوادوال د دغه اور خوراک شول او یو شمیر نورو یې له ګڼو درندو رواني پیټو سره، د دې اور د سوځنده لمبو له دایرې څخه ځانونه وایستل او د نړۍ په ګوټ ـ ګوټ کې سره خواره واره او د نویو ټولنو او نوي ژوند له نویو ستونزو سره مخامخ شول.

له افغانستان څخه بهر زموږ د هیواد والو ستونزې څو ډوله دې. هغه هیوادونه چې مهاجرو ته پناه نه ورکوي، هلته زموږ اکثریت ورغلي هیوادوال، د بې کورۍ، بې روزګارۍ او د قانوني اسنادو د نه لرلو تر پیټې لاندې زګیروي کوي. د یوې مړۍ ډوډۍ د پیدا کولو په تکل کې وي، یعني یوازې د خپلو بچو د خیټې په فکر کې وي. په داسې چاپیریال او شرایطو کې د ښووني او روزني او مورنۍ ژبې د ساتلو او پاللو مسأله اصلاً طرح کېږي نه. لکه په ایران، پاکستان او د پخواني شوروي اتحاد په ځینو جمهوریتونو کې؛ خو هغه هیوادونه چې مهاجر ته پناه ورکوي او څه مالي مرسته هم ورسره کوي، دلته بیا  بل ډول ستونزې مخکې پرتې وي. په دې ډول چاپیریالونو کې بیا هم مهاجر کوچنیان او تنکي زلمیان د نورو ژبو او فرهنګونو ترتاثیر لاندې خپله مورنۍ ژبه او فرهنګ له لاسه ورکوي.

باید دا خبره بیا، بیا تکرارشي چې پر افغانانو باندې دننه په افغانستان کې او په ګاونډ ایران او پاکستان کې ډېر ځلې داسې حالات هم تیر شوي دي چې میندو پلرونو ته د کوچنیانو د ښووني او روزني مسأله مطرح نه وه، بلکې لومړی د امنیت د نشتوالي پراساس او بیا د بیکارۍ او د عاید د نه درلودلو پراساس، د هغوی د ژوندي پاتې کیدومسألې میندې او پلرونه زورول. په ایران کې اوس هم د ژبني او مذهبي تعصب له مخې افغان کوچنیان له ښونځی څخه شړل کېږي، د نړیوالې ټولنې د تیرایستلو او پر افغان حکومت باندې د فشار راوړلو په خاطر، د وهلو ټکولو او ان وژلو تر پولې پورې چلند ورسره کېږي او تش لاس یوازې د تن له جاموسره یې د «افغان آشغال» په نامه را ایستل کېږي. تاسو کولای شئ د ایران او پاکستان په کمپونو کې د نړۍ ترټولو محروم، وږي، تږي، بیسواده، بې تعلیمه کوچنیان او تنکي زلمیان وګورئ. هرځلې چې دې کمپونو ته ورشئ، د نویو دردونو، نویو غمونو او نویو وحشتونو، نوې کیسې اوریدلای شئ. هلته  دمرګونو، دردونو او وحشتونو کیسې دي، نه د ښووني او روزني کوم پروګرام؛ دوی هره ورځ له نویو ستونزو او نوي وحشت سره مخامخ دي، نه نوي کتاب سره، نه نوي درس سره او نه کوم ښوونکي سره. دوی د لوږې او بیسوادۍ له بلاوو سره مخ دي. دغه لوږه او بیسوادي په لومړي ګام کې هغو کوچنیانو ته وروررسیده چې دننه په افغانستان کې له ډېر مجبوریت نه پاتې وو. سره له دې چې په هغو شرایطو کې میندو او پلرونو د خپل وس په دایره کې ډېرې هلې ځلې کړې دي، خو پایله یې جګړې او لوږې خوړلې ده او هیڅ په لاس نه لرو؛ اودا دی د یو چورشوي هیواد او د یو لوټ شوي ملت د نورو غمیزو ترڅنګ، ترټولو لویه غمیزه د نوي او ځوان نسل بې تعلیمه او بیسواده پاتې کیدل او د مورنۍ ژبې په لیک او لوست باندې نه پوهیدل دي. راتلونکي نسلونه له موږ څخه حد اقل د اوسني نسل د سواد او د مورنۍ ژبې زدکړه غواړي، خو موږ دا دی هغوی ته، نوی نسل تش لاس او خالي ذهن ورلېږو.

زه چې ماشوم وم او بیا زلمی شوم، هغه وخت هم زموږ وطن په ناوړه اقتصادي حالت کې ګیرو، که ډېر په ابتدایي ډول هم و، خو بیا هم د ښوونځي په نامه یو ځای و چې کوچنیان به ورتله او ښونکي به یو څه ورښودل؛ خو اوس چې هغه وختونه سرې یادوي، هغه یو خوب او خیال ته پاتې کېږي، چې کیسه یې سړی په ساده ژبه داسې کولای شي:

یو ښکلی ښځ مې په خوب لیدلو چې نوم یې افغانستان و. هلته ټولو په سوله او خوښۍ کې ژوند کاوه. ټولو خپل ژوند خپله سمبالاوه، ټولو خلکو د یوې کورنۍ د غړو په څېر ژوند کاوه. کوم یونیم ځای کې وړکتون و چې هلته به تر اوو(۷) کلونو د ښکته عمر ماشومانو د خپلو ښوونکو مینه ، مرسته او لږ څه ښوونه لیدله، وروسته له اوه کلنۍ نه د ښوونځي په نامه بل ځای و چې

شپږ کاله کوچنيان په خوښۍ سره د بېلابېلو مضامينو مقدمات زده کول، بيا تردولسم ټولګي پورې د ليسې دوره وه. وروسته د پوهنتون په نامه يو بل و چې ځوانان په کې روزل کېدل او له لوړو زدکړو سره ټولنې ته وړاندې کېدل. زه هم د همدې لارې لاروی وم، وړکتون مې ونه ليد، لومړنی سواد مې په کور او جومات کې زده کړ، ښوونځي ته ولاړم، بيا مې پوهنتون پای ته ورساوه او بيا مې هماغه کار پيل کړ.

په دې ډول مې ژوند له استاد، ټولګي، تباشير، کتاب، کاغذ او قلم سره تېرېده. د يو لوړ پروازه مارغه غوندې وم. ټول ژوند مې د ښوونې او روزنې په دايره کې تېر کړ. خوښ وم کتابونه مې لوستل، مهربانه استادان مې لرل، د ښه استعداد زده کوونکي مې درلودل. هر څه ښه وو: درس ښه، ټولګی ښه، کاغذ ښه، قلم ښه او هرڅه ښه. ښايسته اوږده موده مې د ښوونې او روزنې په رنګينه دنيا کې ژوند وکړ، خو... نا څاپه له خوبه راويښ شوم، ومې ليدل هيڅ شی هم نه شته. نه وړکتون، نه ښوونځی، نه پوهنځی، نه استاد نه شاګرد، نه قلم نه کاغذ، بس د وړکتون پرځای وسله تون، د پوهنتون پرځای وحشتتون، د شاګرد او استاد پرځای وسله وال او قومندان، د قلم پرځای ټوپک، د ګلانو د خوشبويي پرځای د باروتو او وينو بوی، د رڼو اوبو پرځای د وينو وياله، د موسيقۍ د غږ پرځای د بم، ټوپک او چاودنې غږونه، د نازولو پرځای غندنه او وژنه، د مرستې پرځای تيری او... بس هره خوا پشماپشم دی، ټوپک دی، اورونه دي، وينې دي او چاودنې، وژنې... او نه تماميدونکي خواشينې.

هلته په افغانستان کې زموږ د کوچنيانو او زلميانو په غوږونو کې د ښوونکي د غږ پرځای د قومندان امرانه چيغې ازانګې کوي. اوس زموږ کوچنيانو او زلميانو ته د الف او ب د زدکړې پرځای، د ډزو کولو لارښوونه کېږي، دا دی زموږ سرنوشت او دا دی زموږ ښوونه او روزنه.

په ګاونډيو هيوادونو کې چې کوم ښوونځي او پوهنځي پرانستل شوي وو، هغه هم د سياست او مذهب په رنګ رنګول شوي وو. هلته هرې مذهبي او سياسي ډلې هڅه کوله چې خپل افکار او عقايد تدريس کړي او د خپلو نظامي اهدافو د ترسره کولو له پاره، په لومړي ګام کې د ماشومانو او تنکيو زلميانو په ذهنونو کې د جګړې، وسلې او وژنې مفاهيم ځای پرځای کړي. د دغو ښوونځيو او پوهنځيو په درسي کتابونو کې هيڅکله زده کوونکو ته د خپل وطن تاريخ، ملي ګټو، تمدن او علمي پرمختګونو په باب څه نه ليکل کېدل، مورنۍ ژبه او ملي کلتور اصلاً مطرح هم نه وو. د دغو ښوونځيو په يو درسي کتاب کې مې ولوستل:

ت = توپک،

ج = جهاد،

م = مجاهد،

ټ = ټانک،

و = وژل او...

ماشوم ته بايد د علم، نوي ژوند او تمدن تدريس وشي، نه د وژلو او دښمنۍ. هغه درسي کتابونه چې د ايډيالوژيو په رنګ رنګول شوي وي او سياسيون د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو له پاره يوازې د وهلو، نيولو او وژلو تدريس ته په کې لومړيتوب ورکوي، نو داسې درسي کتابونه پرته له دښمنۍ او کرکې نه نور څه د زده کوونکو په ذهن کې تداعي کولای شي. د افراطي افکارو خاوندان داسې کتابونه او درسي مواد خپروي چې د نفرت او وژنې زړې کري، نه د وروړګلوۍ او انسانيت. څو ورځې مخکې مې سترګې او ذهن د دې جملو په لوستلو زهير شول:

«حقاني شبکې د جنګياليو د جذبولو او روزنې له پاره د «نظامي درسونه» په نوم کتاب خپورکړ... په کتاب کې وايي چې د جګړې له پاره دې بالغ ځوانان جذب شي... جنګي درسونه سپارښتنه کوي چې وسله وال دې اول شيخ اسامه، بيا ملاعمر او په دريم نمبر کې د ګلبدين حکمتيار ډلې سره ملګري کېږي...»

زه نه پوهېږم چې پښتون لالا به تر کومه د روا او ناروا جګړې په لومړۍ کرښه کې سر بايلي او له قربانيو سره، سره به بيا هم محکوم وي او په تخت نه، بلکې د باندې د بوټو ايستلو په ځای کې ناست وي.(تورې دې لالا وهي، مړی دې اودلا وهي)، که ديندارې کوي، د افراطي او طالب نوم ورباندې ږدي او که يې په ديندارۍ کې لږ سرغړونه ورنه وشوه، بيا کمونست بلل کېږي. لکه څنګه چې په افغانستان کې د شنه وحشت په راتګ سره هرڅه پشماپشم شول، په ايران او پاکستان کې هم د مهاجرو افغانانو حال همداسې درهم برهم و. په پاکستان کې هرڅه بايد د «آی ـ اس ـ آی» تربيرغ لاندې، د پنجابيانو په خوښه وشي او په ايران کې بوازې د فارسي ژبې حکومت او سيادت چلېږي او د شيعه ايزم تربيرغ لاندې بايد دا کار وشي، که د بلې ژبې يا بل مذهب نوم چا نه سهواً هم له خولې ووزي، بس د کفارو سرلارى ګڼل کېږي؛ نو په داسې حالت کې او داسې چاپيريال کې به د مورنۍ ژبې حالت څه ډول وي.

د روسيې هيواد په ځينو ښارونو، لکه مسکو اوسانکت پترزبورګ کې هم زيات شمير افغان مهاجرين ژوند کوي. هلته هم د مورنۍ ژبې مسأله د پاملرنې وړ ده. هغه وخت چې د تيارې استازي پرافغانستان واکمن شول، ګڼشمير تحصيل کړي له وطن څخه ناچار وکوچيد ل او ډېره سلنه يې د روسيې په فدراتيف کې په مؤقتي ډول ميشت شول. هغو هيوادوالو چې يو څه امکانات لرل، له روسيې څخه يې د خيز د تختې په ډول استفاده وکړه او د غربي اروپا خوا ته يې مخه کړه، خو د پاملرنې وړ ګڼشمير افغانان، نه د عقيدې او سياسي ملحوظاتو له مخې، بلکې د مجبوريت او ضرورت له مخې د روسيې په ځينو ښارونو، له هغې ډلې نه په ماسکوکې پاتې شول. هلته يې هم له ډېرو ستونزوسره، سره خپل فرهنګ هير نه کړ.

په ۱۹۹۴ کال کې يو شمير وتلي او پيژندل شوي فرهنګيا ن سره راغونډ شول او «د افغانـــستان د فــرهنــګ ټولنه» په نامه يې يوه فرهنګي ټولنه جوړه کړه. دې ټولنې د فرهنګ د بيلابيلو برخو ځانګې درلودې، د«پرديس» په نامه يې يو نشراتي ارګان درلود، دې ټولنې د خپل ژوند په اوږدو کې ګڼشمير سيمينارونه، مشاعرې، کنسرتونه او فرهنګي محافل جوړکړل، خپل نشراتي ارګان «پرديس» يې چاپاوه او د ټولنې د فرهنګي کارونو ترڅنګ يې دا پلان هم درلود چې د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتنې او پالنې کورسونه جوړ کړي، خو له بده مرغه دا کار يې ونه شو کړای چې ځانته دلايل هم لري، خو د يادونې وړ ده چې د ټولنې له مؤسسينوڅخه ښاغلي جلال نوراني د يوه ښوونځي د پرانستلوله پاره د ځينو درسي کتابونو د ليکلو هڅه وکړه، خو د مهاجرت په ژوند کې سکون او قرار چيرې وي، دی په بل لورې د ځويم ځل له پاره مهاجر شو او له ماسکوڅخه يې کوم بل لورې ته مخه کړه او دا کارهم ځای پرځای پاتې شو. بيا ښاغلي فاروق فـــردا د«نـويـد» په نامه يو اخبار راويسته، که به کوم ليکوال د کوچنيانو يا د هغو د زدکړې او مورنۍ ژبې په باب څه ورکړل، هغه به يې چاپول، خو خپله ــ سره له دې چې مبتکر ژورنا لست اوشاعردی ــ څه يې ونه شو کړای.

بيا نور اخبارونه راووتل، فرهنګي ټولنې جوړې شوې او په رنګارنګ نومونو فرهنګي کارونه پيل شول، چې کله، کله به سياسيونو هم سرونه په کې ښورول. بيا د «پرستو» اخبار هم څه خپرونې وکړې.

وروسته له هغه د ښاغلي سيداعظم اخګر کارونه د ستاينې وړ دي. ده دوه اخبارونه د «ماما اخبار» او«مسافر» اخبار جاري کړ، د ليکوالو يوه ټولنه يې جوړه کړه او ترڅنګه يې يو شخصي ښوونځی هم پرانست چې د افغان کوچنيانو د ښوونې او روزنې او مورنۍ ژبې د

زدکړې په برخه کې یې یو لړ ګټور ګامونه پیل کړل، چې له څه مودې وروسته د مهاجرت ستونزمن ژوند د ده د کارونو مخه هم وربنده کړه. په هرصورت دا یو نیک عمل و چې زه یې مثبت ارزوم.

په روسیه کې د مورنۍ ژبې د زدکړې او ساتنې په برخه کې بل د پاملرنې وړ کار د مهاجرینو له پاره د ملګرو ملتونو د «UNHCR» د ادارې او«اکلیبر» د خیریه مؤسسې له خوا د افغان کوچنیانو له پاره د یو ښوونځي پرانستل دي. په دې ښوونځي کې د نورو مضامینو ترڅنګ مورنۍ ژبه هم تدریسیده. په ماسکو کې د میشتو افغانانو او د هغو کوچنیانو د کورنیو د معلوماتو له مخې چې کوچنیان یې همدې ښوونځي ته تلل؛ د دې ښوونځي تدریس ډېر مثبت ارزول شوی دی. دا خبره هم د یادولو وړ ده چې په ماسکو کې د افغان کوچنیانو ډېره سلنه په ستونزمنو فزیکي کارونو اخته وو، په دې خاطر د ښوونځي او مورنۍ ژبې د زدکړې له پاره دومره وخت هم نه پیدا کیږي.

په غربي اروپا کې هم هرهیواد د خپلو امکاناتو او قوانینو په چوکاټ د بهرنیانو د مورنۍ ژبې له زدکړې سره چلند کوي. د جرمني په کولن او هامبورګ ښارونو کې د پښتوژبې د زدکړې له پاره یو څه کار شوی دی، خو څنګه چې په جدیت نه تعقیبیږي، نومثبته پایله هم نه لري. په هامبورګ کې د نورو فرهنګي کارون وترڅنګه، ښاغلي دیپلوم انجنیر هاشم خیل ځاځي د پښتو ژبې د لوست یو کتاب لیکلی دی، دا کتاب په یوسلودوو مخونو کې په ۱۹۹۳میلادي کال کې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې د کوچنیانو له پاره لوست ا وزدکړه په ابتدایي او ډېر ښه ډول برابر شوي دي. د پښتو ژبې توري او بیا پښتو جملې په عنعنوي ډول ترتیب شوي دي، چې د لومړني سواد په زدکړه کې ډېر ښه رول لوبولای شي.

په ۲۰۰۱کال کې زما (آصف بهاند) د څیړنو او لاس لرلو موادو او معلوماتوله مخې، ښاغلي عزیزمحمد آماج د «په بهرکې د افغاني کوچنیان وله پاره پښتو لوست» تر سرلیک لاندې، د یو درسي کتاب کار پیل کړی دی، لومړۍ برخه یې، په جرمني کې د افغانستان کلتوري ودې ټولنې له خوا تر چاپ لاندې و او په دویمه برخه باندې یې ښاغلی لیکوال کار کوي. څنګه چې زه کتاب په لاس کې نه لرم، ځکه یې په اړه له څه ویلوډه ډه کوم.

کیدای شي چې د اروپایی هیوادونو په ځینو نورو ښارونو کې هم د مورنۍ ژبې د زدکړې په باب لړ. او ډېر کارونه شوي وي، چې جلا څېړنې ته اړتیا لري.

کومې څېړنې چې د۲۰۰۲ کال په لومړیو دریو میاشتو کې ما په نیمګړي ډول ترسره کړې دي، د هغو معلوماتو له مخې په جرمني هیواد کې پښتو ژبه په ثانوي تدریساتوکې شامله ده. له اتم ټولګي نه وروسته کوچنیان باید جرمني ژبه او یوه بله بهرنۍ ژبه تعقیب کړي او د هغو ترڅنګه یوه هم د کوچنیانو مورنۍ ژبه ده، که د کوم کوچني مورنۍ ژبه پښتو وي، کولای شي پښتو تعقیب کړي.

د جرمني دولت په مرسته د مورنۍ ژبې د ساتلو او د افغان کوچنیانو د ښوونې او روزنې په برخه کې بله د یادونې وړ خبره دا ده چې د «BAFAR» په نامه، په پیښورکې د ښوونې او روزنې یوه مؤسسه جوړه شوې ده. د کار په پیل کې یې د یو څه مودې له پاره مشري پوهاند رحیم الهام کوله. د دې مؤسسې له خوا زیات شمیر درسي کتابونه لیکل شوي دي، چې اکثرآ په افغانستان کې دننه تدریس شوي دي. دغې مؤسسې په افغانستان کې دننه یو شمیر ښوونځي هم درلودل.

په هغو هیوادونو کې چې افغانانو پناه اخیستې ده، یو هم ډنمارک دی. په ډنمارک کې هم لکه نور هیوادونه د مورنۍ ژبې زدکړه، ساتنه او پالنه د افغان کورنیو له پاره، یوه لویه ستونزه ده، په تیره د هغو کورنیو له پاره چې د مورنۍ ژبې په ارزښتونو پوهېږي.

زما د معلوماتو پر بنا، په ډنمارک کې د پښتو او دري ژبو د زدکړې او خوندي ساتلو له پاره هلې ځلې د تيرې پېړۍ په وروستۍ لسيزه کې پيل شوي دي. په ۱۹۹۳میلادي کال کې د ډنمارک د وخت دولت ژمنه کړې کړې وه چې د افغان کوچنيانو له پاره به د مورنۍ ژبې د زدکړې شرايط برابر کړي. د مورنۍ ژبې د خوندي ساتلو او تدريس په برخه کې ما له څو تنو ښاغلو سره خبرې وکړې چې په ډنمارک کې د مورنۍ ژبې په تدريس بوخت وو. دوی هريوه د خپلو کارونو، تجربو، نيمګړتياوو او ستونزو په باب خبرې کړې دي چې دلته به يې لنډيز وړاندې شي:

د پښتو ژبې خوږ ژبی شاعر او فرهنګي دوست عبدالمالک بيکسيار، چې د ډنمارک په کوپنهاګن کې پښتو ژبه تدريسوله، داسې راته وويل:

«د مورنۍ ژبې د زکړې دا کورس ما په ۱۹۹۴میلادي کال کې په ډيرو ستونزو جوړ کړ او اوس هم مړژواندي سره لګيا يو. ستونزې ډيرې دي او زموږ امکانات لږ. دا يوازې په ښوونځي او ښوونکې پورې اړه نه لري، په کورنيو پورې هم اړه لري. هغه کورنۍ چې غواړي افغانان پاتې شي، دا کار يې وکړ او په کورنيو کې دننه د هغو په مرسته دې کورسونو او زموږ هلوځلو يو څه نتيجه ورکړه او هغوکورنيو چې مرسته يې ونه کړه او يوازې يې د رسمياتو له پاره دا کار وکړ، څه پايله يې هم ترلاسه نه کړه.

اوس په ډنمارک کې د رسمي او سياسي مقاماتو له خوا داسې نظر رامنځته شوی دی چې د مورنۍ ژبې د زکړې کورسونه له منځه يوسي. د نوي حکومت په پروګرامونو کې د مورنۍ ژبې د زکړې له پاره ځانګړې بودجه په نظرکې نه ده نيول شوې. دلته بايد يوازې د ډنمارکي ژبې او ډنمارکي کلتور زدکړه وشي، که څوک مورنۍ ژبه زده کوي، بايد د هغه مصارف د ماشوم کورنۍ ورکړي او په خپله کورنۍ بايد پروګرام ورته جوړ کړي. ما د «بي بي سي» له خوا چاپ شوو کتابونو نه استفاد کړې ده، چې په تدريس کې تر نورو موادو مؤثر واقع شوي دي، کله چې ما د مورنۍ ژبې (پښتو) کورس جوړاوه، راته وويل شول چې: که ته د ژبې حق غواړې، نو افغانستان ته ولاړ شه او يا له ايرانيانوسره په کورس کې کېنه. ما بيا قناعت ورکړ چې پښتو او فارسي د دوو سره جلا خلکو دوې بيلې ژبې دي.»

بل افغان ښوونکی چې په ډنمارک کې يې د مورنۍ ژبې تدريس کړی دی، د کابل پوهنتون استاد ښاغلی اسد سماک دی. ده هم د مورنۍ ژبې د تدريس، امکاناتو، ستونزو او قوانينو په باب د تيلفون پرکرښه راته وويل:

«دلته کوپنهاګن کې هرناسيونال په هفته کې يوه ورځ درې درسي ساعته حق لري چې د مورنۍ ژبې زدکړې ته کيني، هغو ښوونکو ته د تدريس د لومړيتوب حق ورکول کيږي چې د تدريس سابقه ولري. که په ډنمارکي ژبه باندې پوه شي، ډيره ښه ده چې د نورو ښوونکو په غونډو کې ګډون وکړي، له تجربو څخه يې استفاده وکړي.

پخوا داسې وو چې په کال کې دوه ځلې ټولو هغو ښوونکو ته چې د مورنۍ ژبې تدريس يې کاوه، يو لکچر اورول کيده، چې معلوماتي او ښوونيز اړخ يې درلوده. يو اړوند ماهر به له کوم پوهنتون څخه راغوښتل کيده او د ښوونکو له پاره به يې لاربښوونه کوله او هغو پوښتنوته به يې ځوابونه ويل، چې د مورنۍ ژبې د تدريس په دايره کې به رامنځ ته کيدلې.

دلته په ډنمارکي ټولنه کې د انتګريشن (په ټولنه کې جذ بيدل) مسأله طرحه کيدله، او دغو کارپوهانو به ويل چې که د چا مورنۍ ژبه زده وي، په ښه ډول کولای شي ډنمارکي ژبه او کلتور جذب کړي.

د مورنۍ ژبې زدکړه په کورنۍ او مور پلار پورې هم اړه لري، که هغوی مرسته ونه کړي، ماشوم نه شي کولای چې په پردي چاپیریال کې خپله مورنۍ ژبه وساتي. ما د مورنۍ ژبې په تدریس کې له بیلابیلو موادونه استفاده کړې ده. یو کتاب مې تا لیف کړ، چې په لومړي او دویم ټولګي کې تدریسیږي. په هغو موادو کې چې د افغانستان د حکومت یا د حکومت د ضد ډلو له خوا لیکل شوي او ما ته په لاس راغلي دي، په هغو کې قومي، مذهبي او جنګي رنګ ډیر غالب دی او نفرت ته په کې لمن وهل شوې ده، او ډیر ځلې جګړه په کې تبلیغ شوې ده، ځکه یې زه له تدریس څخه ډه ډه کوم. په دې کتاب کې چې ما لیکلی دی، زموږ د افغاني ټولنې فرهنګي مسا یل په نظر کې نیولو سره، د اروپایي ژوند ـ چې اوس موږ ژوند په کې کوو- بیلابیل اړخونه هم په نظر کې نیول شوي دي. خو اوس داسې ګونګوسې دی چې د مورنۍ ژبې تدریس لغ وکېږي،که میندې او پلرونه یې تدریس غواړي، باید مصرف یې په خپله میندې پلرونه ورکړي...»

بل تن چې په ډنمارک کې د مورنۍ ژبې په تدریس بوخت و، د کابل پوهنتون پخوانی استاد شاه محمود محمود دی. ښاغلي محمود په هغه وخت کې چې د مورنۍ ژبې د تدریس دنده پرمخ بیوله، د مورنۍ ژبې د زدکړې، امکاناتو او ستونزو په باب خپل نظر داسې څرګند کړ:

«موږ ته وخت راکړل شوی دی چې مورنۍ ژبه تدریس کړو. زه همدا اوس تدریس کوم، په دوو جلا ټولګیو کې زده کوونکي لرم، یو د مبتدیانو له پاره (الف، ب ټولګی) او بل د یو څه لویانو له پاره چې په هغه کې د نورو لوستونو ترڅنګ، د ګرامر، تاریخ او جغرافیې تدریس هم کوم. زه له هغو موادو نه استفاده کوم چې په وطن کې استفاده ورنه کیده. له بده مرغه په ډنمارک کې هڅه روانه ده چې د مورنۍ ژبې د زدکړې کورسونه وتړل شي او که څوک د خپلو کوچنیانو د مورنۍ ژبې د ساتنې په غم کې وي، مصارف یې باید چې په خپله ورکړي.»

دغه راز په ډنمارک کې د مورنۍ ژبې د تدریس له پاره نورو هیوادوالو په بیلابیلو ځایونو کې خپلې هلې ځلې نه دي سپمولې، چې په تفصیل سره یې یادونه د دې مقا لې له حوصلې نه وتلې ده.

زما د معلوماتو له مخې د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتنې او پالنې مسآلې ته، د سویډن په هیواد کې تر نورو هیوادونو ډیره پاملرنه شوې ده. دا معلومات ما هلته تر لاسه کړل چې د۲۰۰۲کال په پیل کې، د سویډن ستاکهولم ښار ته د مورنۍ ژبې هغه سیمینارته د لکچرورکوونکي په توګه وبلل شوی وم چې له سکندنویایي هیوادونو(ډنمارک، سویډن، ناروې، فنلند) څخه د مورنۍ ژبې د تدریس د ستونزو د شریکولو ا ود تجاربو د راکړې ورکړې له پاره، د مورنۍ ژبې ښوونکي رابلل شوي وو. په دغه سیمینارکې د مورنۍ ژبې یو ښوونکي، ښاغلي سلیم عزیزي، په سویډن کې د مورنۍ ژبې د تدریس د پیل په باب داسې راته وویل:

«په سویډن کې د پښتو ژبې تدریس په ۱۹۸۰ میلادي کال کې، په ښوونځیوکې پیل شو، په لومړي سرکې ښاغلي عبدالعلی رسولزاده تدریس کاوه، قاعده داسې وه چې د سویډني ژبې د تدریس پرمهال به، د مورنۍ ژبې ښوونکی هم موجود و. زموږ عملي کار دا ښودلې ده، چې له کومو کوچنیانو سره چې میندې او پلرونه مرسته کوي، نتیجه یې ډیره ښه ده.»

د دې خبرې یادول ډیر اړین دي چې، له پاسنیو یادو شوو هیوادونو او ښارونو نه پرته، په ځینو نورو ښارونو او هیوادونو کې هم د مورنۍ ژبې تدریس، زدکړې، ساتنې او پالنې ته په شخصي یا رسمي ډول کار او پاملرنه شوې ده، چې یادول، د موادو راټولول، لیکل او ارزول یې وخت او جلا هڅو ته اړتیا لري.

ما د دې مقالې له لارې د۲۰۰۲کال په پیل کې چې کوم وړاندیزونه کړي وو، اوس هم ورباندې باوري یم، خو اوس له هغه وخت نه لس کاله تیر شوي دي. د افغانستان او نړۍ شرایط په هر

اړخیز ډول بدل شوي او بدلېږي پسې. زموږ پرهیواد، په ځانګړي ډول زموږ پر ښوونه او روزنه باندي هرکله د جګړو د وریځو سیورې راغلی دی او سیمه ایزو نادودو یې هم په مخ کي خنډونه جوړ کړي دي. ډیرځلي کوچنیان په هیواد کي دننه په مورنۍ ژبي له تدریس څخه محروم شوي دي او له هیواد نه بهر د کوربه هیوادونو د ژبو او کلتورونو تر سیوري لاندې او د میندو او پلرونو د بې غورۍ په وجه د مورنۍ ژبې له زدکړې نه محروم پاتې شوي دي او همدا اوس هم دا پروسه په خرپ او ترپ روانه ده.

اوس افغانان په هر ډول شرایطوکي چي دي، په هر هیواد کې چې ژوند کوې، باید د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتني او پا لنې په برخه کې جدي پاملرنه وکړي. په ۲۰۰۲ کال کې چې ما د موضوع په اړوند د سویدن په ستاکهولم کې ځینې وړاندیزونه کړي وو،اوس یې هم ضروري بولم.هغه وړاندیزونه په لږ بدلون سره په دې ډول دي:

ـ په افغانستان کې سیاسي ـ نظامي حالت ټیکاو نه لري، هره ورځ څه چې هره شیبه بدلیدلای شي، د همدې لامل له مخې د ټاکلي وړاندیز مطرح کول ګران بریښي. څنګه چې په افغانستان کې دننه او له افغانستان څخه د باندې د مورنۍ ژبې د ستونزې توپیرسره لري، په افغانستان کې دننه په مورنۍ ژبې د تدریس او لیک لوست مسآله طرح ده او له افغانستان څخه د باندې په مورنۍ ژبه باندې پوهیدل، د مورنۍ ژبې زده کول، وربانديې خبرې کول او د هغې د سا تلو او پاللو مسأله مطرح ده. د همدې دلیل له مخې په افغانستان کې دننه ټولو کورنیو، دولتي اړوندو ادارو، ښوونکو او فرهنګیانو سره ښایي چې په مورنۍ ژبه باندې د لیک لوست مسأله دې نه هیروي او ساده دې نه انګیري؛ ځکه چې په مورنۍ ژبه باندې د یوڅه زده کول او په دویمه ژبه باندې څه زده کول ډیر توپیر سره لري.

ـ په ګاونډیو هیوادونو، په تیره پاکستان او ایران کې سره له دې چې مهاجر افغانان د یادو هیوادونو، ژبو او ټولنیزو سیاسي شرایطو بار پراوږو وړي، خو باید د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتلو او لیک لوست مسأله هم هیره نه کړي.

ـ اوس چې له افغانستان نه د باندې فرهنګي ټولني بې شمیره جوړې شوې دي، که دغه ټولني د نورو هیوادونو د ناروا پروګرامونو په لمنو پورې نه وي زوړندې، باید د افغان کوچنیانو مورنۍ ژبو ته پاملرنه وکړي او په کوربه هیوادونو کې له رسمي مقاماتو سره په تماس کې د مورنۍ ژبې د زدکړې په برخه کې بنسټیز کار پیل کړي.

څومره چې زه مالومات او تجربه لرم، د بي بي سي د تعلیمي ادارې له خوا د خپرو شویو کتابونو د تدریس نتیجه ډیره ښه ده، ځکه یې د تدریس د دوام پلوی یم او وایم چې د دغو کتابونو د تدریس لړۍ دې پراخه شي.

ـ څنګه چې ښکاره ده په افغانستان کې دننه چاپیریال، د ګاونډ یو هیوادونو چاپیریال او نورو هیوادونو چاپیریال یو بل سره جوت توپیرونه سره لري. باید د هر هیواد د عیني شرایطو، ستونزو او امکاناتو په نظر کې نیولو سره د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتنې او پالنې له پاره درسي مواد او شرایط برابر کړای شي.

ـ څنګه چې لیدل کېږي د ډیرو هیوادونو په تعلیمي نصاب کې د مورنۍ ژبې زدکړې له پاره ځای نه شته، د همدې دلیل پر اسا س له هرې ممکني وسیلې نه په استفادې سره د مورنۍ ژبې زدکړه په تعلیمي نصاب کې ځای پر ځای شي او که ممکنه نه وي، د کوچنیانو کورنۍ، فرهنګیان او ښوونکي دې په شخصي ډول د مورنۍ ژبې د کورسونو پرانستلو ته ملا وتړي.

ـ په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې میډیا سره ښایي چې د مورنۍ ژبې د اهمیت، تدریس او ساتلو په برخه کې په پراخ ډول تبلیغاتي کمپاین پیل کړي. ټولو لیکوالو ته لازمه ده چې د موضوع د اهمیت په اړوند مقالې او کتابونه ولیکي.

ـ دې مسألې ته دې د لویانو او کورنیو پام وي:

کوچنی چې په پردي چاپیریا ل کې لوییږي، هرډول چې کېږي، باید د مورنۍ ژبې زدکړې ته یې جدي پاملرنه وشي، چې په دې ډول ما شوم وکولای شي چې له خپلې کورنۍ او هیواد والوسره د پوهونې راپوهونې او ارتباط یوه وسیله ولري. که نني کوچنیان او د سبا ورځې ځوانان له هرڅومره لوړو زدکړو سره خپل وطن او خلکو ته وروګرځي، که په خپله مورنۍ ژبه چې د ده د خلکو ژبه هم ده، خبرې ونه شي کړای، نه یوازې دا چې هغو خلکو او هغه وطن ته خدمت نه شي کولی، بلکې خپل شخصیت ته یې هم ضرر رسوي او پایلې یې منفي دي.

ـ د مورنۍ ژبې په اړوند دې د ټولو ذیربطو دولتونو، فرهنګي مؤسسو، میډیا او اشخاصو فعا لیتونه، د ملګرو ملتونو د ځانګړو ادارو له پروګرامونو سره همغږي شي.درسي پروګرام او درسي مواد باید د علمي او ځانګیزو متخصصینو له خوا د تیرو تجاربو له مثبتو اړخونو نه په استفادې سره ولیکل شي. هیله داسې ده چې د دې آثارو د چاپ مصارف دې د ملګرو ملتونود ماشوم صندوک (یونیسف) له خوا ورکړل شي.

څنګه چې د سویډن دولت د مورنۍ ژبې په برخه کې ډېر کارکړی دی او ښې تجربې لري، نو په نږدې راتلونکې کې دې، د ملګرو ملتونو او اروپایي اتحادیې سره په تفاهم کې د مورنۍ ژبې د تدریس او خوندي ساتلو کارپوهان، لیکوا ل او د نظرخاوندان د یوه علمي سیمینار پر میز سره راټول کړي؛ چې هغوی د یوه واحد درسي پروګرام او درسي موادو له پاره، خپلې تجربې، لیکنې او نظریات یو بل ته واوروي او خپلو کې دې قناعت سره وکړي. داسې نه شي چې بیا یو ښوونکی په یو ځای کې ماشوم ته ووايي چې:

د افغانستان فلانی واکدار خدمتګار او ملي قهرمان و او دا بل یې ووایي چې هغه خاین و، وطن پلورونکی او قاتل و. دا نمونې د دې لړ په تیرو تجاربو کې، له بده مرغه لیدل شوې دي.

ـ په راتلونکې کې دې په نویو چاپیدونکو درسي کتابونو کې د ملي ګټو او ملي هویت مسألې ته جدي پاملرنه وشي او د مسایلو د روښانولو له پاره دې وطني نومونې او ملي ترمنالوژي وکارول شي.

ـ که موږ ماشومان او کوچنیان له بیسوادۍ، ظلم، زورزیاتي او محرومیتونو څخه خلاص نه کړو، په ځویم ځل به مو انسانیت له بې عدالتۍ او ظلم سره مخامخ کړی وي.

راشئ ماشومان او کوچنیان د بیسوادۍ له لوی ظلم څخه وژغورئ!

راشئ د کوچنیانو په باب هغسې چې د نوې زماني علمي غوښتنې یې غواړي، فکر وکړو!

**«ماشومان ګلان دي، ګلان ښه وساتئ!»**

(دوکتور لطیف بهاند)

**«هر قوم په خپلې ژبې او هره ژبه په خپلو ادبیاتو ژوندۍ پا تې کېږي»**

(محمود طرزي )

# پردی چاپیریال او له کوچنیانو سره د چلند مسأله

## دریمه برخه

## زوی ته د یوه پلار لیک

**لکه د نورو نړیوالو ورځو په څېر، د پلار ورځ هم زموږ په وطن کې دومره ارزښت نه لري، یادونکو او لمانځونکو باندې یې رنګارنګ تاپې لګول کېږي.**

**دلته په اروپا کې هم په ټولو هېوادونو کې پر یوه ورځ نه لمانځل کېږي، بلکې هر هېواد یې په جلا ـ جلا ورځو لمانځي. په ډنمارک کې د همدې رواني اونۍ په لړ کې لمانځل کېږي. ما سږکال د پلار د ورځې په پار څو مطلبه خپرېدو ته برابر کړي دي، یو یې همدا لاندې لیک دی.**

توهین، ښکنځل، تند انتقاد او ډېر فشار د ماشوم روح او شخصیت په بله بیايي. توهین او تند انتقاد چې سره یوځای شي، د هرچا، په تېره د ماشوم شخصیت وژني، داسې یې ځای پرځای دروي چې بیايي وړاندې تګ یا ستونزمن وي او یا نا شونی. کوچنیان باید د لویانو له عینکو ونه لیدل شي، لویان باید ماشومان او کوچنیان په خپله تله کې ونه تلي، هغوی خپل همځولي ونه ګڼي او لوړې هیلې ورنه ونه لري؛ څکه هغوی خپله وړه دنیاګۍ لري. د لویانو دنده دا ده چې ماشومانو ته او کوچنیانو په ډېره مهربانۍ او مینه لارښوونه وکړي او د هغوی اعتماد او پاملرنه ځان ته واړوي، نه دا چې د هغوی بې اعتمادي او کرکه راوپاروي.

میندې او پلرونه باید په ډېرهنرمندانه ډول له خپلو اولادونو سره اړیکې ټینګې کړي او لارښوونه یې وکړي. انتقاد، وهل، توهین، ګیله او زښت برخورد، اصلاً پایله نه لري. د دغو ستونزو د حل له پاره د نورو لارو تر څنګ د حل یوه لاره او ښه تجربه د نامتو امریکایي لیکوال «ډبلیو لیوینګستون لارنډ» د یو مشهور لیک بیا ـ بیا لوستل دي. د دې لیک نوم دی «پلار یې هیروي» دا لیک د نړۍ په اکثرو ژبو ژباړل شوی دی او ما هم په ډېره مینه او دقت سره پښتو ژبې ته راوژباړه.

د ډېرومیندواو پلرونو تجربو ښوولې ده چې د دې لیک له لوستلو نه وروسته، له ماشوم او کوچني سره د دوی په چلند کې جوت توپیر راغلی دی.

انسان کولای شي د تهدید له لارې ماشوم یا کوچنی یو کار ته اړباسي، خو دا کار ناوړې پایلې لري. په لیک کې پلار له ماشوم سره غریېږي، داسې لکه چارلي چاپلین، چې د لندن له کوڅو څخه خپلې لور ژرالدینې ته یو لیک لیکلی و. په لیک کې چاپلین داسې انساني عواطف په ښنه

کړي وو، چې بیا د نړۍ د ټولو پیغلو له پاره سرمشق شو او د نړۍ په اکثرو ژبو وژباړل شو؛ خو په دې لیک (پلار یې هیروي) کې به وګورئ چې پلار څنګه له کوچني سره چلند کوي، چې باید ویې نه کړي او له کوم چلند نه باید کار واخلي.

زموږ هنر به په دې کې وي چې د نیک برخورد او صمیمیت له لارې کوچني ته سمه لارښوونه وکړو. دلته به د یوه پلار منفي چلند او پښیماني وګورو. هیله ده چې موږ هم یو څه را ښه شو، د نوي عصر، نویوغوښتنو ته غاړه کېږدو او په خپل چلند کې جوت توپیر راولو.

ما دا لیک د نامتو لیکوال ډیل کارنګي له «آئین دوست یابي» نومي کتاب څخه پخوا راژباړلی او د یوې مقالې په منځ کې خپور کړی و او اوس یې یو ځل بیا د پلار د ورځې په مناسبت خپروم.

داهم لیک:

زویکه غوږ کېږده:

دا ټول هغه وخت درته وایم چې ته ویده یې. څیره دې ګونځې غوندې ښکاري او ږرخولې شوي تندي باندې دې د زرینو ویښتانو یوه کړۍ نښتي ده. په غلا دې د خوب کوټې ته راغلی یم. همدا څو شیبې مخکې مې چې په کتابتون کې ورځپاڼه لوستله، د پښیمانۍ یو غریو پسې واخیستم او د خپلو ګناهونو له پوهیدو سره سم دې د کټ څنګ ته راغلم.

زویکیه!

شته دي داسې شیان چې د هغو په باب ما فکر کړی دی. ما له تاسره بد چلند کړی دی. ښوونځي ته د تګ له پاره دې چې کالي اغوستل، درباندې په قهر شوم، هغه هم د دې له پاره چې مخ دې د مینځلو پرځای، په لمده ټوټه پاک کړ. بیا مې وښکنځلې، په دې خاطر چې بوټان دې نه وو پاک کړي. کله چې دې خپل شیان پرغولي وغورځول، په قهر مې درباندې چغې کړې. د سبا ناري پر مهال مې هم ستا د کارونو نیمګړتیاوې پیدا کړې. تا هرڅه تویول، خوله دې له ډوډۍ ډکه کړې وه، دواړه څنګلې دې پر میز باندې لګولي وې، پرخپلې ډوډۍ باندې دې ډېر کوچ وسولول، او کله چې ته د خپلو لوبو پر لوري تللې، زه روان وم چې ریل ګاډي ته ورسیږم، تا راته لاس وښوراوه او په لوړ آواز دې وویل:

پلاره خدای په امان.

ما دې په تریو تندي په ځواب کې وویل:

ځان مه غونجوه.

بیا دا پیښې ترلمر پریواته رواني وې. کله چې د واټ په بل پلو کې وم، ځارنه مې دې وکړه چې په ګونډوشوی وې او مرمري تیږو سره دې لوبې کولې، جورابې دې سورۍ شوې وې، د همځولو اندیوالانو په مخ کې مې سپک کړې، زه روان شوم او ته مې اړیستلې چې کور ته راپسې راشې. جورابې دې قیمتي وې او که خپله دې له بازار نه اخیستلای، نو حتماً به دې د هغو ښه ساتنه کړې وای. ته خپله فکر وکړه زویه، چې سړی پلار وي او دا ډول فکرونه ور دوځار شي.

په یاد دې دي چې لږ وروسته بیا کتابتون کې د ورځپاڼې په لوستلو بوخت وم، چې ته زړه نا زړه او لږ خوابدی راغلې؟ کله مې چې لږ ورځپاڼه ټیټه کړه او د ورځپاڼې له کندونه مې ولیدې، نو ښکاره وه چې زما د حوصلې جام ستا د بې وخته راتګ په خاطر ډک شوی و. ستا په زړه کې څه تیر شول او د وره په خوله کې دې پښه ونیوله، زه وډونګیدم:

«د شپې په دې وخت کې څه غواړې؟»

تا هيڅ ونه ويل، خو د يو توپاني يرغل په څير دې رامنډې کړې، لاسونه دې زما د غاړې اميل کړل، ښکل دې کړم. زه دې په خپلو ښکلو لاسونو په مينې او عاطفې سره ټينګ په غېږ کې ونيولم. دا عاطفه خدای ستا په زړه کې داسې غوړولې وه، چې غفلت او نا پوهې يې هم نه شي هيرولای. که کټل مې بيا تللی وې او د پښو څپهاری دې د زينوله خوا اوريدل کېده.

ښه زويکه!

لږ ځنډ نه و وتلی چې ورځپاڼه مې له لاسه وښويده او يو زورونکی ډار رادوځار او راباندې حاکم شو. زما عادتونو له ما سره څه وکړل؟ په وړو ـ وړو څيزونو د انتقاد عادت، د رټلو او ښکنځلو عادت، تا ته دا زما ډالۍ وه چې ماشوم وې.

دا کارونه د دې له پاره نه وو چې ته راته ګران نه وې، دا د دې په خاطر وو چې ما له يو ماشوم نه له حد نه زيات څه غوښتل. زه لګيا وم ته مې د خپل منګ (سن) په متر اندازه کولې.

ستا په شخصيت کې ښه، نازنين، ښکلي او حقيقي شيان زښته ډير وو. ستا وړوکی زړه د ښکلي سهار په څېر و، چې د لوړوغرو له پاسه سر راجګوي، او دا دې په خپل ذاتي حرکت سره وښودل. تا نن شپه د مخه ښې له پاره رامنډې کړې او ښکل دې کړم.

زويکه نن شپه نور هيڅ ارزښت نه لري، زه په تياره کې ستا کوټې ته راغلی يم او په زوړند سر دې د کټ په څنګ کې په ګونډو شوی يم، دا يوه عاجزانه تلافي ده. پوهيږم که دا ټول مې په ويښتيا کې درته ويلی وای، پام دې نه ورته کېده؛ خو سر له سبا نه به زه يو ريښتينی پلار اوسم، تا سره به صميمي اوسم:

ــ کله چې زوريدې، زوريږم به،

ــ کله چې خاندې، خاندم به.

کله چې وغواړم د بې حوصله ګۍ په خاطرڅه ووايم، ژبه به مې په غاښ کړم او لکه يو ديني عبادت به هرکله له ځان سره دا بيا بيا ووايم:

«هغه يوازې يو ماشوم دی، يو ښکلی ماشوم..»

خواشينی يم چې ته مې يو نارينه ګڼلی وې.

اوس دې ګورم چې ستړی ستومانه په کټ کې ويده يې، پوهيږم چې تر اوسه پورې هغه نوي زيږيدلي ماشوم ته پاتې کيږې، چې پرون يې د مور په غيږ کې سر د هغې پر اوږو ايښی و.

پوهيږم چې ډيرمې غوښتل ډير زيات.

پای

# پردی چاپیریال اوله کوچنیانوسره د چلند مسأله

## څلورمه برخه

## پلارته لیک

د نړۍ په هرګوټ کې د خورو ورو افغانانو د کورنیو په منځ کې دوه ډوله ستونزې سرراپورته کوي:

۱ـ هغه ستونزې چې د مهاجرت په چاپیریال کې غوښتې او ناغوښتې سړی ورسره مخامخ کېږي.

۲ـ هغه ستونزې چې په ځانګړې ډول یې کورنۍ او په عام ډول یې مهاجرین په خپلو منځو کې سره رامنځته کوي.

هغه ستونزې چې مهاجر په نوي چاپیریال کې په ناڅاپې ډول ورسره مخامخ کېږي، کیدای شي د نوې ټولنې او نوي چاپیریال د نویو قوانینو په زده کولو سره یوڅه له مخې لرې شي؛ خو هغه ستونزې چې مهاجرین یې په عام ډول په خپلمنځي اړیکو کې خپله سره رامنځته کوي؛ د هغو حلول او له مخې لرې کول یوڅه ستونزمن ښکاري. هوښیار او بادرایته خلک کولای شي چې د زړو او نوو مثبتو تجاربو په کارولو سره په ډېره هوښیارتیا د دغو ستونزو په لرې کولو کې بریالي شي. د دغو ستونزو ترټولو ستره او بلا ډوله ستونزه په کورنیوکې د میندو- پلرونو او ماشومانو ځپلمنځي اړیکو ورانیدل دي.

افغانان خو په لومړي ګام کې هلته په وطن کې او دلته په اروپایي هیوادونو کې د دیموکراسۍ له لاسه کړېږ،، کړېږ دي. زما دا خبره دې لوستونکي داسې نه تعبیروي چې ګنې زه د دیموکراسۍ پلوی نه یم، نه زه د دیموکراسۍ پلوی څه، چې وربانديې مین هم یم؛ خو نه پرهغې دیموکراسۍ باندې چې بوش جان؟ او اروپایانو یې څو کاله مخکې نسخه جګړه ځپلو، مریضو، خوارو او بینوا افغانانو ته په لاس ورکړه، چې اوس د هغې صادرې شوې دیموکراسۍ مخه دوی په خپله هم نه شي نیولای او په بلا یې افغانان څه چې ټوله دنیا سر ورنه ټکوي.
پرته له کوم شک نه، دیموکراسي ښه شی ده، خو کله چې موږ دیموکراسي وایو، ورسره باید په جدي ډول دا پوښتنې رامنځ ته شي چې:

ديموکراسي چيرې او د چا له پاره؟

هغو افغانانو چې خپله تولنه او خلک يې ښه پيژندل، د نوې صادرې شوې ديموکراسۍ پرضد يې ډيرې نارې سورې اوچتې کړې، خو چا به اوريدلې وای؛ هغه وچې وروسته له نه (۹) کلونو څخه د جرمني د وخت د دفاع وزيرکارل ګوتنبرګ د۲۰۰۹کال د دسمبر په دويمه نيمايي کې افغانستان ته د يو بيړني سفر له پای ته رسيدو وروسته وويل:

«مونږ (غربيان) تيروتلي يو چې په افغانستان کې د غربي ټيپ ديموکراسۍ له پاره خپل وخت او پيسې مصرفوو...»

ديموکراسي ژورې او لرغونې ريښې لري. د بشريت په تاريخ کې د ديموکراسۍ په لټه پسې مجبور يو چې يونان ته سر ورښکاره کړو. په يونان کې د ديموکراسۍ په اړوند اوه (۷) پيړۍ مخکې له ميلاد نه د ستر اونه هيريدونکي دراکون (Drakon) نوم يادولای شو، چې د لومړي ځل له پاره يې د خپل هيواد اساسي قانون تدوين کړ. وروسته له دراکون څخه، ددوو تنو نومونه له ديموکراسۍ سره تړاو لري، چې يو يې سياست پوه او قانون جوړونکی سولون (solon) و او بل يې دموکرات مشر کليستن (cleistheines) و، چې د آتن اساسي قانون يې اصلاح کړ. له دوی نه وروسته تامس جفرسون (Tomas Jefferson) يادولای شو، چې د امريکا د ديموکراسۍ پلار، د استقلال د اعلاميې مولف او د بشر د حقوقو منادي و.

که د ديموکراسۍ دغه بنسټ اينبودونکي او پلرونه ژوندي وای او افغانستان ته د امريکا يانو او اروپايانو د صادرې شوې ديموکراسۍ حالت او پايلې يې ليدلې وای، نو ځای پرځای به يې زړونه دريدلي وای.

په افغانستان کې د بوش ډوله ديموکراسۍ په رڼا کې، زمونږ د رمو ساتونکو له ليوانو سره آشنايي پيل کړې ده او هره ورځ د تنديو وريوو له غوښو نه غوړې ميلمستياوې ورته جوړوي او زمونږ محکوم خلک يې يوازې ننداره کوي.

چا سره چې پرله پسې ناکردې او نادودې وشي، نو وايي:

«زمونږلاس تورسپي ختلی»

دلته اروپا کې هم افغانان په کرارنه دي، ورميرونو ته يې د ديموکراسۍ د منفي اړخونو چړې وربرابرې شوي دي. داروپايي ديموکراسۍ منفي اړخونو، په لسګونې او سل ګونې کورنۍ د تباهۍ کندې ته ورغورځولې دي.

اوښ نه يې پوښتنه وکړه:

کوتل ښه دی که مخ په ځوړه؟

اوښ په ځواب کې وويل:

درې واړه دې ورک شي.

بيايې وپوښته:

دريم يې لا څه شی دی؟

اوښ ويل:

ختې.

اوس موږ نه هم اوښ جوړ دی، کاږه واږه او له عیبونو ډک یو، د اروپايي ژوند لوړ او ځوړ راته ګران شوي او په ختو کې نښتي یو.

دلته د اروپايي مهاجرت په چاپیریال کې ډیری میندې او پلرونه له خپلو لوڼو او زامنو شکایت لري چې نا فرماني کوي. ځینې میندې او پلرونه د افغانستان د چاپیریال په څیر، له خپلو ماشومانو نه په ټوله مانا تابعیت غواړي او هرڅه چې دوی غواړي، ماشومان باید هماغسې وکړي.

د دغو ستونزو په لړ کې کله شکوه او شکایت، کله د خولې عداوت او کله بیا خبره وهلو ټکولو ته رسېږي، چې پایله یې له میندو او پلرونو څخه د ماشومانو لرې کېدل، تښتېدل او بل ځای د ژوند غوره کول دي او یا هم د پولیسو په مداخلې سره تردې هم نورو مرداریو ته پښه ورغځوي.

ډیرې کورنۍ داسې انګیرې چې کوچنیان او نوي ځوانان ملامت دي. دا به ومنو چې اروپايي دیموکراسي د ډیرو ښو اړخونو ترڅنګ، منفي اړخونه هم لري او له همدې منفي اړخونو نه په استفادې سره ځینې پېغلوټې او تنکي ځوانان، خپلو کورنیو، مشرانو او راتلونکي ژوند ته ستونزې زېږوي.

پرکوچنیانو باندې څه د میندو او پلرونو په ځای او بې ځایه فشارونه، څه د اروپايي دیموکراسۍ پراخه دایره او په څنګ کې یې د ځینو میندو او پلرونو نه پاملرنه؛ نوي ځوانان داسې ډنډ ته ورپورې وهي چې بیایې له هغه ډنډ څخه راوتل ګران او یا هم نا شوني وي.

څو ځینې کسان بیا داسې انګیرې چې ټول ځوانان به داسې نه وي. شته دي داسې ځوانان چې مشرانو ته یو څه ورکوي، لاسنیوی یې کوي او لاربښوونه ورته کوي. دلته به زه د یو افغان ځوان د زړه خبرې د یو لیک په ډول تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کړم، تاسو به په دې لیک کې ولولئ چې دا ځوان له خپلو میندو پلرونو او مشرانو نه څه غواړي او څه هیله ورنه لري:

## پلار ته لیک

**پلاره!**

تا هم لکه د هر مهاجر په څیر د یوې لرې لاس ته راوړنې په بدل کې، هلته په وطن کې او دلته د مهاجرت په نوي چاپیریال کې ډیرڅه له لاسه ورکړل. تا څومره ستونزې وګاللې او زه دې وینم چې اوس یې هم ګالې.

دا ستونزې، داغمونه، تا په خپلو غوښو، وینو او ټول روح او روان احساس کړي او احساسوی یې؛

اوس دې هم وینم چې په وطن کې د ناخوالو او دلته ستا له ژوند او زده کړو سره نابرابر قوانین تا زوروي او کړوي، ته لکه غر، ورته ولاړیې؛

د خپلو زده کړو او تجاربو ځنازې ته لکه یتیم په پټه خوله اوښکې تویوې؛

لکه دیوال چې ښوره خوري دا غمونه او ستونزې هم ستا روح اوروان په پټه سره خوري او له منځه یې وړي.

هم دې شرقي کلتور اوپوهه زوروي اوهم دغربي کلتوراوتمدن داورپه دایره کې راګیرېې؛

تا او تا ته ورته ستا ځینو نورو همځولو وطنوالو په خپل وطن کې تر وسه او دا مکاناتو تربرید پورې لوړې زده کړې کړې دي او د کار په ترڅ کې مو تجارب ترلاسه کړي دي. تاسو، ستاسو او ستاسو د همځولو زده کړې او تجربې زموږ د خلکو او وطن له پاره لویه شتمني ده او زه یې

وينم چې دلته په پردي وطن کې د مهاجرت او غربت په دې چاپيريال کې تا خپله دا شتمني له لاسه ورکړې ده. ستا زدکړې او ستا تجربې په دې ټولنه کې د پانګې او کارخاوندانو ته څه په لاس نه ورکوي، ځکه په کم ارزې ورته ګوري او زه پوهېږم چې دا حالت تا او ستا همځولي مشران زوروي.

**پلاره!**

ما به وبښې چې زه زغردې خبرې درته کوم. زه نه غواړم چې د هغو دردونو، رنځونو او غمونو بار پرخپلو اوږو يوسم، چې ته په کې راګير يې. ته بايد د يوه پلار په توګه د خپلو زده کړو او تجربو په رڼا کې ما ته له دغو دردونو، کړاوونو، غمونو او تيارو څخه د وتلو لار وښيې.

زه دې درد وينم او احساسوم يې، زما په رګونو کې ستا وينه جاري ده، زه هم تا غوندې په يوه دردمنه ټولنه او روڼ اندې با درکه کورنۍ کې پيدا شوی يم،

زه لاوړوکی وم چې ستا په مټ په افغانستان کې د بل کړای شوي اور له دايرې څخه راوايستل شوم. ما لا د وطن د ښيګڼو او بد ګڼو مزه دومره نه وه څکلې، له وطن نه مې څه په ياد نه دي، يوازې مې د ذهن په دهليز کې د ړندو راکټونو او مرميو د غړونو آزانګې کښته پورته کېږي، خو ستا او ځينو نورو مشرانو له خولې مې اوريدلي دي چې په افغانستان کې له روان سيستم او له حاکمو خلکو او نظرياتو سره جوړيدل او ورسره روانيدل ګران کار دی او دلته هم حالت داسې دی چې مورږ ټول يې وينو او پرې پوهېږو. ټولودردونه او غمونه چې تا ته هلته او دلته در په برخه شوي دي، زه پرې پوهېږم اوځان په ټولوکې درسره شريک ګڼم.

**پلاره!**

زه پوهېږم چې ته ډير ځلې د ښکلولو پرځای، چيچل شوی يې، خو څه وکړم، زما ژبه هم لکه د سمندر څپې د زړګونو هيلو او خبرو د ويلو هڅه کوي، زه غواړم ستا د ستونزو په باب وغږېږم.

زه پوهېږم چې ته د هيلو د اوسپنيز ديوال ترشا ولاړ يې، څه نه شې کولای او د سويو هيلو ايرې دې د نامرادۍ زمانې بادونه هرې خوا ته بادوي او ته يوازې د خپلو سوځيدلو هيلو د ايرو په بوږبښکيو کې راګير يې.

انسان ته نه ښايي چې ستونزو ته ځان وسپاري، له ښو هيلو سره ژوند کول او په هغو پسې هڅه کول، انسان ته د پرمختګ او ښه ژوند لاره سموي،

زه دې وينم چې ستا د دردونو له تيارې ځالې څخه نوې هيلې سر اوچتوي. نور دې د چوپتيا کونګ (جغد) د خپل ذهن له کنډوالې څخه وشړه. د نااميدۍ کونګ د خپلو نوو هيلو په رڼو او تيرو غشو ووله. زه پوهېږم چې د خلکو د پرله پسې ناکاميو په کنډواله کې ترخه بوټي راشنه شوي دي او د دوی په کروندو باندې د مهربانه نرم پسرلني باران پرځای، د دښمنيو د زهرو بارانونه وريدلي دي او دا د زهرو بارانو نه افغانانو په کلونو، کلونو د ښه کيدو په هيله وزغمل. زه پوهېږم چې دوی ته نوره ژړا هم نه ده ورپاتې، دوی نور نه شي ژړلای، د دوی پرځای تيرې په ورت، ورت ژاړي.

**پلاره!**

ما ته مور ټولې هغه کيسې ټکي په ټکي کړې دي چې تا د جګړې په سره اور کې له مورږ سره څه کړي دي او زمورږ په خاطر دې د ټوپکيانو څومره نادودې ليدلي او زغملي دي.

تا د ګولیو په باران کې مورړ تر زخمي وزرو لاندې پټ کړي وو،

تا د نامردۍ زمانې د نامرادو ګردونو په بوړبوښکیو کې مورړ ساتلي یو،

تا د راکټونو په اختر کې د ژړا او ډار پرځای مورړ ته ډاډ او خندا راښودلې ده،

تا د خپلو کلیوالو د وجود غوښې چې د مسلمان دوله نا مسلمانو په راکټونو څیرې شوې وې، راټولې کړې او هدیرې ته دې رسولې دي،

تا د خپل سر په بیه مورړ خوینديږ - ورونه لکه د پیشکې بچې په څو ځالو ګرځولې یو،

تا خپل تیر تاریخ او اوسنې برخلیک ته ژړلي دي،

او تا...

**پلاره!**

زه پوهیږم چې ستا په ګوګل کې خلکو او وطن ته هیلې او انګازې څیرې وې او تا خپل هرڅه په دې لاره کې وآزمیل، خو په مقابل کې ته وچیچل شوې،

خو ته اوس د تیرو ناکردو، نادودو او ناکامیو په دایره کې ځان مه کېباسه، ځان د اندیښنو په خوسا ډنډ کې مه ډوبوه او...

مه کوه، ځکه چې زه ستا ژوند غواړم، مورړ تا غواړو، زه تا غواړم، ته مې پلار یې او زه تا ته اړتیا لرم.

ډیر کسان دي چې اوس تا له لاسه ورکړي دي او د هغو نشتوالی تا زوروي، زه نه غواړم چې بې وخته تا له لاسه ورکړم او ستا د نشتوالي دروند بار د ژوند ترپایه زما پر اوږو باندې بار وي.

**پلاره!**

زه ستا په پرتله ډیر بې تجربې یم، ما به وبښې چې د خپلې بې تجربې نړۍ نه په تا غږ کوم او د لږو تجربو له عینکو نه تا ته ګورم او دا کړښې درته لیکم.

زه نه غواړم چې د اروپایي کلتور د منفي اړخونو یو لاروی واوسم، خو دا یو ښکاره حقیقت دی چې د اروپایي کلتور په جال کې راګیر یم، له هرې خوا ډول، ډول یرغلونه راباندې کېږي او دا دی د دغو یرغلونو په پایله کې زه د خپل پلرني وطن ډیر څه له لاسه ورکوم. خپله ژبه، خپل کلتور او... په پای کې هرڅه. زه توپان پسې اخیستی یم، دا توپان د نوح له توپان څخه هم خطرناکه دی او زه مهاجر افغان ځوان لکه ماته بیړۍ د اوبو پرسرروان یم او هره شیبه ډوبیدو ته لارڅارمه او دا ته یې چې زما لاس نیوی کولای شې.

**پلاره!**

دا ته یې چې په دې توپاني حالت کې له ما سره مرسته کولای شې. ته که د خپلو ستونزو له جال نه ځان را و نه باسې، په دې کړکیچن حالت کې زما لاس نیوی و نه کړې اولاد را و نه بنیې، یقیناً زه د تباهۍ کندې ته لوېږم؛ نو هیله کوم چې ته نور بې مورده سوچ کول او په لوی لاس بلې دنیا تلل پرېږدې. زه ستا لارښوونو او تجربو ته اړتیا لرم، هیله کوم زما لاس نیوی وکړه!

ډیری مشران (میندې - پلرونه) په خپلو ناسمو سیاسي تضادونو ښه پوهیږي او په دې ښه خبر دي: هغه سیاسي پالیسي یا سیاسي لارې چې دوی پرې روان وو او روان دي، غلطې دي او

ناسمي ثابتې شوې دي، خو بیا هم ټینګار پرې کوي؛ په دې ښه پوهېږي، هغه سیاسي مشران چې د دوی له نظره د تایید وړ وو، هغوی په نا سمه لار روان وو، خو بیا یې هم تاییدوي، په ښو یې یادوي، دفاع ورنه کوي اولاره یې تعقیبوي. د همغو سیاسي لیډرانو د تېروتنو په وجه اوسنۍ ستونزې په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې د افغانانو د پرمختګ په لاره کې لکه غر داسې پرتې دي. دهمدغو مشرانو(مینډې ـ پلرونه) ناسمو سیاسي تضادونو دا دی نویو نسلونه ته هم لکه د سرطان نا روغي لاس ورغځولی دی. ډېرې کورنۍ د پخوانیو سیاسي او ملي تضادونو له مخې د خپلو لوڼو او زامنو د راتلونکي ژوند د بنسټ ډبره ږدي او په دې ډول نوی نسل هم د خپلو ناسمو سیاسي تضادونو په زهرو لړي او د خپلو عقدو او ګناهونو درند پیټی د هغوی پر اوږو باندې باروي. نوی نسل به ترڅو او ترکومه ځایه د تیرو نسلونو د ګناهونو او تیروتنو پیټی پرشا چلوي.

**پلاره!**

ته که د هیوادنیو او نړیوالو سیاسیونو د تیروتنو ښکارشوی یې او ته که په خپل هیواد کې د خپلسرو ایله جاري تش په نامه مسلمانانو د افراطیت په وجه، د خپلې ځالې پرېښودلو ته اړ ایستل شوی یې او هرڅه دې له لاسه ورکړي دي؛ زه دا دی په اروپا کې له ورته ستونزو سره مخامخ یم، خو په لږ توپیر سره. چې نور هیڅ نه وي، ډېری اروپایان چې د افغان او افغانستان کلمې اوري، د جګړې، تروریزم او مخدراتو تورمفاهیم یې په ذهنونوکې تداعي کېږي او له بده مرغه چې دغه تور داغونه او ټاپې د افغانانو پر لمن باندې ډېر ښه وهل کیدای شي.

**پلاره!**

زه په دې ښه پوهېږم هره ورځ د نړۍ له ګوټ، ګوټ څخه د منفي بشریت ضد کړنود اخبارونو په اوریدو سره، پرتا باندې نور هم فشار زیاتېږي اوتا زوروي، خو ستا اولادونه او ټول کشران پر تا باندې حق لري چې له تا نه یوڅه لاربښوونکي خبرې واوري، تا روغ وویني او ستا په خوله کې خندا وویني.

د یوویشتمي پیړۍ د تمدن د ډیوې ترڅنګ، تیاره ګوټونه هم شته او د اوسني وخت په دې حساسو شرایطوکې که څوک په نا پوهۍ سره یو ګام د دې زماني د تیروتنو په کوڅه کې اوچت کړي، بیا یې راګرځیدنه ګرانه نه، بلکې نا شوني ده؛ ځکه چې د یوویشتمي پیړۍ د تیروتنو لار یو طرفه ده او په یو طرفه لار کې بیرته راګرځیدل، انسان د مرګ کندې ته رسوي.

نوی نسل که د یوویشتمي پیړۍ د پوهې او تکنالوژۍ ډیوه په لاس کې لري، د خپلو مشرانو لاربښوونو ته هم اړتیا لري. هیڅ څوک نه غواړي چې خپل پلار له لاسه ورکړي، خدا مه کړه که زه تاسو له لاسه ورکړم، یو خوا به مې د یتیم په نامه د پردي وطن په سوځنده بیدیا کې د پلار سیورې له سره ایسته شوی وي او بل پلو که ستا او نورو زړه سواندو مشرانو لاربښووني نه وي، نو خامخا به د دیموکراسۍ او تمدن په نامه، د دیموکراسۍ د منفي اړخونو په پیروۍ سره، د یوویشتمي پیړۍ د وحشت په تیاره دایره کې راګیر کېږم چې پای یې مخ په ښکته تلل دي.

نوهیله کوم، زما له زړه او ذهن څخه دا راپورته شوې خبرې د زړه په غوږو واورې، زما د ماشومتوب معصومیت سترګو ته ودروه، له ځان سره پام وکړه او زما خندا او خوشالي په ژړا او ویرباندې مه بدلوه!

ستا زوی ...

# په پردي چاپېريال کې

# مورنۍ ژبه،

## د کوچنیانو ادبیات او زدکړه

## «د ماشومانو ادبیات، څېړنه او ارزونه» د سیمینار په مناسبت

ټاکل شوي ده چې «د ماشومانو ادبیات، څېړنه او ارزونه» تر سر لیک لاندې، د افغانستان په جلال آباد ښار کې، د ختيزې سيمې ليكوالو او ژورنالېستانو د خپلواکې ټولنې له خوا علمي سيمينار جوړ شي. د دې سيمينار مسولينو له ما نه هيله کړې چې دې سيمينار ته يوه مقاله ولیکم. دا مقاله د هغو په غوښتنه لیکل شوې.

زموږ په وطن او ټولنه کې د جګړې اور او وير، په لسګونو سونامي ګانې رامنځته کړې او بې شميره غميزې يې په ميراث پريښې دي، داسې چې زموږ څو نسلونه يې د اور خوراک کړل او هغه چې د دې سونامي ګانو له مرګونو څپو نه نيم ژواندي پاتې دي له بيلابيلو ستونزو سره لاس ګريوان دي. د جګړې او له جګړې د را زيږيدلو سونامي ګانو د زور او تاو په وجه يو شمير وطنوالو خپل کلي کورونه، نغري، هديرې او هر څه پر ځای پريښودل، بهر ته يې يوازې د سر د خلاصون په تمه مخه کړه.

تللي خلک په بهر ملکونو کې له رنګارنګ ستونزو سره مخ شول، چې تر ټولو لويه غميزه او ستونزه يې د نورو ټولنو د کلتوروونو تر فشار لاندې او ډير ځلې د کورنيو د مشرانو د بې غورۍ په وجه د مورنۍ ژبې او په عام ډول د خپل کلتور د ډيرو برخو له لاسه ورکول دي.

د بهر ميشتو افغانانو له ژوند نه چې کوم ښکلی انځور دننه په افغانستان کې د خلکو د ذهن په ګالرۍ کې رسم شوی دی، دا سم او ښکلی نه دی، نه يې منفي اړخ سم دی او نه يې مثبته خوا.

ژوند په هر ځای او هره ټولنه کې چې وي، منفي او مثبت اړخونه لري او زموږ افغانانو د ناکامۍ يو دليل دا دی چې هر چيرې او په هر څه کې ډير اِفراط او تفريط کوو.

په پرمخ تللو هيوادونو کې ژوند رنګينی لري، خو ستونزې يې هم ډيرې او چاقې دي. په هغو ټولنو کې د اِنتګرېشن (integration) يا په ټولنه کې جذبيدل او د هغو له قوانينو سره ځان برابرول، لږې نه، ښې ډيرې ستونزې لري؛ هغه هم يو ه شرقي او د بيلې عقيدې او دودونو درلودونکي انسان ته. په افغانستان غوندې يو چاپيريال کې زيږيدلی، را لوی شوی انسان ته او بيا په اروپا غوندې يوې ټولنه کې ټول عمر ژوند کول، داسې يوه بوټي ته ورته وګڼئ چې له ګلانو او رنګينيو نه يې ازغي او بد رنګي زښته ډيره ده.

په داسې ټولنو کې زېږيدلي او زيږيدونکی نسل ته که مشران پام و نه کړي، هماغسې لويږي لکه د هغې ټولنې وګړي او دا نوي ورغلي خلک تر څو چې ځان له هغې ټولنې او د هغو له

قوانينو سره ځان جوړوي، يا د ليونتوب پولې ته ور رسيدلې وي او يا هم دومره وخت وربانديې تير وي چې نور د کهولت خزان وهلي بڼ ته ور ننوتي وي.

په دې ليکنه کې د همدغو ترخو واقعيتونو په نظر کې نيولو سره کوم تصوير چې زه له افغانستان نه د باندې د افغان ماشومانو او کوچنيانو د روزنې، مورنۍ ژبې د زدکړې، د فرهنګ د ساتلو او د کوچنيانو د ادبياتو په برخه کې وړاندې کوم، همدا اوس وايم چې منفي اړخ يې ډير دی. ما دې څوک د ډير خوشبين او ډير بد بين په تور نه رنګووي، دا يو تريخ واقعيت دی او لکه د سقراط جام، اوس افغانانو ته ور په برخه دی.

کله چې يو ماشوم، کوچنی يا تنکی زلمی د وطن پريښودلو ته اړ کېږي، نو د باندې له وطن نه، که لرې وطن وي که کوم نږدې هيواد، په لومړي ګام کې د مورنۍ ژبې زکړه، ساتل او پالل ور ته ډير اړين وي او وروسته له هغه نه په مورنۍ ژبه باندې ورته د مطالعې او د کوچنيانو د ادبياتو لوستل مطرح وي.

په وطن کې د توپک د شپيلۍ د سُر کيدو، د جګړې د اور د توديدو او ځينو نورو دلايلو پر بنا د ډيرې افغانانو منډه ګاونډيو هيوادونو ايران او پاکستان ته وه، چې شمير يې ميليونونو تنو ته رسيده.

په ايران کې خو يې په ډيرو ځايونو کې افغان کوچنيانو او ځوانانو ته، ښوونځي او پوهنځي ته د تګ اجازه هم نه ورکوله او د ژوند په هر چاره او هر ځای کې دوی ته د «آشغال» خطاب شوی، کېږي او که چېرې کومې سلنې ماشومانو کوم ټولګي ته د تګ چانس تر لاسه کړی هم وی، په داسې چاپيريال کې به و چې يو توری به هم د دوی د ژبې او عقيدې، تاريخ او جغرافيې هلته نه و. د مورنۍ ژبې، ښو يا په خپله خوښو زدکړو او يا د ماشوم پالنې، روزنې او د کوچنيانو د ادبياتو خو لا پوښتنه هم بايد و نه شي.

ايران ته که افغان د کار له پاره تللی دی او که د سر ساتلو په موخه، په هر حالت کې دی دومره په عذاب شوی چې په پای کې د کوم مظلوم افغان له ذهن او ضمير نه دا غږ را پورته شوی دی چې فيروز کندوزي نومي سندرغاړي بيا په خپل خواږه غږ زمزمه کړی هم دی:

ورک دې شي ايران

ورک دې شي ايران د غم لړلو تومنو سره ژوند مې په کې تيرکړ دم د يوجوړه جامو سره

ورک دې شي ايران، په ايران کې مې زړه تنګ دی
هر شرکت ته لاړ شم، په نصيب کې مې ګُـلـنګ دی
يوه په ګناه نه يم، د مـهـنـدس را سره جـنـګ دی
مـيـاشت مې پوره نه وي، بيا روان يـم بسترو سـره

ورک دې شي ايران دغم لړلو تومنو سره ژوند مې په کې تيرکړ دم د يو جوړه جامو سره

ورک دې شي ايران، کـار يې تول په غم لـړلی دی
هر ځوان ته چې ګورې، په ژوندينې د ګور مړی دي
حـال پوښتنه ی مه کړه ، د مزله ګردو وهلـی دی
څوک لارو کې مړه شول، څوک سودا کوي ګورو سره

ورک دې شي ايران د غم لړلو تومنو سره ژوند مې په کې تير کړ دم د يو جوړه جامو سره

په پاکستان کې هم د پاکستاني قوانینو په چوکاټ کې او په افغانانو باندې د حاکم اِفراط له وجې په هغو کتابونو او درسي موادو کې چې دوی استفاده ور نه کوله، داسې څه نه شته چې ماشوم دې له پر مختللو علومو او عصري ژوند سره آشنا کړي. هغه کتابونه او درسي مواد چې ما لیدلي دي هلته درسي پروګرام داسې برابر کړای شوي و چې تر مثبتو موادو منفي په کې ډېر ځاي پر ځای شوي وو. همدې موادو ته په کتو سره، په دې اړوند ما د ۲۰۱۲ کال په پیل کې د یوې مقالې په ترڅ کې داسې لیکلي وو:

«هلته په افغانستان کې زموږ د کوچنیانو او زلمیانو په غوږونو کې د ښوونکي د غږ پر ځای، د قومندان آمرانه چیغې آزانګې کوي. اوس زموږ ماشومانو او زلمیانوته د الف او ب د زدکړې پر ځای د ډزو کولو لارښوونه کېږي، دا دی زموږ سرنوشت او دا دی زموږ ښوونه او روزنه. په ګاونډیو هیوادونو کې چې کوم ښوونځي او پوهنځي پرانستل شوي وو، هغه هم د سیاست او مذهب په رنګ رنګول شوي وو. هلته هرې مذهبي او سیاسي ډلې هڅه کوله چې خپل افکار او عقاید تدریس کړي او د خپلو نظامي اهدافو د تر سره کولو له پاره، په لومړي ګام کې د ماشومانو او تنکیو زلمیانو په ذهنونو کې د جګړې، وسلې او وژنې مفاهیم ځای پرځای کړي. د دغو ښوونځیو او پوهنځیو په درسي کتابونو کې هیڅکله زده کوونکو ته د خپل وطن تاریخ، ملي ګټو، تمدن او علمي پرمختګونو په باب، څه نه لیکل کیدل، مورنۍ ژبه او ملي کلتور اصلاً مطرح هم نه وو. د دغو ښوونځیو په یو درسي کتاب کې مې ولوستل:

«ت = توپک،

ج = جهاد،

م = مجاهد،

ټ = ټانک،

و = وژل،

او...»

هلته په پاکستان کې ډیره سلنه ماشومان او کوچنیان د یوې مړۍ ډوډۍ د پیدا کولو له پاره له هر ډول روزنې ښوونځي او کتاب نه لرې، په کوڅو کې سر ګردان ګرځیدل. د داسې کوچنیانو ښه انځور د افغانستان د خلکو په درد دردیدلی لیکوال، ژورنالست او کالم لیکونکي نور البشر نوید ډیر ښه وړاندې کړیدی. د انسانیت، ماشومتوب او کوچنیتوب له ټولو حقونو محروم یو افغان کوچنی، چې پلار یې د جهاد په نامه، نیابتي جګړې کې وژل شوی دی، د اسلام نور ارکان، سواد، د کوچنیانو ادبیات او... خو لا څه کوې، چې کلمه یې هم نه ده زده.

د مورنۍ ژبې او په مورنۍ ژبه باندې د سواد د زدکړې مسأله په اروپایي هیوادونو کې، د هر هیواد د ځانګړو قوانینو په چوکاټ کې تر سره کیدای شي، خو بیا هم دا د هر هیواد په هغو خلکو پورې تړلې ده چې دلته د مهاجر په توګه ژوند پیل کوي، په تیره د کورنۍ په مشرانو پورې یې اړه لري چې تر کومې اندازې دوی له خپل وطن، تاریخ، خپل کلتور، خپلې مورنۍ ژبې سره مینه ساتلې ده او د هغو په زدکړه کې څومره د کوربه هیواد له امکاناتو نه استفاده کولای شي. د اروپایي هیوادونو په سیمه کې، په تیره ډنمارک کې د زدکړو، هر ډول امکانات شته، دا په هر چا پورې اړه لري چې استفاده ور نه کولا شي که نه.

په اروپایي هیوادونو کې د مهاجرو ضد سیاست د روحي په رامنځته کیدو سره او د راسیزم په قوي کیدو سره د مورنۍ ژبې د زدکړو امکانات ورځ تر بلې محدود شول او حتی په ځینو

هیوادونو کې دا خبرې هم رامنځته شوې چې: هغه بودجه چې د بهرنیانو د مورنۍ ژبې په زدکړه باندې مصرفیږي، ولې یې د خپلو ژبو د زدکړې او تقویې له پاره مصرف نه کړو؟

کله چې زه په ۱۹۹۲ ام کال کې د افغانستان پرېښودلو ته اړ شوم، لومړنی ځای چې ما د افغان ماشومانو او کوچنیانو او نوي نسل بد حالت په کې ولید، هغه پیښور و. سره له دې چې زه تر سخت رواني فشار لاندې وم، بیا مې هم د ماشومانو، کوچنیانو او نوي نسل ته د څه لیکلو په نیت ګوډ مات یاد داشتونه په ذهن او کاغذ باندې اخستل. د نوي نسل د سواد، زدکړو، روزنې او د کوچنیانو د ادبیاتو د خراب حالت د یو تصویر وړاندې کولو په موخه مې په ماسکو کې، «نوید» نومې اخبار ــ چې د ښاغلی فاروق فردا په مدیریت خپریده ــ د «پردی چاپیریال او د مهاجرو کوچنیانو د زدکړې مسأله» تر سر لیک لاندې، د مقالو سلسله پیل کړه او بیا مې د ۲۰۱۲ کال د فبروری په ۲۲ مه د دویم ځل له پاره وېبپاڼو کې هم خپره کړه. هلته ما د افغان ماشومانو کوچنیانو او تنکیو ځوانانو د غه حالت ته په کتو سره خپل نظر لیکلي او خپور کړی و او اوس هم په هماغه نظر یم، هغه نظر داسې دی:

«... ما د مهاجرت د نورو ترخو تر څنګه، د افغان کوچنیانو راتلونکې زوروې او هر کله په دې فکرکې یم چې په پردیو چاپیریالونو کې به د افغان کوچنیانو د سواد مسآله څنګه کیږي؟ ځکه چې مهاجرت هرڅه له انسان څخه اخلي. ژبه،کلتور، رواجونه، کور، جومات، مړی، ژوندی، هدیره او ... خو موږ باید ځانونه تسلیم نه کړو. له ټولو میندو او پلرونوسره ښایي چې د نورو نا خوالو سره د مبارزې تر څنګ، په جدي ډول له دې ستونزې سره هم مبارزه وکړي، تر څو زموږ کوچنیان له خپل فرهنګ، تاریخ، عقایدو، ادبیاتو، ژبې او... څخه بیګانه او لرې پاتې نه شي او که ځای پر ځای لاس تر زنې کینو، خدای مه کړه سبا به زموږ د هر یوه کوچنیان بې سواده، له خپل فرهنګ او ژبې سره نا آشنا را لوی شي؛ بیا به نوی نسل له خپل فرهنګ،ژبې، تاریخ او هر څه سره نا بلده او بیګانه وي. بیا به دا د شرم پیټی چیرته او تر څو پورې پر شا چلوو.

په روسیه کې د اټکل له مخې د مهاجرو افغانانو پنځه نوي سلنه مشران باسواده دي، خو خپلو کوچنیانو ته حد اقل الفبا او د خپلې مورنۍ ژبې لوستل او لیکل نه شي ور زده کوالی. وبه منو چې ښوونځي نه شته او شرایط په جدي ډول خراب دي، خو راځئ چې په ډېر ابتدایي ډول یې له کورني سواد څخه پیل کړو. دا خبره کومه نوې خبره نه ده، پخوا هم زموږ په هیواد کې دا رواج و چې په کورونوکې به د لومړني سواد زدکړه پیل کیده. په دې ډول به موږ وتوانیږو چې حد اقل د مورنۍ ژبې د لوستلو توان خپلوبچیانو ته ورکړو او که دا ونه شو کړای، نو زموږ د بچیانو برخلیک به داسې شي چې بیا به لکه ځینې ښاغلي، خپلې کورنۍ ته به هم په خپله مورنۍ ژبه لیک نه شي لیکلی. دلته ماسکوکې به د خپلو سترګو یو لیدلی حال تاسو ته ولیکم : یوه ورځ په یو ځای کې ناست وم، د دوستانو له ډلې څخه یو تن د وطن په لورې روان و او دی په دې ښه پوهیده چې وطن، کلي او کور ته په رسیدو سره، د دې زلمیانو کوم چې دلته ژوند یا زدکړې کوي او یا د محصل په نامه له وطن څخه رالیرل شوي دي، د دوی کورنۍ خامخا د خپلو زامنو او بچیانو حال او احوال ورځنې غواړي. ټولوته یې وویل : هلکانو! خپل احوالونه د لیکونو په ترڅ کې ولیکئ چې زه یې ستاسو کورنیو ته ورسوم. ځکه لیک نیم دیدن دی او ستاسو کورنۍ خامخا ستاسو د لیدلو هیله لري. هغوی وویل: سمه ده. څوشیبې وروسته یو زلمی کاغذ او قلم په لاس کوټې ته راننوت او وې ویل: دا دی کاکا، قلم اوکاغذ مې راوړل، هرڅه چې زه درته وایم، ته یې ولیکه . وطن ته تګونکي دوست مخ ور واړاوه او ښه بد رد یې ورته وویل.
ما په هغې شیبې کې د دې دوست په سترګو او څیره کې یأس او خواشیني ولیدل. ده ورو ترشونډولاندې د قهر په څپو کې دا مطلب زمزمه کاوه:

«سرې لمبې مې خوښې دي، خو مړه خوړلن ته نه راځم

دا ځلـي کـه لاړم، بیـا بــه دې وطـن تــه نـــه راځــم»

دغه زلمي چې خپلې کورنۍ ته په بل چا خط لیکه، وړوکی له وطن څخه راالیږل شوی و، مور، پلار او کورنۍ یې نه وه ور سره چې څه یې زده کړي وای. دی په لیلیه، پارک، پوهنځي، سړک او نورو ځایونو کې، هره شیبه له پردۍ ژبې، پردي کلتور او پردیو خلکوسره مخامخ و او... څکه تر دې سرحده پورې رسیدلی و؛ خو مور او تاسو خو له خپلو بچیانوسره یو ځای یو او سواد هم لرو او د فرهنګ، فرهنګ چیغې هم وهو، د دې په باب ولې فکر نه کوو چې:

«ولې مو بچیان تراوسه پورې په خپلو مورنۍ ژبو لیک لوست نه شي کولای؟»

له ګاونډیو هیوادونو ایران او پاکستان نه ور وړاندې، په دا نورو لرو او نږدې هیوادونو لکه: تاجکستان، روسیه، اُکراینن او... کې هم د کوچنیانو د زدکړې مسأله، ښوونځي ته تګ او د مورنۍ ژبې په زدکړې او ساتنه پسې، نه ورغلي مهاجر دومره سر خوځوي او نه هم د کوربه هیوادونو خلک او واکداران په ځبل پروګرام کې څه ور ته لري. او دلیل یې دا دی چې یا به کوربه هیواد ته دا موضوع دومره ارزښت نه لري او بودجه به هم نه وي په نظر کې ور ته نیول شوې او ورغلي مهاجر هم په یادو هیوادونو کې د موقتي استوګنې په فکر کې وي او له دې هیوادونو نه یې، یوه دایمي امن هیواد ته د تګ په خاطر د ترانزیت یا د خیز د تختې په توګه کار اخیسته.

سره له دې چې په ځینو هیوادونو لکه روسیه کې د افغانانو له پاره ځانګړي ښوونځي هم پرانستل شوي وو، خو موثریت یې د ښکاره او نا ښکاره دلایلو له مخې دومره محسوس نه وو. البته چې په ماسکو کې په خپله افغانانو هم نوښتونه وکړل او وروسته له یاد ښونځي نه د ښاغلي سیداعظم اخګر کارونه د ستاینې وړ دي چې د افغان کوچنیانو د ښوونې، روزنې او مورنۍ ژبې د زدکړې په برخه کې یې یو لړ ګټورګامونه اوچت کړل.

په روسیه کې د مورنۍ ژبې د زدکړې او ساتنې په برخه کې بل د پاملرنې وړکار، د مهاجرینو له پاره د ملګرو ملتونود «UNHCR» د اداري او اکلیبر د خیریه مؤسسې له خوا، د افغان کوچنیانو له پاره د یو ښوونځي پرانستل دي. په دې ښوونځي کې د نورو مضامینو تر څنګ، مورنۍ ژبه هم تدریسیدله. په ماسکو کې د میشتو افغانانو او د هغو کوچنیانو د کورنیو د معلوماتو له مخې چې کوچنیان یې همدې ښوونځي ته تلل؛ د دې ښوونځي تدریس ډیر مثبت ارزول شوی دی. دا خبره هم د یادولو وړده چې په ماسکو کې د افغان کوچنیانو ډیره سلنه په ستونزمنو فزیکي کارونو اخته دي، په دې خاطر د ښوونځي او مورنۍ ژبې د زدکړې له پاره دومره وخت هم نه پیدا کیږي ...»

البته دا پاسنی ګزارش ما د یوې نمونې په ډول یاد کړ، خو په ماسکو غوندې پردې چاپیریال کې یې موثریت د ماشومانو، کوچنیانو او تنکیو ځوانانو په راتلونکي ژوند کې دومره محسوس څکه نه و چې دا کار په نوي چاپیریال کې چې مهاجر ور روان و، یا نه تعقیبیده او یا به شرایط بیخي په بل ډول وو.

دایمي استوګنځیو ته(هغه هیوادونه چې یو پناه ِغوښتونکي ته پنا ورکول کیږي) په رسیدو سره له ډیرو امکاناتو سره سره بیا نورې ستونزې سر را پورته کوي چې د دې ستونزو په سیوري کې ځینې کورنۍ د خپلې مورنۍ ژبې، زدکړو، ښوونځي، پوهنځي، یا لوړو زدکړو په فکر کې هم نه وي. یوه ډله افغانان یې داسې انګیري چې جنت الفردوس ته رسیدلي دي، هر څه د سوسیال له خوا تیار دي او هیڅ ډول ستونزې نه شته، نور نو زدکړې،، مورنۍ ژبې، خپل کلتور، خپل تاریخ، په وطن کې د جګړې لمبې، په وطن کې د پاتو خلکو فکر او ... څه کوي.

بله ډله افغانان هم د لومړۍ ډلې په څير د هيڅ شي په فکر کي نه وي، يوازې د پيسو د پيدا کولو په موخه هڅي کوي او اولادونه د ښوونځي او پوهنځي په ځای پيزاري ته ليږي، څو د پيسو د ګټلو په موخه فزيکي کارونه وکړي.

البته شته داسي افغانان چي د خپل وطن، خپل کلتور او خپل هر څه ته په پام سره، د کوربه هيوادونو له ټولو مثبتو امکاناتو نه په استفادې سره خپلو ټولو مثبتو تجربو نه استفاده کوي، پر ځان فشار راوړي، حتی له خپل معاش نه خپلو بچو سره د مرستې زمينه برابروي، څو کوچنيان او ځوانان زدکړې تر لاسه کړي.

بله خبره دا ده چي په اروپا، امريکا او ځينو نورو پرمخ تللو هيوادونو کي د مورنۍ ژبې مسأله ډيره سلنه په خپله د افغانانو په علاقې او هڅو پورې اړه لري. په يو ډير تازه ګزارش کي مي ولوستل چي څه ډول افغانانو ته په ځينو هيوادونو کي په مورنۍ ژبې د ژباړن د نه شتون په وجه د کيس په اړوند ضررونه رسيدلي دي، دا په دي چي د محکمې په لړ کي مثلاً دري ژبې ته ايرانی ژباړن راغواړي بيا د قاضي او د دوسيې والا په منځ کي نا پوهيدنه يا سوتفاهم رامنځته کيږي او پايله يي د مهاجر له پاره منفي وي. د کانادا په هيواد کي افغانانو، په ډير زحمت سره، د کانادا هيواد مقامات په دې قانع کړي دي چي پښتو او دري ژبې د کانادا په رسمي دفاترو کي داسي ثبت او ومنل شي چي د اړتيا په وخت کي هر چا ته په خپله مورنۍ ژبه ژباړن را وغواړي.

کوم معيارونه چي د کو چنيانو د ادبياتو په برخه کي په نړيواله کچه منل شوي او مراعاتيږي، د هغو په چوکاټ کي هيڅ ځوک نه شي کولای و وايي چي افغانان به په بهر کي خپلو بچو ته کتابونه برابر کړي وي، يا به يي د مطالعي زمينه ور ته برابره کړې وي او يا به يي کوم ماشوم ته په خپله مورنۍ ژبه د خوب په وخت کي کوم کتاب لوستی وي. د ماشومانو او کوچنيانو له پاره په اروپا کي په کتابي او چاپي بڼه زما له نظره څه نه دي تير شوي، په ويبپاڼو کي د کوچنيانو له پاره څه شعرونه او کيسي ليکل شوي او ژباړل شوي دي چي د لاندې ښاغلو نومونه د يادوني وړ دي:

۱ــ احمد ولي اڅکزی، د ماشومانو او کوچنيانو له پاره يي کيسي او شعرونه ليکلي دي،

۲ــ ښاغلي ملک پرهيز د ډنمارکي ليکوال هانس کريستين اندرسن څو کيسي ژباړلي دي،

۳ــ ښاغلي يوسف هيواد دوست د ډنمارکي ليکوال هانس کريستين اندرسن څو کيسي ژباړلي دي،

۴ــ آصف بهاند د ډنمارکي ليکوال هانس کريستين اندرسن څو کيسي ژباړلي دي.

که چيرې د کوم ماشوم مور يا پلار د خوب په وخت کي، کوم افغان ماشوم ته د آرامه خوب په موخه، کوم کتاب يا کومه کيسه لوستي وي، هغه به هم د کوربه هيواد په ژبه وي، نه د ماشوم په مورنۍ ژبه. د کوچنيانو د ادبياتو له پاره ډير د پاملرني وړ کار د ننه په افغانستان کي شوی او هيله ده چي دا کار نور هم په مثبت لوري تعقيب او وغځول شي.

کله چي زه (آصف بهاند) اروپا ته را ورسيدم، د کوچنيانو د ادبياتو او نوي نسل د روزني، په تيره بيا د مورنۍ ژبې د زدکړې او يا عادي ليک لوست د يادولو په موخه مي خپلي هلي ځلي منظمي کړې او جدي هوډ مي وکړ چي په دې برخه کي به کار کوم، نو هماغه و چي په لومړي ګام کي مي په سويدن کي د مورنۍ ژبې له ښونکو سره د سويدن دولت او ځينو افغان فرهنګي ټولنو او شخصيتونو په مرسته کار پيل کړ او د ۲۰۰۲ کال په جنوري کي مي په ستاکهولم کي د دريو ورځو په مخ، د مورنۍ ژبو په هغه سيمينار کي د لکچرست په توګه فعاله ونډه واخيسته چي په سکندنوياي هيوادو نو کي د ميشتو افغانانو د مورنۍ ژبو د ښونکو له پاره جوړ شوی و.

په یاد سیمینار کې مې، خپل لومړني یاداشتونه، د دوو مقالو په چوکاټ کې، له ستاکهولم نه په خپریدونکي «فردا» نومې مجله کې خپاره کړي دي. (فردا مجله، د ۲۰۰۲ کال د مارچ او اپریل ګڼه)

له هغه نه وروسته مې د کوچنیانو د ادبیاتو او نوي نسل د روزنې په برخه کې چې څومره توان رسیدلی او موضوع پورې اړوند مواد په مخه راغلي دي، ما وخت په وخت لیکنې کړې دي. «د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر او اوسنی حالت» تر سر لیک لاندې مې د دې کرښو تر لیکلو پورې ۲۴ مقالې خپرې کړې دي چې ټولې په ویبسایټونو کې همدا اوس هم آنلاین موجودې دي، که یې درانه لوستونکي د مطالعې لیوالتیا ولري، کولای شي په دې پته ټولې ولولي:
http://www.afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95

د مطالعې د دود او نوي نسل د روزلو په موخه مې تر اوسه څو ګټورې مقالې خپرې کړې دي،

ما په ۱۹۹۴ م کال کې ویلي، لیکلي او خپاره کړي وو چې ټول خلک په تیره هغه قلموال چې عملاً د کوچنیانو د زدکړو او ادبیاتو په برخه کې فعال دي، باید دې موضوع ته په کمه سترګه ونه ګوري، څو هغسې چې باید، و نه شول. هغه توري دا دي:

«زه له ټولوفرهنګیانو،په تیره له هغوفرهنګیانوڅخه چې عملاً لیکنې او نشرات کوي،هیله کوم چې د افغان مهاجرو کوچنیانو د ښوونې او روزنې له پاره کم له کمه په خپلو خپرونو کې جدي پاملرنه وکړي.

ښاغلي جنید شریف د خپلو ژباړو په لړ کې د یوه ژباړل شوي اثر په مقدمه کې لیکلي ووچې:
«... بیت نیکه په دویمه هجري پیړۍ کې په زارۍ، زارۍ د خدای له دربار غوښتلي وو چې:

دا وګړي ډیرکړې خدایه لویه خدایـــه، لویه خدایـه»

او خدای (ج) دا وګړي ډیر کړل؛ خو اوس اوس داسې څوک نه شته چې یو وار ووایي:
دا وګړي ماړه کړې خدایه! لویه خدایه، لویه خدایه، دا وګړي باسواده کړې خدایه! لویه خدایه، لویه خدایه!!!»

زه د یو عیني شاهد په توګه ویلای شم چې:

د پاسنیو نیمګړتیاوو تر څنګه دا هم باید یاده شي چې افغانان چې هر هیواد ته رسیدلي دي، په ټول کې د خپلو ماشومانو او کوچنیانو د پاللو، روزلو، فرهنګ ساتلو فکر ورسره و. د دې کار له پاره یې د کوربه هیوادونو د امکاناتو نه تر یوې اندازې استفاده هم کړې او په شخصي او انفرادي ډول یې هم دې موخې ته د رسیدو هڅې کړې دي، خو په ټول کې دا کار که هر چا ته د ارزونې له پاره وسپارل شي، ضعیف ځکه ارزیابي کیږي چې په بهر کې مو ډیره سلنه ماشومان، کوچنیان او نوی نسل په خپله ژبه سم غږیدای نه شي، لیک لوست وربانديې نه شي کولای او...

د دې ټولو نیمګړتیاوو او منفي خبرو په څنګ کې، په بهر کې افغانان د نوي نسل د پالنې ـ روزنې، د کوچنیانو ادبیاتو ته پام او له نوي تمدن او نوې نړۍ سره د نوي نسل د آشنا کولو له پاره ځینې ګټور کارونه هم کړي دي چې تر ټولو غوره بیلګه یې د ځینو ویبپاڼو او فیسبوک پاڼو جوړل او په هغو کې د ماشومانو، کوچنیانو او نوي نسل د روزلو په برخه کې تر ټولو نوې لاسته راوړنې، تخلیقات، ژباړې او روزنیزې مقالې او مطالب خپرول دي. لکه:

ماشوم روزنه (فيسبوک پاڼه)،

ـ د ماشوم د ادبياتو کور (فيسبوک پاڼه)،

ـ پل (ويبپاڼه)،

ـ کتابتون دات کام (ويبپاڼه).

د ماشومانو، کوچنيانو او نوي نسل د روزلو په برخه کې په دې وروستيو کې هڅې زياتې شوې دي ډېرې ويبسايټونه په دې برخه کې ليکنې، ژباړې او تخليقات خپروي.د ساري په ډول د تاند او پل فعاليتونه يادولای شو. هغه څه چې نن سبا «تاند» او «پل» ويبپاڼې او د دوی قلمي همکاران ليکي او خپروي يې د کميت او کيفيت له پلوه له تمې نه لوړ او مثبت دي. مينه وال کولای شي په دې باب زيات مالومات په دې لينک کې ولولي:

دا پټې چې ما يادې کړې، که له افغانستان نه چلېږي او خپرېږي، که له بهر نه اداره کيږي، خو اوسنۍ ټکنالوژي يې سمدلاسه، په هماغه شيبه کې مطالب د نړۍ په هر ګوټ کې تر لوستونکو،ليدونکو او اوريدونکو پورې رسوي.

د ماشومانو او کوچنيانو له پاره د خپرو شووکتابونو او په ويبپاڼو او فيسبوک کې د راغلو موادو په برخه کې چې ما کومې يادونې وکړې، د دې په برخه کې هم په ټول کې افغانان او په ځانګړي ډول پښتانه ستونزې لري. د برېښنايي آدرسونو (فيسبوک پاڼې، ويبسايټونه، برېښنايي آنلاين کتابونه) په برخه کې دننه په افغانستان کې د استفادې امکانات ډېر محدود دي، يا بيخي کمپيوټر او انټرنټ نه پيژني او که يې پيژني، بيا ډېری خلک د انټرنټ ستونزه لري. په بهر کې چې د کمپيوټر او انټرنټ ستونزه نه شته، بيا نو خدای ځينې خلک په دې مرض اخته کړي دي چې کمپيوټر نه استفاده نه کوي او له ټولو نه لويه ستونزه دا ده چې په ټول کې په افغانانو کې او په ځانګړي ډول په پښتنو کې د مطالعې دود يا هيڅ نه شته او يا هم ډېر ضعيف دی.

پاسنۍ نيمګړتياوې چې ما په نښه کړې، دا د دې له پاره نه دي چې زه خپل خلک يا فرهنګيانو ته په کم نظر وګورم، نه داسې نه ده ما ته د انسان توری، بيا په کې زما خپل هيواد وال ډېر ارزښت لري. دا درد مې په دې وخت کې د دې سيمينار په مناسبت ځکه بيان کړ چې د ويلو وخت يې همدا و او بله دا چې دا کار ما د تخريب له پاره نه، بلکې د اصلاح په غرض وکړ، دا په دې چې د ټولو پاملرنه د ماشومانو، کوچنيانو او نوي نسل پالنې، روزنې او ادبياتو ته ور واوړي.

تر ټولو ستره پانګونه د نوي نسل روزل دي، که مو نوی نسل و نه روزئ، خپلې راتلونکې زمانې او خپل راتلونکي نسل ته مو په خپله اور اچولی دی، بل چا ته د حکايت او شکايت حق نه لرئ. محمود طرزي ډېر ښه ويلي دي: «هرقوم په خپلې ژبې اوهره ژبه په خپلو ادبياتو ژوندۍ پا تې کيږي»

په اروپا کې، په سکندنويايي هيوادونو کې، په تيره ډنمارک کې، چيرې چې د مورنۍ ژبې د تدريس او يا له دې سره اړوند کتابونه او درسي مواد ما ته په مخ راغلي دي، ما په خپلو ياد داشتونو او مقالو کې د هغو يادونه کړې ده او ثبت کړي مې دي. د دې خبرې يادول ډېر اړين ګڼم چې د مورنۍ ژبې په برخه کې تر ټولو ډېر او موثر کار د سويډن په هيواد کې هم د سويډن د دولت په پاملرنې او هم په سويډن کې د ميشتو فرهنګيانو په جدي کار او پاملرنې سره تر سره شوی دی، درسي مواد برابر شوي، درسي کتابونه ليکل شوي د مورنۍ ژبې کورسونه داير شوي دي او حتی د مورنۍ ژبې له پاره ويبسايټونه پرانستل شوي دي، چې موثريت يې په سويډن کې د افغان ميشتو کورنيو په ماشومانو، کوچنيانو او تنکيو ځوانانو کې له ورايه محسوس دی.

اوس افغانان په هر ډول شرایطوکې چې دي، په هر هیواد کې چې ژوند کوي، باید د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتنې او پالنې په برخه کې او د کوچنیانو د ادبیاتو مسألې ته جدي پاملرنه وکړي. په ۲۰۰۲ کال کې چې ما د موضوع په اړوند د سویدن په ستاکهولم کې ځینې وړاندیزونه کړي وو، اوس یې هم ضروري بولم. هغه وړاندیزونه په لنډ توپیر سره په دې ډول دي:

ــ په افغانستان کې سیاسي ـ نظامي حالت ټیکاو نه لري، هره ورځ څه چې هره شیبه بدلیدلای شي، د همدې دلیل له مخې د ټاکلي وړاندیز مطرح کول ګران بریښي؛ څنګه چې په افغانستان کې دننه او له افغانستان څخه د باندې د مورنۍ ژبې ستونزې توپیرسره لري، په افغانستان کې د ننه په مورنۍ ژبې د تدریس او لیک لوست مسأله طرح ده او له افغانستان څخه د باندې په مورنۍ ژبه باندې پوهیدل، د مورنۍ ژبې زده کول، ورباندې خبرې کول او د هغې د سا تلو او پا للو مسأله مطرح ده. د همدې دلیل له مخې په افغانستان کې دننه ټولو کورنیو، دولتي اړوندو ادارو، ښوونکو او فرهنګیانو سره ښایي چې په مورنۍ ژبه باندې د لیک لوست مسأله دې نه هیروي او ساده دې نه انګیري؛ ځکه چې په مورنۍ ژبه باندې د یو څه زده کول او په دویمه ژبه باندې څه زده کول ډیر توپیر سره لري.

ــ په ګاونډیو هیوادونو، په تیره پاکستان او ایران کې سره له دې چې مهاجرافغانان د یادو هیوادونو، ژبو او ټولنیزو سیاسي شرایطو بار پراوړو وړي، خو باید د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتلو او لیک لوست مسأله هیره نه کړي.

ــ اوس چې له افغانستان نه د باندې بې شمیره فرهنګي ټولنې جوړې شوې دي، که دغه ټولنې د نورو هیوادونو د ناروا پروګرامونو په لمنو پورې نه وي زوړندې؛ باید د افغان کوچنیانو مورنۍ ژبو ته پاملرنه وکړي او په کوربه هیوادونو کې له رسمي مقاماتو سره په تماس کې، د مورنۍ ژبې د زدکړې په برخه کې بنسټیز کارپیل کړي. څومره چې زه مالومات او تجربه لرم، د بي بي سي د تعلیمي اداري له خوا د خپرو شویو کتابونو د تدریس نتیجه ډیره ښه ده، ځکه یې د تدریس د دوام پلوی یم او وایم چې د دغو کتابونو د تدریس لړۍ دې پراخه شي.

ــ څنګه چې ښکاره ده په افغانستان کې دننه چاپیریال، د ګاونډ یوهیوادونو چاپیریال او نوروهیوادونو چاپیریال یو بل سره جوت توپیرونه لري، باید د هرهیواد د عیني شرایطو، ستونزو او امکاناتو په نظرکې نیولو سره د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتنې او پالنې له پاره درسي مواد او شرایط برابرکړای شي.

ــ څنګه چې لیدل کیږي د ډیرو هیوادونو په تعلیمي نصاب کې د مورنۍ ژبې زدکړې له پاره ځای نه شته، د همدې دلیل پر اسا س له هرې ممکنې وسیلې نه په استفادې سره د مورنۍ ژبې زدکړه په تعلیمي نصاب کې ځای پر ځای شي او که ممکنه نه وي، د کوچنیانو کورنۍ، فرهنګیان او ښوونکي دې په شخصي ډول د مورنۍ ژبې د کورسونو پرانستلو ته ملا وتړي.

ــ په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې میډیا سره ښایي چې د مورنۍ ژبې د اهمیت، تدریس او ساتلو په برخه کې په پراخ ډول تبلیغاتي کمپاین پیل کړي. ټولو لیکوالو ته لازمه ده چې د موضوع د اهمیت په اړوند مقالې او کتابونه ولیکي.

ــ دې مسألې ته دې د لویانو او کورنیو پام وي : کوچنی چې په پردي چاپیریا ل کې لویږي، هرډول چې کیږي، باید د مورنۍ ژبې زدکړې ته یې جدي پاملرنه وشي، چې په دې ډول ما شوم وکولای شي چې له خپلې کورنۍ او هیواد والوسره د پوهونې را پوهونې او ارتباط یوه وسیله ولري. که نني ماشومان او د سبا ورځې ځوانان له هر څومره لوړوزدکړو سره خپل وطن اوخ لکوته ور وګرځي، که په خپله مورنۍ ژبه چې د ده د خلکو ژبه هم ده، خبرې ونه شي

کړای، نه یوازې دا چې هغو خلکو او هغه وطن ته خدمت نه شي کولی، بلکې خپل شخصیت ته یې هم ضرر رسوي او پایلې یې منفي دي.

ــ د مورنۍ ژبې په اړوند دې د ټولو ذیربطو دولتونو، فرهنګي مؤسسو، میډیا او اشخاصو فعا لیتونه ، د ملګرو ملتونو د ځانګړو ادارو له پروګرامونوسره همغږي شي. درسي پروګرام او درسي مواد باید د علمي او متخصصینو له خوا د تیرو تجاربو له مثبتو اړخونو نه په استفادې سره ولیکل شي. هیله داسې ده چې د دې آثارو د چاپ مصارف دې د ملګروملتونو د ماشوم صنوق له خوا ورکړل شي . څنګه چې د سویدن دولت د مورنۍ ژبې په برخه کې زیات کارکړی دی او ښې تجربې لري، نو په نږدې راتلونکي کې دې، د ملګرو ملتونو او اروپایي اتحادیې سره په تفاهم کې، د مورنۍ ژبې د تدریس او خوندي ساتلو کارپوهان، لیکوا ل او د نظر خاوندان د یوه علمي سیمینار پرمیز سره راټول کړي؛ چې هغوی د یوه واحد درسي پروګرام او درسي موادو له پاره، خپلې تجربې، لیکنې او نظریات یو بل ته واوروي او خپلوکې دې قناعت سره وکړي. داسې نه شي چې بیا یو ښوونکی په یو ځای کې ماشوم ته و وایي چې : د افغانستان فلانی واکدار خدمتګار او ملي قهرمان و او دا بل یې و وایي چې هغه خاین و، وطن پلورونکی او قاتل و. دا نمونې د دې لړ په تیرو تجاربو کې، له بده مرغه لیدل شوې دي.

ــ په راتلونکې کې دې په نویو چاپیدونکو درسي کتابونو کې د ملي ګټو او ملي هویت مسألې ته جدي پاملرنه وشي او د مسایلو د روښانولو له پاره دې وطني نومونې او ملي ترمنالوژي وکارول شي

ــ که موږ ماشومان له بیسوادۍ، ظلم، زورزیاتي او محرومیتونو څخه خلاص نه کړو، په څو یم ځل به مو انسانیت له بې عدالتۍ او ظلم سره مخامخ کړی وي.

راشئ ماشومان د بیسوادۍ له لوی ظلم څخه وژغورئ!

راشئ د کوچنیانو په باب هغسې چې د نوې زمانې علمي غوښتنې یې غواړي، فکر وکړو!

ــ لکه څنګه چې څو ځلې بیلابیلو آدرسونو ته ګران دوست او د کوچنیانو ادبیاتو عملاً ډیر فعال شخصیت ښاغلي اجمل تورمان، په تعلیمي موسساتو کې د کوچنیانو د ادبیاتو د مضمون د تدریس وړاندیز کړی، د هغه په تایید سره زه د کوچنیانو د ادبیاتو د برخې د فعال او د نوي نسل د روزلو د پلوي په توګه ټینګار کوم چې د کوچنیانو ادبیات دې په مکاتبو او پوهنتونونو کې د یو مضمون په ډول تعلیمي نصاب ته داخل کړای شي.

دا وړاندیزونه ما پخوا کړي وو، په ۲۰۱۲ کال کې مې بیا چاپ او تکرار کړل، خو تر نن پورې هیڅ نه دي تر سترګو شوي. که خپله ورپسې و نه ګرځو، بل څوک موږ ته هیڅ هم نه کوي. د سیمینار ګډون کوونکو ته مې د کوچنیانو د ادبیاتو د نومونې په برخه کې وړاندیز دا دی چې په همدې سیمینار کې دې را ټولو درنو پوهانو ته دا موضوع مخکې کینودل شي چې:

د کوچنیانوادبیات و ویل شي که د ماشوم ادبیات؟

دې موضوع ته ما د کوچنیانو ادبیاتو د مقالو په لومړۍ برخه کې، په کابل کې د شپیتمې لسیزې په پیل کې د دایر شوي سیمینار د پریکړو په رڼا کې اشاره کړې وه چې ماشوم هغه نوزېږي ته ویل کېږي چې لا لیک لوست نه شي کولای او کوچنی بیا هغه ته ویل کېږي چې د لیک لوست شي، ځکه نو د ماشوم د ادبیاتو د اصطلاح پر ځای باید د کوچنیانو ادبیات وکارول شي، بیا هم څنګه چې په دې سیمینار کې د را ټولو شو پوهانو پریکړه وي، هغسې به وشي.

# مورنۍ ژبه،

# ستونزې او حلارې

د ژبې په اړه، د لوړو، خيالي او ښكلو شعارونو تر ويلو مخكې، راځئ هر يو له ځانه وپوښتو، مورڼ خپله، خپلي ژبې ته څه كړي دي او نور څه كولای شو؟

ژبه، بايد بډايه شي، ژبه بايد علمي شي، ژبه بايد اقتصادي شي، ژبه بايد سياسي شي، ژبه بايد د فرهنګ په ګانو، وګاڼل شي، ژبه بايد له لافو او بې ځايه ستاينو، وژغورل شي.

دوكتور لطيف بهاند

دا مقاله د مورنۍ ژبې د هغه علمي سيمينار له پاره ليكل شوې ده چې د «ملي تحريک» د ډنمارک څانګې له لوري د ۲۰۱۹ كال د فبرورۍ په شپاړسمه نېټه د ډنمارک د «وايله» په ښار كې جوړ شوی و.

په پيل كې د دې خبرې يادول اړين ګڼم:

د مقالې په سريزه كې د مورنۍ ژبې په باب زما تيوريكي خبرې په ټولو ژبو پورې اړه لرلای شي، خو له تيوريكي خبرو نه وروسته زما د بحث موضوع يوازې پښتو ژبه ده. لومړی مې په بېلابېلو ځايونو كې د خپلې مورنۍ ژبې پښتو د موقعيت د څرنګوالي او له هغې سره د چلند په باب عمومي خبرې كړې، بيا مې يې اوسنی حالت څېړلی او ارقام وړاندې شوي دي او په پای كې مې يې ستونزو ته په اشارې سره، له خپله انده حلارې ورته په ښه كړې دي او د وړانديز په ډول مې د ټولو په مخكې ايښي دي.

ژبه د انسان د اوږدو تجربو ټولګه ده. څوک چې ژبې ته په كم ارزې ګوري او د ژبې وييونو ته په ټيټه سترګه ګوري، په حقيقت كې د بشر تاريخي ودې ته ارزښت نه وركوي. دا بايد په ياد وساتل شي چې له ژبې سره ساده او سطحي چلن، په اصل كې له انسان سره هماغسې چلن دی. ژبه د لسګونو زرو لغاتو لښكر دی چې وروسته له ډېرو كړاوونو او تجربو برابر شوی دی او دې د كار وړ لښكر ته بايد درناوی وشي، ځكه چې هر چېرې يې كارولی شئ. څوک چې د ماناوو دې لښكر ته ارزښت نه وركوي او يا په درنه نه ورته ګوري، هغوی د بشريت د اوږدو ـ اوږدو مودو تجربې بې ارزښته ګڼي.

که حقيت ته ځير شو، ژبه په اصل کې ببرته انسان ته، د ده د باندني چاپېريال ژباړه ده او باندني چاپېريال ته د ده ورژباړل دي. ژبه د انسان او فزيکي ـ ټولنيز چاپېريال په منځ کې د اړيکو وسيله ده.

ژبه يوه بهانده، خوځنده او د بدلېدو په حال کې پديده ده، که کار او پاملرنه ورته وشوه، خوځېدونکې او غني کېدونکې به وي او که کرار لاس تر زنې ورته کينو، له تلو او خوځېدو لوېږي او د مرګ دايرې ته ورننوزي.

هر څومره چې ژبې په پوهې، مالوماتو او فنونو باندې سمبال شوې وي، همغومره غني او د نړۍ په اسرارو خبرې او پوه وي؛ په همدې سبب علمي ژبې ګڼل کېږي او ويونکي يې همغومره پوه او د نړۍ په پوهېدنه باندې برلاسي وي.

**مورنۍ ژبه يوه ونه وګڼئ چې ببلابيلې څانګې او په زرګونو، لکونو او لا ميليونونه پاڼې يا لغتونه لري، دا ونه که اوبه نه شي، که ونه پالل شي؛ نو څنګه هيله کولای شئ چې د دې ونې پاڼې زېړې نه شي، ونه رژېږي او ونه زړه او پوده نه شي.**

زما مورنۍ ژبه پښتو ده، زما د دننني او باندي جهان ژباړه په بشپړ ډول نه شي کولای، خو څنګه چې ما د خپلې مور غږ په همدې ژبه اورېدلی دی، لومړني توري او ويېونه مې په همدې ژبه اورېدلي دي، د مينې لومړنی غږ مې په همدې ژبه اورېدلی دی؛ ليکل په همدې ژبه کوم، او تر ټولو ژبو ډېر، له دې ژبې سره پاتې شوی يم؛ ځکه نه شلېدونکې عاطفي اړيکې ورسره لرم او د مور په څېر راته ګرانه ده.

تر هر څه مخکې د دې خبرې يادول اړين دي چې د مورنۍ ژبې د ورځې لمانځنه يوه تفريح او وخت تېرونه نه ده. دلته يا د نړۍ په هره بله برخه کې چې د مورنۍ ژبې ورځ لمانځل کېږي، اصلي موخه يې د خپلې مورنۍ ژبې د بقا او غنا له پاره مبارزه او هلې ځلې دي.

«د ملګرو ملتونو، د يونسکو اداري له خوا، د مورنۍ ژبې د لمانځنه د نورو موخو تر څنګ يې، يوه اساسي موخه يې دا ده چې د نړۍ چارواکي او فرهنګيان، په دې خبر کړي چې:

هر ماشوم، بايد په خپله مورنۍ ژبې زده کړې وکړي.»

ظاهراً د پښتنو په واکدارۍ کې خپله ژبه (پښتو مورنۍ ژبه) ورنه غوڅه شوې ده. په خپل کور او خپل کلي کې، په خپل وطن او خپل واک؟ کې له پښتنو څخه په مورنۍ ژبه د زدکړو حق اخستل شوی دی. دا ډېره موده، د ديموکراسي په دايره کې، د پښتنو نوی نسل په خپله ژبه د زکړو حق نه لري.

زموږ په وطن او ټولنه کې د جګړې اور او وير، په لسګونو سونامي ګانې رامنځته کړې او بې شميره غميزې يې په ميراث پرېښي دي؛ داسې چې زموږ څو نسلونه يې د اور خوراک کړل او هغه چې د دې سونامي ګانو له مرګونو څپو څخه نيم ژواندي پاتې دي، له بېلابېلو ستونزو سره لاس ګرېوان دي. د جګړې او له جګړې د را زېږېدلو سونامي ګانو د زور او تاو په وجه يو شمير وطنوالو خپل کلي کورونه، نغري، هديرې او هر څه پر ځای پرېښودل، بهر ته يې پوازې د سر د خلاصون په تمه مخه کړه.

تللي خلک په نورو ملکونو کې له رنګارنګ ستونزو سره مخ شول، چې تر ټولو لويه غميزه او ستونزه يې د نورو ټولنو د کلتورونو تر فشار لاندې او ډير ځلې د کورنيو د مشرانو د بې غورۍ په وجه د مورنۍ ژبې او په عام ډول د خپل کلتور د ډيرو برخو له لاسه ورکول دي.

د بهر ميشتو افغانانو له ژوند نه چې کوم ښکلی انځور دننه په افغانستان کې د خلکو د ذهن په ګالرۍ کې رسم شوی دی، دا سم او ښکلی نه دی، نه يې منفي اړخ سم دی او نه يې مثبته خوا

سمه ښودل شوې. ژوند په هر ځای او هره ټولنه کې چې وي، منفي او مثبت اړخونه لري او زموږ افغانانو د ناکامۍ یو دلیل دا دی چې هر چیرې او په هر څه کې ډیر اِفراط او تفریط کوو.

په پرمخ تللو هیوادونو کې ژوند رنګینۍ لري، خو ستونزې یې هم ډیرې او چاقې دي. په هغو ټولنو کې د اِنتګریشن (integration) یا په ټولنه کې جذبیدل او د هغو له قوانینو سره ځان برابرول، لړې نه، ښې ډیرې ستونزې لري؛ هغه هم یوه شرقي او د بیلې عقیدې درلودونکي انسان ته. په افغانستان غونډې یو چاپیریال کې زیږیدلي، را لوی شوي انسان ته او بیا په اروپا غونډې یوې ټولنه کې ټول عمر ژوند کول، داسې یوه بوټې ته ورته وګڼئ چې له ګلانو او رنګینیو نه یې ازغي او بد رنګي زښته ډیره ده.

په داسې ټولنو کې زیږیدلې او زیږیدونکي نسل ته که مشران پام و نه کړي، هماغسې لویږي لکه د هغې ټولنې وګړي او دا نوي ورغلي خلک تر څو چې ځان له هغې ټولنې او د هغو له قوانینو سره جوړوي، یا د لیونتوب پولې ته ور رسیدلي وي او یا هم دومره وخت ورباندې تیر وي چې نور د کهولت خزان وهلي بڼ ته ور ننوتي وي.

په دې لیکنه کې د همدغو ترخو واقعیتونو په نظر کې نیولو سره کوم تصویر چې زه له افغانستان نه د باندې د افغان ماشومانو او کوچنیانو د روزنې، مورنۍ ژبې د زدکړې، د فرهنګ د ساتلو او د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې وړاندې کوم، همدا اوس وایم چې منفي اړخ یې ډیر دی. ما دې څوک د ډیر خوشبین او ډیر بد بین په تور نه رنګوي، دا یو تریخ واقعیت دی او لکه د سقراط جام، اوس افغانانو ته ور په برخه دی.

کله چې یو ماشوم، کوچنی یا تنکی زلمی د وطن پریښودلو ته اړ کیږي، نو د باندې له وطن نه، که لرې وطن وي که کوم نږدې هیواد، په لومړي ګام کې د مورنۍ ژبې زکړه، ساتل او پالل ور ته ډیر اړین وي او وروسته له هغه نه په مورنۍ ژبه باندې ورته د مطالعې او د کوچنیانو د ادبیاتو لوستل مطرح وي.

په وطن کې د ټوپک د شپیلۍ د سُر کیدو، د جګړې د اور د تودیدو او ځینو نورو دلایلو پر بنا د ډیری افغانانو منده ګاونډیو هیوادونو ایران او پاکستان ته وه، چې شمیر یې میلیونونو تنو ته رسیده.

په ایران کې خو یې په ډیرو ځایونو کې افغان کوچنیانو او ځوانانو ته، ښوونځي او پوهنځي ته د تګ اجازه هم نه ورکوله او د ژوند په هر چاره او هر ځای کې دوی ته د «آشغال» خطاب شوی، کیږي او که چیرې کومې سلنې ماشومانو کوم ټولګي ته د تګ چانس تر لاسه کړی هم وي، په داسې چاپیریال کې به و چې یو توری به هم د دوی د ژبې او عقیدې، تاریخ او جغرافیې هلته نه و. د مورنۍ ژبې، یا په خپله خوښه زدکړو او یا د ماشوم پالنې، روزنې او د کوچنیانو د ادبیاتو خو لا پوښتنه هم باید و نه شي.

په پاکستان کې هم د پاکستاني قوانینو په چو کاټ کې او په افغانانو باندې د حاکم اِفراط له وجې په هغو کتابونو او درسي موادو کې چې دوی استفاده ورنه کوله، داسې څه نه شته چې ماشوم دې له پر مختللو علومو او عصري ژوند سره آشنا کړي. هغه کتابونه او درسي مواد چې ما لیدلي دي هلته درسي پروګرام داسې برابر کړای شوي و چې تر مثبتو موادو منفي په کې ډیر ځاي پر ځای شوي وو. نور مضامین خو پریږده، ان په ریاضي کې یې هم جګړه، وژنه او نفرت ځای پر ځای کړی دی. دا یې یوه بیلګه ده:




همدې موادو ته په کتو سره، په دې اړوند ما د ۲۰۱۲ کال په پیل کې د یوې مقالې په ترڅ کې داسې لیکلي وو:

«هلته په افغانستان کې زموږ د کوچنیانو او زلمیانو په غوږونو کې د ښوونکي د غږ پر ځای، د قومندان آمرانه چیغې آزانګې کوي. اوس زموږ ماشومانو او زلمیانوته د الف او ب د زدکړې پر ځای د ډزو کولو لارښوونه کیږي، دا دی زموږ سرنوشت او دا دی زموږ ښوونه او روزنه. په ګاونډیو هیوادونو کې چې کوم ښوونځي او پوهنځي پرانستل شوي وو، هغه هم د سیاست او مذهب په رنګ رنګول شوي وو. هلته هرې مذهبي او سیاسي ډلې هڅه کوله چې خپل افکار او عقاید تدریس کړي او د خپلو نظامي اهدافو د تر سره کولو له پاره، په لومړي ګام کې د ماشومانو او تنکیو زلمیانو په ذهنونو کې د جګړې، وسلې او وژنې مفاهیم ځای پر ځای کړي. د دغو ښوونځیو او پوهنځیو په درسي کتابونو کې هیڅکله زده کوونکو ته د خپل وطن تاریخ، ملي کلتور، تمدن او علمي پرمختګونو په باب، څه نه لیکل کیدل، مورنۍ ژبه او ملي کلتور اصلاً مطرح هم نه وو. د دغو ښوونځیو په یو درسي کتاب کې مې ولوستل:

«ت = توپک،
ج = جهاد،
م = مجاهد،
ټ = ټانک،
و = وژل،
او...

ماشوم ته باید د علم، نوي ژوند او تمدن تدریس وشي، نه د وژلو او دښمنۍ. هغه درسي کتابونه چې د ایډیالوژیو په رنګ رنګول شوي وي او سیاسیون د خپلو اهدافو د تر لاسه کولو له پاره، یوازې د وهلو، نیولو او وژلو تدریس ته په کې لومړیتوب ورکوي، نو داسې درسي کتابونه پرته له دښمنۍ او کرکې نه نور څه د زده کوونکو په ذهن کې تداعي کوالی شي. د افراطي افکارو خاوندان داسې کتابونه او درسي مواد خپروي چې د نفرت او وژنې زړې کري، نه د ورورګلوۍ او انسانیت...»

د نوي نسل د روزلو په سلسله کې ما په لومړي ګام کې د کوچنیانو ادبیاتو او مورنۍ ژبې ته د اړینې پاملرنې په خاطر لومړی یو کتاب (د کوچنیانو ادبیات، ۱۳۶۶ کال چاپ، کابل) او وروسته مې د مهاجرت په چاپېریال کې «د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر او اوسنی حالت» تر نامه لاندې ګڼ شمیر مقالې لیکلې دي، چې اوس «د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر، اوسنی حالت، دویم ټوک» تر سرلیک لاندې په آنلاین بڼه تر لاسه کېدای شي.

د هغو تر څنګه مې، بیا هم د نوي نسل د روزلو او مورنۍ ژبې ته د جدي پاملرنې په خاطر، د مطالعې د عامیدو، له پاره، د مطالعې د مهموالي، د مطالعې په برخه کې د شته ستونزو او د دې ستونزو د حللارو په باب ګڼې مقالې لیکلې دي، چې د ځینو سر لیکونه یې دا دي:

- زموږ تعلیمي نظام او د جهادي کتابونو لړۍ،
- د افغانستان ښوونیز نظام جامعة الصالحات، اشرف المدارس یا د نوي نسل...؟
- نوی نسل، مطالعه ستونزې او نوې هیلې،
- کتاب، مطالعه او زموږ دریځ (د کتاب د نړیوالې ورځې په مناسبت) ،
- څو بیسواده نسلونه او زموږ مسوولیت،
- د مطالعې دود او دوې وروستۍ مقالې،
- کتاب سوځونه ونه،
- څو مقالې، څو څپېرې او یو یاد داشت،
- مشرانو تاسې د ټوپک تخم کرلی ولې؟
- یو تصویر، زر خبرې (د مطالعې د پلویانو نوي ګامونه)،
- قلم، ټوپک او چکچکې،
- تعلیم، کتاب ویشنه، مطالعه او قلملار ټولنه،
- «راتلونکی نسل بناد کړئ » (د نوی نسل نوې روزنه)،
- چیرې چې ښوونکی نه وي،

د دغو یادو مقالو په ترڅ کې مې وخت په وخت ټینګار کړی دی چې د نوي نسل روزنه او مورنۍ ژبې ته پاملرنه یو اړین کار دی او که نوی نسل و نه روزل شي، ممکنه نه ده چې د یوې ټولنې د پرمختګ، آبادۍ او ښیرازۍ بنسټ دې کېښودل شي او د دې هیلې د پوره کېدو بنسټ سواد زدکړه او منظمه مطالعه جوړې.

د نوي نسل دا روزنه که په هېواد کې دننه وي که د باندې؛ لازمه دا ده چې که ماشوم او کوچنی زدکړې په خپله مورنۍ ژبې باندې وکړي، ډېر به ښه وي.

زموږ بهر ته تللي ټول هیوادوال په لرې او نږدې هیوادونو کې د ګڼ شمیر نورو ستونزو تر څنګ د مورنۍ ژبې د خوندیتوب او نه خوندیتوب له پوښتنو سره مخ شول.

کله چې زه د افغانستان پرېښودلو ته اړ شوم، لومړنۍ ځای چې ما د افغان ماشومانو او کوچنیانو او نوي نسل بد حالت په کې ولید، هغه پېښور و. سره له دې چې زه تر سخت رواني فشار لاندې وم، بیا مې هم د ماشومانو، کوچنیانو او نوي نسل ته د څه لیکلو په نیت ګوډ مات یاد داشتونه په ذهن او کاغذ باندې اخستل.

د نوي نسل د سواد، زدکړو، روزنې، مورنۍ ژبې ته خطر پېښېدل او د کوچنیانو د ادبیاتو د خراب حالت د یو تصویر وړاندې کولو په موخه مې په ماسکو کې، «نوید» نومي اخبار ــ چې د ښاغلی فاروق فردا په مدیریت خپریده ــ د «پردی چاپیریال او د مهاجرو کوچنیانو د زدکړې مسأله» تر سر لیک لاندې، د مقالو سلسله پیل کړه. د یادې مقالې په پیل کې مې دا پوښتنه د افغانانو مخ ته کېښوده:

ولې مو کوچنیان تر اوسه پورې په خپلو مورنیو ژبو لیک لوست نه شي کولی؟

او بیا مې د ۲۰۱۲ کال د فبرورۍ په ۲۲ مه د دویم ځل له پاره په ویبپاڼو کې هم خپره کړه. هلته ما د افغان ماشومانو، کوچنیانو او تنکیو ځوانانو او مورنۍ ژبې خراب حالت ته په کتو سره خپل نظر لیکلي او خپور کړی و او اوس هم په هماغه نظر یم، هغه نظر داسي دی:

«... ما د مهاجرت د نورو ترخو تر څنګه، د افغان کوچنیانو راتلونکې زوروي او هر کله په دې فکر کې یم چې په پردیو چاپیریالونو کې به د افغان کوچنیانو د سواد مسأله څنګه کیږي؟ ځکه چې مهاجرت هر څه له انسان څخه اخلي. مورنۍ ژبه، کلتور، رواجونه، کور، جومات، مړی، ژوندی، هدیره او...

خو موږ باید ځانونه تسلیم نه کړو. له ټولو میندو او پلرونوسره ښایي چې د نورو نا خوالو سره د مبارزې تر څنګ، په جدي ډول له دې ستونزې سره هم مبارزه وکړي، تر څو زموږ کوچنیان له خپل فرهنګ، تاریخ، عقایدو، ادبیاتو، ژبې او... څخه بیګانه او لرې پاتې نه شي او که ځای پر ځای لاس تر زنې کېنو، خدای مه کړه سبا به زموږ د هر یوه کوچنیان بې سواده، له خپل فرهنګ او ژبې سره نا آشنا را لوی شي؛ بیا به نوی نسل له خپل فرهنګ، ژبې، تاریخ او هر څه سره نا بلده او بیګانه وي. بیا به دا د شرم پېټی چیرته او تر څو پورې پر شا چلوو.»

راځئ هر یو له خپل ځان سره سوچ وکړو چې د ویده کیدو په وخت کې خپلو ماشومانو ته په مورنۍ ژبه باندې کتابونه لولو او په ارامتیا سره هغوی د خوب ځپو ته سپارو که نه؟

که و، څوک؟ چېرې او کوم کتابونه او کومې کیسې ورته لولئ؟

که چیرې د کوم افغان ماشوم مور یا پلار د خوب په وخت کې، ماشوم ته د آرامه خوب په موخه، کوم کتاب یا کومه کیسه لوستي وي، هغه به هم د کوربه هیواد په ژبه وي، نه د ماشوم په مورنۍ ژبه.

هر یو باید فکر وکړو چې د ژبې د زدکړې لومړنی پړاو او اساس اوربدل دي. که چیرې یوه افغانه کورنۍ په خپلو منځو کې په خپله مورنۍ ژبه ونه غږیږي، او که میندې پلرونه یا نور مشران ماشوم ته څه وانوروي، ماشوم ژبه له دېوال، ونې، تیږې او... نه اوري او کله چې څه وانوري، نو څنګه به یې زدکړای شي؛ نو په دې ډول به بیا د مورنۍ ژبې په نامه څه موجودیت هم نه لرې او چې مورنۍ ژبه نه وي، نو څه شی به وساتل شي، او څه شی به وپالل شي؟

په مورنۍ ژبه ماشوم او کوچني سره خبرې کول او هغوی ته کتاب لوستل ډېرې ګټې لري. ما په دې باب د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ په پیل کې یوه مقاله خپره کړې ده، هلته ما داسې لیکلي وو:

«له بده مرغه چې کوچنیانو ته په لوړ آواز د کتاب لوستل په افغانستان کې څه چې دلته په پرمخ تللو ټولنو او شته امکاناتو کې هم په افغانانو کې دومره نه ده دود. یا ځان نه په عذابوو او یا هم د پردي دود په شان په بده سترګه ورته ګورو. په هیواد کې دننه او له هیواد نه د باندې، ټول مشران باید دې موضوع ته جدي پاملرنه وکړي چې ماشومانو ته په لوړ غږ د کتاب لوستل هغوی ته ډېره ګټه رسوي.

هغه ماشومان چې د ژوند له لومړنیو کلونو نه کیسې او نکلونه اوري، هغوی به په راتلونکي کې بډایه او شتمنه ژبه ولري، ماشوم ته په لوړ غږ کتاب لوستل د دې سبب کیږي چې ماشوم په راتلونکي کې د پراخیدونکي تخیل خاوند شي؛ د همدې له پاره باید ماشوم ته په لوړغږ کتاب ولوستل شي او په لوړ آواز سندرې ورته وویل شي. د ماشوم د ژبې پایه او اساس د ژوند په همدغو کلونو کې ایښودل کیږي. ماشوم ته باید په لومړي ګام کې په مورنۍ ژبه کتاب ولوستل شي، بیا په نورو ژبو.

د میندو پلرونو دنده ده چې له ماشوم سره په لومړي ګام کې په مورنۍ ژبه خبرې وکړي، که ماشوم خپله مورنۍ ژبه په سمه توګه زده کړي، د نورو ژبو زدکړه ورته آسانیږي. ماشومان، ځوانان او لویان کولای شي د مطالعې له لارې په هر څه باندې پوه شي، کولای شي د زدکړې له لارې هر څه توضیح او بیان کړي او زدکړه له انسانانو سره مرسته کوي چې ټولې شته ستونزې د خبرو او پوهاوي له لارې حل کړي او له یو بل سره په آرامه خپل ژوند پرمخ بوزي.»

بیا کله چې زه (آصف بهاند) اروپا ته را ورسیدم، د کوچنیانو د ادبیاتو او نوي نسل د روزنې، په تیره بیا د مورنۍ ژبې د زدکړې او یا عادي لیک لوست د پادولو په موخه مې خپلې هلې ځلې منظمې کړې او جدي هوډ مې وکړ چې په دې برخه کې به کار کوم، نو هماغه و چې په لومړي ګام کې مې په سویډن کې د مورنۍ ژبې له ښونکو سره د سویډن دولت او ځینو افغان فرهنګي ټولنو او شخصیتونو په مرسته کار پیل کړ او د ۲۰۰۲ کال په جنورې کې مې په ستاکهولم کې د دریو ورځو په مخ، د مورنۍ ژبو په هغه سیمینار کې د لکچرست په توګه فعاله ونډه واخیسته چې په سکندنویایي هیوادونو کې د میشتو افغانانو د مورنۍ ژبو د ښونکو له پاره جوړ شوی و. په یاد سیمینار کې مې، خپل لومړني یاداشتونه، د دوو مقالو په چوکاټ کې، له ستاکهولم نه په خپریدونکي «فردا» نومي مجله کې خپاره کړي دي.
(فردا مجله، د ۲۰۰۲ کال د مارچ او اپریل ګڼه)

له هغه نه وروسته مې د کوچنیانو د ادبیاتو او نوي نسل د روزنې په برخه کې چې څومره توان رسیدلی او موضوع پورې اړوند مواد په مخه راغلي دي، ما وخت په وخت لیکنې کړې دي.

«د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر او اوسنی حالت» تر سر لیک لاندې مې د دې کرښو تر لیکلو پورې ګڼې مقالې خپرې کړې دي چې ټولې په ویبسایټونو کې همدا اوس هم آنلاین موجودې دي، که یې درانه لوستونکي د مطالعې لیوالتیا ولري، کولای شي په دې پته یې ولولي:

http://www.afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95

ما په ۱۹۹۴ ام کال کې ویلي، لیکلي او خپاره کړي وو چې ټول خلک په تیره هغه قلموال چې عملاً د کوچنیانو د زدکړو او ادبیاتو په برخه کې فعال دي، باید دې موضوع ته په کمه سترګه ونه ګوري، خو هغسې چې باید، و نه شول. هغه توري دا دي:

«زه له ټولو فرهنګیانو، په تیره له هغو فرهنګیانو څخه چې عملاً لیکني او نشرات کوي، هیله کوم چې د افغان مهاجرو کوچنیانو د ښوونې او روزنې له پاره کم له کمه په خپلو خپرونو کې جدي پاملرنه وکړي.

ښاغلي جنید شریف د خپلو ژباړو په لړ کې د یوه ژباړل شوي اثر په مقدمه کې لیکلي ووچې:

«... بیت نیکه په دویمه هجري پیړۍ کې په زارۍ، زارۍ د خدای له دربار غوښتلي وو چې:

دا وګــړي ډیــر کــړې خدایــه
لـویه خدایـــه، لـویه خدایــه»

او خدای(ج) دا وګړي ډیر کړل؛ خو اوس ـ اوس داسې څوک نه شته چې یو وار ووایي:

دا وګړي ماړه کړې خدایه! لویه خدایه، لویه خدایه، دا وګړي باسواده کړې خدایه! لویه خدایه، لویه خدایه!!! »

زه د یو عیني شاهد په توګه ویلای شم چې:

د پاسنیو نیمګړتیاوو تر څنګه دا هم باید یاده شي: افغانان چې هر هیواد ته رسیدلي دي، په ټول کې د خپلو ماشومانو او کوچنیانو د پاللو، روزلو، فرهنګ ساتلو فکر ورسره و. د دې کار له پاره یې د کوربه هیوادونو له امکاناتو نه تر یوې اندازې استفاده هم کړې او په شخصي او انفرادي ډول یې هم دې موخې ته د رسیدو هڅې کړې دي، خو په ټول کې دا کار که هر چا ته د ارزونې له پاره وسپارل شي، ضعیف څکه ارزیابي کیږي چې په بهر کې مو ډیره سلنه ماشومان، کوچنیان او نوی نسل په خپله مورنۍ ژبه سم غږیدای نه شي، لیک لوست ورباندې نه شي کولای او...

د دې ټولو نیمګړتیاوو او منفي خبرو په څنګ کې، په بهر کې افغانان د نوي نسل د پالنې ـ روزنې، د کوچنیانو ادبیاتو ته پام، مورنۍ ژبې ته توجه او له نوي تمدن او نوې نړۍ سره د نوي نسل د آشنا کولو له پاره ځینې ګټور کارونه هم کړي دي چې تر ټولو غوره بیلګه یې د ځینو ویبپاڼو او فیسبوک پاڼو جوړل او په هغو کې د ماشومانو، کوچنیانو او نوي نسل د روزلو په برخه کې تر ټولو نوې لاسته راوړنې، تخلیقات، ژباړې او روزنیزې مقالې او مطالب خپرول دي. لکه:

ـ ماشوم روزنه (فیسبوک پاڼه)،

ـ د ماشوم د ادبیاتو کور(فیسبوک پاڼه)،

ـ پل (ویبپاڼه)،

ـ کتابتون دات کام (ویبپاڼه)

ـ قاموسونه دات کام

ـ کوچنی دات کام (ویبپاڼه)

ـ پښتو دات اس اي

او...

د ماشومانو، کوچنيانو او نوي نسل د روزلو په برخه کې په دې وروستيو کې هڅې زياتې شوې دي ډېرې ويبسايټونه په دې برخه کې ليکنې، ژباړې او تخليقات خپروي. د ساري په ډول د تاند او پل فعاليتونه يادولای شو. هغه څه چې نن سبا «تاند» او «پل» ويبپاڼې او د دوی قلمي همکاران ليکې او خپروي يې د کميت او کيفيت له پلوه له تمې نه لوړ او مثبت دي. مينه وال کولای شي په دې باب زيات مالومات په دې لينک کې ولولي:

http://www.taand.com/pal/archives/2458

دا پتې چې ما يادې کړې، که له افغانستان نه چليږي او خپريږي، که له بهر نه اداره کيږي، خو اوسنۍ تکنالوژۍ يې سمدلاسه، په هماغه شيبه کې مطالب د نړۍ په هر گوټ کې تر لوستونکو، ليدونکو او اوريدونکو پورې رسوي.

په اروپا کې، په سکندنويايي هيوادونو کې، په تيره ډنمارک کې، چيرې چې د مورنۍ ژبې د تدريس او يا له دې سره اړوند کتابونه او درسي مواد ما ته په مخ راغلي دي، ما په خپلو يادداشتونو او مقالو کې د هغو يادونه کړې ده او ثبت کړي مې دي. د دې خبرې يادول ډير اړين گڼم چې د مورنۍ ژبې په برخه کې تر ټولو ډير او موثر کار د سويډن په هيواد کې تر سره شوی دی؛ هم د سويډن د دولت په پاملرنې او هم په سويډن کې د ميشتو دانشمندو فرهنگيانو په جدي کار او پاملرنې سره تر سره شوی دی، درسي مواد برابر شوي، درسي کتابونه ليکل شوي د مورنۍ ژبې کورسونه داير شوي دي او حتی د مورنۍ ژبې له پاره ويبسايټونه پرانستل شوي دي، چې موثريت يې په سويډن کې د افغان ميشتو کورنيو په ماشومانو، کوچنيانو او تنکيو ځوانانو کې له ورايه محسوس دی.

اوس افغانان په هر ډول شرايطوکې چې دي، په هر هيواد کې چې ژوند کوي، بايد د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتنې او پالنې په برخه کې او د کوچنيانو د ادبياتو مسألې ته جدي پاملرنه وکړي. په ۲۰۰۲ کال کې چې ما د موضوع په اړوند د سويډن په ستاکهولم کې ځينې وړانديزونه کړي وو، اوس يې هم ضروري بولم. هغه وړانديزونه په لڼ توپير سره په دې ډول دي:

ـ په افغانستان کې سياسي ـ نظامي حالت ټيکاو نه لري، هره ورځ څه چې هره شيبه بدليدلای شي، د همدې دليل له مخې د ټاکلي وړانديز مطرح کول گران بريښي؛ څنگه چې په افغانستان کې دننه او له افغانستان څخه د باندې د مورنۍ ژبې ستونزې توپيرسره لري، په افغانستان کې د ننه په مورنۍ ژبې د تدريس او ليک لوست مسأله طرح ده او له افغانستان څخه د باندې په مورنۍ ژبه باندې پوهيدل، د مورنۍ ژبې زده کول، ورباندې خبرې کول او د هغې د سا تلو او پا للو مسأله مطرح ده. د همدې دليل له مخې په افغانستان کې دننه ټولو کورنيو، دولتي اړوندو ادارو، ښوونکو او فرهنگيانو سره بنايي چې په مورنۍ ژبه باندې د ليک لوست مسأله دې نه هيروي او ساده دې نه انگيري؛ ځکه چې په مورنۍ ژبه باندې د يو څه زده کول او په دويمه ژبه باندې څه زده کول ډير توپير سره لري.

ـ په گاونډيو هيوادونو، په تيره پاکستان او ايران کې سره له دې چې مهاجرافغانان د يادو هيوادونو، ژبو او ټولنيزو سياسي شرايطو بار پر اوږو وړي، خو بايد د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتلو او ليک لوست مسأله هيره نه کړي.

ـ اوس چې له افغانستان نه د باندې بې شميره فرهنگي ټولنې جوړې شوې دي، که دغه ټولنې د نورو هيوادونو د ناروا پروگرامونو په لمنو پورې نه وي زوړندې؛ بايد د افغان کوچنيانو مورنۍ ژبو ته پاملرنه وکړي او په کوربه هيوادونو کې له رسمي مقاماتو سره په تماس کې، د مورنۍ ژبې د زدکړې په برخه کې بنسټيز کار پيل کړي. څومره چې زه مالومات او تجربه لرم، د بې

بې سي د تعليمي اداري له خوا د خپرو شويو کتابونو د تدريس نتيجه ډيره ښه ده، ځکه يې د تدريس د دوام پلوی يم او وايم چې د دغو کتابونو د تدريس لړۍ دې پراخه شي.

ـ ښکاره ده په افغانستان کې دننه چاپېريال، د ګاونډ يو هيوادونو چاپېريال او نورو هيوادونو چاپېريال يو بل سره جوت توپيرونه لري، بايد د هرهيواد د عيني شرايطو، ستونزو او امکاناتو په نظرکې نيولو سره د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتنې او پالنې له پاره درسي مواد او شرايط برابر کړای شي.

ـ څنګه چې ليدل کيږي د ډيرو هيوادونو په تعليمي نصاب کې د مورنۍ ژبې زدکړې له پاره ځای نه شته، د همدې دليل پر اساس له هرې ممکنې وسيلې نه په استفادې سره د مورنۍ ژبې زدکړه په تعليمي نصاب کې ځای پر ځای شي او که ممکنه نه وي، د کوچنيانو کورنۍ، فرهنګيان او ښوونکي دې په شخصي ډول د مورنۍ ژبې د کورسونو پرانستلو ته ملا وتړي.

ـ په هيواد کې دننه او له هيواد څخه د باندې ميډيا سره ښايي چې د مورنۍ ژبې د اهميت، تدريس او ساتلو په برخه کې په پراخ ډول تبليغاتي کمپاين پيل کړي. ټولو ليکوالو ته لازمه ده چې د موضوع د اهميت په اړوند مقالې او کتابونه وليکي.

ـ دې مسألې ته دې د لويانو او کورنيو پام وي: کوچنی چې په پردي چاپېريا ل کې لوييږي، هرډول چې کيږي، بايد د مورنۍ ژبې زدکړې ته يې جدي پاملرنه وشي، چې په دې ډول ماشوم وکولای شي چې له خپلې کورنۍ او هيواد والو سره د پوهونې را پوهونې او ارتباط يوه وسيله ولري. که نني ماشومان او د سبا ورځې ځوانان له هر څومره لوړو زدکړو سره خپل وطن او خپلو خلکو ته وروګرځي، که په خپله مورنۍ ژبه ـ چې د ده د خلکو ژبه هم ده ـ خبرې ونه شي کړای، نه يوازې دا چې هغو خلکو او هغه وطن ته خدمت نه شي کولی، بلکې خپل شخصيت ته يې هم ضرر رسوي او پايلې يې منفي دي.

ـ د مورنۍ ژبې په اړوند دې د ټولو اړوندو دولتونو، فرهنګي مؤسسو، ميډيا او اشخاصو فعاليتونه، د ملګرو ملتونو د ځانګړو ادارو له پروګرامونو سره همغږي شي. درسي پروګرام او درسي مواد بايد د علمي او متخصصينو له خوا د تيرو تجاربو له مثبتو اړخونو نه په استفادې سره وليکل شي. هيله داسې ده چې د دې آثارو د چاپ مصارف دې د ملګروملتونو د ماشوم صندوق له خوا ورکړل شي.

څنګه چې د سويډن دولت د مورنۍ ژبې په برخه کې زيات کارکړی دی او ښې تجربې لري، نو په نږدې راتلونکي کې دې، د ملګرو ملتونو او اروپايي اتحاديې سره په تفاهم کې، د مورنۍ ژبې د تدريس او خوندي ساتلو کارپوهان، ليکوا ل او د نظر خاوندان د يوه علمي سيمينار پر ميز سره راټول کړي؛ چې هغوی د يوه واحد درسي پروګرام او درسي موادو له پاره، خپلې تجربې، ليکنې او نظريات يو بل ته واوروي

د پاسنيو وړانديزونو تر څنګ، د مورنۍ ژبې د ستونزو او پوښتنو په برخه کې، څو نوې خبرې او نوي وړانديزونه:

ستونزې:

آيا چا تر اوسه په دې باب فکر کړی دی چې ولې مورنۍ ژبې پښتو د وروسته پاتې والي او د بربادۍ دې بريد ته رسيدلې ده؟ کله يې پر دې ستونزه خبرې کړې دي او يا يې چېرې يو څو کرښې پر دې ستونزه باندې ليکلې او خپرې کړې دي که نه؟

ما يي ځيني دلايل داسي په نښه کړي دي:

ــ له تعليم څخه د پښتون قوم لرې پاتې کېدل،

ــ په زړو او دوديزو افکارو کې نښتل،

ــ پر پښتنو باندې د جګړې تحميلول او په عمدي ډول په پښتني سيمو کې د جګړې اور تود ساتل،

ــ پښتانه اتفان نه لري:

تاسو هر يو فکر وکړئ چې دا اوس په څومره ګوندونو، ډلو، سيمو، ولايتونو، خيلونو او... باندې ويشل شوي ياست. کار مو يو لاس او خبره مو يوه نه ده، ويل کېږي يو څه، کيږي بل څه، له ملي او سترو ارمانونو څخه؛ خپلو ګروپي او ګوندي ارمانونو او عقايدو ته ډېر ژمن ياست،

ــ پښتون چې تل د جګړې د ډګر اتل دی، قربانيږي؛ خو د بريا نه وروسته د بوټو په ځای کې ناست وي، نو د ژبې به يې څه حال وي؟

ــ د ننه په افغانستان کې، په دفترونو کې د خپلو څوکيو او مقام د ساتلو په غرض اداري سازشونه. مورنۍ ژبه مو د سياسي او اداري تضادونو په دوړو کې ورکه کړې او هېره کړې ده. او تر ټولو رنځونکي لا دا ده چې همدا کسان، د دې پر ځای چې خپله مورنۍ ژبه او د ژوند مثبتې تجربې خپلو اولادونو ته ولېږدوي، دوی خپل منفي او بربادونکي ګوندي او سليقوي تضادونه او کرکې راتلونکو نسلونو ته لېږدوي. د دې اعمالو او تېروتنو د څو پرلپسي کلونو تکرار پايله دا ده چې دغه ټيپ خلک حتی په خپلو کورنو کې هم مورنۍ ژبه نه لري،

ــ پښتو ژبه د اړتيا له ژبې لرې ساتل شوې ده، ځکه يې څوک زدکړې ته زړه نه ښه کوي،

ــ پښتو په لوی لاس د اقتصاد، علم، هنر، سياست او... له کتاره ايستل شوې ده، په ميډيا کې د پښتو برخه په ديني موضوعاتو باندې ډکه شوې ده، حتی د افغانستان په ملي تلويزيون کې،

ــ که هر زماني واڼن وټاکل شي او د هغه وخت په اوږدو کې د دولتي او نا دولتي او حتی د اشخاصو کړه د مورنۍ ژبې په برخه کې وارزول شي، ليدل کېږي چې هلته نور خو پرېږده، حتی په خپله پښتنو لا هغه څه کړي چې مورنۍ ژبې ته يې نه يوازې ګټه نه ده رسولې، بلکې خپلې مورنۍ ژبې ته يې بنسټيزې ستونزې پېښې کړې دي او پښتو يې دې خوار حالت ته رارسولې ده،

ــ د مورنۍ ژبې په برخه کې سياسي سازشونه،

ــ مهاجرتونه او په پردي چاپېريال کې له مورنۍ ژبې بې برخې پاتې کېدی،

ــ د مورنۍ ژبې په برخه کې د ډېری کورنيو او په تېره ميندو پلرونو بې پروايي، نه پاملرنه او د ورځنيو ستونزو او يا لږ ارامتيا په صورت کې هر څه ته شا کول او په کلونو، کلونو او لا نسلونو د دې تېروتني تکرار او دوام،

ــ د سياسي او نظامي ډلو د تېروتنو په پايله کې، د خپل پښتون حريف د ماتولو او بد نامه کولو له پاره د پروپاګندو په نتيجه د پښتو ژبې او ټولو پښتنو بدنامه کول (د تره کي، امين او ډاکتر نجيب پر ضد؛ د دوی د خپلو ګوندي حريفانو پروپاګندې، د ګلبدين، سياف، طالبانو او نورو پښتو ژبو سياسي نظامي مشرانو د کارنو او عملونو په مقابل کې د سيالو ډلو تبليغات)

ـ له يو شخص او کورنۍ نه نيولې، تر دولتي ادارو او مقاماتو پورې د مورنۍ ژبې پښتو په برخه کې بې تفاوتي او د «خير دی» پاليسي،

ـ د سياسي ګوندونو، ځينو ډلو او ځينو اشخاصو په برخه کې کله دعوې شوې ده چې پښتو مورنۍ ژبې ته يې کار او خدمت کړی دی، خو همدې دعوا کوونکو دې ته هيڅکله پام نه دی کړی چې پښتو مورنۍ ژبې او پښتنو ته د يادو په اصطلاح خدمتګارنو د واک په دوره کې، د دوی د کړنو په پايله کې څومره خلک يوازې د دې له پاره د پښتو او پښتنو په ضد عقده اخيستې چې ياد خدمتګاران پښتانه و او په پښتو غږېدل او اوس يې داسې د پښتو ژبې او پښتنو ساه ايستلې چې بېرته يې سمول يا ناشوني دي او يا ډېر وخت ته اړتيا لري (ښې او غوره بېلګې يې د افغانستان په شمال کې تېرې شوې او اوس هم رواني دي)،

ـ خپلې مورنۍ ژبې سره سطحي او بېتفاوته چلن او په ورځنيو کارونو کې د ورځچارې پاليسي،

ـ په پښتو ژبه باندې د علمي موادو نشتوالی. دا موضوع په نيغه ورګرځي تحصيل کړو او په بهرنيو ژبو پوه ليکوالو او قلموالو ته چې د دوی په قلم، په پښتو باندې علمي او د اړتيا وړ مواد نه ليکل کېږي او نه ژباړل کېږي (که شوي دي، په نشت حساب دي)،

ـ د کلونو ـ کلونو پرلپسې تېروتنو د تکرار او غفلت په پايله کې اوس د پښتو ژبې وضعيت دومره خراب دی چې، زموږ کوچنيان په خپل وطن کې دننه په ډېرو سيمو کې په خپله مورنۍ ژبه د زدکړو امکانات نه لري، پښتانه کوچنيان محکوم دي چې په بله ژبه زدکړه وکړي، د بهرميشتو کوچنيانو موضوع خو دې پر خپل ځای وي،
او...

دا او دې ته ورته دلايل او تېروتنې د دې سبب شوی چې پښتو مورنۍ ژبه د بربادۍ دې برید ته او دې خوار حالت ته رسېدلې ده.

اوس بايد څه وکړو؟

حللارې:

له دې حالت نه د وتلو له پاره او پښتو ژبه له داسې ستونزو نه د ژغورلو په خاطر، د اوس له پاره موږ دا دندې په مخ کې لرو:

ـ د پاسنيو يادو نيمګړتياوو ټولې هغه برخې چې په خپله پښتنو زېږولې دي، په خپله يې بايد په هوښيارتيا سره اصلاح او رفع کړي،

ـ په لومړي ګام کې بايد د يادو تېروتنو مخنيوی او نه تکرار له شخص او کورنيو پيل کړو، تر وړکتون، ښوونځي، پوهنځي، دولتي او شخصي ادارو پورې، په ټولو ځايونو کې جدي پام ورته وکړو،

ـ موږ خپله بايد خپله مورنۍ ژبه پښتو ووايو او وې ليکو،

ـ موږ که خپل وخت بېځايه ضايع نه کړو ښه به وي. هغه وخت چې په کې ځان سلامت او نور ملامت ګڼو يا په هر مجلس کې ځانونه سپيني کوترې ګڼو او مقابل لوری تور کارغان؛ که په هغه وخت کې د خپلې ژبې د غني کېدو او علمي کېدو په نيت، يوه پاڼه مطالعه وکړو، يوه کرښه وليکو، يا د تخليق په باب فکر وکړو، يا يو پروګراف ژباړه وکړو؛ نو په ورو ـ ورو به مو ژبه د غنا پر لورې حرکت وکړي، شتمنه به شي او له مرګ نه به وژغورل شي. موږ هر يو که د خپل ورځني، مياشتني او يا کالني مصرف ډېره لږه سلنه په خپله مورنۍ ژبې باندې د کتابونو

خپرېدو او چاپ او د سواد زدکړې او عامېدو له پاره وسپمو، ژبه به مو له دې خوار حالت نه ووزي او مخ په بره به روانه شي.

ــ پښتون باید تعلیم سره پخلا شي او په نوې او مدرني تکنالوژۍ سره ځان داسې سمبال کړي چې د تمدن له کاروان سره اوږه په اوږه روان وي، ځکه چې د مورنۍ ژبې د ساتنې، پالنې او پرمختګ اصلي لار په نوې بڼه تعلیم دی،

ــ زدکړي خلک باید خپله پوهه او علمي تجربې په خپله مورنۍ ژبه په میډیا کې وړاندې کړي، چې د اړتیا له مخې خلک اړ شي چې دا ژبه زده کړي،

ــ په هر ډول چې کېږي پښتانه باید خپله مورنۍ ژبه د کمپیوټر جال ته ورننباسي او دا کار په علم سره کیږي، نه د شپنۍ له ډانګ سره،

ــ د مورنۍ ژبې له پاره چې عملاً کار وشي، که ډېر لږ هم وي، د درناوي وړ دی او که بې عمله خبرې په کلونو ـ کلونو وشي، هسې باد په توره وهل دی. موږ باید عملي کار وکړو،

ــ په مورنۍ ژبه باندې زدکړې د هرچا حق دی، په مورنۍ ژبه هر څه ډېر ښه زده کېدای شي، او دا حق هر چېرې چې وي باید د تر لاسه کولو له پاره یې کار او مبارزه وشي،

ــ موږ ته هر ډول ضرر چې متوجه شوی او رسېدلی دی، له خپل جهالت نه مو دی، نو ځکه باید جهالت له ځانه وشړو او د شړلو یوازینۍ وسیله یې تعلیم دی کله چې تعلیم یافته شوو، بیا نو هر څه سمولای شو، هر څه سم کارولای شو او په قدر یې هم پوهېدلای شو، له هغې ډلې نه مورنۍ ژبه،

ــ زموږ د تیرو نسلونو او اوسني نسل یوه تېروتنه دا ده چې له دوی څخه ډیری د سیاسي بُتانو او باباګانو په لمنو او عبادت پورې نښتي وي، دا کار باید دوی پرېږدي. تشې خبرې او بې ګټې شعارونه بیا، بیا تکرارول، نه د چا ورځني ژوند ته ګټه رسوي او نه هم مورنۍ ژبې ته،

ــ پښتانه باید په عملي ډول د خپلې ژبې د غنا له پاره له تعلیم کولو وروسته د علومو او هنرونو په ټولو برخو کې د علمي او هنري آثارو په لیکلو او ژباړلو باندې پیل وکړي، ځو ژبه غني شي او له مرګ نه وژغورل شي،

ــ «مورنۍ ژبې ته تر ټولو لوی کار دا دی، چې انسان ته د ګټې او خیر رسولو پوهه او ادبیات په کې ډېر شي. انسانوژونکي ادبیات د مورنۍ او پلرنۍ دواړو ژبو بنسټ ویجاړوي. د نړۍ تر نیمایي زیات نفوس غواړي انګریزي زده کړي، ځکه د پوهنې، اقتصاد، پوهاوي او اړیکو ژبه ده. ډېر لږ کسان پوهیږي، چې په انګریزي کې د ویاړنو، حماسو، وژنو او وهنو ځومره ادبیات شته؟ انګریزي نه زړه ژبه ده، نه سوچه او نګه، ګرامر یې له یوې لرغوني (ژرمانیک) ژبې راپور کړی او وییپانګه (لغوي ذخیره) یې له لسګونو نورو(لاتین، فرانسوي، جرمني، یوناني او...) ان چې انګریزي ځوک د شکسپیر لپاره هم نه زده کوي، بلکې انګریزي د معاش او ډوډۍ لپاره غوره کیږي.

که مورنۍ ژبه دربانډې ریښتیا ګرانه وي، په شعارونو نه، بلکې په پوهنه یې بډایه کړئ او ویونکیو ته یې د انساني ژوند د لاښه والي شرایط برابر کړئ.
تر هغو، چې د یوې ژبې ویونکي ځواکمن نه شي، ژبه ځواکمنېدای نه شي.»

ــ موږ باید خپله ژبه دومره غني کړو چې نه یوازې یې ویونکي خپل اړین علمي هنري مواد په خپله مورنۍ ژبه پیدا کړای شي، بلکې د نورو ژبو ویونکي، په دې ژبه کې د شته آثاررو نه د استفادې په خاطر دا ژبه باید زده کړي،

ـ زموږ د مورنۍ ژبې په برخه کې بله اساسي ستونزه د پښتني ميندو له سواد او زدکړو نه د محروميت مسأله ده. څنګه چې د مورنۍ ژبې له نامه څخه څرګندېږي، بنياد او ستنه يې مور ده او کله چې مور له سواد، ښوونځي او پوهنځي نه لرې او محرومه وي، څنګه کولای شي چې خپل ماشوم ته خپله ژبه په سمه توګه ورزده کړي او د زده کولو، ساتلو او پاللو پر ارزښت يې پوه کړي.

له بده مرغه چې د ډېرى پښتنو پر ذهن باندې د «ښځه يا په کور يا په ګور» پاليسي تر اوسه پورې هم حکومت کوي. د همدې پاليسۍ په دايره کې او د «غيرت» د ديوالونو په منځ کې ښځه نه شي کولای د مورنۍ ژبې په برخه کې خپل اصلي رسالت تر سره کړي. د دې استدلال له مخې موږ خپله د خپلې مورنۍ ژبې ودې او پرمختګ ته پاخه ديوالونه جګ کړي دي او په مستقيم او غير مستقيم ډول مو د خپلې مورنۍ ژبې مخه ډب کړې ده.

ـ ښاغلي يون د ۲۰۱۹ کال د فبرورۍ پر شپږمه نېټه، د يوه ځانګړي ملي سياسي وړانديز په ترڅ کې دا زېرى هم ورکړ چې:

«لومړی کار او زېرى دا دى چې د يوه کال په بهير کې به د ټولو پښتنو افغان پوهانو له نظرونو څخه (د پښتو ژبې د ودې ماستر پلان) جوړوو...»

که په رېښتيا سره د ښاغلي يون دا وړانديز د عمل جامه واغوندي، نو همدې ته د پښتو مورنۍ ژبې له پاره، پرته له لاپو نه عملي کار ويل کېږي.

اوس نو که څوک د مورنۍ ژبې بقا، غني کېدل او پرمختګ غواړي، نو د پښتنو له لوري دا زيږول شوې ستونزې، په خپله پښتانه بايد لرې کړي او که ځان بدل نه کړو، زموږ او زموږ د مورنۍ ژبې حال به تر دې هم بد وي.

ـ د نړۍ راتلونکې ژبه د تکنالوژۍ ژبه ده، موږ بايد پښتو او پښتانه له تکنالوژۍ خبر او ورسره مل کړو، که نه نو د پښتو او پښتنو ګليم ټول ګڼه،

ـ زما له نظره د اوسني نسل د مبارزو فوکس بايد پر تعليم باندې وربرابر وي. له کلي نيولې بيا تر ښاره، له داخل نه نيولې تر بهر پورې، که هم دا اوسنی نسل او هم راتلونکي نسلونه په نوې تکنالوژۍ سمبال او تعليم يافته وي، بيا د هر څه په ارزښت پوهېږي. د وطن، دخلکو، د ملي ګټو... او د مور او مورنۍ ژبې پر ارزښت هم.

ژبه په تشو احساساتو او خالي شعارونو، نه له مرينې راګرځول کېږي او نه بدايه کېږي. ښاغلي ډوکتور لطيف بهاند د مورنۍ ژبې په هکله د خپلو ګڼو خبرو په لړ کې يو وار داسې ليکلي وو:

«زه هيله لرم چې هر څوک د خپلې مورنۍ ژبې د لمانځنې، پالنې ، روزنې او پانګمن کولو حق ولري، خو ژبه په تشو نارو سورو، چغو او هغې ته د لويو ستاينو په ورکولو نه پانګمه کېږي او نه وده کوي. ژبه د علمي، تخليقي آثارو په رامنځ ته کولو، ژبه کېږي او تر ټولو مهمه دا چې ژبه بايد په غوره توګه سياسي – اقتصادي، فرهنګي شي.»

ځينې خلک دعوا لري چې پښتو ژبه څو ميليونه لغوي ذخيره لري، خو د يادې خبرې د ثبوت له پاره تر اوسه پورې کوم سند نه دی وړاندې شوی.

«د ښاغلي، ډوکتور عبدالحميد بهيج عثماني په وينا، زموږ د قاموسونو د وييونو يا لغتونو شمېر په دې توګه دی:

۱ـ درياب: ۶۰,۶۹۵

۲ـ پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس: ۴۷,۵۷۵

۳ـ پښتو ـ دري قاموس: ۲۸,۹۰۰

۴ـ انګرېزي ـ پښتو قاموس (علومو اکاډیمي) ۱۹۷۱، ۲۳»

خو ډوکتور زیار د خپلو کلونو، کلونو څېړنو په پایله کې ویلي دي چې:

«ټول هغه لغتونه، چې زموږ په اوسنۍ ګړنۍ، لیکنۍ او څېړنیزه ژبه کې کارول کېږي، له ۸۰ زرو، نه زیاتېږي... په وروستیو څو لسیزو کې، د نیولوګیزم (د نویو لغتونو جوړونه) له نورو ژبو د ژباړې، د اصطلاحاتو او ټولو ترکیبونو سره کېدای شي، تر ۲۰۰ سوو زرو پورې ورسېږي.»

چا څومره مورنۍ ژبې پښتو ته کار کړی، هغه نه شي پټېدای، که څوک یې یادونه ونه کړي، د یو څه مودې له پاره به هیر شي چې دا کار موږ باید و نه کړو. هغه چا چې د تشو شعارونو پر ځای خپلې مورنۍ ژبې پښتو ته عملاً کار کړی دی باید یاد شي او قدرداني یې وشي.

د پښتو ژبې د لومړني لاس ته راغلي شعر شاعر امیر کروړ جهان پهلوان نه را نیولې بیا تر نن پورې د ټولو شاعرانو، لیکوالانو، ژباړونکو، ژبپوهانو، ښوونکو، قاموس لیکونکو او قاموس ټولونکو کارونه او اثار مالوم او ثبت دي، څومره چې ما ته مالوم دی او اثار یې تر اوسنیو نسلونو پورې رارسېدلي دي؛ د هغو په استناد ویلای شم چې چا، څومره او په کومه برخه کې پښتو مورنۍ ژبې ته کار کړی دی:

د کلاسیکانو: روښاني دورې قلموال، خوشال بابا او کورنۍ یې، حمید مومند، رحمان بابا او د پښتو ادبیاتو د اوسنۍ دورې له پیل سره:

راحت زاخیلی، امین ملنګ جان، استاد الفت، پوهاند رښتین، علامه حبیبي، استاد خادم، علامه رشاد، استاد بینوا، محمد جان فنا، استاد صدیق روهي، استاد شپون، سلیمان لایق، پوهاند ډوکتور بهاالدین مجروح، استاد حمزه شینواری، استاد بختانی، حبیب الله رفیع، زلمی هیوادمل، استاد صدیق پسرلی ، پوهاند ډوکتور زیار، نادر جلالي، محمد عثمان نژند او د هغه وخت د معارف وزارت په تالیف او ترجمې ریاست کې د ده ځینې همکاران، د نویمي لسیزې له پیل مخکې د هغه وخت راډیو افغانستان ټول هغه نطاقان ـ ممثلین قلموال او په تېره هغه کسان چې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره یې د راډیو له څپو څخه کیسې ویلې (ستاره امیني) او...

تر یادو مشرانو وروسته په بل جنریشن کې: ، ډوکتور لطیف بهاند، ډوکتور داود جنبش، ډوکتور بهیج عثماني غفور لېوال، زهیر شینواری، اسماعیل یون، طاهر کانی، استاد علي رسولزاده، حاجي محمد نوزادي، ابراهیم نعیمي، عبدالمالک بېکسیار، ویسا وروڼه، محمود مرهون، احمد ولي اڅکزي، میر احمد یاد او...

پاس یاد شوي کسان هغه ښاغلي دي چې په خپلو بیسارو فرهنګي کارونو، تدریس، هستونو، ژباړو، قاموس لیکنو او... سره یې پښتو مورنۍ ژبه له لویدلو او هېرېدلو ژغورلې ده، زه یې د زړه له تل نه مننه کوم او ترسره کړیو کارونو ته یې د قدر په سترګه ګورم او که د چا نوم زما هیر شوي وي او زما له قلم نه پاتي وي، له هغه او هغو نه زه بښنه غواړم.

زه د خپلو څو لسیزو زدکړو، تدریس، مطالعي، څیړنو، تخلیق او تجربو په پایله کې دې نتیجې ته رسیدلی یمه چې:

مورنۍ ژبه يوه داسي ونه ده چي ښلابيلي څانگي او په زرگونو، لکونو او لا ميليونونه پاڼي يا لغتونه لري، دا ونه که اوبه نه شي، که ونه پالل شي، که شتمنه نه شي؛ نو څنگه هيله کولای شئ چي د دې ونې پاڼې به زيړې نه شي، وبه نه رژيږي او دا ونه به زړه او پوده نه شي؟

(آصف بهاند)

«کوم قام ته چې خپله ژبه سپکه شي،

هغه قام سپک شي

او د کوم قام نه چې خپله ژبه ورکه شي،

نو هغه قام ورک شي.»

(خان عبدالغفار خان)

# په پردی چاپېریال کې

## د کوچنیانو ادبیات او مورنۍ ژبه

هر کال د فبرورۍ پر یوویشتمه د مورنۍ ژبې ورځ لمانځل کېږي. د نړۍ په ګوټ، ګوټ کې هغه خلک چې له خپلې مورنۍ ژبې سره مینه لري او غواړي چې ژبه یې له نوې تکنالوژۍ او د وخت او زمان له غوښتنو سره سم ګام اوچت کړي، لا پسې غني شي؛ دا ورځ په شاندارو مراسمو داسې لمانځي چې په تېر یوه کال کې یې د تخلیق، څېړنې او ژباړې په برخه کې د خپلې ژبې له پاره څه کړي دي او د دې یادونې کېږي چې د دوی ژبه څومره د نوې تکنالوژۍ دایرې ته ورننوتې ده او په عام ډول د خپلو هغو کارونو یادونه کوي چې د خپلې ژبې د غنا له پاره یې کړي دي.

موږ هر یو باید دا پوښتنه له خپل سره مطرح کړو چې:

موږ خپلې مورنۍ ژبې ته څه کړي دي؟

زموږ په وطن او ټولنه کې د جګړې اور او وېر، په لسګونو سونامي ګانې رامنځ ته کړې او بې شمیره غمیزې یې په میراث پرېښې دي، داسې چې زموږ څو نسلونه یې د اور خوراک کړل او هغه چې د دې سونامي ګانو له مرګونو ځپو نه نیم ژواندي پاتې دي له بېلابېلو ستونزو سره لاس ګرېوان دي. د جګړې او له جګړې د را زېږېدلو سونامي ګانو د زور او تاو په وجه یو شمېر وطنوالو خپل کلي کوروونه، نغرې، هدیرې او هر څه په ځای پرېښودل، بهر ته یې یوازې د سر د خلاصون په تمه مخه کړه.

تللي خلک په بهر ملکونو کې له رنګارنګ ستونزو سره مخ شول، چې تر ټولو لویه غمیزه او ستونزه یې د نورو ټولنو د کلتورونو تر فشار لاندې او ډېر ځلې د کورنیو د مشرانو د بې غورۍ په وجه د مورنۍ ژبې او په عام ډول د خپل کلتور د ډېرو برخو له لاسه ورکول دي.

د بهر مېشتو افغانانو له ژوند نه چې کوم ښکلې انځور دننه په افغانستان کې د خلکو د ذهن په ګالرۍ کې رسم شوی دی، دا سم او ښکلی نه دی، نه یې منفي اړخ سم دی او نه یې مثبته خوا. ژوند په هر ځای او هره ټولنه کې چې وي، منفي او مثبت اړخونه لري او زموږ افغانانو د ناکامۍ یو دلیل دا دی چې هر چېرې او په هر څه کې ډېر اِفراط او تفریط کوو.

په پرمخ تللو هیوادونو کې ژوند رنګینی لري، خو ستونزې یې هم ډېرې او چاقې دي. په هغو ټولنو کې د اِنتګرېشن (integration) یا په ټولنه کې جذبېدل او د هغو له قوانینو سره ځان

برابرول، لرې نه، بنې ډېرې ستونزې لري؛ هغه هم يو ه شرقي او د بيلي عقيدې درلودونکي انسان ته. په افغانستان غوندې يو چاپيريال کې زيږيدلی، را لوی شوی انسان ته او بيا په اروپا غوندې يوې ټولنه کې ټول عمر ژوند کول، داسې يوه بوټي ته ورته وګڼئ چې له ګلانو او رنګينيو نه يې ازغي او بد رنګي زښته ډېره ده.

په داسې ټولنو کې زيږيدلي او زيږيدونکی نسل ته که مشران پام و نه کړي، هماغسې لويږي لکه د هغې ټولنې وګړي او دا نوي ورغلي خلک تر څو چې ځان له هغې ټولنې او د هغو له قوانينو سره جوړوي، يا د ليونتوب پولې ته ور رسيدلی وي او يا هم دومره وخت ورباندې تير وي چې نور د کهولت خزان وهلي بڼ ته ور ننوتی وي.

په دې ليکنه کې د همدغو ترخو واقعيتونو په نظر کې نيولو سره کوم تصوير چې زه له افغانستان نه د باندې د افغان ماشومانو او کوچنيانو د روزنې، مورنۍ ژبې د زدکړې، د فرهنګ د ساتلو او د کوچنيانو د ادبياتو په برخه کې وړاندې کوم، همدا اوس وايم چې منفي اړخ يې ډېر دی. ما دې څوک د ډېر خوشبين او ډېر بد بين په تور نه رنګووي، دا يو تريخ واقعيت دی او لکه د سقراط جام، اوس افغانانو ته ور په برخه دی.
کله چې يو ماشوم، کوچنی يا تنکی زلمی د وطن پرېښودلو ته اړ کيږي، نو د باندې له وطن نه، که لرې وطن وي که کوم نږدې هيواد، په لومړي ګام کې د مورنۍ ژبې زکړه، ساتل او پالل ور ته ډېر اړين وي او وروسته له هغه نه  په مورنۍ ژبه باندې ورته د مطالعې او د کوچنيانو د ادبياتو لوستل مطرح وي.

په وطن کې د ټوپک د شپيلۍ د سُر کيدو، د جګړې د اور د توديدو او ځينو نورو دلايلو پر بنا د ډېرې افغانانو منده ګاونډيو هيوادونو ايران او پاکستان ته وه، چې شمير يې ميليونونو تنو ته رسيده.

په ايران کې خو يې په ډېرو ځايونو کې افغان کوچنيانو او ځوانانو ته، ښوونځي او پوهنځي ته د تګ اجازه هم نه ورکوله او د ژوند په هره چاره او هر ځای کې دوی ته د «آشغال» خطاب شوی او که چيرې کومې سلنې ماشومانو کوم ټولګي ته د تګ چانس تر لاسه کړی هم وي، په داسې چاپيريال کې به و چې يو توری به هم د دوی د ژبې او عقيدې ، تاريخ او جغرافيې هلته نه و. د مورنۍ ژبې، خپله خوښو زدکړو او يا د ماشوم پالنې، روزنې او د کوچنيانو د ادبياتو خو لا پوښتنه هم بايد و نه شي.

ايران ته که افغان د کار له پاره تللی دی او که د سر ساتلو په موخه، په هر حالت کې دی دومره په عذاب شوی چې په پای کې د کوم مظلوم افغان له ذهن او  ضمير نه داسې غږ را پورته شوی دی چې د شکايت او بغاوت غږ ورته ويلای شو چې فيروز کندوزي نومي سندرغاړي بيا په خپل خواږه غږ زمزمه کړی هم دی.

په پاکستان کې هم د پاکستاني قوانينو په چو کاټ کې او په افغانانو باندې د حاکم اِفراط له وجې په هغو کتابونو او درسي موادو کې چې دوی استفاده ور نه کوله، داسې څه نه شته چې ماشوم دې له پر مختللو علومو او عصري ژوند سره آشنا کړي. هغه کتابونه او درسي مواد چې ما ليدلي دي هلته درسي پروګرام داسې برابر کړای شوي و چې تر مثبتو موادو منفي په کې ډېر ځاي پر ځای شوي وو. همدې موادو ته په کتو سره، په دې اړوند ما د ۲۰۱۲ کال په پيل کې د يوې مقالې په ترڅ کې داسې ليکلي وو:

«هلته په افغانستان کې زموږ د کوچنيانو او زلميانو په غوږونو کې د ښوونکي د غږ پر ځای، د قومندان آمرانه چيغې آزانګې کوي. اوس زموږ ماشومانو او زلميانوته د الف او ب د زدکړې پر ځای د ډزو کولو لارښوونه کيږي، دا دی زموږ سرنوشت او دادی زموږ ښوونه او روزنه.
په ګاونډيو هيوادونو کې چې کوم ښوونځي او پوهنځي پرانستل شوي وو، هغه هم د سياست او

مذهب په رنګ رنګول شوي وو. هلته هري مذهبي او سياسي ډلي هڅه کوله چي خپل افکار او عقايد تدريس کړي او د خپلو نظامي اهدافو د تر سره کولو له پاره، په لومړي ګام کي د ماشومانو او تنکيو زلميانو په ذهنونو کي د جګړې، وسلي او وژني مفاهيم ځای پرځای کړي. د دغو ښوونځيو او پوهنځيو په درسي کتابونو کي هيڅکله زده کوونکو ته د خپل وطن تاريخ، ملي ګټو، تمدن او علمي پرمختګونو په باب، څه نه ليکل کيدل، مورنۍ ژبه او ملي کلتور اصلاً مطرح هم نه وو. د دغو ښوونځيو په يو درسي کتاب کي مي ولوستل:

«ت = توپک،

ج = جهاد،

م = مجاهد،

ټ = ټانک،

و = وژل،

او...»

د مورنۍ ژبي او په مورنۍ ژبه باندي د سواد د زدکړي مسأله او ورسره د کوچنيانو ادبيات مطرح کېدل؛ په اروپايي هيوادونو کي، د هر هيواد د ځانګړو قوانينو په چوکاټ کي مطالعه کيدای شي، خو بيا هم دا د هر هيواد په هغو خلکو پوري تړلي ده چي دلته د مهاجر په توګه ژوند پيل کوي، په تيره د کورنۍ په مشرانو پورې يې اړه لري چي تر کومي اندازې دوی له خپل وطن، تاريخ، خپل کلتور، خپلي مورنۍ ژبي سره مينه ساتلي ده او د هغو په زدکړه کي څومره د کوربه هيواد له امکاناتو نه استفاده کولای شي. د اروپايي هيوادونو په سيمه کي، په تيره ډنمارک کي د زدکړو، هر ډول امکانات شته، دا په هر چا پورې اړه لري چي استفاده ور نه کولا شي که نه.

په اروپايي هيوادونو کي د مهاجرو ضد سياست د روحي په رامنځ کيدو سره او د راسيزم په قوي کيدو سره د مورنۍ ژبي د زدکړو امکانات ورځ تر بلي محدود شول او حتی په ځينو هيوادونو کي دا خبري هم رامنځ ته شوي چي: هغه بودجه چي د بهرنيانو د مورنۍ ژبي په زدکړه باندي مصرفيږي، ولي يې د خپلو ژبو د زدکړې او تقويې له پاره مصرف نه کړو؟

کله چي زه په ۱۹۹۲ ام کال کي د افغانستان پرېښودلو ته اړ شوم، لومړنۍ ځای چي ما د افغان ماشومانو او کوچنيانو او نوي نسل بد حالت په کي وليد، هغه پيښور و. سره له دې چي زه تر سخت رواني فشار لاندي وم، بيا مي هم د ماشومانو، کوچنيانو او نوي نسل ته د څه ليکلو په نيت ګوډ مات ياد داشتونه په ذهن او کاغذ باندې اخستل. د نوي نسل د سواد، زدکړو، روزني او د کوچنيانو د ادبياتو د خراب حالت د يو تصوير وړاندي کولو په موخه مي په ماسکو کي، «نويد» نومي اخبار – چي د ښاغلی فاروق فردا په مديريت خپريده – د «پردی چاپيريال او د مهاجرو کوچنيانو د زدکړی مسآله» تر سر ليک لاندي، د مقالو سلسله پيل کړه او بيا مي د ۲۰۱۲ کال د فبروری په ۲۲ مه د دويم ځل له پاره وېبپاڼو کي هم خپره کړه. هلته ما د افغان ماشومانو کوچنيانو او تنکيو ځوانانو د غه حالت ته په کتو سره خپل نظر ليکلي او خپور کړی و او اوس هم په هماغه نظر يم، هغه نظر داسي دی:

«... ما د مهاجرت د نورو ترخو تر څنګه، د افغان کوچنيانو راتلونکي زوروي او هر کله په دې فکرکي يم چي په پرديو چاپيريالونو کي به د افغان کوچنيانو د سواد مسآله څنګه کيږي؟ ځکه چي مهاجرت هرڅه له انسان څخه اخلي. ژبه،کلتور، رواجونه، کور، جومات، مړی، ژوندی، هديره او ... خو موږ بايد ځانونه تسليم نه کړو. له ټولو ميندو او پلرونوسره ښايي چي

د نورو نا خوالو سره د مبارزې تر څنګ، په جدي ډول له دې ستونزې سره هم مبارزه وکړي، تر څو زموږ کوچنیان له خپل فرهنګ، تاریخ، عقایدو، ادبیاتو، ژبې او... څخه بیګانه او لرې پاتې نه شي او که ځای پر ځای لاس تر زنې کینو، خدای مه کړه سبا به زموږ د هر یوه کوچنیان بې سواده، له خپل فرهنګ او ژبې سره نا آشنا را لوی شي؛ بیا به نوی نسل له خپل فرهنګ،ژبې، تاریخ او هر څه سره نا بلده او بیګانه وي. بیا به دا د شرم پیټی چیرته او تر څو پورې پر شا چلوو.»

په هغه یادداشت کې ما د خپلو سترګو لیدلې یوه اوږده کیسه را اخیستې وه چې یو افغان زلمي په خپله مورنۍ ژبه لیک لوست نه شي کولای او غواړي په بل چا خط ولیکي او خپلې کورنۍ ته یې ولیږي.

ما په هغې شیبې کې د لیک لیکونکي په سترګو او څیره کې یآس او خواشیني ولیدل او پر دې هم پوه شوم چې ده ورو ترشونډولاندې د قهر په څپو کې دا بیت زمزمه کاوه:

«سرې لمبې مې خوښې دي، خومره خوږلن ته نه راځم
دا ځلـې کـه لاړم، بــیا بــه دې وطــن تــه نـــه راځم»

دغه زلمي چې خپلې کورنۍ ته په بل چا خط لیکه، وړوکی له وطن څخه راالیرل شوی و، مور، پلار او کورنۍ یې نه وه ور سره چې څه یې زده کړي وای. دی په لیلیه، پارک، پوهنځي، سړک او نورو ځایونو کې، هره شیبه له پردی ژبې، پردي کلتور او پردیو خلکو سره مخامخ و او... ځکه تر دې بریده پورې رسیدلی و؛ خو موږ او تاسو خو له خپلو بچیانوسره یو ځای یو او سواد هم لرو او د فرهنګ، فرهنګ چیغې هم وهو، د دې په باب ولې فکر نه کوو چې:

«ولې مو بچیان تراوسه پورې په خپلو مورنۍ ژبو لیک لوست نه شي کولای؟»

له ګاونډیو هیوادونو ایران او پاکستان نه ور وړاندې، په دا نورو لرو او نږدې هیوادونو لکه: تاجکستان، روسیه، أکرایین او... کې هم د کوچنیانو د زدکړې مسأله، ښوونځي ته تګ او د مورنۍ ژبې په زدکړې او ساتنه پسې، مهاجر نه دومره سر خوځوي او نه هم د کوربه هیوادونو خلک او واکداران په خپل پروګرام کې څه ورته لري. دلیل یې دا دی چې یا به کوربه هیواد ته دا موضوع دومره ارزښت نه لري، بودجه به هم نه وې په نظر کې ور ته نیول شوې او ورغلي مهاجر هم په یادو هیوادونو کې د موقتي استوګنې په فکر کې وي او له دې هیوادونو نه یې، یوه دایمي امن هیواد ته د تګ په خاطر د ترانزیت یا د خیز د تختې په توګه کار اخیسته.

دایمي استوګنځیو ته (هغه هیوادونه چې یو پناه ِغوښتونکي ته پنا ورکول کیږي) په رسیدو سره له ډیرو امکاناتو سره ـ سره، بیا نورې ستونزې سر را پورته کوي چې د دې ستونزو په سیورې کې ځینې کورنۍ د خپلې مورنۍ ژبې، زدکړو، ښوونځي، پوهنځي، یا لوړو زدکړو په فکر کې هم نه وي.

یوه ډله افغانان یې داسي انګیرې چې جنت الفردوس ته رسیدلي دي، هر څه د سوسیال له خوا تیار دي او هیڅ ډول ستونزې نه شته، نور نو زدکړې، مورنۍ ژبې، خپل کلتور، خپل تاریخ، په وطن کې د جګړې لمبې، په وطن کې د پاتو خلکو فکر او... څه کوي.

بله ډله افغانان هم د لومړۍ ډلې په څیر د هیڅ شي په فکر کې نه وي، یوازې د پیسو د پیدا کولو په موخه هڅې کوي او اولادونه د ښوونځي او پوهنځي په ځای پیزاري ته لیږي، څو د پیسو د ګټلو په موخه فزیکي کارونه وکړي.

البته شته داسي افغانان چې د خپل وطن، خپل فرهنګ او خپل هر څه ته په پام سره، د کوربه هيوادونو له ټولو مثبتو امکاناتو نه په استفادې سره خپلو ټولو مثبتو تجربو نه استفاده کوي، پر ځان فشار راوړي، حتی له خپل معاش نه خپلو بچو سره د مرستې زمينه برابروي، څو کوچنيان او ځوانان زدکړې تر لاسه کړي.

بله خبره دا ده چې په اروپا، امريکا او ځينو نورو پرمخ تللو هيوادونو کې د مورنۍ ژبې مسآله ډيره سلنه په خپله د افغانانو په علاقې او هڅو پورې اړه لري. په يو ډير تازه ګزارش کې مې ولوستل چې څه ډول افغانانو ته په ځينو هيوادونو کې په مورنۍ ژبې د ژباړن د نه شتون په وجه د کيس په اړوند ضررونه رسيدلي دي، دا په دې چې د محکمې په لړ کې مثلاً دري ژبې ته ايرانی ژباړن راغواړي بيا د قاضي او د دوسيې والا په منځ کې نا پوهيدنه يا سوتفاهم رامنځ ته کيږي او پايله يې د مهاجر له پاره منفي وي. د کانادا په هيواد کې افغانانو، په ډير زحمت سره، د کانادا هيواد مقامات په دې قانع کړي دي چې پښتو او دري ژبې د کانادا په رسمي دفاترو کې داسي ثبت او ومنل شي چې د اړتيا په وخت کې هر چا ته په خپله مورنۍ ژبه ژباړن را وغواړي.

کوم معيارونه چې د کو چنيانو د ادبياتو په برخه کې په نړيواله کچه منل شوي او مراعاتيږي، د هغو په چوکاټ کې هيڅ څوک نه شي کولای و وايي چې افغانانو به په بهر کې خپلو بچو ته په خپله مورنۍ ژبه کتابونه برابر کړي وي، يا به يې د مطالعې زمينه ورته برابره کړې وي او يا به يې کوم ماشوم ته په خپله مورنۍ ژبه د خوب په وخت کې کوم کتاب لوستی وي.

د ماشومانو او کوچنيانو له پاره په اروپا کې په کتابي او چاپي بڼه زما له نظره څه نه دي تير شوي، په ويبپاڼو کې د کوچنيانو له پاره څه شعرونه او کيسې ليکل شوي او ژباړل شوي دي چې د لاندې ښاغلو نومونه د يادونې وړ دي:

۱ــ احمد ولي اڅکزی، د ماشومانو او کوچنيانو له پاره يې کيسې او شعرونه ليکلي دي،

۲ــ ښاغلي ملک پرهيز د ډنمارکي ليکوال هنس کريستين اندرسن څو کيسې ژباړلي دي،

۳ــ ښاغلي يوسف هيواد دوست د ډنمارکي ليکوال هانس کريستين اندرسن څو کيسې ژباړلي دي،

۴ــ آصف بهاند د ډنمارکي ليکوال هانس کريستين اندرسن څو کيسې ژباړلي دي.

که چيرې د کوم ماشوم مور يا پلار د خوب په وخت کې، کوم افغان ماشوم ته د آرامه خوب په موخه، کوم کتاب يا کومه کيسه لوستې وي، هغه به هم د کوربه هيواد په ژبه وي، نه د ماشوم په مورنۍ ژبه. د کوچنيانو د ادبياتو له پاره ډير د پاملرنې وړ کار دننه په افغانستان کې شوی او هيله ده چې دا کار نور هم په مثبت لوري تعقيب او وغځول شي.

کله چې زه (آصف بهاند) اروپا ته را ورسيدم، د کوچنيانو د ادبياتو او نوي نسل د روزنې، په تيره بيا د مورنۍ ژبې د زدکړې او يا عادي ليک لوست د يادولو په موخه مې خپلې هلې ځلې منظمې کړې او جدي هوډ مې وکړ چې په دې برخه کې به کار کوم، نو همافه و چې په لومړي ګام کې مې په سويډن کې د مورنۍ ژبې له ښوونکو سره د سويډن دولت او ځينو افغان فرهنګي ټولنو او شخصيتونو په مرسته کار پيل کړ او د ۲۰۰۲ کال په جنوري کې مې په ستاکهولم کې د دريو ورځو په مخ، د مورنۍ ژبو په هغه سيمينار کې د لکچرست په توګه فعاله ونډه واخيسته چې په سکندنويايي هيوادو نو کې د ميشتو افغانانو د مورنۍ ژبو د ښوونکو له پاره جوړ شوی و. په ياد سيمينار کې مې، خپل لومړني ياداشتونه، د دوو مقالو په چوکاټ کې، له ستاکهولم نه په خپريدونکې «فردا» نومې مجله کې خپاره کړي دي.

(فردا مجله، د ۲۰۰۲ کال د مارچ او اپريل ګڼه)

له هغه نه وروسته مې د کوچنيانو د ادبياتو او نوي نسل د روزنې په برخه کې چې څومره توان رسيدلی او موضوع پورې اړوند مواد په مخه راغلي دي، ما وخت په وخت ليکنې کړې دي. «د کوچنيانو ادبيات، تاريخي پس منظر او اوسنی حالت» تر سر ليک لاندې مې د دې کرښو تر ليکلو پورې ۲۴ مقالې خپرې کړې دي چې ټولې په ويبسايټونو کې همدا اوس هم آنلاين موجودې دي، که يې درانه لوستونکي د مطالعې ليوالتيا ولري، کولای شي په دې پته ټولې ولولي:

د مطالعې د دود او نوي نسل د روزلو په موخه مې تر اوسه ځو ګټورې مقالې خپرې کړې دي،
ما په ۱۹۹۴ ام کال کې ويلي، ليکلي او خپاره کړي وو چې ټول خلک په تيره هغه قلموال چې عملاً د کوچنيانو د زدکړو او ادبياتو په برخه کې فعال دي، بايد دې موضوع ته په کمه سترګه ونه ګوري، خو هغسې چې بايد، و نه شول. هغه توري دا دي:

«زه له ټولوفرهنګيانو،په تيره له هغوفرهنګيانوڅخه چې عملاً ليکنې او نشرات کوي،هيله کوم چې د افغان مهاجرو کوچنيانو د ښوونې او روزنې له پاره کم له کمه په خپلو خپرونو کې جدي پاملرنه وکړي.
ښاغلي جنيد شريف د خپلو ژباړو په لړ کې د يوه ژباړل شوي اثر په مقدمه کې ليکلي ووچې:
«... بيت نيکه په دويمه هجري پيړۍ کې په زارۍ، زارۍ د خدای له دربار غوښتلي وو چې:

دا وګړي ډيرکړې خدايه لويه خدايـــه، لويه خدايــه »
او خدای (ج) دا وګړي ډير کړل؛ خو اوس اوس داسې څوک نه شته چې يو وار ووايي:

دا وګړي ماړه کړې خدايه! لويه خدايه، لويه خدايه، دا وګړي باسواده کړې خدايه! لويه خدايه، لويه خدايه!!! »

زه د يو عيني شاهد په توګه ويلای شم چې:

د پاسنيو نيمګړتياوو تر څنګه دا هم بايد ياده شي چې افغانان چې هر هيواد ته رسيدلي دي، په ټول کې د خپلو ماشومانو او کوچنيانو د پاللو، روزلو، د مورنۍ ژبې ساتلو او خپل فرهنګ خونديو ساتلو فکر ورسره و. د دې کار له پاره يې د کوربه هيوادونو د امکاناتو نه تر يوې اندازې استفاده هم کړې او په شخصي او انفرادي ډول يې هم دې موخې ته د رسيدو هڅې کړې دي، خو په ټول کې دا کار که هر چا ته د ارزونې له پاره وسپارل شي؛ ضعيف ځکه ارزيابي کيږي چې په بهر کې مو ډيره سلنه ماشومان، کوچنيان او نوی نسل په خپله ژبه سم غږيدای نه شي، ليک لوست وربانديو نه شي کولای او...

د دې ټولو نيمګړتياوو او منفي خبرو په څنګ کې، په بهر کې افغانان د نوي نسل د پالنې ــ روزنې، د مورنۍ ژبې ساتلو، کوچنيانو ادبياتو ته پام او له نوي تمدن او نوې نړۍ سره د نوي نسل د آشنا کولو له پاره ځينې ګټور کارونه هم کړي دي؛ چې تر ټولو غوره بيلګه يې د ځينو ويبپاڼو او فيسبوک پاڼو جوړل او په هغو کې د ماشومانو، کوچنيانو او نوي نسل د روزلو په برخه کې تر ټولو نوې لاسته راوړنې، تخليقات، ژباړې او روزنيزې مقالې او مطالب خپرول دي. لکه:

ــ ماشوم روزنه (فيسبوک پاڼه)،

ــ د ماشوم د ادبياتو کور(فيسبوک پاڼه)،

ــ پل (ويبپاڼه)

ـ کوچني داتکام (د کوچنیانو له پاره د احمد ولي اڅکزي ویبپاڼه)،

ـ کتابتون دات کام (ویبپاڼه).

د ماشومانو، کوچنیانو او نوي نسل د روزلو په برخه کې په دې وروستیو کې هڅې زیاتې شوې دي ډېرې ویبسایتونه په دې برخه کې لیکنې، ژباړې او تخلیقات خپروي.د ساري په ډول د تاند او پل فعالیتونه یادولای شو. هغه څه چې نن سبا «تاند» او «پل» ویبپاڼې او د دوی قلمي همکاران لیکي او خپروي یې د کمیت او کیفیت له پلوه له تمې نه لوړ او مثبت دي.

د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د خپرو شووکتابونو او په ویبپاڼو او فیسبوک کې د راغلو موادو په برخه کې چې ما کومې یادونې وکړې، د دې په برخه کې هم په ټول کې افغانان ستونزې لري. د برېښنایي آدرسونو (فیسبوک پاڼې، ویبسایتونه، برېښنايي آنلاین کتابونه) په برخه کې دننه په افغانستان کې د استفادې امکانات ډېر محدود دي، یا بېخي کمپیوټر او انټرنټ نه پېژني او که یې پېژني، بیا ډېرې خلک د انټرنټ ستونزه لري.

په بهر کې چې د کمپیوټر او انټرنټ ستونزه نه شته، بیا نو خدای ځینې خلک په دې مرض اخته کړي دي چې کمپیوټر نه استفاده نه کوي او له ټولو نه لویه ستونزه دا ده چې په ټول کې په افغانانو کې د مطالعې دود یا هیڅ نه شته او یا هم ډېر ضعیف دی.

تر ټولو ستره پانګونه د نوي نسل روزل دي، که مو نوی نسل و نه روزئ، خپلې راتلونکې زمانې او خپل راتلونکي نسل ته مو په خپله اور اچولی دی، بل چا ته د حکایت او شکایت حق نه لرئ. محمود طرزي ډېر ښه ویلي دي:

«هرقوم په خپلې ژبې اوهره ژبه په خپلو ادبیاتو ژوندی پا تې کیږي»

په اروپا کې، په سکندنویایي هیوادونو کې، په تېره ډنمارک کې، چیرې چې د مورنۍ ژبې د تدریس او یا له دې سره اړوند کتابونه او درسي مواد ما ته په مخ راغلي دي، ما په خپلو یاد داشتونو او مقالو کې د هغو یادونه کړې ده او ثبت کړي مې دي.

د دې خبرې یادول ډېر اړین ګڼم چې د مورنۍ ژبې په برخه کې تر ټولو ډېر او موثر کار د سویډن په هیواد کې هم د سویډن د دولت په پاملرنې او هم په سویډن کې د میشتو فرهنګیانو په جدي کار او پاملرنې سره تر سره شوی دی، درسي مواد برابر شوي، درسي کتابونه لیکل شوي د مورنۍ ژبې کورسونه دایر شوي دي او حتی د مورنۍ ژبې له پاره ویبسایټونه پرانستل شوي دي، چې موثریت یې په سویډن کې د افغان میشتو کورنیو په ماشومانو، کوچنیانو او تنکیو ځوانانو کې له ورایه محسوس دی.

اوس افغانان په هر ډول شرایطوکې چې دي، په هر هیواد کې چې ژوند کوي، باید د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتنې او پا لنې په برخه کې او د کوچنیانو د ادبیاتو مسألې ته جدي پاملرنه وکړي. په ۲۰۰۲ کال کې چې ما د موضوع په اړوند د سویډن په ستاکهولم کې ځینې وړاندیزونه کړي وو، اوس یې هم ضروري بولم. هغه وړاندیزونه په لږ تو پیر سره په دې ډول دي:

ـ په افغانستان کې سیاسي ـ نظامي حالت ټیکاو نه لري، هره ورځ څه چې هره شیبه بدلیدلای شي، د همدې دلیل له مخې د ټاکلي وړاندیز مطرح کول ګران برېښي؛ ځکه چې په افغانستان کې دننه او له افغانستان څخه د باندې د مورنۍ ژبې ستونزې توپیر سره لري، په افغانستان کې د ننه په مورنۍ ژبې د تدریس او لیک لوست مسأله طرح ده او له افغانستان څخه د باندې په مورنۍ ژبه باندې پوهیدل، د مورنۍ ژبې زده کول، وربانديې خبرې کول او د هغې د سا تلو او پا للو مسأله مطرح ده. د همدې دلیل له مخې په افغانستان کې دننه ټولو کورنیو، دولتي اړوندو ادارو، ښوونکو او فرهنګیانو سره ښایي چې په مورنۍ ژبه باندې د لیک لوست مسأله دې نه

هیروي او ساده دې نه انګیري؛ خکه چې په مورنۍ ژبه باندې د یو څه زده کول او په دویمه ژبه باندې څه زده کول ډېر توپیر سره لري.

ــ په ګاونډیو هیوادونو، په تېره پاکستان او ایران کې سره له دې چې مهاجر افغانان د یادو هیوادونو، ژبو او ټولنیزو سیاسي شرایطو بار پراوړو وړي، خو باید د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتلو او لیک لوست مسآله هیره نه کړي.

ــ اوس چې له افغانستان نه د باندې بې شمیره فرهنګي ټولنې جوړې شوې دي، که دغه ټولنې د نورو هیوادونو د ناروا پروګرامونو په لمنو پورې نه وي زوړندې؛ باید د افغان کوچنیانو مورنۍ ژبو ته پاملرنه وکړي او په کوربه هیوادونو کې له رسمي مقاماتو سره په تماس کې، د مورنۍ ژبې د زدکړې په برخه کې بنسټیز کارپیل کړي. څومره چې زه مالومات او تجربه لرم، د بي بي سي د تعلیمي اداري له خوا د خپرو شویو کتابونو د تدریس نتیجه ډېره ښه ده، څکه یې د تدریس د دوام پلوی یم او وایم چې د دغو کتابونو د تدریس لړۍ دې پراخه شي.

ــ څنګه چې ښکاره ده په افغانستان کې دننه چاپیریال، د ګاونډ یوهیوادونو چاپیریال او نوروهیوادونو چاپیریال یو بل سره جوت توپیرونه لري، باید د هرهیواد د عیني شرایطو، ستونزو او امکاناتو په نظرکې نیولو سره د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتنې او پالنې له پاره درسي مواد او شرایط برابرکړای شي.

ــ څنګه چې لیدل کیږي د ډېرو هیوادونو په تعلیمي نصاب کې د مورنۍ ژبې زدکړې له پاره ځای نه شته، د همدې دلیل پر اسا س له هرې ممکنې وسیلې نه په استفادې سره د مورنۍ ژبې زدکړه په تعلیمي نصاب کې ځای پر ځای شي او که ممکنه نه وي، د کوچنیانو کورنۍ، فرهنګیان او ښوونکي دې په شخصي ډول د مورنۍ ژبې د کورسونو پرانستلو ته ملا وتړي.

ــ په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې میډیا سره ښایي چې د مورنۍ ژبې د اهمیت، تدریس او ساتلو په برخه کې په پراخ ډول تبلیغاتي کمپاین پیل کړي. ټولو لیکوالو ته لازمه ده چې د موضوع د اهمیت په اړوند مقالې او کتابونه ولیکي.

ــ دې مسآلې ته دې د لویانو او کورنیو پام وي:
کوچنی چې په پردي چاپیریا ل کې لویږي، هرډول چې کیږي، باید د مورنۍ ژبې زدکړې ته یې جدي پاملرنه وشي، چې په دې ډول ما شوم وکولای شي چې له خپلې کورنۍ او هیواد والوسره د پوهونې را پوهونې او ارتباط یوه وسیله ولري. که نني ماشومان او د سبا ورځې ځوانان له هر څومره لوړوزدکړو سره خپل وطن اوخپلو خلکو ته ور وګرځي، که په خپله مورنۍ ژبه چې د ده د خلکو ژبه هم ده، خبرې ونه شي کړای، نه یوازې دا چې هغو خلکو او هغه وطن ته خدمت نه شي کولی، بلکې خپل شخصیت ته یې هم ضرر رسوي او پایلې یې منفي دي.

ــ د مورنۍ ژبې په اړوند دې د ټولو ذیربطو دولتونو، فرهنګي مؤسسو، میډیا او اشخاصو فعا لیتونه ، د ملګرو ملتونو د ځانګړو ادارو له پروګرامونو سره همغږي شي. درسي پروګرام او درسي مواد باید د متخصصینو له خوا د تیرو تجاربو له مثبتو اړخونو نه په استفادې سره ولیکل شي. هیله داسې ده چې د دې آثارو د چاپ مصارف دې د ملګروملتونو د ماشوم صندوق له خوا ورکړل شي.

څنګه چې د سویډن دولت د مورنۍ ژبې په برخه کې زیات کارکړی دی او ښې تجربې لري، نو په نږدې راتلونکې کې دې، د ملګرو ملتونو او اروپایي اتحادیې سره په تفاهم کې، د مورنۍ ژبې د تدریس او خوندي ساتلو کارپوهان، لیکوا ل او د نظر خاوندان د یوه علمي سیمینار پرمیز سره راټول کړي؛ چې هغوی د یوه واحد درسي پروګرام او درسي موادو له پاره، خپلې تجربې،

لیکني او نظریات یو بل ته واوروي او خپلو کې دې قناعت سره وکړي. داسي نه شي چې بیا یو ښوونکی په یو ځای کې ماشوم ته و وایي چې: د افغانستان فلانی واکدار خدمتګار او ملي قهرمان و او دا بل یې و وایي چې هغه خاین و، وطن پلورونکی او قاتل و. دا نمونې د دې لړ په تیرو تجاربو کې، له بده مرغه لیدل شوې دي.

ـ په راتلونکې کې دې په نویو چاپېدونکو درسي کتابونو کې د ملي ګټو او ملي هویت مسألې ته جدي پاملرنه وشي او د مسایلو د روښانولو له پاره دې وطني نومونې او ملي ترمینالوژي وکارول شي.

ـ که مور، ماشومان له بیسوادۍ، ظلم، زورزیاتي او محرومیتونو څخه خلاص نه کړو، په څو یم ځل به مو انسانیت له بې عدالتۍ او ظلم سره مخامخ کړی وي.

راشئ ماشومان د بیسوادۍ له لوی ظلم څخه وژغورئ!

راشئ د کوچنیانو په باب هغسې چې د نوې زمانې علمي غوښتنې یې غواړي، فکر وکړو!

ـ لکه څنګه چې څو ځلې بیلابیلو آدرسونو ته ګران دوست او د کوچنیانو ادبیاتو عملاً ډیر فعال شخصیت ښاغلي اجمل تورمان، په تعلیمي موسساتو کې د کوچنیانو د ادبیاتو د مضمون د تدریس وړاندیز کړی، د هغه په تایید سره زه د کوچنیانو د ادبیاتو د برخې د فعال او د نوي نسل د روزلو د پلوي په توګه ټینګار کوم چې د کوچنیانو ادبیات دې په مکاتبو او پوهنتونونو کې د یو مضمون په ډول تعلیمي نصاب ته داخل کړای شي.

دا وړاندیزونه ما پخوا کړي وو، په ۲۰۱۲ کال کې مې بیا چاپ او تکرار کړل، خو تر نن پورې هیڅ نه دي تر سترګو شوي. که خپله وریسي و نه ګرځو، بل څوک مور، ته هیڅ هم نه کوي.

# د مورنۍ ژبې له پاره هڅې

# او

## د پښتو پر ځای اردو نصاب

په داسي حال کي چي څو ورځي وروسته (د فبرورۍ یوویشتمه) د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ ده او افغانان په ځینو هیوادنو کي د دې ورځي د لمانځلو له پاره تیارۍ نیسي، له هغې ډلي نه په ډنمارک کي پتیل شوې ده چي یاده ورځ د رواني فبرورۍ په شپاړسمه نېټه د یو علمي سیمینار په ترڅ کي ولمانځي او دا نړیوالو ته وښیي چي په مورنۍ ژبه باندې تعلیم د هر کوچني حق دی او دا بیا، بیا وویل شي چي مورنۍ ژبه باندې زدکړې څومره اړیني او علمي دي.

دا په نړیواله کچه یو منل شوی حقیقت دی چي په مورنۍ ژبه باندې زدکړې د هر ماشوم حق دی، خو د نړۍ په هر گوټ کي دا حق له افغان ماشومانو نه اخیستل شوی دی. د همدې له پاره موږ هر کال مورنۍ ژبه لمانځو او د مورنۍ ژبې د ورځي لمانځنه یوه تفریح او وخت تېرونه نه ده. دلته یا د نړۍ په هره بله برخه کي چي د مورنۍ ژبې ورځ لمانځل کیږي، اصلي موخه یې د خپلي مورنۍ ژبې د بقا او غنا له پاره مبارزه او هلي ځلي دي.

د ملګرو ملتونو، د یونسکو اداري له خوا، د مورنۍ ژبې لمانځنه، د نورو موخو تر څنګ، یوه اساسي موخه یې دا ده، چي د نړۍ چارواکي او فرهنګیان، په دې خبر کړي چي:

«هر ماشوم، باید په خپله مورنۍ ژبې زده کړې وکړي»

خو له بده شامته چي د ۲۰۱۹ کال د فبرورۍ په اتمه نېټه، په بي بي سي پښتو کي داسي یو خبر خپور شو چي د همدې روان کال په اوږدو کي به، په پاکستان کي د افغان ښونځیو نصاب بدل کړای شي. د پښتو او دري پر ځای به ټول مضامین په اردو او انګلیسي ژبه باندې وي.

د خبر په یوه برخه کي راغلي دي:

«پاکستان کي د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري اړوند ټولو افغان ښوونځیو کې روان کال د نصاب بدلولو پرېکړه شوې ده.

افغان زدکوونکي چي تر دا مهال یې ډېری کتابونه پښتو دي او دري مضمون هم لري په ځای به یې په اردو او انګریزي ژبه کتابونه لولي.»

تر اوسه پورې د دې پرېکړې مرجع نه ده مالومه. د اوس له پاره خبره د پاکستاني ادارو، د کډوالو د خوندیتوب ادارو د ښوونځیو ادارو او ملګرو ملتونو د مسؤلو ادارو تر منځ داسي سره ورکه ده چي مسولیت یې هیڅچا نه دی منلی.

یوازې په پاکستان کي د کډوالو خوندیتوب اداره خپل نظر څرګند کړی دی، هغه هم په دې ډول:

«... پاکستان کې د کډوالو خوندیتوب اداره وايي، د نصاب بدلولو پرېکړه یې د نړیوالې ښوونیزې پالیسۍ له امله ده چې د کډوالو خوښه هم پکې شامله ده.

اسلام اباد کې د دې ادارې یوه ویاند بي بي سي ته وویل، چې کوم هېواد کې کډوال له دوو تر دریو لسیزو وخت تېر کړي، نو د پالیسۍ له مخې د همغه هېواد نصاب پلې کېږي.»

خو د کډوالو مشران او د زده کوونکو کورنۍ وايي چې موږ خبر نه یو او دا پرېکړه ځکه نه منو چې زموږ له پاره په مورنۍ ژبه باندې تعلیم له هره اړخه مهم دی، هم له علمي پلوه او هم زموږ د مورنۍ ژبې د خوندیتابه په خاطر، ځکه پښتو مورنۍ ژبه زموږ هویت دی او موږ دا پرېکړه نه منو او که چېرې تطبیق هم شي، موږ خپل اولادونه افغان شخصي ښوونځیو ته لېږو، نه داسې ښوونځیو ته چې هلته تعلیمي نصاب په بله ژبه وي.

د کډوالو یو مشر اول ګل وايي:

«... د مورنۍ ژبې پرېښول د خپل کلتور او تمدن پرېښولو په مانا دي... پښتو مې د پلار نیکه ژبه ده، څوک چې د پلار نیکه ژبه پرېږدي دا له خپل قام سره زیاتی کوي...»

که دا پرېکړه د مهاجرینو له پاره د ملګرو ملتونو د ادارې (UNHCR) په چوکاټ کې شوې وي؛ نو په حقیقت کې دا اداره د ملګرو ملتونو د بلې ادارې (یونیسکو) د هغې پرېکړې په مقابل کې درېدلې دی چې د فبرورۍ ۲۱ مه نېټه د یونېسکو له خوا د مورنۍ ژبې د نړیوالې ورځې په توګه پېژندلې ده او اوس هم د اورځ په نړیواله کچه لمانځل کېږي. او که د کومې پاکستاني ادارې د کوم پروګرام او فشار له مخې دا کار کېدونکی وي؛ بیا خبره بل ډول ده.

په هر صورت چې وي، که دا پرېکړه تطبیق شي، له یوې خوا به  دا د ملګرو ملتونو د ادارو ترمنځ یو د بل په مقابل کې درېدل وي او له بلې خوا به له ټولو هغو ماشومانو سره ستره جفا وي چې په خپله مورنۍ ژبه باندې له زدکړو بې برخې کېږي. کېدای شي پایله یې د بنګلدیش په ډاکه کې د ۱۹۵۲ ام کال د فبرورۍ د یویشتمې خونړۍ پېښې تکرار وي.



د بنګله دېش پلازمېنې ډاکه کې د مورنۍ ژبې د مبارزې سمبول
له بي بي سي پښتو نه په مننې سره

# مورنۍ ژبه
# ژوند، پرمختګ، مړینه

د ژبې عام تعریف دا دی چې: ژبه د پوهولو راپوهولو وسیله ده، خو کله په هویت پورې هم نښلي او کله د کلتور او فرهنګ حیثیت غوره کوي چې د یو قوم د راټولېدو سبب هم کېږي.

دا خبرې ما څو ځلې د مورنۍ ژبې په باب د مقدمې په ډول لیکلې او په خپلو خبرو کې مې ویلي چې:

ژبه د انسان د اوږدو تجربو ټولګه ده. څوک چې ژبې ته په کم ارزۍ ګوري او د ژبې وییونو ته په ټیټه سترګه ګوري، په حقیقت کې د بشر تاریخي ودې ته ارزښت نه ورکوي. دا باید په یاد وساتل شي چې له ژبې سره ساده او سطحي چلن، په اصل کې له انسان سره هماغسې چلن دی.

ژبه د لسګونو زرو لغاتو لښکر دی چې وروسته له ډېرو کړاوونو او تجربو برابر شوی دی او دې د کار وړ لښکر ته باید درناوی وشي، ځکه چې هر چېرې یې کارولی شئ. څوک چې د ماناوو دې لښکر ته ارزښت نه ورکوي او یا په درنه نه ورته ګوري، هغوی د بشریت د اوږدو ـ اوږدو مودو تجربې بې ارزښته ګڼي.

که حقیت ته ځیر شو، ژبه په اصل کې ببرته انسان ته، د ده د باندني چاپېریال ژباړه ده او باندني چاپېریال ته د ده ور ژباړل دي. ژبه د انسان او فزیکي ـ ټولنیز چاپېریال په منځ کې د اړیکو وسیله ده.

ژبه یوه بهانده، خوځنده او د بدلېدو په حال کې پدیده ده، که کار او پاملرنه ورته وشوه، خوځېدونکې او غني کېدونکې به وي او که کرار لاس تر زنې ورته کېنو، له تللو او خوځیدو لوېږي او د مرګ دایرې ته ورننوزي.

هر څومره چې ژبې په پوهې، مالوماتو او فنونو باندې سمبال شوې وي، همغومره غني او د نړۍ په اسرارو خبرې او پوه وي؛ په همدې سبب علمي ژبې ګڼل کېږي او ویونکي یې همغومره پوه او د نړۍ په پوهېدنه باندې برلاسي وي.

مورنۍ ژبه یوه ونه وګڼئ چې بېلابېلې څانګې او په زرګونو، لکونو او لا میلیونونه پاڼې یا لغتونه لري، دا ونه که اوبه نه شي، که ونه پالل شي؛ نو څنګه هیله کولای شئ چې د دې ونې پاڼې زیړې نه شي، ونه رژېږي او ونه زړه او پوده نه شي.

د مورنۍ ژبې د ساتلو، خوندي کولو، غني کولو او په نړیوال ډګر کې یې د نورو ژبو سره د سیالۍ جوګه کولو له پاره د بېلابېلو قلموالو څو نظریې:

ډوکتور لطيف بهاند:

«زه هيله لرم چي هر څوک د خپلې مورنۍ ژبې د لمانځنې ، پالنې ، روزنې او پانګمن کولو حق ولري، خو ژبه په تشو نارو، سورو، چغو او هغې ته د لويو ستاينو په ورکولو نه پانګمه کېږي او نه وده کوي . ژبه د علمي، تخليقي آثارو په رامنځته کولو، ژبه کېږي او تر ټولو مهمه دا چي ژبه بايد په غوره توګه سياسي، اقتصادي، فرهنګي شي.»

محمود مرهون:

«د نړۍ ژبې دوه ډوله دي هويتي ژبې چې هم شا ته هويت او قوم لري او هم سيمه او فرهنګ او دوهمي سيميزي ګڼ مليتي ژبې دي چي يو مستقل قوم يا مستقل خلک شا ته نه لري. لکه دري چي په افغانستان کې د زياتو قومونو مشترکه ژبه ده اوبيا دې ژبې يو خاص قوم را منځ ته کړی چې په اصل کې دغه قوم د لړکيو قومونو مجموعه ده چي د دغه ژبې په وسيله متحد سوي دي.

لومړی ډول ژبې د کلتور او فرهنګ حيثيت هم لري او د هغه قوم د توليدو سبب هم کېږي پښتو، ازبيکي، ترکمني، پشه يي او نوري مليتي ژبې يې په افغانستان کې مهم مثالونه دي.

انګريزانو په افغانستان او سيمه کې همېشه له دغه ژبنې سياسته هم سخت کار اخستی هغوی همېشه کوښښ کړی چې په دربارونو کې غيري مليتي ژبې حاکمې و اوسي چې په دې توګه د دوی سياست و وېشه حکومت وکړه پاليسي کاميابه و اوسي.

نو ځکه د افغانستان په درباراتو کې همېشه پښتون پاچا وو، مګر دربار هيڅکله په پښتو نه وو، په هند کې هيڅکله هندي د دربار ژبه نه سوه، په بنګله دېش کې بنګالي او پاکستان کې اوردو ځای و نه نيوی.»

رسول حمزاتوف

۱۹۲۳-۲۰۰۳

"آواري ژبه زما، مورنۍ ژبه ده. دا تر ټولو، هغه غوره څه دي، چې زه يې لرم"

شوروي داغستاني شعر او ملي شخصيت. د داغستان، روسيې او شوروي د ليکوالو ټولنو غړی.

رسول حمزاتوف، د شوروي او وروسته د روسيې د داغستان د جمهوريت اوسېدونکی و. هغه د هنر او فرهنګ لوړو څوکو ته رسېدلی و. د هغه يوه ليکنه مې پخوا را اخيستې وه، په زړو پاڼو کې په مخه راغله. په دې ټوټه کې دا شاعر له خپلې ژبې او خپلې ختې سره خپل سپېڅلي احساسات داسې څرګندوي:

"زه اواري (قام) يم. زه آوري پيدا شوی يم. زه له دې پرته بل څوک کېدای نه شم. کله چې مې سترګې پرانستې، هغه کسان مې چې وليدل آواري وو. هغه لومړني توري او کلمې مې چې واورېدل، اوارې وو. هغه لومړنۍ ترانه مې چې د زانګو تر څنګه له موره واورېده آواري ترانه وه. آواري ژبه، زما مورنۍ ژبه ده. دا تر ټولو، هغه غوره څه دي چې زه يې لرم. دا نه يوازې زما له پاره بلکې د ټولو آواري وګړو له پاره، تر ټولو غوره څه دي.

آوراپان ګڼشمېره نه دي، هغوی ټول ټال درې سوه زره تنه دي، خو دا هم لږ نه دي. په داغستان کې داسې شاعران شته چې په هغه ژبه، په داسې ژبو شعر ليکي چې يوازې، دوه زرتنه پرې غږېږي.»

غفور لېوال:

«د مورنۍ ژبې د ودې لپاره

داسي متون تولید کړئ، چي د اړتیا له مخي نورو ژبو ته وژباړل شي.

په ګېلو او شخړو هیڅوک ستاسو د ژبې متون خپلو ژبو ته نه ورژباړي. نورو ژبو ته د یوې ژبې د تولید کړیو متونو ورژباړلو اړتیا په دغوحالاتو کي پېښېږي:

۱- چي په یوه ژبه کي علمي متون تولید شي او د نورو ژبو کاروونکي یې د علمي اړتیا په پار وژباړي:

انګریزي، جرمني او فرانسوي یې په ساینس، فیلوسوفي، ټولنیزو پوهنو او ادبیاتو کي بېلګې دي.

۲- د یوې ژبې بډای ادبي تاریخ، چي پخواني افکار، بلاغي ارزښتونه او څواکمن بشري پیغامونه ولېږدوي؛ هیندي، پارسي او څیني نورې ژبې د ژباړې لپاره همداسي وړتیا لري. په نړۍ کي د مهابهارت، رامایانا، کرینکا دمنکا (کلیله و دمنه)، بلخي مولانا، حافظ، غزنوي سنایي، فردوسي او نورو زرګونه ژباړې شته.

۳- چي یوه ژبه دیني متون ولري او په نړۍ کي د نورو ژبو خلک یې په دې پار متون ورژباړي، چي عقیده پرې لري؛ عبري او عربي دواړه دا ځانګړنې لري. په نړۍ کي ګڼ مسلمانان شته، چي پر دیني متونو د پوهېدو لپاره عربي زده کوي او ژباړي یې.

۴- هغه ژبه چي د کار، تولید او اقتصاد پیاوړتیا ورسره تړلې وي؛ چینایي ژبه سخته، خو نن سبا په پراخېدو ده، نه د دې لپاره، چي چینایان ډېر مېړني، اتل او غیرتي خلک دي، بلکي د دې لپاره چي تولیداتو یې د ټولې نړۍ بازارونه فتح کړي دي او ښکاره خبره ده، چي له تولیدي کالیو سره به یې ژبه هم پلویان مومي.

د امریکا په لویه وچه کي بومي سورپوټکي قومونه ډېرغیرتي خلک ول، جګړه یې زده وه، تاریخ یې هم لسو زرو کالو ته رسېده، خو نن یې نه ژبه شته او نه یې هم قومي هویت.

په دې اړه فکر وکړئ، کار و کړئ او غوسه مو راکمه کړئ!»

بیا هم لیوال:

«په نړۍ کي ګڼ خلک لګیا دي، انګریزي زده کوي، وایي: د سیاست، ټکنولوژۍ، اقتصاد او کار ژبه ده.

اوس خلک چینایي ژبه ـ که څه هم سخته ده ـ ځکه زده کوي، چي د نړۍ اقتصادي اقتدار ورروان دی.

یوه بله ژبه د دې لپاره زده کېږي، چي خورا بډای او ښکلي کلاسیک ادبیات لري، خلک وایي، غواړو په هغې ښکلا او فکري بډایینې پوه شو، چي د دغې ژبې په ادبیاتو کي شته.

که یو بهرنی درخځه وپوښتي: ولې پښتو زده کړم؟ ستاسو ځواب به څه وي؟

دا ژبه پرخپلو ویونکیوګرانه ده، ځکه د مور ژبه یې ده، خو ښنګه یې پر نورو ګرانه کړو؟ خبره دلته ده!

د پښتو ورځي د ښې لمانځنې په ویاړ یو بل ته د مبارکۍ پرځای لاندي پوښتني ورواستوئ:

۱. د پښتنو جمعي خِرد څه دي؟ ولي وژل کېږي؟

۲. د خپل مرګ و ژوند او له دې نړۍ د پوپنا کېدو په اړه د پښتنو ترمنځ روان ډیسکورس څه دی؟

۳. د پښتو او پښتنو ګډ تفکر څه دی؟

۴. آیا پښتانه په پښتو ژبه فکر کوي، که په نورو ژبو؟ ( د تفکر ژبه یې کومه ده؟) که په پښتو فکرکړای نه شي، و لې په دې ژبه کې د تفکر عناصر نه شته؟

د ژبې د ګرانښت دعوا په چیغو او شعارونو نه زباتیږي، پورتنیو پوښتنو ته ځواب غواړي.»

ډوکتور لطیف یاد:

هغه ملت چې په خپلې مورنۍ ژبې لیکل او لوستل ونکړي هغه مړملت دي او مړ ملت هغه ملت ته ویل کیږي چې خپله ژبه یې له لاسه ورکړي وي او بچیان یې دخپلې مورنۍ ژبې دحق نه بې برخې او محرومه وي . په مورنۍ ژبه زده کړه او لیک لوست دهرانسان طبیعي حق دی او هیڅوک د ا حق نلري چې یو څوک دخپلې مورنۍ ژبې دزده کړې نه بې برخې او محرومه کړي . دملګرو ملتونوپه منشور(Charter )او دبشر دحقوقو په اعلامیه کې په څرګنده توګه داسې راغلي دي: (( دا دټولو ملتونوطبیعي حق دی چې پخپلې مورنۍ ژبې زده کړې وکړي ))

دوکتور بهیج عثماني:

«که د ټولني هر وګړی له ځان سره پرتله کړئ، هره ورځ مو خو ساعتونه موبایل او څو هغه کتاب مخ ته نیولی وي. کېدای شي د ډېرو ځواب به موبایل وي. د دې ساده پوښتني له ځواب څخه پایله اخیستلای شو چې نور نو د ژبې ژوند، وده او پرمخیون د کاغذي پاڼو تر تورولو پورې ځانګړې نه دی. د نویو اړتیاوو پوره کولو ته باید نوې حللارې غوره شي. که په دې برخه کې پښتو له نورو ژبو سره مقایسه کړو سرې ډېر ډېر خپه شي. له دې درکه اصلاً پښتو د یوې ژوندۍ ژبې په توګه مطرحېدای نشي.

#دمورنۍژبېورځ»

تېر کال د پښتو ورځې په مناسبت ما یوه مقاله ولیکله او خپره مې کړه، د هغې مقالې په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«خوشې احساساتي چغې سورې ژبه ژوندۍ او بدایه کوي، که ژبې ته علمي او عملي کار؟ د پښتو له پاره چا کار کړی، چا تشې خبرې کړې دي او چا یې مخه ډب کړې ده او چا په خپلې مورنۍ ژبې، د پښتنو بچیانو د زدکړو مخه نیولې ده؛ دا هر څه مالوم دي، خو «... د سوال یاري ده اوس به ګډه وده شینه»

تر شعارونو او هوایي چیغو سور وراخوا، باید هر څوک له ځانه سره وواېي چې هر شخص د خپلې وسې په اندازه، د خپلې مورنۍ ژبې پښتو له پاره څومره عملي، علمي کار کولای شي.

د پښتو ژبې په باب د مثبتو او منفي احساساتو نه لرې وړاندې ځینې داسې حقایق هم شته چې له کلونو او پیړیو راپه دې خوا له پښتنو نه ځینې حقونه اخستل شوي دي او هر څه یې په نورو ژبو دي، ځکه یې خپله ژبه پښتو خواره او غریبه ده. د ګران دوست سردار ظهوري په فیسبوک پاڼه کې مې د «ترخه ربښتیا: دري مېمه» تر سرلیک لاندې دا لنډ، خو له ترخو ډک مطلب ولوست:

«ترخه رشتیا: دري مېمه

۱ ــ م: نه دی مذهب پخپله ژبه دئ،

۲ ــ م: نه دی مکتب پخپله ژبه دئ،

۳ ــ م: او نه دی مکتوب.

نو بیا څنګه وایي چې زه یو وروسته پاته او دحشتګر یم, هر څه مو رانه اخستي دي؟!

د پښتو د ورځې په پلمه»

اوس څوک کولای شي پاسنیو پوښتنو ته ځواب ووایي او یا مثبت توضیحات ورکړي؟»

کله چې پښتانه وایي د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ، پښتانه باید د خپلې ژبې اصلي خدمتګاران ور په زړه کړي، هغه څوک ور په یاد کړې چې د تشو شعارونو او چغو سورو پر ځای یې خپلې مورنۍ ژبې ته عملاً کار کړی دی:

ــ لیکل یې کړي دي،

ــ تخلیق یې کړی دی،

ــ ژباړې یې کړې دي،

ــ او تر ټولو مهمه دا چې هڅه یې کړې ده څو یې مورنۍ ژبه سیاسي، اقتصادي او علمي شي.

د همدې فورمول له مخې موږ باید د اوږدې مطالعې په پایله کې ځان په دې پوه کړو چې زموږ د فرهنګي تاریخ په اوږدو کې خپلې مورنۍ ژبې ته چا، څه ډول، څومره مؤثر کار کړی دی.

د ژبې د ودې او بداینې له پاره که پاسنۍ هڅې تر سره نه شي، نو وې ګڼئ چې مورنۍ ژبه مو د مرګ او پناه کېدو کندې ته ورلوېدونکې ده.

او په خپلو کې دې قناعت سره وکړي. داسې نه شي چې بیا یو ښوونکی په یو ځای کې ماشوم ته و وایي چې: د افغانستان فلانی واکدار خدمتګار او ملي قهرمان و او دا بل یې و وایي چې هغه خاین و، وطن پلورونکی او قاتل و. دا نمونې د دې لړ په تیرو تجاربو کې، له بده مرغه لیدل شوې دي.

ــ په راتلونکې کې دې په نویو چاپېدونکو درسي کتابونو کې د ملي ګټو او ملي هویت مسألې ته جدي پاملرنه وشي او د مسایلو د روښانولو له پاره دې وطني نومونې او ملي ترمینالوژي وکارول شي.

ــ که موږ ماشومان له بیسوادی، ظلم، زورزیاتي او محرومیتونو څخه خلاص نه کړو، په څو یم ځل به مو انسانیت له بې عدالتی او ظلم سره مخامخ کړی وي.

راشئ ماشومان د بیسوادی له لوی ظلم څخه وژغورئ!
راشئ د کوچنیانو په باب هغسې چې د نوې زمانې علمي غوښتنې یې غواړي، فکر وکړو!

## پښتو ژبه ـ پښتو ورځ،

## شعارونه علمي عملي کارونه




له څو ورځو راپه دې خوا د «پښتو ورځ» له پاره د پاملرنې وړ خپروني او تبليغات روان دي، خو پرون (د دوه زره شلم کال د مې نه ويشتمه) يې ورځ وه. د خوشالۍ خبره ده چې د نورو کلونو په پرتله، سږ په پښتو ژبه باندې د پاملرنې وړ خپروني شوې دي، ګڼشمير کتابونه چاپ شوي دي، ګڼو ټولنيزو مدني ټولنو د پښتو ژبې د عامېدو او رسمياتو ته د ننوتلو له پاره هلې ځلې کړې دي او ګڼشمير قلموالو هم په خپل وار سره تر خپلې وسې د پښتو ژبې له پاره تخليقات، ژباړې او ليکنې کړې دي.

په دې لنډه ليکنه کې به، پښتو ورځې په مناسبت د يو څو انتقادي او شعاري نظرياتو په رڼا کې پر دې خبرې وکړم چې:

خوشې احساساتي چغې سورې ژبه ژوندۍ او بدايه کوي، که ژبې ته علمي او عملي کار؟

د پښتو له پاره چا کار کړی، چا تشې خبرې کړې دي او چا يې مخه ډب کړې ده او چا په خپلې مورنۍ ژبې، د پښتنو بچيانو د زدکړو مخه نيولې ده؛ دا هر څه مالوم دي، خو «... د سوال ياري ده اوس به ګډه وډه شينه»

تر شعارونو او هوايي چيغو سور وراخوا، بايد هر څوک له ځانه سره ووايي چې هر شخص د خپلې وسې په اندازه، د خپلې مورنۍ ژبې پښتو له پاره څومره عملي، علمي کار کولای شي.

د پښتو ژبې په باب د مثبتو او منفي احساساتو نه لرې ورانديې ځينې داسې حقايق هم شته چې له کلونو او پېړيو راپه دې خوا له پښتنو نه ځينې حقونه اختسل شوي دي او هر څه يې په نورو ژبو دي، ځکه يې خپله ژبه پښتو خواره او غريبه ده. د ګران دوست سردار ظهوري په فيسبوک پاڼه کې مې د «ترخه رښتيا: دري مېمه» تر سرليک لاندې دا لنډ، خو له ترخو ډک مطلب ولوست:

«ترخه رشتيا: دري مېمه

۱ ــ م: نه دې مذهب پخپله ژبه دئ،

۲ ــ م: نه دې مکتب پخپله ژبه دئ،

۳ ــ م: او نه دې مکتوب.

نو بيا څنګه وايي چې زه يو وروسته پاته او دحشتګر يم, هر څه مو رانه اخستي دي؟!»

اوس څوک کولای شي دې پوښتنو ته ځواب ووايي او يا مثبت توضيحات ورکړي؟

ځوانه تحصيل کړې او په شعوري توګه د خپلو خلکو او ځوانانو د زدکړې فعاله مريم امر خيل بيا په دې نظر ده چې تر ټولو زيات کار د پښتو له پاره د «ژبژغورنې غورځنګ» تر سره کړی دی.

مريم وايي:

«پښتو ژبه د پښتون ژغورنې غورځنګ په دې دوه کاله کې په شعوري توګه لر او بر خاوره کې دومره راژوندۍ کړه، چې پښتو تاريخ کې سارۍ يې کم وينم.»

د سياسي مشرانو له لورې هم سږکال په مينه او جرأت سره د دې ورځې مبارکيانې ورکړل شوي دي او په پيامونو کې يې د پښتو ژبې د پرمختګ هيله شوې ده. د افغانستان د جمهور رئيس لومړي مرستيال امر الله صالح داسې ليکلي دي:

«بهترين مبارکباد به زبان پښتو، ياد گرفتن آنست، کارې که من کردم.

د پښتو ژبې ورځ د مبارکی غوره لاره، د پښتو زدکړه ده. د پښتو درناوی او زدکړه تاسو ته د ټول افغانستان ليد وړاندې کوي.»

د غه راز د افغانستان د بهرنيو چارو سرپرست وزير ښاغلي حنيف اتمر د پښتو ژبې د ورځې په مناسبت خپل نظر داسې څرګند کړی دی:

«د پښتو ژبې د ورځې په مناسبت په ټوله نړۍ کې د دې خوږې ژبې ويونکو ته مبارکي وايم. افغانستان د ډېرو خوږ ژبو کور دی. زموږ د ستر ملت هره ژبه زموږ د فرهنګ او تمدن په بډاينه خورا مهم رول لري.»

د دې پيامونو په برخه کې بايد وويل شي چې که هر واکدار په خپل وار سره د پښتو ژبې د پرمختګ له پاره د خپلو واکونو په اندازه د دولت په رسمي چوکاټ کې پښتو ژبه په رسماتو کې ورګډه کړي، دا به تر شعارونو غوره کار وي او د وزيرانو شورا په غونډه کې يو ځل بيا د پوهنې وزير ته لارښوونه وکړي چې د افغانستان د اساسي قانون د مواد له مخې دې د دې وطن هر بچي ته په خپلې مورنۍ ژبې د زدکړو زمينه برابره کړي.

زه خو یې داسې انګیرم چې په پښتنو کې د تعلیم او سواد د ډېرې ټیټې کچې په وجه پښتانه او پښتو ژبه خواره ده او د تمدن له کاروانه وروسته پاتې دي. که خلک سواد ونه لري، پوهه به له کومه شي، که تعلیم ونه لري ښوونځی ونه لري په مورنۍ ژبه د زکړو زمینه نه وي ورته برابره؛ نو هر څه به وروسته پاتې وي. په دې حساب باید اول د پښتنو له پاره په خپله مورنۍ ژبه باندې د تعلیم زمینه برابره شي. پښتو ژبه د دولت، سیاست او اقتصاد دایرې ته ور ننیستل شي، بیا به د پښتو ژبې د پر مختګ او بډاینې خبرې کوو، په تشو چیغو او شعارونو سره ژبه نه بډایږي او نه پر مختګ کوي، ژبې ته باید علمي او اساسي کار وشي.

د پښتو ژبې د ورځې په مناسبت، پښتو ژبې ته څو قلموالو د کار او نظر بېلګې وړاندې کوم چې پښتو ژبې ته کار دغسې وي، هم په تیوري کې او هم په عمل کې:

پښتو ژبې ته د عملي کار یوه غوره بېلګه د ډاکټر لطیف یاد کارونه دي چې که هر کال یې که د یوه کال په اوږدو کې وارزوو، تله به یې تر ډېرو درنه وخېژي. د ده لیکنې، کتابونه، مقالې او په فیسبوک کې پوستونه خپرول د نوي نسل له پاره ګڼ علمي تاریخي مواد او اسناد خپرول دا په خپله د پښتو ژبې په عاملو او علمي کولو کې لوی رول لري او هر کال ډاکټر لیطف یاد د پښتو ژبې د ورځې په پار، د پښتو ژبې د ګڼو شاعرانو، لیکوالو، فرهنګیانو او خدمتګارانو پېژندنه او د ترسره کړو کارونه یادونه کوي چې هم د یادو ښاغلو قدردانې یې ګڼلای شو او هم خپلې ژبې ته په عملي کار کې د نور د تشویق له پاره یوه غوره بېلګه کېدای شي.

یو توته شعر هم د پښتو ژبې له پاره د خدمت یوه وړه بېلګه کېدای شي. ښاغلي شیرینزوی یو ټوته نوی شعر، چې د «پښتو ورځې» په مناسبت یې لیکلی دی او په یو نظم کې یې د کوچنیانو له پاره د پښتو ژبې الفبې ځای پر ځای کړېده:

د پښتو ژبې د نړۍ والې ورځې په مناسبت د کوچنیانو لپاره د پښتو الفبې د تورو منظومه:

د مور د سترګو توره څه! (الف) او (ب) زده کړه
بلا دې واخلم (پ) او (ت) ورسره (ټ) زده کړه

بیکه دې واخله هله ژر کوه ناوخته شوله
مکتب ته لاړ شه! (ث) او (ج)، (چ) (ح) او (خ) زده کړه

کتاب دې پرانیزه! (څ) (ځ)، (د) (ډ) او (ذ) ووایه
معلم ته کېنه! (ر) او (ړ)، (ز) (ژ) او (ږ) زده کړه

د زړګي سره (س) او (ش) هم پښتو (ښ) حفظ کړه
هم په ښه توګه (ص) او (ض) هم (ط) او (ظ) زده کړه

د (ع) او (غ) ، (ف) (ق) او (ک) په تورو فکر وکړه
(ګ) (ل) (م) (ن) او ورسره (ڼ) (و) او (ه) زده کړه

بې ټکو نرمه یا مفرد او مذکره (ی) ده
لکه (سپن ږیری، لوی، سړی) ډېرې کیسې زده کړه

د نارینه جمع نومونو په اخر کې راځي
دوه ټکي څنګ په څنګ لري څرګنده (ي) زده کړه

له اوږدې (ې) لاندې دوه ټکي لاندې باندې کېږده
(ښکلې، خوږې او نورې داسې کلمې) زده کړه

د ښځينه نومونو پای کې لکۍ واله (ی) وي
(نجلۍ، غوټۍ، سپوږمۍ) په توګه د بېلګې زده کړه

په وکړئ! مه کړئ! څه شوئ؟ څه کړئ؟ لاړ شئ! راشئ! کې
زورکي واله (ئ) کارېږي، دا قاعدې زده کړه

چې توري وپېژني او زده کړي ليکل او لوستل
له شيرين زوی ځنې بيا نورې طريقې زده کړه

اوس د پښتو ژبې د ورځې په مناسبت د ښاغلي ليوال نظر او څو پوښتنې:

«په نړۍ کې ګڼ خلک لګيا دي، انګريزي زده کوي، وايي: د سياست، تکنولوژۍ، اقتصاد او کار ژبه ده.

اوس خلک چينايي ژبه ـ که څه هم سخته ده ـ ځکه زده کوي، چې د نړۍ اقتصادي اقتدار ورروان دی.

يوه بله ژبه د دې لپاره زده کېږي، چې خورا بډای او ښکلي کلاسيک ادبيات لري، خلک وايي، غواړو په هغې ښکلا او فکري بډايينې پوه شو، چې د دغې ژبې په ادبياتو کې شته.

که يو بهرنی درڅخه وپوښتي: ولې پښتو زده کړم؟ ستاسو ځواب به څه وي؟

دا ژبه پرخپلو ويونکيوګرانه ده، ځکه د مور ژبه يې ده، خو څنګه يې پر نورو ګرانه کړو؟ خبره دلته ده!
د پښتو ورځې د ښې لمانځنې په وياړ يو بل ته د مبارکۍ پرځای لاندې پوښتنې ورواستوئ:

۱. د پښتنو جمعي خِرد څه دي؟ ولې وژل کېږي؟

۲. د خپل مرګ و ژوند او له دې نړۍ د پوپنا کېدو په اړه د پښتنو ترمنځ روان ډيسکورس څه دی؟

۳. د پښتو او پښتنو ګډ تفکر څه دی؟

۴. آيا پښتانه په پښتو ژبه فکر کوي، که په نورو ژبو ؟ ( دتفکر ژبه يې کومه ده؟) که په پښتو فکرکړای نه شي، و لې په دې ژبه کې دتفکر عناصر نه شته؟

د ژبې د ګرانښت دعوا په چيغو او شعارونو نه زباتيږي، پورتنيو پوښتنو ته ځواب غواړي.»

ثنا ساپۍ لکه تل مبتکره او زړوره ده، د پښتو ورځې په مناسبت يې په خپل پيام کې پرته له ډاره د تشو شعارونو او عملي کار په باب داسې ويلي دي:

«تل په کال کې يوه ورځ تول احساسات وي: څوک له پښتو جارېږي، د نورو بيا شعارونو ټولنيزې شبکې پر سر اخيستې وي. بې معنی مبارکيانې وي. سبا هماغه زوړ ملا او زړې تراوې. که څوک پښتو ته په رښتيا کار غواړي په ښځه، نر، ووړ او زوړ دې په خپله ژبه تعليم پيل کړي. که پردۍ ژبې هم زده کوي، خپله دې نه هېروي .#تعليم_فرض_دی»

زه بيا هم په تکرار سره وايم چې په تشو شعارونو نارو سورو هيڅ هم نه کېږي، حرکت او عملي کار ته اړتيا ده، زدکړو او پوهې ته اړتيا ده. لومړی بايد د نوی نسل د روزلو په ترڅ کې پر ټولنه باندې حاکم هغه طرز تفکر بدل کړای شي چې په سوونه کلونه يې د خلکو ذهن په راکد او بې حرکته ډول ځای پر ځای درولی دی. د ژبې پرمختګ او غنا هغه وخت ممکنه ده چې ويونکي له فکري پلوه ازاد وي او فکري وده ولري.

# وړانديز ته وړانديز

ښاغلي اسدالله غضنفر د ۲۰۱۴ کال د دسمبر په ۲۷ مه نېټه په تاند وېبپاڼه کې د «وړانديز» تر سر ليک لاندې يو مطلب خپور کړ. غضنفر صاحب په دې لنډ «وړانديز» کې لکه تل بيا هم نوې خبره او د کار خبره مطرح کړې ده. داسې يوه خبره چې زموږ د اوسني فرهنګي بهير يوه نيمګړتيا پوره کولای شي او ځوان قلموال د ښه، منظم او ګټور فرهنګي کار په لوري خوځوي. د ښاغلي غضنفر د وړانديز په يوه برخه کې داسې راغلي دي:

«زما وړانديز دا دی چې يو با ذوقه او دقيق لوستونکی که د کابل مجلې د لسګونو کلونو په کلکسيونونو کې د يوه کتاب په اندازه مقالې انتخاب کړي، دا به ډېر ګټور کتاب وي او لوستونکي به يې په خوند ولولي. دغسې غورچاڼ به د تيرو کهولونو د نثر له متنوع سبکونو سره د بلدتيا يو ښه فرصت راوبخښي او ورسره به د ځينو حقدارو کسانو قدرداني شوې وي. د ارواښاد صداقت هيڅ کتاب نه دی چاپ شوی، حال دا چې د هغه ليکنې او ژباړنې تر ډېرو هغو کسانو، هم د سبک او هم د محتوا په لحاظ، ارزښتناکې دي چې د کتابونو څښتنان راښکاري. دغه راز د وږمې، ادب، لمر او ځينو نورو مجلو د مقالو د منتخباتو برابرول او چاپول به د لوستونکو نوی کهول د تيرو کهولونو د ذوق، تجربو او هڅو په کاميابو بيلګو کې په آسانۍ سره شريک کړي»

زه نه يوازې د ده د «وړانديز» په مقابل کې نه درېږم، بلکې په تاييد سره يې د کار د لا ښه توب په خاطر بل وړانديز ټولو فرهنګيانو ته او په ځانګړې ډول ښاغلي غضنفرته په مخ کې ږدمه چې کابل ميشتي او لا افغانستان ميشتي فرهنګيان دې له خپلو لاس لرلو موادو او امکاناتو نه په استفادې سره له تيرو هيرو هغو کتابونو، مجلو، مقالو او شعرونو نه ګټه واخلي چې د سرو زرو حيثيت لري او د شخصي او رسمي کتابتونونو په الماريو کې له ګردونو سره لاس ګريوان دي.

په افغانستان کې د جګړې سونامي څو نور بچيان وزېږول چې هر بچي د يوې بلې سترې سونامي په ډول د افغانستان د خلکو د ژوند په بيلابيلو برخو باندې خپل منفي تاثرات پرېښي دي. د دغو سونامي ګانو په اړو دوړ کې روان فرهنګي بهير ټکنی شوی. وطني او ملي ګټو ته په نه پام سره ، ځينې ښاغلي خپلو اړوندو سياسي ګروپونو، ګوندونو، تنظيمونو او ډلو ټپلو ته په وفا دارۍ سره قلم چلوي. ځينې خپل وخت په تيرو تکراري مسايلو ضايع کوي، ځينې بيا په ځای او بې ځای د ديني مسايلو په ټال کې زانګي او...

ډېر لږ داسې تخلیقونکي او څېړونکي لیکوال پیدا کېږي چې یو درد بخور څه ولیکي چې دې مریضې ټولنې ته یوه ښه نسخه شي، شته ستونزو ته د حل یوه ښه لاره وښیي او یوه فرهنګي تشه ډکه کړي.

ښاغلي غضنفر ډېر ځلې د خپلو لیکنو په ترڅ کې داسې نسخې وړاندې کړې دي، چې یوه یې همدغه «وړاندیز» نومې مقاله ده.

د نوي نسل په روزنه باندې ما خپله ډېرځلې او هر کله ټینګار کړی دی. اوس یې بیا په تکرار سره وایم چې باید د افغانستان په ښوونیز نظام کې بدلون او انقلاب راشي، خلک له سواد، ښوونځي او تعلیم سره آشنا شي او تیر هیر خپاره شوي مضامین او کتابونه دې هم مخکې ورته کېښودل شي.

خلکو ته باید مډیا او قلموال ووایي چې: ژوند په ټوپک نه په قلم او کار باندې جوړېږي، مقابل لوری که په غلطه لار روان وي، د میډیا په توان او طاقت سمې لارې ته را برابرېدلای شي، د تاوتریخوالي او ډزو ډوز په وسیله دا کار نه شي تر سره کیدای.

د بم له غږ او د باروتو له بوی او لوګي نه د کتاب، مطالعې او ادب خوند ښه او ښکلی دی. له نیکه مرغه په دې لړ کې د داسې قلموالو هڅې ګړندۍ شوې دي چې په کې د نوي نسل د روزنې پلویتوب، د کتاب او مطالعې د کلتور عامولو، ښوونځي ته تګ او د تعلیم سره مینه او دې ته ورته انساني هڅو پلوي توب په کې ګړندی شوی او هڅول شوی دی.

ښاغلي غضنفر د دې هڅونو یو لوی محرک او هڅونکی فرهنګي دی. ده هر کله خپلې تجربې، مطالعه او سترګو لیدلی حال له لوستونکوسره شریک کړی دی. زه د دې روش او د دې کار سخت پلوي یم چې یو با تجربه او با مطالعه قلموال دې خپلې د څو میاشتو او څو کلنو لوستنې او تجربې خپلو شاګردانو او لوستونکو ته په استادانه مهربانۍ په مخ کې کېږدي. که دا کار ونه شي، د با تحصیله او با مطالعې استاد یا فرهنګي پوهه او زدکړې لکه یوه نا مالومه ارزښتناکه خزانه له هغه سره ګور ته ځي.

اوس ښاغلي غضنفر ته زما وړاندیز دا دی چې خپل وړاندیز تر ټولو نه مخکې دی په خپله باید عملي کړي. په دې دلیل چې له ټولو نه ډېر په نظري او عملي ډول د دې وړاندیز عملي کیدل په ده پورې تړلي دی. د څو دلایلو له مخې:

ــ دی یوه، مجرب او د ښه قلم خاوند لیکوال دی،

ــ د یوې لورې ، مسلکي اوعلمي کرسۍ خاوند یعني د پوهنتون استاد دی،

ــ په عملي ډول په داسې یوې کرسۍ باندې کار کوي چې د وطن په فرهنګي چارو کې د مملکت لومړي شخص، یعنې جمهور رییس ته ویلای شي چې د فرهنګ په ډګر کې باید کوم ښه کارونه تر سره شي.

ښاغلي غضنفر ډېر ښه وړاندیز کړی دی چې باید د پخوانیو مجلو او اخبارونو له کلکسیونونو څخه دې د ځینو حقدارو لیکوالو او ژباړونکو مضامین په منتخب ډول را واخستل شي او په جلا ټولګو کې دې چاپ کړای شي. له یوې خوا به د هغو حقداره هیرو فرهنګیانو د یادولو په څنګ کې د هغو پیژندګلوي شوې وي، نوي قلموال به د هغو له ښو تجربو نه استفاده وکړي، له بلې خوا به دا اوسنی نسل په دې پوه شي چې کوم کارونه پخوانیو د کومو علایقو او اړتیاوو پر بنا تر سره کړي دي. د دې مقالو په بیا چاپ سره به د اوسني نسل قلموال په دې پوه شي چې کوم کارونه پخوانیو په څه ډول تر سره کړي دي، چې دوی بیا خپل وخت پرې ضایع نه کړي.

پخوا هم ځینو فرهنګیانو دې تشې ته په پام سره دا کار کړی و چې په پخوانیو خپرونو کې څه خپاره شوي دي او څه ډول باید تر لاسه شي. ښه بیلګه یې د شپیتمې لسیزې په پیل کې د ډاکتر صاحب لطیف بهاند په اوږده زیار سره د کابل مجلې د پنځوس کلن موضوعي فهرست برابرول و. په هغه وخت کې د کابل مجلې مسؤل مدیر، ګران دوست ښاغلي نور محمد سهیم وعده وسپارله چې د کابل مجلې پنځوس کلن موضوعي فهرست به په کابل مجله کې په پر له پسې ډول خپروي. څو برخې یې خپرې هم شوې. بیا د هغه وخت د ځینو مقاماتو او مسؤلو کسانو په مداخلې سره د لطیف بهاند د ډیرې مودې خواري په اوبو لاهو شوه او د کابل مجلې د پنځوس کلن موضوعي فهرست خپریدل ودرول شول.

اوس خپله ښاغلی غضنفر په داسې اداري فرهنګي علمي موقف کې کار کوي چې تر ټولو دی په خپله یې کولای شي او امکانات یې اوس د ده د واک په دایره کې دی چې د خپل وړاندیز د محتویاتو او دې ته ورته نورو فرهنګي اړینو کارونو د تر سره کیدو له پاره زمینه برابره او لار ښوونه یې وکړي.

داسې هم کیدای شی چې د پوهنتونونو د اړوندو څانګو د محصلینو د زدکړو د پایلیک (مونوګراف) په ډول دې هغوی ته وظیفه ورکړل شي چې د نظر وړ مقالې د لارښود استاد تر نظر لاندې را ټولې او چاپ ته چمتو کړي او په خپله ښاغلی غضنفر دې د چاپ او خپرولو ځای ور وښيي او زمینه دې ورته برابره کړي.

# کتاب سوځوونه

## د عربي هيوادو داعشيان

## او زموږ د وطن ټوپکيان

د جګړې له توري نه وروسته په قوس کې وژنه، وينې تويول، لوټي، تباهي او ورانۍ ليکل کېږي. جګړه هر چېرې او هر وخت کې چې وي، جګړه ده. آبادي په کې نه شته، ورانۍ دي او خرابي. رښتيا يې ويلي دي:

«په جګړه کې آسونه نه چاغېږي»

د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ په يو ديرشمه نيټه مې د بي بي سي په ويبپاڼه کې يو مطلب ولوست چې داعشيانو په خپل قلمرو کې کتاب سوځول پيل کړي دي. د بي بي سي په رپوټ (په موصل کې د داعش کتاب سوځونه) کې د داعشيانو د کتاب سوځونې په باب راغلي دي چې د عراق په شمالي ښار موصل کې داعشيانو د دوو زرو شاو خوا کې کتابونه، د غير مذهبي کتابونو په نامه له کتابتونونو څخه را ايستلي دي. اوس د دې ډار شته چې د عراقي ورځپاڼو هغه کلکسيونونه چې يوه پيړۍ پخوا خپاره شوي وو، له منځه نه وي تللي.

عيني شاهدانو ويلي دي چې وروسته له هغه چې داعشيانو له مرکزي او عمومي کتابتونونو څخه کتابونه وايستل، خلکو ته يې ويلي چې کفر آميزه کتابونه بايد وسوځول شي.

http://www.bbc.co.uk/persian/world/2015/01/150131_l26_iraq_mosul_library_books_islamic_state_isis

د دې مطلب په لوستلو سره مې د خپل وطن ټوپکيان او له کتاب او کتابتون سره يې چلن را په زړه شو او د ککرې په کومبزه کې مې د خپل وطن جګړه، د جګړې اور او لوګي يو وار بيا تاو را تاو شول. ټولې هغه نا خوالې، نا دودې او نا کردې چې ټوپکيانو کابل ته او افغانستان ته په راتګ سره کړې وې، يو وار بيا لکه بريښنا زما د سترګو او ذهن په آيينه کې را ښکاره شوې او ډېر ژر مې دوه منفي يادونه د ذهن له تاخانو څخه را بر سيره شول:
يو دا را په زړه شول چې د نجيب الله د حکومت له سقوط سره سم کله چې ټوپکيان د کابل په بيلابيلو سيمو کې حاکم شول او په خپلمنځي جګړو يې پيل وکړ، نو کله به يې چې د خلکو او يو

د بل غولولو او خپلو اکمالاتو په غرض د څو ساعتونو او يا څو ورځو له پاره اور بند سره وکړ، نو د بيکارۍ په وخت کې به يې کوڅه ډب سپي او لارويان په نښه ويشتل. دا پېښه ما نه اوريدلې ده او نه مې په کوم کتاب کې لوستلې ده، بلکې زما د سترګو ليدلې حال دې چې زما د اوسيدلو په ځای کې، کابل پوهنتون ته ور څېرمه د دهبورې په سيمه کې ايله جارې او خپلسرو ټو پکيانو تر سره کوله.

او بل مې دا را په ياد شول چې د کابل د نوي ښار په سيمه کې د افغانستان د ليکوالو په ټولنه کې د همدې ټوپکيانو د يوې ډلې له خوا د ليکوالو د ټولنې له ګدامونو څخه په زرګونو ټوکه کتابونه را ايستل کيدل او د کفرې کتابونو په نامه سوځول کيدل. دا هم لکه د دهبورې پېښه نه اوريدل شوې او نه هم په کوم کتاب کې لوستل شوې ده، بلکې د هغه وخت د ليکوالو د ټولنې څو تنو غړو په خپلو سترګو ليدلې ده او يو له هغو نه چې شاعر او ليکوال هم دې، دا د سترګو ليدلی حال په هنر مندانه ډول ليکلی دی. دا شاعر او ليکوال پرتو نادرې دی.

پرتو نادرې د خپلو سترګو ليدلی حال په ډېر سوزناک هنرې ډول د« کتاب سوزان در انجمن نويسندگان افغانستان» تر عنوان لاندې ليکلی دی. د ده دا ليکنه د سويدن له ستاکهولم نه په خپريدونکې «فردا» مجله کې زما له نظره تيره شوې ده. د دې ليکنې په يوه برخه کې داسې راغلې دې:

«په پای کې ټوپکيانودافغانستان د ليکوالو ټولنې د رييس دفترهم قبضه کړ او موږ ټولو د انجمن د تحريراتو رييس، سيد حاکم دفتر ته ورپه څټ شوو. د افغانستان د ليکوالو په ټولنه کې دا زموږ وروستی سنګرو، که کومه ورځ داسې شوې وای چې موږ دا کوټه هم له لاسه ورکړې وای، نور به د ليکوالو ټولنه يوازې يوه عسکرې قطعه وه او بس.

کوټه ډيره وړه وه او د افغانستان د ليکوالو ټولنې پاتې غړې مجبور وو، چې خپلې ورځې په کې تيرې کړې.

يو قومندان او د هغه نږدې يار، د افغانستان د ليکوالو ټولنې له رياست نه د خوب کوټه جوړه کړې وه. د رياست په کوټه کې د چهارمغز له درانده لرګي څخه جوړ، يو غټ ميز ايښودل شوی و، چې ښکلې او زړه وړونکې نقشونه پرې کيندل شوې وو...

دا ميز له لويې حوصلې، د مجاهدينو د دوران له ټپونو او ناخوالو سره، د طالبانو دورې ته هم په ميراث پاتې شو. ښايي يو دليل يې دا وي چې د دروندوالي په وجه يې رستم ډولی سړی په کار و، چې بل ځای ته ولېږدول شي...

د ټوپکيانو قومندان له دې ميز نه د خوب د کټ استفاده کوله او موږ په ورځو، ورځو ليدل چې يو څوک پرې ويده وې.

کله چې د۱۳۷۱ لمريز کال ژمی راورسيد، د دې ميز ترڅنګه بخارۍ کېښودل شوه. د بخارۍ خوله د بې ادبانو د خولې په څېر، تل خلاصه وه.

عجيبه بخارۍ وه، کتابونه يې لوستل. او شپه او ورځ يې لوستل، خو د شپې له خوايې په رښتيا ډيره مطالعه کوله. ليکه په ليکه يې لوستل نه کول، بلکې فصل، فصل او ټوک، ټوک مطالعه يې کوله. وازه خوله يې درلوده او له کتاب نه يې يوازې درې پايلې تر لاسه کولې:

تودوخه،

لوګي،

او ايرې.

د رييس کوټه چې نور د قومندان د خوب کوټه وه، کله به چې موږ د دې کوټې د کړکۍ له مخې تيريدلو، تر سترګو لاندې به مو دې عجيبې بخارۍ ته کتل، ليدل مو چې بخارۍ پر له پسې مطالعه کوي...»

(پرتو نادري، کتاب سوزان در انجمن نويسندگان افغانستان، فردا (مجله)، ۱۳۸۱، د سرطان او اسد ګڼې، شلم مخ.)

زموږ ټوپکيان به چې د اور بند په موده کې کې له جګړې بيکاره شول، نو کوڅه ډب سپې او لارويان به يې په نښه ويشتل او اوس چې د داعشيانو غورځونه د څلويښتو هيوادونو د ايتلاف له بمباريو لږ آرامه شي، نو يا خپل اسيران آزاروي او سرونه ور نه غوڅوي او يا په داسې نويو لوبو لاس پورې کوي چې هيڅ څوک يې انتظار ونه لري چې اوسنۍ کتاب سوځوونه يې يوه بيلګه ده.

څنګه چې زموږ د وطن د ټوپکيانو او د عربي هيوادونو د داعشيانو ډيرې کارونه سره ورته دي، نو د دې له پاره چې د دوی په حق کې جفا نه وي شوې، نو ښايي چې سکني ورونه او د يوې لارې لارويان وګڼل شي.

# څو مقالې، څو څېړې او يو يادداشت

## «ما سور ګل ژاړه، تور ګل يې په خره سپور راوړ»

دا خبره پښتانه هغه وخت کاروي چې يو ورته ټېپ پروت وي او بل هم د تلو نه وي او په وينو لړلی يې پر خره ورته راوړي، يعنې غم د پاسه غم وي.

زه لګيا يم هره ورځ د خپل ورځني ژوند ډېر ساعتونه په مطالعه او تحقيق د دې له پاره تېرووم چې دا بد مرغه خلک د ماشومانو او کوچنيانو په قدر، تربيه کولو، ښونځي ته د ليږلو ، تعليم ورکولو، هغوی سره د چار چلن او په پای کې د خپل ځان، خپلو بچيانو، خپلې ټولنې د راتلونکو نيکمرغيو په باب په يو څه پوه شي، خو دوی ډېره سلنه يا سواد نه لري، يا ميډيا ته لاسرسی نه لري او که يې لري، ډېری يې د بېلابېلو دلايلو له مخې دا او دې ته ورته مقالې لولي نه چې له څه خبر شي او په څه پوه شي.

اصل کيسه دا ده چې مونږ په ټولنه کې يو بل ګل هم کرل شوی، غوړېدلی هم دی او د ميډيا له ګريوانه څخه يې د ويډيو په بڼه سر هم راوتلی دی او د دې ويډيو ليدل ما ته هم را په برخه شول. د دې ويډيو په ليدلو سره دې نتيجې ته ورسيدم چې:

اوس نو زه يې له لوستلو ورتېر يم او له تېريدو سره سم مې زړه ته را لوېږي چې هغه خلک به وايي:

«زه پور غواړم، دی نور غواړي.»

زه لوستل ورنه غواړم هغه ماما؟ لګيا دی ماشوم وهي. ځان هم نه وربانډې په تکليفوي. په وار سره يو ماشوم په بل ماشوم وهي. «پکه، دا دې لا بله سپکه» سم دلاسه مې په زړه کې راتېر شول چې:

يو بل تور داغ مو هم وګاټه.

د ۲۰۱۵ کال د فبروری په درويشمه نېټه سهار مهال، له نورو لوستنو او ليکنو وروسته د مخکتاب بڼ ته ورننوتم. داسې يې وګڼئ چې دا بڼ هم سم د کابل باغ عمومي پل دی. هر څه په کې شته، هر څوک په کې ليدلای شي.

زما د مخکتاب د بڼ یو همغږی ښه ژورنالست ښاغلی احمد شاه اعظمي دی. ده د خوږ ژبي شاعر عیسی بهرام له صفحې نه یوه ویډیو ورخوښه کړې وه او په دې ډول زما سترګې پرې ولګیدې.

ما د دې یاد داشت د لیکلو له پاره د ویدیو د اصلي پټې او اخستونکي د پیدا کولو په غرض له ښاغلي بهرام سره اړیکه ونیوله، هغه زما د پوښتنو په ځواب کې داسې راته ولیکل:

«سلامونه استاده!

الله (ج) دې وکړي چې د خپلې درنې کورنۍ سره روغ اوسئ.

استاده!

دا ویډیو ما له مخکتاب څخه اخېستې وه. هلته چا د ټوکو په پانه کې اچولې وه چې زه یې ډېر زیاد خفه کړم. اوس انسانان دې ته هم خاندي چې کله دوه ماشومان یو بل په څپیړه وهي.

استاد کورمو ودان چې پوښتنه مو وکړه. لینک نه تاسې کولای شئ آزادانه استفاده وکړئ. ستاسې د سلامتیا په هیله!

بهرام»

د ویډیو د اصلي اخستونکي او د میدیا جال ته د را رسوونکي پته مالومه نه ده، خو که د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې یې عامل هم پیدا کړو، څه کولای شو. اوس عمل تر سره شوی دی. په ټولنه کې دا او دې ته ورته نورې منفي کړنې د دې مانا لري چې د ټولنې د پوهې او سواد سطحه ټیټه نه، بلکې صفر ده. سیاسیون خو یوازې د قدرت په جال کې نښتي دي او هر یو غواړي خپله برخه ډیره او غوړه کړي، «غم ده د لالي پر سر» قلموال او فرهنګیان باید خپله پوه شي چې څه وکړي، خو زما سلا دا ده چې باید غلي پاتې نه شي.

په لیدو یې ماته د ۱۹۹۱ کال یوه خاطره را په یاد شوه:

زه له خپلې کورنۍ سره کابل پوهنتون ته ورخیرمه دهبوري کې د پوهنتون په کورونو کې د نجونو له پاره د جوړیدونکې لیلې په اړخ کې د پوهنتون ملکیت کورونو کې اوسیدم. د سیاف جان؟ او مزاري جان؟ درې جګړې مو هماغته په تاخانه کې تیرې کړې، دې ځناورو به چې د خپلو بادارانو په امر د اکمالاتو یا ځینو نورو مرداریو له پاره اوربند وکړ، بیا به یې کوم مجبور لاروی یا کوڅه ډب سپي په لارو کې په نښه ویشتل.

د ماشومانو دا وهل هم هماغسې در واخلئ. کوم ټوپکوال یا پاټکوال به له خپلو مردارخوریو د وزګارتیا په وخت کې دغه کار د تفریح او خوشالتیا له پاره کړی وي. دوه بې سر پرسته، بې پلاره ماشومان به یې دې کار ته اړ ایستلي وي.
په کوم هیواد کې چې زه ژوند کوم، د پرمختللې نړۍ یوه غوره بیلګه ده. دلته که څوک بل تن یو سوک و وهي او مضروب له سند (شاهد، ویدیو، عکس) سره پولیس ته عارض شي، ضارب د محکمې له خوا د څو ساعتونو په اوږدو کې له شپږو نه تر اتلس میاشتو پورې زندان ته لیږل کیږي. او هلته زما په هیواد کې وهل خو لا پریږده، وژل هم سزا نه لري.

سره له دې چې د څاپیړو دا ویډیو څو ورځې مخکې لاس په لاس شوې وه، خو ماته په پاسنۍ نیته په مخه راغله.

ویډیو په لاندې لینک کې لیدلای شئ:

https://www.facebook.com/video.php?v=963681976998240

په هغې شیبه کې مې یا له احساساتو یا له درده او یا له ډېره قهره دا لاندې کامنټ په فیسبوک ورته ولیکه:

ښاغلی بهرام!

لومړی له تاسو او بیا له ښاغلي احمد شاه اعظمي نه مننه چې دا ویډیو مو شریکه کړه.

دا ویډیو او د دې کوچنیانو دا حالت لیدل، نور چا ته چې هر ډول وي، وي به، خو زما له پاره دومره دردونکې وه چې له لیدلو یې وروسته په ځان نه پوهیدم چې څه وکړم. په څو دلیلونو:

زه یو پلار یم او د یوویشتمې پیړۍ د دویمې لسیزې د قوانینو په رڼا کې په دې پوهېږم چې ماشومانو سره باید څه وخت څه وشي، خو زما په وطن کې څه ور سره کېږي؟

همدا اوس د کوچنیانو پر ادبیاتو د «د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر او اوسنی حالت» تر سر لیک لاندې زما مقالې خپرېږي، چې ځینې برخه یې تیره شپه آنلاین شوه. د همدې ځینې برخې په وروستیو پروګرافونو کې مې په همدې موضوع خبرې کړې دي، مګر چا ته یې وایې؟

«نصیحت په غـافلانو اثـر نه کـا
د سرې اوسپنې خوشې ټکول دي»

او په دې زمانه کې زما د وطن له ماشوم سره داسې چلن کېږي.

هغه قوم چې خپل نوی نسل ښونځي ته د لېږلو په ځای، یو د بل وهلو ته اړ باسي، حال به یې دغسې وي لکه د افغانستان اوسني خلک. همدا ټوپکوال د جګړې او جهاد په نامه د ښونځي په ځای جګړو ته ولېږل شول، اوس ټوله نړۍ ورته اړم ده چې له تشدد نه یې واړوي، خو نه یې شي اړولی.

دغه نازنین کوچنیان، دغه کورنۍ، دغه کلي، دغه ټولنه او دغه خلک هم دغسې در واخله.

زما په وطن کې ښونځی سوځول شوی او ښونکی حلال شوی دی او هر چیرې چې ښونځی نه شته، نو دغسې به وي.

خو دا په یاد ولرئ چې نوره دنیا کې دا د یو زرین اصل په توګه منل شوې ده چې:

**«ماشومان ګلان دي، ګلان ښه وساتئ!»**

# پــــل

## د افغانانو د ميډيا په آسمان کې نوی ستوری

د افغانستان د ميډيا په آسمان کي يو نوی ستوری وځليد. دا ستوری«پل» نومېږي، چي د يو شمېر ليکوالو په نوښت د تاند ويبپاڼي له خوا يي په خپرونو پيل وکړ. د «پل» د خپريدو په باب د تاند په خبر پاڼه کي داسي راغلي دي:

«د يو شمير ليکوالو په نوښت د ماشومانو او کورنيو له پاره تاند د پل په نوم ځانګړي ويبپاڼه خپره کړه.

په دي ويبپاڼه کي د ماشومانو له پاره کيسي، شعرونه، د کورنيو له پاره د ماشوم د روزني په اړه ليکني او نور مطالب خپرېږي. ګوندي پل ويبپاڼه د ماشوم د روزني په برخه کي له کورنيو سره مرسته وکړي.

تاند هيله لري چي ليکوال به هم د ماشومانو له پاره ځانګړي ليکني او دغه راز د ماشوم د روزني اړوند موضوعات په خپله دي ويبپاڼه کي خپاره کړي.»

لومړني پل ته په کتو سره زه وينم چي دا پل بنه په ځای ابنسودل شوی دی او هيله لرم چي زموږ د وطن ستونزي او تولنيز ګردونه يي بيرته تر خاورو لاندي نه کړي، اميد دی چي داسي ونه شي، ځکه چي د وخت غوښتنه همداسي ده چي دا پل د «ترکستان» پر لوري نه دی اوچت شوی، بلکي د يويي هيلي او يو اميد پر لوري جګ کړای شوی دی او دا اميد او دا هيله نوی نسل دی.

دا پل به زموږ د ټولني په ګرد جن او له واورو او ختو ډک چاپيريال کي په داسي نبني بدل شي چي اوسنيو ميندو پلرونو ته او نوي نسل ته د نوي ژوند نوي لار په نښه کړي او په چټکی سره به پر مخ ځي. د نوي نسل له پاره او د روښانه راتلونکي له پاره.

تر هغه ځايه چي زما خبرني يي ښيي، د نوي «پل» قلمي همکاران، با تجربه، زړه سواندي او مسؤل خلک دي چي پخوا يي هم په دي برخه کي د پام وړ کارونه کړي دي.

زه په زغرده سره ويلای شم چي دا د تاند او د پل او د هغوی د قلمي همکارانو هغه ستره پانګونه ده چي ثمر به يي لس کاله وروسته، شل کاله وروسته او يو نسل وروسته و ځکل شي. د ماشومانو پالنه، روزنه او کوچنيانو ته د ادبياتو په نامه يو څه رامنځته کول او مخ کي اينسودل، له ډير پخوا نه اړينه موضوع وه، کله چي د نوي ژوند او نوي تکنالوژی ګامونه ګړندي او نور هم چټک شول، دا غوښتنه لکه خواړه په ورځنی اړتيا بدله شوه او دا دی تاندوالو او د هغوی نورو همکارانو وکولای شول چي په دي «پل» سره دا تشه ډکه کړي.

سره له دې چې د «يو ماشوم يوه نړۍ» په نامه د مخكتاب په بڼ كې يو نيالګی د ډاكتر صاحب زغم له خوا ايښودل شوی و او ښه پالنه يې هم كوله چې ما يې يادونه «د كوچنيانو ادبيات» د مقالو په سلسله كې كړې ده او تبصره مې هم ور باندې كړې ده چې د مقالو په سلسله كې به راشي، خو«پل» به د «يو ماشوم، يوه نړۍ» پر مخ تللې بڼه وي.

د ماشومانو د روزلو او د كوچنيانو د ادبياتو په برخه كې چې زه خپلو څېړنو ته ګورم، «پل» د «يو ماشوم يوه نړۍ» په لاره باندې يو بل جوړونكی قدم دی. زما هيله دا ده چې پر افغان ماشوم او افغان كوچني او افغان ميندو او پلرونو باندې او د افغانستان په راتلونكې باندې د زړه سوې په خاطر ټولو هغو فرهنګيانو چې په دې باب كار كړی او يا د كار هوډ لري، د انفرادي كار تر څنګه، خپلې هلې ځلې د «پل» په چوكاټ كې سره همغږې كړې او د «پل» پر لاره په يوه غږ وړاندې لاړ شي.

د دې نوښت تر څنګه د «پل» مسؤلينو سره ښايي چې د كوچنيانو د روزنې، ساتنې، پالنې، سواد زدكړې، ليک لوست زدكړې، ښوونه روزنه او په پای كې د كوچنيانو د ادبياتو د برخې فعالين سره منسجم كړي، و يې هڅوي چې نويو كارونو او نويو مسؤليتونو ته له دوی سره اوږه وركړي او د زمان له غوښتنو سره سم خپل كار تر سره كړي.

د «پل» چلوونكو او قلمي همكارانو ته زما مصلحت دا دی چې دوی په خپل نه ستړي كيدونكي كار سره و كولای شي د پر مخ تللي ژورناليزم په چوكاټ كې د خپلو ملي، وطني ګټو او كلتور په نظر كې نيولو سره، د ماشومانو او كوچنيانو پاللو روزلو او په هغو كې د هنري ذوق د را پيدا كولو او روزلو په برخه كې او ميندو پلرونو ته د مالوماتو او لارښوونو په وركړه كې، ورځ تر بلې مثبت ګامونه اوچت كړي.

البته چې دا كار دوی يوازې نه شي كولای. زما هيله دا ده چې درنې كورنۍ دې هڅه وكړي چې د ماشومانو د روزلو په برخه كې له «پل» سره قدم په قدم يو ځای اوسي، پر مخ دې ولاړ شي او خپلې پوښتنې، ستونزې او تجربې دې د «پل» له مسؤلينو سره شريكې كړي او خپلې په ځای نيوكې او لار ښوونې دې نه ور نه سپموي.

له لوستونكو نه هيله دا ده چې هر «پل» ته پام وكړي، ودې خاري او ودې لولي. كه ميندې پلرونه د خپل راتلونكي نسل د ښه ژوند په خاطر، د جنګي او سياسي مسايلو له مطالعې نه، په لومړي ګام كې د «پل» لوستلو ته پام وكړي، ډيره به ښه وي.

ما چې د ۲۰۱۵ كال د مارچ په دويمه نيټه د «پل» لومړنی نقش د كمپيوټر پر مخ وليد، داسې مې و انګيرله چې زما ملا تړل شوې ده. ډير ورته خوشاله شوم، زړه مې قوت واخيست او د ماشومانو او كوچنيانو په باب چې ما ديرش كاله مخكې كار پيل كړی و او اوس مې هم هڅې رواني دي، پل مې د دې پروسې يو بشپړونكی ګام وباله.

ما د ماشومانو او كوچنيانو له پاره له ډير پخوا نه فكر او كار كړی دی.

ـ «د كوچنيانو ادبيات»، كتاب، د ۱۳۶۶ كال چاپ،

ـ «پردی چاپيريال او د كوچنيانو د زدكړې مسآله» زما د مقالو لړی ده چې تر اوسه يې په ويبسايټونو كې اوه كه اته برخې خپرې شوې دي،

ـ «د كوچنيانو ادبيات، تاريخي پس منظر او اوسنی حالت»، تر اوسه شپږ مقالې خپرې شوې دي او نورې برخې يې هم چاپ ته را جوړيږي.

«پل» ته په کتو سره، د کوچنیانو د ادبیاتو په باب زما څېړنه او کار که اوس رانه نیمګړې هم پاتې شي، يو څوک شته چې دا کار پر مخ يوسي، بشپړ يې کړي او هغه به د «پل» چلوونکي او لارويان وي.

زموږ په هیواد کې:

څومره ماشومان او کوچنیان د کوڅو سر ګردان دي؟

څومره ماشومان او کوچنیان شاقه کارونه کوي؟

له څومره ماشومانو او کوچنیانو څخه جنسي استفاده کیږي؟

له څومره ماشومانو او کوچنیانو سره په هره کورنۍ کې هغه چلن کېږي چې باید ونه شي،

او نورې دغسې پوښتنې او ترخه حقایق چې زموږ په ټولنه کې شته او...

د ماشوم او کوچني په ژوند کې دا ستونزې چا رامنځته کړي او چا زېږولې دي؟

دا موږ لويان يو، دا موږ مشران يو چې د ستونزو غرونه د ماشومانو او کوچنیانو په مخ کې ږدو، دا زموږ مشرانو نا پوهي او بیسوادي ده چې ماشومانو او کوچنیانو ته مو دا تورې شپې جوړې کړې دي او...

زما هیله دا ده چې «پل» و کولای شي چې د میندو پلرونو او ټولنې ذهن هم د ماشومانو او کوچنیانو په پالنه او روزنه کې رو ښانه کړي او له کوچني او ماشوم سره د چلن په برخه کې نوی ذهنیت ورکړي.

هیله ده چې دې ټولو ستنونزو او پو ښتنو ته «پل» لار و باسي او تیارې کوڅې روښانه کړې.

زه لومړی د تاند مسؤلینو ته او بیا ټولو هغو فرهنګیانو ته چې د «پل» د اوچتولو او خپرولو له پاره يې فکر کړی او عملي ګام يې اوچت کړی دی، مبارکي وايم، هیله مې دا ده چې «پل» په ښه او سم لوري اوچت کړای شي.

## «پل» یو کلن شو

### د چا به هیر، د چا به یاد وي

### زه چې قدم اوچتوم، «پل» یادومه




یو کال مخکې، خدای په همدې ورځ د افغانستان د میډیا پر کورنۍ باندې یو ماشوم ولوراوه او د نوي زېږېدلي ماشوم له پاره مشرانو د «پل» نوم غوره کړ. د دې ماشوم د زېږېدو زیرې په لومړي ځل د «تاند» له ستوني را ووت. د ۲۰۱۵ کال د مارچ په دویمه نیټه د تاند مسولینو د «پل» د زېږېدو زیرې داسې خپور کړ:

«د یو شمېر لیکوالو په نوښت د ماشومانو او کورنیو لپاره تاند د پل په نوم ځانګړې ویبپاڼه خپره کړه.

په دې ویبپاڼه (http://pal.taand.com) کې د ماشومانو لپاره کیسې، شعرونه، د کورنیو لپاره د ماشوم د روزنې په اړه لیکنې او نور مطالب خپرېږي. ګوندې پل ویبپاڼه د ماشوم د روزنې په برخه کې له کورنیو سره مرسته وکړي.

تاند هیله لري چې لیکوال به هم د ماشومانو لپاره ځانګړې لیکنې او دغه راز د ماشوم د روزنې اړوند موضوعات په خپله دې ویبپاڼه کې خپاره کړي.»




څنګه چې ما (آصف بهاند) د خوشالي دا زیری ولوست، نو مې خپلې ټولې ورځنۍ چارې و درولې، خپلې لاس لاندې لیکنې او مطالعې مې یوې خوا ته کېښودې او د «پل» د زېږېدو د خوشالۍ له پاره د یوې ډالۍ په فکر کې شوم. ټوله ورځ مې هڅه وکړه او د «پـل، د افغانانو میډیا په آسمان کې نوی ستوری» تر سر لیک لاندې مې یوه مقاله ولیکله او د «پل» د زېږېدو د ډالۍ په ډول مې په هماغې ورځې خپره کړه. د هغې مقالې په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«لومړني پل ته په کتو سره زه وینم چې دا پل ښه په ځای اینودل شوی دی او هیله لرم چې زموږ د وطن ستونزې او ټولنیز ګردونه یې بیرته تر خاورو لاندې نه کړي، امید دی چې داسې ونه شي، ځکه چې د وخت غوښتنه همداسې ده چې دا پل د «ترکستان» پر لوري نه دی اوچت شوی، بلکې د یوې هیلې او یو امید پر لوري جګ کړای شوی دی او دا امید او دا هیله نوی نسل دی.

دا پل به زموږ د ټولنې په ګردجن او له واورو او ختو ډک چاپیریال کې په داسې نښې بدل شي چې اوسنیو میندو پلرونو ته او نوي نسل ته د نوي ژوند نوې لار په نښه کړي او په چټکۍ سره به پر مخ ځي. د نوي نسل له پاره او د روښانه راتلونکي له پاره.

تر هغه ځایه چې زما څیرنې یې ښیي، د نوي «پل» قلمي همکاران، با تجربه، زړه سواندي او مسول خلک دي چې پخوا یې هم په دې برخه کې د پام وړ کارونه کړي دي.

زه په زغرده ویلای شم چې دا د تاند او د پل او د هغوی د قلمي همکارانو هغه ستره پانګونه ده چې ثمر به یې لس کاله وروسته، شل کاله وروسته او یو نسل وروسته وځکل شي.

د ماشومانو پالنه، روزنه او کوچنیانو ته د ادبیاتو په نامه یو څه رامنځ ته کول او مخ کې اینودل، له ډیر پخوا نه اړینه موضوع وه او کله چې د نوي ژوند او نوې ټکنالوژۍ ګامونه ګړندي او نور هم چټک شول، دا غوښتنه لکه خواړه په ورځنۍ اړتیا بدله شوه او دا دی تاندوالو او د هغوی نورو همکارانو وکولای شول چې په دې «پل» سره دا تشه ډکه کړي.»

د «پل» یو کلن سفر ته په کتو سره زه په زړورتیا سره او په زغرده توګه ویلای شم چې کومې هیلې او غوښتنې چې د پل کورنۍ، د تاند مسولینو، د پل موسسینو او چلوونکو کړې وې، هغه له سلو څه چې تر زرو سلنې نه هم زیاتې تر سره شوې دي او دا بریالیتوب په لومړي ګام کې د تاند مسوولینو ته، د پل موسسیونو ته، د پل چلوونکو ته او د پل درنو او نه ستړي کیدونکو لیکوالو له پاره هغه ستره لاس ته راوړنه ده چې حد ټاکل ور ته ګران کار دی.

که د «پل» ښکلي بڼ ته څوک سر ورښکاره کړي، له ورايه په دې پوهيږي چې «پل» په تير يوه کال کې له تمې ښه او له اميد نه زيات په ښه لار او سمه خوا اوچت کړای شوی دی. د «پل» چلونکي او د «پل» ليکوالان په ډېر زړه سوي سره، د کمکي «پل» لاس ونيو او په داسې لارو يې وګرځاوه او بلد يې کړ، چې بايد شوي وای او داسې وشول چې زما له اميد او هيلو نه هم لا وړاندې او ښه.

يو کال وړاندې د پل د زيږيدو په وياړ ما د خپلې مقالې په يوه برخه کې د «پل» له پاره داسې هيلې څرګندې کړې وې:

«... زما هيله دا ده چې پر افغان ماشوم او افغان کوچني او افغان ميندو او پلرونو باندې او د افغانستان په راتلونکې باندې د زړه سوي په خاطرټولو هغو فرهنګيانو چې په دې باب کار کړی او يا د کار هوډ لري، د انفرادي کار تر څنګه، خپلې هلې ځلې د «پل» په چوکاټ کې سره همغږې کړې او د «پل» پر لاره په يوه غږ وړاندې لاړ شي.

د دې نوښت تر څنګه د «پل» مسوولينو سره ښايي چې د کوچنيانو د روزنې، ساتنې، پالنې، سواد زدکړې، ليک لوست زدکړې، ښوونې روزنې او په پای کې د کوچنيانو د ادبياتو د برخې فعالين سره منسجم کړي، ويې هڅوي چې نويو کارونو او نويو مسووليتونو ته له دوی سره اوږه ورکړي او د زمان له غوښتنو سره سم خپل کار تر سره کړي.

د «پل» چلوونکو او قلمي همکارانو ته زما مصلحت دا دی چې دوی په خپل نه ستړي کيدونکي کار سره و کولای شي د پر مخ تللي ژورناليزم په چوکاټ کې د خپلو ملي، وطني ګټو او کلتور په نظر کې نيولو سره، د ماشومانو او کوچنيانو پاللو روزلو او په هغو کې د هنري ذوق د را پيدا کولو او روزلو په برخه کې او ميندو پلرونو ته د مالوماتو او لارښوونو په ورکړه کې، ورځ تر بلې مثبت ګامونه اوچت کړي.»

او دا دی دا کار او دا هيلې په ډېر برياليتوب سره تر سره شوې. د «پل» يو کلن سفر او يوې کلنې تجربې وښوده چې زما وړاند وينې او اميدونه تر سره شول او د «پل» سفر ماشومانو ته، کوچنيانو ته ميندو پلرونو ته کورنيو ته دومره څه ورکړل او دومره څه يې ور ته وکړل چې زما د اميد په خورجين کې او زما د هيلو په دايره او ځولۍ کې نه ځايږي.

هغه وعده چې يو کال وړاندې ما د تاند له مسولينو، د «پل» له موسسيونو او چلوونکو سره کړې وه ، هغه مې د نورو قلموالو په څير تر سره کړې، د ماشومانو او کوچنيانو د ادبياتو په باب مې څيړنيزې مقالې ور ته ليکلي دي او له هغه نه ور آخوا مې د کوچنيانو له پاره د مشهور ډنمارکي ليکوال، هانس کريستين اندرسن پنځه ډيرې په زړه پورې کيسې له ډنمارکي ژبې نه پښتو ته وژباړلې او په «پل» او ځينو نورو ويبپاڼو کې مې خپرې کړې.

زه د «پل» د بڼ د وړې دنياګۍ د يوه ښوال او چپراسي په توګه، د «پل» لومړنۍ کليزې ته داسې خوشاله يم لکه د خپل زړه د کترو کليزې ته. که «پل» نن يو کلن ماشوم دی، د سبا ځوان به وي، د بلې ورځې پلار او د راتلونکو وياړ، هغه څه چې «پل» په دا يو کال کې تر سره کړل، د هغه په ونج کې يې زه له اوسه وياړ ګنم.

د کوچني «پل» د لومړۍ کليزې په مناسبت «تاند لالا» ته، د پل موسسينو ته، د پل چلونکو ته، د پل ټولو با مسوليته زړه سواندو قلموالو ته او ځان ته، د زړه له کومې مبارکي وايم. د «پل» د لاس نيونې او په سم لورې يې د لارښوونې او د اوسنۍ کليزې د لمانځلو په برخه کې، که د واړه او ماشوم «پل» له خولې او ژبې څه اوريدل غواړئ، هغه به داسې وي:

**«زه ماشوم «پل» په خپله وړه ژبه له «تاند لالا» او خپلو ټولو هغو مشرانو او قلموالو نه مننه کوم چې زما لاس نیوی مو کړی، ما ته مو کیسې، شعرونه او ترانې لیکلې دي، زما پالونکو او روزونکو ته مو لاربښوونه کړې ده چې زما ساتل، پالل او لاربښوونه په څه ډول وکړي او د راتلونکي ژوند له پاره مو ښې او سمې لارې را وښودې، بیا هم مننه او ټولو ته درناوی»**

که وپتیل شي چې د پل په بڼ کې د را ټوکیدلو ګلانو پر ښکلا، خوشبوییو یا ازغیو باندې څه و لیکل شي، زه یې داسې انګیرم چې پر هر کرل شوي او را ټوکیدلي ګل باندې او د هغه ګل او بوټي پر ښکلا او ازغو باندې باید جلا مقالې او لا جلا کتابونه ولیکل شي؛ د همدې دلیل له مخې زه دلته د پل پر محتویاتو او قلموالو نه څه وایم او نه یې نومونه یادوم او د اوس له پاره یې ډېر لوړ او ښه ارزوم.

د اوسني نسل او راتلونکو نسلونو د ښې روزنې د نهضت د یو غړي په توګه هیله لرم چې زموږ د نن ورځې د پل نومي ماشوم پلونه او قدمونه په راتلونکو کې نور هم قوي مظبوط اوګړندي شي، علمي شي او په سمه خوا یې لاربښوونه وشي، څو وکولای شي د افغانستان د میډیا په کورنۍ کې د کورنیو د مشرانو، ځوانانو او په تیره کشرانو، یعنې د کوچنیانو او ماشومانو د لار ډیوې رول ولوبوي.

**د چا به هیر، د چا به یاد وي**
**زه چې قدم اوچتوم، «پل» یادومه**

# ټال

## د ماشومانو او کوچنيانو له پاره نوې ډيوه


ماشومان که د مشرق که د مغرب دي
د خـنـدا او د ژړا انـداز يـې يو دی
د ماشومانو لپاره ښوونيزه، روزنيزه، معلوماتي او تفريحي مهالنۍ خپرونه
ټال
لومړی کال، لومړی ګڼه د ۱۳۹۵ ل، لمريز کال د لړم ۲۴ مه، د ۲۰۱۶ زېږديز کال د نومبر ۱۴ مه ۱ مخ

سرليکنه.
په بلخ کې د ټال خپرونې څه اړتيا؟ مونږ د ټال لوستونکو ته دا ځواب ورکوو، چې په دې ولايت کې تر اوسه ګڼ شمېر چاپي خپرونې خپرېږي؛ خو په پښتو ژبه کې د ماشومانو لپاره کومه ځانګړې خپرونه مونږ نه لرو. په بلخ کې په دري ژبه د ماشومانو لپاره څو چاپي خپرونې خپرېږي؛ خو په پښتو ژبه کې له دې مخکې داسې خپرونه نه ده چاپ شوې زموږ موخه له دې خپرونې څخه دا ده. چې پښتانه ماشومان تعليم او مطالعې ته وهڅېږي او دوی په خپله ژبه ليک او لوست وکړي، موږ په دې خپرونه کې ډېره هڅه کړې، چې د ماشومانو لپاره او يا هم د ماشوم په ژبه خواږه مطالب خپاره کړو تر څو دوی په آسانۍ سره دغه مطالب ولوستلی شي. په بلخ کې پښتانه ماشومان په ډېر ناوړه حالت کې ژوند لري خصوصا د دې ولايت په لرې پرتو ولسواليو کې پښتانه ماشومان اکثره مزدوري او پردي مالونه څروي دوی ټوله ورځ په دښته کې له خپلو پلرونو سره په درنو کارونو بوخت وي. دغه ماشومان د اوړي په سرو ګرميو کې لو کوي، دوی د ژمي په يخو ورځو کې پردی، مزدوري کوي د دوی پلرونه د دې لپاره هيڅ فکر نه کوي، چې آيا د دوی ماشوم راتلونکی لري او کنه؟ د دوی پلار لپاره پيسې ارزښت لري کله چې ماشوم لږ ستر شي بيا يې بهر ته په مزدورۍ پسې

د کمکيانو ټال
ګرانو کوچنيانو! دا ستاسې خپرونه ده دا به لولئ، زده کوئ به يې او د خپلې خوښې ليکل به مونږ ته رالېږئ! د ټال په دې ګڼه کې ستاسو لپاره ډېر ښايسته شعرونه، کيسې، توکې، روغتيايي او هر اړخيز معلومات ليکل شوي هيله ده وې لولئ او خوند ترې واخلئ!

څه کم دوه کاله مخکې مې د ماشومانو او کوچنيانو او په ټول کې د نوي نسل روزنې ته د پاملرنې په موخه د کوچنيانو د مقالو د خپرولو لړۍ بيا را پيل کړه، نو په هماغه پيل کې مې د مقالو په لومړۍ برخه کې د موضوع مهم والي ته داسې اشاره کړې وه:

«د نړۍ او د انسانانو د پيدايښت له پيل نه بيا تر نن پورې، له ټولو مادي او معنوي لاس ته راوړنو او تجربو نه دا پايله تر لاسه شوې ده چې د يوې ټولنې راتلونکې آبادي، ښېرازي او پرمختګ د هغه د نوي نسل په ښه روزنه او دغه نوي نسل ته جدي پاملرنې پورې اړه لري. داسې پاملرنه چې نوی نسل د وخت له ټولو علمي غوښتنو سره سم له نوې ټکنالوژۍ سره اوږه په اوږه د خپلو ملي ارزښتنو، ملي ګټو او تاريخ په رڼا کې داسې وروزل شي چې نه يوازې په راتلونکې کې هغه د مور پلار، کورنۍ او ټولنې پر اوږو بار نه وي، بلکې هغه يو پوه، زړکړی، مولد او داسې انسان وي چې د خپلې ټولنې او خلکو لارښوونه هم وکړای شي.

دي ته مو پام وي چي رهبران نه شنه کيږي او نه هم له آسمانه رالويږي، بلکي همدغه د نن ورځي ماشومان د سبا مور پلار هم دي، رهبران هم دي، مخترعين هم دي، خاينين هم دي، جګړه مار هم دي، سوله خوښونکي هم دي او په پای کي د دې دنيا ورانونکي او جوړونکي هم دي. که سم وروزل شي، د خلکو او وطن مينه، د انسان مينه او عاطفه ور زده کړای شي، نو بيا به يو ښه او مثبت انسان وي او که برعکس وي نو بيا ګورئ يې چي زموږ په ټولنه کې يې بيلګي څومره ډيري دي.»

په هره ټولنه کې د نوي نسل د روزلو انساني موخي ته د رسيدو له پاره، د نورو اړينو امکاناتو تر څنګ ميډيا هم په کار ده، رنګارنګ خپروني په کار دي، سواد، لوستل، کتابونه، مجلي او اخبارونه په کار دي. يو شمير فرهنګيان چي د نوي ژوند علمي او عصري جوړوني له پاره ښوونه، روزنه او د نوي نسل روزل اړين، اساسي او بنيادي اصل ګني، ټل يې هڅه کړې ده چي د ماشومانو او کوچنيانو روزلو ته له پيل نه يعني لا له کورنی، وړکتون، ښوونځي او بيا پوهنځي نه پام وکړي ، خپروني ور ته ولري، د ماشومانو او کوچنيانو په ژبه ، د دوی له ذهن او دنياګۍ سره برابر مينه ناک ادبيات ور ته يا تخليق کړي او يا يې وژباړي او بيا يې د ميډيا د بيلابيلو ډولونو له لارې تر دوی پورې ورسوي.

او دا دی د همدغو فعاليتونو په لړ کې، د نوي نسل د سمي او علمي روزني په تمه د افغانستان په بلخ ولايت کې، د تيرو ګامونو په سلسله کې يو نوی ګام اوچت شو او د نوي نسل د لا سمي روزني په موخه يوه بله ډيوه بله کړای شوه او د ماشومانو او کوچنيانو له پاره د «ټال» په نامه يوه نوې خپرونه له چاپه را و وته.


لومړی کال
لومړی ګڼه
ټال مهالنۍ خپرونه
۲ مخ

آیـا پـو هـیـدئ؟

**خوږو ککیالو سلاموه!** د ټال په دې ګڼه کي مو درته هر ارخيز علمي او ګټور معلومات چمتو کړي هيله ده وېې لولې او ګټه تري واخلئ. هو رښتيا تاسو هم کولای شئ مونږ ته هر اړخيز معلومات که هغه روغتيايي او سايتسي وي راواستوئ مونږ به يې د ټال په راتلونکو ګڼو کي ستاسو له نامه سره يوځای خپاره کړو! مينه او درنښت.

ولې بايد ډېرې اوبه وڅښو؟

بښخه د پوهانو د فکر په هنداره کي

**ګرانو کوچنيانو!**

که چيرته ستاسي پښتو متلونه او يا هم د لويانو خبرې زده وي؛ نو مونږ ته يې راواستوئ، موږ به يې د ټال په راتلونکي ګڼه کي ستاسي له نامه او انځور سره خپري کړو. د ټال په دې ګڼه کي مو درته (ښځه د پوهانو د فکر په هنداره کي) څو غوره وېناوي راټولي کړي هيله ده خوښې مو شي. مينه او درنښت ستاسو ملګری نجيب پاڅون

۱ـ ښځه د کاله ډيوه ده. **حضرت محمد(ص)**

۲ـ هغه په خپله ښځه ډير بې باوره وي، چي پر خپل ځان باور نه لري. **(ناپيليون)**

خندا مينه ده

**ګرانو ګلاليو ماشومانو ستړي مشئ!**

دا دی د ټال په دې برخه کي مو درته يو څو ټوکي ټوکلي هيله ده وي لولئ او خوند تري واخلئ؛ موږ له تاسو نه هيله کوو، چي خپلي ټوکي او کيسي موږ ته راواستوئ، چي د ټال په راتلونکو ګڼو کي يې درته چاپ کړو. خندا د وجود لپاره ګټوره او په زړه ورزش دی ګله، چي يو تن خاندي د وجود ديارلس غړي يې په حرکت راځي او ورزش کوي، د ژوندېو ملتونو او د هوډمنو وګړو يوه ځانګړتيا د خلکو خوشالول دي، نو تاسي ګلالي ماشومان هم هڅه وکړئ، چي ټل خوشاله اوسئ.

**سپی ناروغه دی**

ميره له خپلي ښځي څخه پوښتنه وکړه: ګرانی نن دا قابونه ولی ناپاکه دي؟

ښځي يې ځواب ورکړ: ځکه چي سپی ناروغه دی.

د کوچنيانو د ادبياتو په برخه کې زما د خپرو شو مقالو په اتمه برخه کې ما په چاپي خپرونو کې د کوچنيانو له پاره د ځانګړو مطالبو په باب مفصل بحث کړی دی او پر هغو خپرونو تم شوی يم او معرفي کړې مې چي د کوچنيانو له پاره يو څه په کې خپاره شوي دي. هلته ما داسې اشاره ور ته کړې وه:

«له ۲۰۰۱ نه بيا تر نن پورې به د ميديا په بيلابيلو برخو کې د کوچنيانو ادبياتو د څيړني او تخليق په برخه کې څومره د چا له خوا کار شوی وي، مالومول يې يو څه ګران کار دی، خو

هغومره چې په ویبپاڼو کې، یا په چاپي او انځوریزو رسنیو کې کار شوی دی او زما له نظره تیر شوي دي، زه یې په لنډ ډول دلته یادونه کوم:

په چاپي خپرونو کې د کوچنیانو له پاره ځانګړې پاڼې:

په هیواد کې دننه او له هیواد نه د باندې به په دې موده کې ډېرې داسې چاپي خپرونې وي چې د کوچنیانو د ادبیاتو په باب به یې څېړنیزې مقالې چاپ کړې وي او یا به یې خپلې څو پاڼې کوچنیانو او د دوی ادب ته بیلې کړې وي، چې د ټولو لاس ته راوړل او بحث وربانديې کول ستونزمن کار دی. زه په دې بحث کې د نمونې په ډول هغه خپرونو باندې بحث کوم چې یا ماته په لاس راغلي او یامې د کوم بل آدرس یا مآخذ په وسیله پیژندلي وي.»

وروسته له پاسنۍ لیکنې نه د ماشومانو او کوچنیانو له پاره څومره انځوریزې، برېښنایي او یا چاپي خپرونې چې شوې دی او زه ور نه خبر شوی یم، ما بې ځوابه او بې هرکلي نه دي پرېښې او دا دی د همدغو هر کلیو په سلسله کې نن «ټال» ته ښه راغلاست وایم او هیله مې ده چې تل وښوري او زموږ ګلالي ماشومان او کوچنیانو د علم د ترانو په ویلو سره وزنګوي او په خپلو چاپیدونکو موادو کې داسې څه زموږ راتلونکي نسل ته په لاس ورکړي چې د سبا ورځې په تیارو کې ور ته د رڼا حیثیت ولري.

د «ټال» په باب لومړنۍ لیکنه په خپله د «ټال» د مسؤلینو له لوري د آنلاین له پاره ولېږل شوه. که څه هم د ټال په باب په یاده لیکنه او رپوټ کې د پام وړ مالومات و، خو زه وربانديې قانع نه شوم، نو مې د «ټال» له مسول ښاغلي پاځون ته د ۲۰۱۶ کال د نومبر د میاشتې په یو ویشتمه (۲۱) نېټه د ټال په باب د مالوماتو د بشپړلو په نیت دا متن ور ولېږه:

ښاغلی پاځون سلامونه او درناوی مې ومنه!

زما نوم آصف بهاند دی، پخوا مې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې تدریس کاوه، اوس د اروپا په ډنمارک نومي هیواد کې ژوند کوم، خو له خپل قلم، خپل فرهنګ، چینایي لیټاپ او وطني مینې سره.

د نورو فرهنګي هڅو تر څنګ څه د پاسه دیرش کاله کېږي چې د ماشومانو، کوچنیانو او نوي نسل د روزنې په موخه د کوچنیانو د ژوند او ادبیاتو په باب څېړنیزې مقالې لیکم او کله د کوچنیانو له پاره ژباړې هم کوم. د همدې مینې له مخې مې غوښتل د «ټال» په باب هم یو څه ولیکم.

د «ټال» د خپریدو مبارکي زما له لوري ومنه. د افغنستان د خزان وهلي بڼ په دې حالت کې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د بلخ د شرایطو په چوکاټ کې، د «ټال» خپرول په رښتیا سره د ستاینې وړ دي.

د دې له پاره چې د «ټال» د شکل او محتوا په باب په مستند ډول څه ولیکم، باید یو وار «ټال» له نظره تیر کړم، نو:

ـ څنګه کولای شم «ټال» تر لاسه کړم؟

که یې pdf یا word بڼه زما په پته را ولېږئ، مهرباني به مو وي،

ـ له څه وخت نه را په دې خوا د ماشومانو، کوچنیانو او نوي نسل د روزنې په موخه لیکنې او خپرونې کوئ، که مو په دې برخه کې تخلیقي یا تحقیقي کوم څه خپاره شوي وي، پته یې راکړئ،

ــ په بلخ یا ټول شمال کې پرته له تاسو نه کوم فرهنګي دوستان د ماشومانو او کوچنیانو له پاره لیکنې کوي، که یې کوي څوک دي او په کوم آدرس خپلې لیکنې خپروي؟

د افغان جرمن آنلاین پښتو مقالې اکثراً د اصلاح له پاره ما ته را لېږل کېږي، د ټال په باب ستاسو مقاله مې چې پرانسته له بده مرغه چې د «ټال» عکس نه و ور سره مل، ما له فیسبوک نه د «ټال» یو عکس تر لاسه کړ، له بده مرغه دا عکس ما نه شي قانع کولای، نو مهرباني وکړئ، د ټال څو عکسونه په خپل موبایل سره واخلئ او ما ته یې زما د نوې مقالې د لا رنګینې په پار را ولیږئ.

د اوس له پاره همدومره.

ښاغلي پاڅون د نومبر میاشتې په ۲۲ مه نیټه د ټال له څلورو تور و سپین عکسونو سره، دا ایمل را ولیږه:

«سلامونه او مینه مې ومنئ ښاغلی قدرمن بهاند صیب په دې هیله، چې صحت مو روغ وي، ډېر خوشاله شوم، چې د تاسو قدرمن ایمیل مې ترلاسه کړ لوی خدای مو راته تل خوشاله او سوکاله لره . اوس لپاره به زه تاسو ته د (ټال) لومړۍ ګڼه، چې څو ورځې مخکې چاپ شوه درته واستوم، نور معلومات به په دې لنډو ورځو کې درته ایمیل کړم هیله ده خپه نشئ.

مینه او درنښت

نجیب الله پاڅون ـ بلخ مزارشریف»


هود داسي خواک دی چي پر ټولو خواکونو واکمني لري؛ خو چي د پوهې له خواک سره ملګری وي. (بوفون)

ټال
SWING

د امتیاز څښتن او مسؤل چلوونکی: نجیب الله پاڅون
د تاسیس کال: ۱۳۹۵ لیږدیز لمریز
د ترلاسه کېدو ځای: چاربولک ادبي بهیر
د ویش مسؤل: سمیع الله ابراهیم خېل
بریښنالیک: Najib.pasoon123@gmail.com
د اړیکي شمېرې: ۰۷۹۶۶۱۳۲۱۴ ــ ۰۷۸۴۶۹۳۵۳۱

لومړی کال | لومړۍ ګڼه | ټال مهالنۍ خپرونه | ۴ مخ

د نـن غوټـۍ د سبـا ګـلان

ټال تر همدي سرلیک لاندي د خپل بلخ د نوي کهول د غوړېدا په نیت د تکره او استعداد لرونکو ماشومانو انځورونه له تاسو سره شریکوي هیله ده د ښوونځیو درانه او ښاغلي ښوونکي د هغو ماشومانو انځورونه مونږ ته راولیږي، چې دوی په ټولګي کې لومړی نمره او یا هم ډېر لایقه وي تر څو موږ یې نورو لوستونکو ته ور وپېژنو. مینه او درنښت

... ماشومانو لاندي پوښتني حل کړئ او جایزه واخلئ:

کوچنیانو! جوړ پخیر، ستړي مشئ. ... په دي ګڼه کي درنه یو څو پوښتني ... هیله ده د ټولو پوښتنو سم ځوابونه په ... غذ کي له خپلي ښیري پتي سره ولیکئ او موږ ته یې راواستوئ تر څو موږ تاسو ته جایزه درکړو.

وروسته له دې نه یې نور مالومات هم را ولېږل. په نویو مالوماتو کې یې د ماشومانو او کوچنیانو په باب د خپل فعالیت په هکله او د ماشومانو او کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې د نورو هغو قلموالو په باب لنډ مالومات لیکلی چې د افغانستان په شمال کې یې څه لیکلي او خپاره کړي

دي. ښاغلي پاڅون دا مالومات د ۲۰۱۶ کال د نومبر په دوه ويشتمه (۲۲) نېټه رالېږلی دی چې بشپړ متن وړاندې کوم:

«زه په خپله له ۱۳۹۰ کال نه را په دې خوا د ماشومانو د ښوونې او روزنې په برخه کې کار کوم، تر اوسه پورې مو د بلخ په لرې پرتو ولسواليو لکه چهاربولک، چمتال، دولت آباد او شولګرې ولسواليو کې د کوچنيانو لپاره روزنيز کورسونه او پروګرامونه جوړ کړي، چې تر اوسه دوام لري.

همداراز ما په ۱۳۹۲ کال کې يوه پښتو اونيزه د(خبره) په نوم په لومړي ځل له بلخ ولايت څخه خپره کړه، چې د دغې خپرونې مدير مسؤول هم زه يم په دغه خپرونه کې مو هم د ماشومانو لپاره يوه ځانګړې برخې ته ځای ورکړ او د کوچنيانو لپاره مو ليکنې په کې خپرولې، چې اوس هم دغه خپرونه په مياشت کې دوه ځله چاپ کېږي.

د دې تر څنګ ما په خپله د بلخ او په شمالي ولاياتو کې د ماشومانو ستونزو په اړه څو څېړنيز رپوټونه ليکلي، چې په بلخ کې د سماء ټي وي لخوا هم خپاره شوي، اوس محال په شمالي ولاياتو کې د ماشومانو د فولکوريکو سندرو او لوبو په ټولولو بوخت يم، چې په نږدې وخت کې به انشاءالله دغه کار هم ترسره شي.

په بلخ کې ذبيح الله احساس د ماشومانو لپاره څو ليکنې کړې، چې يو دوه ليکنې يې د ده د مقالو په کتاب کې هم چاپ شوې.

په کندز ولايت کې د پسرلي کلتوري ټولنې غړي له هغې جملې څخه عزت الله پامير د ماشومانو لپاره څه ناڅه کيسې او مطالب ليکلي، چې د هېواد په ويب پاڼو کې خپرې شوې.

په سرپل ولايت کې هم د ګوتو په شمېر يو څو ښوونکي شته، چې کله نا کله ليکنې کوي،

نور فکر نه کوم، چې څوک دې په ځانګړې توګه د ماشومانو ادبياتو ته کار وکړي.

ځکه دلته اکثره ليکوالان په خپلو دندو بوخت دي او که ليکل هم کوي هغه به ضرور سياسي او يا هم د شعراوشاعرۍ په اړه وي.

په دري ژبه کې د ماشومانو لپاره په بلخ کې ډېر کار کېږي، او تر اوسه څو ټولنې د دوئ لپاره په وړيا ډول خدمات ترسره کوي. زه د دوئ په اړه ډېر معلومات نه لرم، که چېرته ضرورت شول دا به هم درته واستوم.

ټال لومړی ځل په څلورو مخونو کې خپوره شو، په نږدې وخت کې به يې د مخونو شمېر اته ۸ ته ورسېږي او سايز به يې A4 وي. دغه خپرونه به له دې وروسته هره مياشت خپرېږي، د ټال د چاپ لګښت په خپله او د ځينو ملګرو په مرسته برابرېږي.

دغه خپرونه د مزارشريف ښار په شمول د بلخ په لرې پرتو ولسواليو کې او همداراز د بغلان، کندز، تخار، سرپل او جوزجان ځينو سيمو کې هم ويشل کېږي.

د دغې خپرونې د چاپ شمېر ۲۰۰۰ دوه زره ټوکه دی.

مينه او درنښت.»

د «ټال» په باب لومړنۍ ليکنه چې زما له نظره تيره شوه «ټال مهالنۍ چاپ شوه!» نوميده. لومړۍ سر سري ور نه تير شوم ما ويل چې کومه سياسي يا طنزيه مهالنۍ به وي، بيا مې وې چې راځه يو وار خو ور باندې تير شه، چې لږ مې ګزارش ولوست، پو شوم چې د کار څه دي.

دا ګزارش د «ټال» د امتیاز خاوند او مسؤل مدیر ښاغلي نجیب پاڅون لیکلی دی. د دې ر پوټ په یوه برخه کې د ټال د خپریدو د موخې، مسؤل مدیر، د امتیاز خاوند او محتویاتو په باب په داسې راغلي دي:

«ټال له بلخ ولایت څخه د ماشومانو لپاره ښوونیزه، روزنیزه، معلوماتي او تفریحي مهالنۍ خپرونه ده، چې په لومړي ځل له دې ولایت څخه په پښتو ژبه خپره شوه، د دې خپرونې د امتیاز څښتن او مسؤل چلوونکی نجیب الله پاڅون دی.

د ټال په مهالنۍ کې د ماشومانو لپاره ګڼ مطالب خپاره شوي، چې له هغې جملې نه شعرونه، کیسې، ټوکې، روغتیایي معلومات، ساینسي معلومات، د ماشومانو فولکلوریک شعرونه او هر اړخیز ګټور معلومات چاپ شوي، د ټال په لومړنۍ ګڼه کې لاندې مطالب خپاره شوي، چې دلته یې صرف نومونه اخلو:

۱- ټال څه دی؟

۲- د ماشوم حقوق،

۳- د پښتو ژبې توري،

۴- آیا پوهېدئ؟

۵- ولې باید ډېرې اوبه وڅښو؟

۶- غرونه څنګه پیدا شول؟

۷- لمر له ځمکې څومره لرې دی؟

۸- ولې ترکارۍ ګټورې دي؟

۹- ښځه د پوهانو د فکر په هنداره کې ( د لویانو خبرې)،

۱۰- خندا مینه ده (ټوکې)،

۱۱- د هیواد ملي شخصیتونو پېژندنه ( پېژندګلوي)،

۱۲- د هیلو ټال (شعرونه) لکه خورکۍ ته، سهار، ټولګی، جګړه او...

۱۳- لنډه کیسه( واوره)،

۱۴- د ماشومانو کانکور( پوښتنې)،

۱۵- د نن غوټۍ د سبا ګلان( د استعداد لرونکو ماشومانو پېژندنه)،

۱۶- د بلخ چهاربولک ولسوالۍ د ادبي او فرهنګي مرکزونو پېژندنه،

۱۷- د کوچنیانو فولکلوریکي سندرې،

او ...

ټال مهالنۍ د مزارشریف ښار په شمول د بلخ په لرې پرتو ولسوالیو کې هم وېشل کېږي دغه خپرونه ځلور مخونو کې خپرېږي...»


په دنیا کې کوم قومونه چې خبرې لږې کوي او عمل ډېر؛ نو هغه قومونه تل خپل منزل ته رسیدلي دي. (خان عبدالغفار خان باچا خان)

لومړی کال | لومړی ګڼه | ټال مهالنۍ خپرونه | ۳

د هیلو ټال

خورکۍ ته!

ښکلې، ګلالۍ ده، سره ویښتان او شنې سترګې

... ده، سره ویښتان او شنې سترګې

... ژاړي، زه چې ښوونځي ته ځم

... غواړي، زه چې ښوونځي ته ځم

لوبې په باغچه کې په خوند او مزه کوو

سهار

چې راکښینم سهار
خپل کالي کړم تیار
کړم په بکس کې په ځای
کتابونه، خودکار
توره دره پنسل
پنسل پاک او پرکار
بیا مې مینځمه لاس
هم غاښونه کرار
که مې غټ وي نوکان

تولګی

کور، هم مې کورګی دی
ښکلی مې تولګی دی
زه پکې لیکل کوم
هم ښه زده کول کوم
د درس، سبق کور ګی دی
ښکلی مې تولګی دی
په ما باندې ډېر ګران دی
مال او هم مې خان دی
ښوونځی، که پوهنځی دی
ښکلی مې تولګی دی
ښه به یې تل پاک ساتم
پاک له ګرد و خاک ساتم

جګړه

دا جګړه کړې خدایه ورکه
شي مې کرکه له ټوپکه
موږ د سولې ژوندون غواړو
د الله په پراخه ځمکه
د انسان په نامه یاد یو
دښمني نه لرو کرکه

د «ټال» د خپورولو د موخې په باب او په بلخ ولایت کې د ماشومانو د بد حالت په هکله د «ټال» مسؤل مدیر داسي په ویلي دي:

«... زموږ موخه له دې خپروني څخه دا ده، چې پښتانه ماشومان تعلیم او مطالعې ته وهڅېږي او دوی په خپله ژبه لیک او لوست وکړي، موږ په دې خپرونه کې ډېره هڅه کړې، چې د ماشومانو لپاره او یا هم د ماشوم په ژبه خواږه مطالب خپاره کړو تر څو دوی په آسانۍ سره دغه مطالب ولوستلی شي،

په بلخ کې پښتانه ماشومان په ډېر ناوړه حالت کې ژوند لري خصوصا د دې ولایت په لرې پرتو ولسوالیو کې پښتانه ماشومان اکثره مزدوري او پردي مالونه څروي دوی ټوله ورځ په دښته کې له خپلو پلرونو سره په درنو کارونو بوخت وي...

دلته پښتانه پلرونه خپل ماشوم ته د کتاب پر ځای پلاستیکي وسلې او تفنګچې اخلي...

زموږ غوښتنه له هغو پښتنو پلرونو څخه دا ده چې نور دې خپل ماشوم ته د تفنګچې پر ځای کتاب او اخبار په لاس کې ورکړي د دې پر ځای، چې په خپل ماشوم د کور او بهر درانه کارونه وکړي هغه دې ښوونځي ته واستوي او تعلیم دې پرې وکړي،

... د ټال خپرونه به د ماشومانو ادبیاتو ته کار کوي او د دوی په ژبه به خواږه مطالب خپروي، د ماشوم ایجادي ادبیات د وینا او لیکلو له مخې پوهان په دوو برخو وېشي یو هغه ادبیات دي چې هغه پخپله د ماشوم له خوا رامینځ ته شوي او یو هغه دي چې ماشوم ته یا د ماشوم په ژبه لیکل شوي دي. دا دواړه د ماشومانو د ذهني ودې د دوی تر مینځ د سیالیو او ذوق په څرګندولو کې ډېر اغېزمن تمامېږي. پښتو کې د ماشوم ادب په برخه کې د ګوتو په شمېر خپروني شته، چې دغه برخه لا تراوسه هم خواره ده.

اوس، اوس د دغې تشې د ډکولو لپاره یو شمېر لیکوالانو هڅه کړې او ماشومانو ته یې د دوی په ژبه ځینې خپرونې پیل کړي، چې موږ د دغه کار راتلونکي ته هیله مند یو، ټال به خپل

ژورنالیستیک رسالت په پوره ایماندارۍ سره سر ته رسوي او د ماشومانو د حقونو لپاره به نه ستړي کېدونکي هلي ځلي کوي...»

د «ټال» د چاپېدو په غبرګون کې د اوسني نسل د روزنې او د دوی د ښې راتلونکو پلویانو د مبارکیو تر څنګ، خپل نظریات هم څرګند کړي دي چې په دې برخه کې به د ځینو نظریات را واخستل شي:

ښاغلي ذبیح الله احساس د «ټال» د لومړۍ ګڼې د خپرېدو په باب داسې لیکلي دي:

«چا ویل چې په دریاب کې ګوهر نشته.

ټال:

ټال؛ له بلخه چاپېدونکې اوومه پښتو خپرونه ده، خو له نورو سره توپیر لري.

ټال د ماشومانو لپاره خپرېږي، هغه تشه، چې په دغه ولایت کې د تېرو دیارلسو کلونو د روانو ادبي او رسنیزو هڅو په لړ کې ورته چا پام نه و کړی.

دغه خپرونه د بلخ ادبي خوځښت د مشرتابه غړي، ملګري Najib Pasoon نجیب پاخون په امتیاز او مسوولیت چاپېږي. په خپل ملګري ویاړو او ورته مبارکي وایم.

لومړۍ ګڼه یې نن زما تر میزه ورسېده.

د ماشومانو لپاره جالب مواد پکې راټول شوي دي.

د ټال ټالۍ دې رواني وي او زموږ ماشومان دې ورسره خوښ».

میرویس درمان د یوه کامت په ترڅ کې خپل نظر داسې څرګند کړی دی:

«د ماشوم په دنیا کې بل پرمختګ؛ هغه کار چې په تیرو ۱۳ کلونو کې ور ته د چا پام نه وه؛ ټال خپرونه د بلخ ادبي خوځښت له ځوان ملګري نجیب پاخون څخه ډېره مننه چې ماشومانو ته یي په خپله مورنۍ ژبه خپرونه جوړه کړی»

دا چې د «ټال» مسولین ټال څه ډول د بلخ ولایت، او شاو خوا ولایتونو ته او لا د ټول افغانستان ولایتونو ماشومانو او کوچنیانو ته ور ورسوي، دا هم یوه پوښتنه او مخکې پرته ستونزه ده. داسې نه شي چې چاپ یې کړي یا په ګدامونو کې پاتې شي او یا یې دکانداران د سودا خرڅولو له پاره وکاروي.

د «ټال» د مسؤلینو هیله دا ده چې «ټال» هر څوک ولولي، په تیره ماشومان او کوچنیان، د همدې هیلې پر بنا یې د «ټال» د لومړۍ ګڼې په لومړي مخکې ماشومانو ته په خطاب کې داسې لیکلي دي:

«ګرانو کوچنیانو! دا ستاسو خپله خپرونه ده، دا به لولئ، زده کوئ به یې او د خپلې خوښې لیکل به موږ ته را لیږئ!

د ټال په دې ګڼه کې ستاسو له پاره ډېر ښایسته شعرونه، کیسې ټوکې، روغتیایي او هر اړخیز معلومات لیکل شوي، هیله ده چې وې لولئ او خوند ترې واخلئ!» (ټال، لومړل کال، لومړۍ ګڼه، ۱۳۹۵ لمریز کال د لړم ۲۴ مه، لومړی مخ)

د اوس له پاره «ټال» ما ته داسې دی لکه نوی زیږیدلی ماشوم. د همدې له پاره یې باید لاس ونیول شي او د پل اوچتولو چل ور وښودل شي. که یې د ځینو نیګرتیاو نه د اوس له پاره ور

تېر شو، نو ويلای شم چې د ماشومانو او کوچنيانو د لوستلو له پاره د قدر وړ شيان هم لري، زه يې بيا په تکرار او ټينګار سره وايم چې بايد د ماشومانو او کوچنيانو دا خپرونه د دوی تر نازکو لاسونو پورې ور ورسول شي.

د ټال مسؤلين دې، دې ته نه خوشاله کيږي چې د ټال لومړۍ ګڼه را وو ته او په څو ويبپاڼو کې يې د چاپيدو خبر خپور شو؛ دوی بايد لرې وګوري او او دې ته پام وکړي چې دا ډېوه مړه نه شي او پر دې باندې جدي فکر وکړي چې له خپلو امکاناتو نه په استفادې سره څه ډول، تر څه وخته او په څه ډول محتوياتو دا ډېوه بله ساتلی شي، دا په دوی پورې اړه لري.

اصلي خبره دا ده چې د «ټال» مسؤلين ماشومان او کوچنيان په «ټال» کې په مينې او پام سره کينوي، وې زنګوي او د «ټال» په شمال کې د نوي عصر نوي علوم او د راتلونکې له پاره دوی ته داسې څه ور زده کړي چې د دوی د لارې د ډېوې حيثيت ولري، ماشومان او کوچنيانو ته داسې توومنه ورکړي چې په راتلونکو درسونو يعنې ښوونځي او پوهنځي کې ور ته د تومنې حيثيت ولري.

زه، د افغانستان په بلخ کې «ټال» خپرونه د ماشومانو او کوچنيانو له پاره يوه ډېوه ګڼم، که مسولين او همکار قلموال يې د پيل همدې جديت ته دوام ورکړي او د تياري کومه خوله دا ډېوه د وژلو په نيت پوف او مړه نه کړي، هيله ده چې ټال به د نوي نسل د نوي ژوند له پاره ښه وزنګيري او د ماشومانو او کوچنيانو د نوي ژوند لارې به دا ډېوه په علمي او عصري ډول رڼا کاندي.

# د چا؟ کړې ګناه پېټې

د فیسبوک په ښیرازه بڼ کې، یوه نه ډېرو یارانو لافه کړې وه چې: دا دی زما د ملګرو شمیر له شلو زرو واوښت، دوستانو زما د ملګرو شمیر له پنځوسو زرو واوښت، او واوښت پسې واوښوت.

ما ته به خندا راغله چې: «ته دا کسه!» ځان ته غم جوړوي. داسې وخت هم راغی چې د شل زرو او پنځوس زرو یارانو خاوندانو حکایتونه او شکایتونه پیل کړل چې نن مې دومره وتوړل او ځان مې ترې خلاص کړ او نن مې دومره خلک رخصت کړل او...

خو زه د خپل (ښایي بد) عادت او اصولو له مخې د مخکتاب په بڼ کې ډېر یاران نه لرم، هغومره یاران مې خوښېږي چې ورته رسیدلای شم. د مخکتاب د یارانو په منلو کې زما اصول دا دي:

ــ یا به پخوانۍ پیژنګلوي ورسره لرم،

ــ یا به په دې پوهېږم چې د یاراني غوښتونکی ما ته څه را زده کولی شي او یا له ما نه څه زده کولای شي، پرته له دې د «و» او «نه» په ویلو کې زه غلی یم.

فیسبوک د نورې دنیا خلک د مرستې، د مالوماتو د شریکولو او آسانتیاوو له پاره کاروي، خو په موږ کې لکه د نور شیانو په څیر ناوړه استفاده ورنه کېږي. بې مسولیته لیکنې، ښکنځلې، بد رد، نا وړه تبلیغات او...

خو کله ــ کله ښه پوستونه او ښه کامنتونه هم په کې تر سترګو کیدای شي.

د ۲۰۱۵ کال د اګست په څلورمه له یوه اوږده سفر نه په راستنیدو سره مې وروسته له څه لیکلو او لوستلو د فیسبوک د بڼ ور پرانست. هلته مې د مریم میلاد پر دې پوست سترګې ولګیدې:

«یوه 75 کلنۍ المانۍ راغله ویل یې: لږه ستړې یم. ماول ښار کې ډېره ګرځیدلې یې؟ ځواب یې راکړ چې اوس د کاره راغلم، ما ویل چې ته خو تقاعده یې، نو څنګه کار کوې؟ ویې ویل چې 12 کاله راهیسې په هفته کې دوه ورځې په یوه روغتون کې په وړیا کار کوم.

حیرانه شوم.

دې ته وایي وطن سره رښتیني او سپیڅلې مینه»

زه هم له وطن، خلکو او انسانانو سره د بې سارې مينې له دغسې پېښو سره، لږ نه ډېر مخامخ شوی یم. یوه بېلګه يې دا وه چې:

یوه ورځ د ډنمارکي ژبې د کورس په ټولګي کې د ډنمارکي ژبې ښوونکي چې کيم (Kim) نومیده، د کمپیوټر د غلي کولو په شیبه کې راته وویل:

«کله دې چې کمپیوټر، تلویزیون او نور برقي آلات غلي کول، دا د «ستند بای» سور چراغ هم مړ کړه.»

ما ویل دا ولې؟

ښوونکي زیاته کړه:

«په ډنمارک کې څه د پاسه پنځه میلیونه وګړي ژوند کوي، که په دې پنځو میلیونو کې څلور میلیوونه کمپیوټر، تلویزیون او نورې دې ته ورته برقي وسیلې وکاروي او ټول دا وړوکي سره څراغونه تر بیا کارولو روښانه پرېږدي، نو ښایسته ډېر مصرف ور باندې راځي. دا موږ ته نه مالومېږي، خو دا مصرف که هره ورځ، بیا هر میاشت او بیا هر کال محاسبه شي، لوی مبلغ ورنه جوړېږي. دا د هغو خلکو حق دی چې په فقر کې ژوند کوي، دا پیسې کیدای شي چې که څوک یا کومه خیریه ټولنه د بېوزلو هیوادونو او خلکو له پاره د مرستې غوښتنه وکړي، هلته به يې مناسب ځای وي چې ور کړل شي.»

دا وه د دوی ایډیا او نظریه، خو زما د وطن په باب د نورې دنیا خلک څه ډول فکر کوي؟ هغه به ډېرو هغو هیواد والو ته مالومه وي چې په نورو هیوادونو کې اوږده یا لنډه استوګنه لري. د ډنمارکي ژبې د ښوونکي له پاسني خاطرې علاوه زه هم لکه مریم جانې غوندې یوه ورځ له یوې داسې پیښې سره مخ شوم:

یوه ورځ مې له ونې نه پر لاره باندې رالویدلې غټه څانګه لرې کوله چې یوې سپین سرې ډنمارکۍ ښځې غږ را باندې وکړ:

ــ کیدای شي یوې پوښتنې ته مې ځواب راکړې؟

ــ ما ویل: څه مرسته در سره کولای شم؟

ــ د کوم ځای يې؟

ــ د افغانستان.

مخ يې بل اړخ ته واړاوه، په ځیره نا راضه لهجه يې را ته وویل:

ــ نه يې منم چې د جګړو او کرکو د وطن یو څوک دې له چا سره مرسته وکړي.دا په بنګیدو، بنګیدو په خپله مخه لاړه او زه...

او زه، خدای زده د چا د کړو ګناهونو په اور کې نیني شوم.

# قلم، ټوپک او چکچکي

زموږ پر وطن او خلکو چې کوم حالت راوړل شوی دی، له دې حالت نه هره ورځ بد خبرونه او منفي زيري راروان وي. د همدغو بدو پيښو او خبرونو په لړ کې مې څو ورځې وړاندې په میډیا کې د یوه افغان کوچني عکس تر سترګو شو چې د یوه عسکر کالي يې په تن وو، ما فکر وکړ چې بيا چا خپل کوچني ته دا جامې شوقي وراغوستې دي.

له ماشوم او کوچني سره مې عسکري جامې او ټوپک نه خوښېږي، نو پرته له دې چې د لیکنې جزیاتو ته يې پام وکړم، ور نه تېر شوم، خو د ۲۰۱۶ کال د فبرورۍ د میاشتې په څلورمه نېټه مې په تاند کې دا سر لیک تر سترګو شو:

**«هغه ماشوم چې ۳۴ ورځې د طالبانو پر ضد د جګړې قومانده په لاس کې لرله»**

ماشوم، د جګړې قومانده، هغه هم څلور دېرش ورځې، هک پک شوم او د مطلب لوستل مې پیل کړل.

لیکلي مطلب راته وویل چې:

د واصل احمد پلار او تره دواړه طالبان وو، د هغوی لار يې پرېښې وه او د دولت له مخالفت نه يې لاس اخیستی و، د واصل احمد پلار طالبانو و واژه، تره يې له محلي پولیسو سره مل او وسله يې واخیسته، واصل احمد هم د پلار د غچ اخستلو له پاره وسله وال شو. د واصل احمد تره له «CNN» تلویزیون سره په مرکه کې ویلي دي چې وروسته له جګړې واصل احمد ښوونځي ته لاړ او بیا په لاره کې د وسله والو له خوا و ویشتل او و وژل شو.

هغه څه چې نن سبا زموږ په ټولنه کې له ماشومانو او کوچنیانو سره کېږي، بېخي ډېره سلنه يې له محلي، ملي، مذهبي او نړیوالو قوانینو سره په ټکر کې دي. په نړیوالو قوانینو کې د ماشومانو د حقونو یادونه په جدیت سره شوې ده، خو زموږ په هیواد کې د بیلابیلو دلایلو په خاطر نه مراعاتېږي. د ماشومانو او کوچنیانو له پاره هغو قوانینو ته چې په نړیوالو کچه باید پامل‌رنه وشي، څو بېلګې يې دا دي:

ــ د بشر د حقونو د نړیوالي اعلامیې د پنځه ویشتمې (۲۵) مادې په دویم بند کې راغلي دي:

مینديې او ماشومان حق لري چې له ځانګړې پاملرنې څخه برخمن شي...

ـ د ملګرو ملتونو د ماشوم د حقوقو تړون د ۱۹۸۹ کال د نوامبر په شلمه تصویب شوی دی، د دې قانون ځینو هغو ټکو ته ستاسو پام را اړوم چې له دې موضوع سره نیغې اړیکې لري:

په لومړۍ ماده کې راغلي دي: ماشوم هغه چا ته ویل کیږي چې سن یې له اتلسو کلونو ټیټ وي،

د همدې قانون په دیارلسمه (۱۳) ماده کې راغلي دي چې ماشوم باید د بیان د آزادۍ حق ولري،

د تړون په اته ویشتمه (۲۸) ماده کې راغلي دي چې باید د زدکړو په برخه کې د ماشوم حق په رسمیت وپیژندل شي،

د تړون په دوه دیرشمه (۳۲) ماده کې راغلي دي: داسې دروند زورونکی کار ماشوم ته و نه سپارل شي چې جسمي او رواني ودې ته یې زیان ورسوي،

د تړون د اته دیرشمې (۳۸) مادې په څلورم بند کې راغلي دي: په جګړه ایزو حالاتو کې دولتونه مکلفیت لري چې ماشومان له جګړې لرې وساتي څو له جګړې څخه اغیزمن نه شي او هغوی ته د زیان رسیدلو مخنوی وکړي.

دغه راز ملګرو ملتونو د ۱۹۷۴ کال د دسمبر په څوارلسمې نیټې، د (۲۹) ۳۳۱۸ شماره پریکړه لیک سره مل په جګړه ایزو او اضطراري حالاتو کې د ښځو او ماشومانو د خوندي ساتلو له پاره ځانګړې سپارښتنې لري.

اول خو زموږ په ټولنه کې ډیری خلک له دې قوانینو څخه خبر هم نه دي، نو د تطبیق مسأله به یې څنګه څوک مطرح کړي؟

کوم مواد چې ما دلته موضوع پورې اړوند را نقل کړل، نه یوازې د قرباني شوي واصل احمد په برخه کې تطبیق شوي نه دي، بلکې د ټولو یادو موادو پر ضد عمل شوی دی. دولت نه یوازې د ملګرو ملتونو د ماشوم د حقوقو تړون (د ۱۹۸۹ کال د نوامبر په شلمه تصویب شوی دی) نه دی مراعات کړی، بلکې د ټولو ماشومانو او په تیره د دې وژل شوي ماشوم په برخه کې ګرم ځکه دی چې ویلی یې دي:

«افغان چارواکي هغه ماشوم اتل بولي چې طالبانو د دوشنبې په ورځ د اروزګان ولایت په مرکز ترینکوټ کې وواژه.»

د ماشومانو او کوچنیانو په باب د ملګرو ملتونو ټولو اعلامیو او قوانینو ته په کتو سره، لیدل کیږي چې د افغان ماشومانو او کوچنیانو په حق کې شوي تیري آن د بشري جنایتونو تر برید پورې رسیدلي دي، چې ښه نمونه یې همدا ماشوم جګړې ته لېږل، بیا یې وژل او بیا د افغان دولت او میډیا دریځ او هغه تائیدول.

که په جګړه کې د دې ماشوم د ګډون پر دلایلو خبرې وکړو، دا بیا جلا بحث دی. ځیني را پورونه وایي چې د پلار د غچ اخستلو په موخه یې سلاح اخیستې وه، ځیني بیا وایي چې نه د اقتصادي ستونزو له امله د محلي پولسو لیکو ته ورغلی و او...

زه فکر کوم، هغه چا چې په دې ماشوم ډزې کړې او ویشتلی یې دی، هغه یې قاتل نه دی، قاتل یې پر دې خلکو او وطن باندې راوړل شوي حالات دي، قاتل یې هغه څوک دی چې وسله یې په لاس ورکړې، قاتل یې هغه څوک دی چې د بریالیتوب له پاره یې ګلان په غاړه کې ور واچول او...

په هر ډول چې وي په جګړه کې د ماشوم ګډون توجه کېدای نه شي. د دې ریښې د افغانستان په جګړه کې باید ولټول شي. څنګه، چا افغانستان جګړې ته ور پورې واهه، څنګه د خلکو له نا پوهې، بیسوادي او فقر نه په استفادې سره یې دوی د اسلام د دفاع په نامه نیابتي جګړه کې ښکیل کړل، څنګه نیابتي جګړې ټول مادي او معنوي شته له دې خلکو نه واخیستل، څو نسلونه بیسواده او په داسې فکرونو وروزل شول چې اوس خپله جګړې ته منډې وروهي او پرته له جګړې نه یې طاقت نه کېږي، دا چا وکړل؟

«اوس پرې پوه شولې ولسه
دا د څه له پاره جنګ دی»

هر څه مالوم دي، خو موږ ځان نه ورباندې پوه کوو.

د ټوپکیانو په راتګ سره د ټول افغانستان هر څه د غنیمت په نامه لوټ کړای شول او اوس دغه ژوندي پاتې مخلوق داسې د پولې پرق ته کېنول شو چې مجبوراً خپل لس کلن ماشوم هم د جګړې ډګر ته لېږي. دا او دې ته ورته نور ګڼشمیر دلایل دي چې ماشوم، کوچني او نوي نسل ته پاملرنه، نه ده شوې. دغه نه پاملرنه د دې لامل شو چې دا حالت رامنځته شي.

دا دردونکی حالت خو اوس حاکم دی او داسې ژر او وړیا ور نه خلاصیدل هم نه شي کېدای، دې ماشوم غوندې او دې ته ورته قربانۍ به دا ټولنه او دا خلک مني. د افسوس بله برخه دا ده چې د دې ماشوم وژلو ته اوس دولت قهرماني وایي، ځینې یې غیرت بولي او په فیسبوک پاڼه کې یې لا د پاک شهید لقب هم ورکړ. زموږ دولت او با سوادان چې داسې کوي، نو له عامو او نا لوستو خلکو نه به بیا څه تمه لرو؟

ځینې بیا دومره په فرهنګي فقر باندې اخته دي چې د یوه معصوم ماشوم په جګړه کولو باندې ویاړي او په خوشالۍ سره یې څو ورځې په پر له پسې ډول د میډیا په پاڼو کې په فخر سره عکسونه او خبرونه ږدي. دا د فخر نه، بلکې د شرم خبره ده. د دې خبر خپرول پر نورو ماشومانو او کوچنیانو، د هغوی پر میندو پلرونو، کورنیو او ټولنې باندې څومره منفي اغیز ښندي، څومره یې لا جګړې او وحشت ته تشویقوي او څومره یې له ښوونځي، پوهنځي، تعلیم، قلم، کاغذ، کمپیوټر او نورو تعلیمي توکو نه لرې کوي؛ د قلم پر ځای یې د ټوپک خوا ته او د تعلیم په ځای یې د جګړې لوري ته تشویقوي. زه نه پوهیږم چې زموږ ټولنه او زموږ میډیا او زموږ سیاسیون په کوم لوري قدم اوچتوي؟

که زموږ په هیواد کې دا روان حالت له نورو هیوادونو سره مقایسه شي، د مځکې او اسمان په اندازه توپیر په کې لیدل کېږي. لرې نه له همدې پېښې سره په یوه وخت کې د ډنمارک په یوې ورځپاڼې (JV) (د ۲۰۱۶ کال د فبرورۍ پنځمه ګڼه) کې داسې یو خبر له عکسونو سره چاپ شو:

د وړکتون د ماشومانو یوې ساتونکې میرمنې د ورځنې پروګرام له مخې، څو ماشومان د باندې په چکر ایستلي وو، میرمنې ماشومان د یوه دکان مخې ته د لارې پر خوا کې یوازې پرېښي وو او خپله دکان ته ننوتې وه، کوم چا د ماشومانو عکسونه اخیستي وو او خبره یې میډیا ته را ووته. اوس کېدای شي چې دا میرمن د غفلت په خاطر له کاره وشړل شي او خبره یې محکمې ته ولېږل شي، خو زما په وطن کې؟

زه د نوي نسل د روزلو د یو پلوي په توګه، ماشومانو او کوچنیانو ته د ټولو ملي او نړیوالو نورمونو او قوانینو د تطبیق د یو غوښتونکي په توګه، دې ماشوم او دې غوندې نور ماشومانو او کوچنیانو ته په لیدو او دې ته ورته پیښنو ته په کتو سره وایم:

ټولو هغو اشخاصو او مراجعو چې په تشویقي ډول د دې ماشوم عکسونه او په جګړه کې د ګډون خبر خپور کړی دی او په بیلابیلو آدرسونو کې یې قهرمان، غیرتي او شهید بللی دی، په دې دې پوه شي چې د دوی دا کار دې ماشوم ته، د هغه کورنۍ ته او په تیره ټولو خلکو او ټولنې ته نه یوازې کوم مثبت شی یا ګټه په لاس نه ورکوي، بلکې دا په حقیقت کې له دې ماشوم سره، د وطن له راتلونکو نسلونو سره او په ټول کې له انسانیت سره جفا ده چې څوک ماشومان او کوچنیان جګړو ته هڅوي.

ماشومان او کوچنیان جګړې ته مه تشویقوئ، کتاب او قلم په لاس کې ورکړئ، وړکتون، ښوونځي او پوهنځي ته د تګ له پاره زمینه ور ته برابره کړئ.

د ټوپک کارولو او وسلې چلولو چم مه ورښیئ، د قلم د کارولو او د زدکړو د تر لاسه کولو پر لار یې سیخ کړئ،

ستاسو بچیان ستاسو راتلونکې ده، په خپل لاس خپلې راتلونکې او د وطن آینده ته اور مه ور اچوئ،

خپل وطن، خپل ګلشن او خپل راتلونکی نسل مه سوځوئ!

**«ماشومان ګلان دي، ګلان ښه وساتئ!»**

## «راتلونکی نسل بناد کړئ»

### (د نوی نسل نوې روزنه)

**نوی نسل هر کله داسې وي لکه اوبه، اوبه که تر مځکې لاندې هم وي، خپله لار باسي.**

نوي نسل باید د نوې زماني د نويو غوښتنو په دایره کې وروزل شي، د نويو زدکړو زمینه ورته برابره کړای شي، نه دا چې د پخوانۍ زماني د زدکړو په دایره کې وساتل شي او د یو څه زدکړې ته کینول شي. که داسې کار تر سره هم شي، هغوی خپل کار کوي.

نوی نسل نوې تکنالوژۍ نه په استفادې سره هر څیرې، هر څه کولای شي؛ نو ښه به دا وي چې ټول مشران، میندې پلرونه، د کورنۍ نور غړي، ښوونکي او ټول هغه کسان چې د نوي نسل په روزنه او لارښوونه کې، په یو ډول نه یو ډول رول لري، هغوی سره ښايي چې نوي نسل ته د خپلو مثبتو تجربو په رڼا کې په نوې بڼه او سمه خوا لارښوونه وکړي.

لاندې عکس ته وګورئ، دا تنکي زلمیان د قرآن کریم زدکړو ته کینول شوي، خو دوی سیپاره په غېږ کې داسې ناست دي چې ظاهراً د سیپارې د لوستلو تمثیل کوي:



دا هم نوی نسل، اوس دې څوک را واړوي

خو عملاً له نوي ټکنالوژۍ نه په استفادې سره بل څه کوي. سمه خبره خو دا ده چې مشرانو ته ښايي چې دواړو ته يې پرېږدي، خو د يوه ځانګړي پروګرام په چوکاټ کې دې دواړه زده کړي او هر يو دې په خپل وخت کې وکاروي.

که موضوع ته له دې اړخه پاملرنه وکړو چې ټولنه مو د دې له پاره وروسته پاتې ده چې زموږ ښوونه روزنه له کورنۍ او جوماتونه نیولې بیا تر ښوونځي او پوهنځي پورې نيمګړې ده، نو بايد په ښووونيز نظام باندې له سره غور او تجديد نظر وشي. هر څوک بايد په دې پوه شي چې ښوونيز نظام مو نيمګړی دی او بايد جدي او بيا ځلي پاملرنه ورته وشي. دلته به زه يو شعر د نمونې په ډول را واخلم چې ناقص ښوونيز نظام ښه په کې انځور شوی دی. دا شعر ښاغلي شاعر د «د ماشوم د ادبیاتو جشن» تر سر لیک لاندې د ۲۰۱۶ کال د مارچ د میاشتې په نولسمه نېټه، د جوړ شوې غونډې ګډون کونکو ته په خطاب کې ويلی دی. او تر ما پورې د ښاغلي عبدالهادي هادي له برکته را ورسيد. ما چې لټه پسې وکړه، هغه هم له «ملک ميرام ګل اکاډمي» نومي فيسبوک پاڼې نه خوښ کړی و. زما له پاره، نوي نسل ته د پاملرنې په پار مهم ښکاره شو، ځکه مې په خپل آرشيف کې خوندي کړ چې دا دی اوس يې تاسو درنو لوستونکو سره شريکوم:«

## راتلونکی نسل ښاد کړئ

تر څو چې الله داد رئيس په ښار، صبور جوماتونه کې
ماشوم به ترې خيرات کې

ملا عبدالصبور چوکه په لاس ولاړ جومات کې
غړمبېږی ټپ و ټاپ کې

وهل او ټکول زموږ کلتور، زموږ فرهنګ دی
په هر ماشوم قلنګ دی

معلم ته چې د زده کړې ښه منطق د لښتي لار وي
درسونه به بیګار وي

معلم او ملا نه دی مور او پلار هم ملامت دي
په درز او غرب عادت دي

شروع د نصيحت مو په ښکنځلو او رټلو
په رنګارنګ درلو

نو!! د دې جشنوارې کلانترانو ماماګانو
نظر مې دی مشرانو

ماشوم ته د ماشوم په اروا پوه معلم په کار دی
نن هر يو استا کار دی

په اووم کې به نو څنګه اوولس واړه کتابونه؟
را زده کړي سبقونه!!

نصاب کې د غیرت او ننګ تعریف ورته روښان کړئ
رښتیا ورته بیان کړئ

د امن سوکالۍ او ورورولۍ موضوعات ډېر کړئ
مات زړونه پرې کوشېر کړئ

چنې د مدرسې باندې ایکسل پاورپاینټ زده کړئ
او لوستې ورکوژده کړئ

ماشوم ته مو ټول عمر غړولې آللو ده
راپاتې له ببو ده

یو بله آللو د وېښېدو ورته په کار ده
همدغه سمه لار ده

نو! په غوږ کې له آذانه وروسته خپل وطن وریاد کړئ
راتلونکی نسل ښاد کړئ»

د دې پوست په پای کې د طنز په ژبه دا جمله هم ور اضافه شوې ده:

«نوټ:

د اکاډمۍ خالص تولید دی. له معارف سره د نامناسبه تړون په پار د ستر الله داد او ابوزاهد رسمي غبرګون هم ورسره ضمیمه کوو چې وايي:

ټول هغه ښوونکي دې خدای کسر معاش کړي چې د بل اولاد به خپل نه ګڼي.»

په دې ډول موږ ګورو چې د نوي نسل مخه هیڅ شی او هیڅوک نه شي بندولای، نو ښه به دا وي چې نوی نسل د نوي زماني د غوښتنو له مخې په نوې بڼه ورزول شي.

# چيرې چې ښوونځي نه وي

## د هغو خلکو او قوم تباهي
## ډيره نږدې ده چې له سواد، کتاب،
## مطالعې، تعليم، ښوونځي او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!

په ټوله نړۍ کې دا يوه منل شوې خبره ده چې: چيرې چې ښوونځی وي، هلته ډيوې وي، هلته رڼا وي او چيرې چې ښوونځی نه وي، هلته نه ډيوې وي او نه د رڼا څرک.

يو وار مې په کابل کې د بي بي سي د تعليمي پروژو (نوی کور، نوی ژوند) د خپرو کړو کتابونو له ډلې نه يو کتاب وليد چې عنوان يې و:

«چيرې چې ښوونځی نه شته»

دا کتاب مې واخست، له کابل نه مې اروپا ته، ډنمارک ته له ځان سره راوړو، ومې لوست، ګټور کتاب و او د لوستلو پر مهال مې ټولې هغه سيمې لکه بريښنا له نظره تيريدې چې د تورو غرونو ديوال ور نه را تاو و او له هغه ديوال نه بل خطر ناک د نا پوهۍ غير مريي ديوال مې هم ور نه را تاو ليده، چې هغه سيمې په کې را ګير دي.

دا چې چيرې ښوونځی نه وي، غميزه ده، خو اوس چې ميډيا ثابته کړې ده چې په همداسې سيمو کې لا يوه ښځينه ښوونځي هم نه شته. دا نو بايد داسې و انګيرل شي چې:

اوس خبره نوره هم پسې شړيدلې، چاړه له غوښې ور تيره او هډوکو ته رسيدلې ده.

اوس د ښوونځي د نه شتون کيسه پر ځای پاتې ده، خبره د ښوونځو نه شتون ته رسيدلې ده، مانا دا چې په افغانستان کې په ځانګړې ډول په ډيرو پښتني سيمو کې لا يوه ښځينه ښوونځي هم نه شته.

که يې د نه شتون په دلايلو پسې لټه وشي بيا هم دا خبره مخې راځي چې: «څه ژرنده پخه او څه غنم لامده» يعنې څه دولت جان؟ ملامت او څه هم د ټولنې او خلکو وروسته پاتېوالی. په دولت کې د ښې او سالمې ادارې نه شتون دا زمينه برابره کړيده چې معارف د قاتل او غله په لاس کې وي. د معارف پيسې د دولت لوړ پوړو چارواکو په بډه وهلې دي او د خلکو د نا پوهۍ غم، خلک د کوم شي په لومه کې را بند دي چې هغه غيرت؟ نومېږي. يعنې دې غيرتيانو دومره د غيرت په ډندونو کې لمبلې دي چې يوه ښځينه تنفس کونکې هم، ښونځي او پوهنځي ته د تلو په نامه له کوره د باندې نه پرېږدي؛ نو چې له کوره يې د باندې نه پرېږدي؛ ښونکی، ښونځی، پوهه او پوهنځی خو کور ته ورتلای نه شي.

نو وه ماما!

وه کاکا!

وه پلاره!

وه وروره! وه...!!!

زه څه دربانديې وکړم؟ «چې نه ځې په شا به دې کړم، چې نه خورې څه به دې کړم؟»

د ۲۰۱۶ کال د مې میاشتې پر دولسمه نیټه مې د بي بي سي په پښتو او فارسي ویبپاڼو کې دا سر لیکونه تر سترګو شول:

ـ پکتیکا یوه ښځینه ښوونکې هم نه لري،

ـ پکتیکا؛ ولایتي بدون معلم زن،

ـ د پکتیکا نژدې نیم میلیون وګړو ته یوازې یوه متخصصه ډاکټره،

ـ د تورخم دروازه نن په دویمه ورځ هم تړلې وه.

خدای حاضر دی خولې را باندې را ماتې شوې، وشرمیدم او ځان را ته له یوه سپین واښه نه هم سپک ښکاره شو. څه مې وکړه چې د «ځانسانسورۍ» په سلسله کې ځان غلی ونیسم او ځان تیرباسم، خو و نه توانیدم. ځان سره مې و ویل چې سړیه د دې په مسؤلیت کې خو ته هم شامل یې.

په پکتیکا کې د یوې ښځینه ښوونکې نه شتون، د لویې پکتیا یا لویې پکتیکا د نیم میلیون وګړو له پاره یوه ښځینه متخصصه او د دومره لویو او وړو ډله، ډله نا روغانو سره هم مهاله:

«د تورخم دروازه نن په دویمه ورځ هم تړلې وه.»

نو د لویې پکتیا دا لویوالی په څه شی کې دی چې د الف بې د زدکړې له پاره یو ښځینه ښوونکې او یو د عادي ناروغ له پاره ډاکټر نه شته. داسې نه ده چې د هغې سیمې د ښځینه وو سرونه له وښو ډک دي او څه نه شي زده کولای، نه هغوی د «غیرت؟» په نامه له کوره د باندې نه پرېښودل کېږي چې څه زده کړي، بیا ښونکې او ډاکټر ورنه جوړ شي.

دلته دی چې دا ثابتېږي چې غیرت او لویوالی یعنې د ښځینه مخلوق په کور کېنول، له سواد او تعلیم نه یې را ستنول او بیا پر ټولو مریضانو باندې د غیرت د بې غیرتۍ تور ټیکری غوړول، پردې ملک ته یې بیول او د تداوی له پاره هغوی ته هم پیسې ورکول، هم غاړه ورته ږدول او هم زارۍ ورته کول، دا شو غیرت!!

د غیرت د توري پاسنۍ تفسیر نور نا سم دی، اوس زمانه بدله شوې، هر څه بدل شوي دي، له تکنالوژۍ سره افکار او عیني ژوندون هم بدلون موندلی دی؛ موږ ته هم اړینه ده چې د زمانې له بدلون سره ځان بدل کړو، د پخواني غیرت او پخوانیو افکارو له دایرې نه ځان را وباسو. دا غیرت نه دی چې موږ خپل نوی نسل، په تیره نجونې له زدکړو را ستنوو. د اوسنۍ زمانې له غوښتنو سره سم غیرت باید داسې تعریف شي:

**په هره کورنۍ کې چې ډېر تعلیم کړي ځوانان او پیغلې وي، هغه کورنۍ تر ټولو نورو دا غیرتي کورنۍ ده.**

خو موږ دا څو پېړۍ لګیا یو د نا پوهۍ د تورو افکارو په دایره کې خپلې«ښځګلي» له زدکړو او تعلیم نه را ستنوو او هغه ته د غیرت نوم ورکوو.

زما وړاندیز خو دا دی چې:

ــ که د غیرت له نیلي نه را کوز شو او د سواد زدکړې، تعلیم ، ښونځي او پوهنځي دروازې وټکوو، دا به ډیره ښه وي،

ــ د لویې پکتیا له ډیر تکرار نه که لږ را ټیټ شو او د واړه ښونځي په حویلۍ کې د یو عادي سواد توری تکرار او زده کړو او خپل بچي د ښوونځي په لور ولېږو، څه موده وروسته به مو په کلي کور او ښار کې د ښونکو او ډاکترانو ډلې ګرځي،

ــ د لویوالي او غیرت له دنګو منارو نه باید را ښکته شو او د تعلیم په واړه انګړ کې د سواد او پوهې ګدایي وکړو. دا به ډیره ښه وي، دا د رڼا پر لوري قدم اوچتول دي.

د غیرت مانا داسې نه ده چې څوک د خپلې کورنۍ ښځینه مخلوق له درس، تعلیم، ښوونځي او پوهنځي نه را وګرځوي، که له رواني پلوه او څه چې زموږ په تاریخ کې موږ ته زموږ جغرافیایي موقعیت او زموږ د ټولنې وروسته پاتېوالي، د غیرت په نامه را په برخه کړي دي، کیدای شي هغه داسې تعریف شي:

«... افغانانو د خپل سیاسي اقتصادي موقعیت له امله خپل ناموسي حریم (ښځینه او کوچنیان)، عقیدوي حریم (مقدس ارزښتونه) اقتصادي حریم (زمکه ، کور او څاروي) له ګواښ سره مخامخ لیدل، د همدې لپاره به یې ټول عمر د دغو مهمو حریمونو د ساتلو لپاره د (غیرت) حس او غریزه عمومي کوله.

د اروا پوهنې له نظره غیرت د خصوصي حریم د ساتلو عقده او پټ ځواک دی چې د تاوتریخوالي لپاره غبرګوني ځواک رامنځته کوي. د غیرت غوښتنه دا وه چې د حریم ساتلو لپاره باید وسله په لاس کې وي، په دې توګه وسله د غیرت نښه وګڼل شوه او په وسله سنبال نارینه تر ټولو غیرتي نارینه ګڼل کېده.»

سره له دې چې ما د نوي نسل د روزلو په موخه د خپلو لیکلو مقالو په ډیرو برخو کې، د دې غمیزې له پیښیدو او رسوا کیدو نه لا پخوا، دې موضوع ته اشاري کړې وې. ما (آصف بهاند) د ۲۰۱۰ کال په نهمه میاشت کې د «اور او ګلان» تر سر لیک لاندې مقاله خپره کړه او په هغې مقالې کې مې دې موضوع ته ګوته نیولې وه چې که ښونځي او تعلیم نه وي، پایله به یې څه وي. څو کرښې یې دا دي:

«وګورئ ! که ښه حقیقت ته ځیر شو، بهرنیو هیوادونوته یې د کفر له ډاره نه لیږو، د وچوغرو لمن کې د قهریدلي شنه یا وریځ آسمان تر چتر لاندې، یا د پسونو، وزو او خرو په لکۍ پسې ټول عمر تیرولو سره خو د نوي عصر، نوي علوم زده کیدای نه شي او کله چې مو نوي علوم او فنون زده نه وي، نو له تمدن سره به بیګانه او له کاروان څخه به یې ډیر وروسته پاتې اوسو، بیا نو نه پښتنو ته څه کولای شو او نه هم پښتو او نه هم پښتني فرهنګ ته.

له بده مرغه زموږ ښوونځي د کفر په تور یا سوځول کېږي او یا الوزول کېږي، ښوونکي او زده کوونکي مو یا په ډزو ویشتل کېږي یا حلالېږي او یا په دار ځړول کېږي. پښتنو د «نوکالج، نونالج» علمي مسأله هیره کړې ده. پخوا به روسي سکاد راکټ هم په پښتني سیمو لګیده او اوس بې دوه پنځوس ډوله الوتکه هم په پښتني سیمو بمونه غورځوي او وايي چې موږ اسامه لټوو، امریکایانو ستن په کاهدان کې اچولې او وايي چې موږ ستن لټوو. همدا اوس د جګړې ټول زور په پښتني سیمو او پښتنو باندې دی، آ خوا هم پښتون وژل کېږي او دا خوا هم.

دغه راز له بده مرغه زموږ د دوديزې ټولنې وياړ د علم او تمدن په ارابه پسې ځغاستل نه دي، بلکې د دين په لمن پورې زوړنديدل دي، دا خبره د دې مانا نه لري چې په علم پسې تلل دې د دين د هيرولو په مانا وانګيرل شي. خپله ديندارې به هم کوو او د علم زده کړه به هم نه هيروو.»

خو بيا هم بايد غلې کيننو او د خپل مسوليت د بار د دروند والي په اندازه يو څه ووايو او يو څه وکړو، که بل څه نه شو کولای، حد اقل خپل غږ خو وباسو.

په همدې سوچونو کې ډوب وم او پانې مې اړولې، چې په فيسبوک کې د تعليم د عاميدو د يو لوی پلوي، ښاغلي رحمت الله تنها يو ليکلی مطلب مخ ته راغی چې د غيرتيانو؟ پر ناسمو او کږو لارو باندې د تنګ انځور په کې ايستل شوی او په استادانه ډول نقد شوی هم و.

دغو غيرتيانو؟ ته د قلموالو، روڼ اندو او چيز فهمه قشر خولې او ستونې وشکيدل چې د خدای پار دی د غيرت په دغه ډنډ کې خوسا کېږئ، ورنه را ووزئ، خو چا ته وايې. د همدې چيغو، نارو، سورو يوه بيلګه د استاد تنها خبرې دي چې د همداسې خلکو په ادرس يې ليکلې دي، دا يې بشپړ متن دی:

«پښتون لالا غږ مې اورې که د اسرافيل شپېلی درته وغږوم؟؟؟

زما استاد ډاکټر صيب غوري وايي په لويه پکتيا کې پوهنتونونو ته څېرمه د نجونو ښايسته او نوې ليليې جوړې شوې، خو يوه پښتنه پېغله په بسم الله نه پکې پيدا کېږئ، ټول د لرو پرتو سيمو ازبکې، تاجکې او هزاره خويندې محصلينې پکې اوسي، همدا حالت په لوی کندهار او لوی ننګرهار هم حاکم دی. دا تاجکې، ازبکې او هزاره پيغلې به فارغې سي، خپلو کليو ته به ولاړې سي، هلته به نورې پيغلې تحصيل ته وهڅوي، بلاخره به دا سيمې ټولې باسواده سي، له معلمه نيولې تر ډاکټر او انجنير به ټولې پکې وي خو ستا پيغله به په خوشايو کې پيدا، په خوشايو کې را لويه او په غوجله کې مړه سي. دا ټول ځکه چې ته غيرتي يې او خپل پت، غيرت او شمله د خوشايو په سمبالښت کې وينې!

پښتونه! ايکې يوه لسيزه دې بله هم پکار ده، نور له خيره سره نابود يې، تباه يې، برباد يې، دا د ننګ او غيرت شمله به دې ډېر ژر له سره را کښته او د جواليتوب په پار تر ملا وتړې.

مړه دې وي بېغرته غيرتيان!»

خو پښتون غيرتي يې نه اورې، ښاغلي تنها له دې نه هم په تنده لهجه حقيقت په عين آدرس په مخ کې ورته ايښی دی، وګورئ:

« دووس خو نو ښکر نه لري!

په خپل کور او کلي کې ښوونځي او پوهنځي ته تلونکې نجلی فاحشه او کافره ګڼې خو خپله ناروغه تور سرې يې بيا په لاس ګاډي کې د تورخم پر پوله پکيستاني ډاکټر ته ور روانه کړې وي،

مړه دې وي بېغرته غيرتيان!»

سره له دې چې د دوی په اصطلاح مسلمان ورور؟ پاکستاني دا دوې که درې ورځې د تورخم دروازه ورته تړلې ده او د غيرتي پښتون مريضه ښځه، بوډا پلار او په نسناستې خوارځواکی اخته ماشوم د تړلې دروازې تر شا د پاکستاني مليشه رحم ته خوله جينګه، جينګه کوي، خو خپله خور، خپله لور او خپله لمسۍ د غيرت په وجه درس ته نه پرېږدي او د خپل جهالت له مخې نه غواړي چې په خپل کور، کلي او ښار کې يې ډاکترانې، نرسانې او ښوونکې و روزل شي

چې دی خپله او د ده غیرت له سوال زارۍ او مرګ نه خلاص شي، نه! ده ته له هر څه نه خپل غیرت ډیر عزیز دی او ارزښت ور ته لري.

غیرتي لالا؟ د غیرت منارې لوړوي، تر سیوري لاندې یې ډانګ په لاس کیني، خور، لور او لمسۍ له تعلیم، ښوونځي او پوهنځي نه را ګرځوي او په دې ډول په خپل کور کلي او ښار کې د ډاکترانو، ښوونکو او... مخه نیسي؛ چې غیرت یې داغداره نه شي، خو بله ورځ یې خپله مریضه ښځه، خپله مریضه مور او نا روغه لور په شا کړي وي او پردیو ډاکترانو ته یې د مداوا له پاره په عذرونو سره ورولي، خو هغوی یې دروازې پر مخ ور تړي.

دا هم د غیرت پایله!!!

**د هغو خلکو او قوم تباهي**
**ډیره نږدې ده چې له سواد، کتاب،**
**مطالعې، تعلیم، ښوونځي او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!**

# پنځم کال دې بختور وي

# «د ماشومانو د ادبیاتو کور»

# پنځمه کلیزه



د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په لومړۍ نیټه، «د ماشوم د ادبیاتو کور» د خپلې پنځمې کلیزې زیرې د فیسبوک د پاڼو له لارې، په دې تورو سره تر خپلو دوستانو پورې ورساوه:

«درنو لوستونکو!

ټاکل شوې چې د افغانستان د ماشومانو د ادبیاتو کور خپله پنځمه کلیزه ونمانځي. په تېر یو کال کې د همدغې فیس بوک پاڼې له لارې تاسې زموږ له فعالیتونو هم خبر شوي یاست، نو زموږ د کارونو په اړه ستاسې نظر څه دی؟ هیله ده را سره یې شریک یې کړئ.

درنښت»

«د ماشوم د ادبیاتو کور» مسؤل ښاغلي اجمل تورمان د کور د نورو غړو په استازیتوب لا پخوا د دې کلیزې او دې جشن په باب داسې ویلي وو:

«درنو لوستونکو او د ماشومانو د ادبياتو کور محترمو غړو!

خوشحاله يم چې د ماشومانو د ادبياتو کور د مسؤل په توګه په لنډه موده کې چې لا يې په رسمي ډول د خپلې يو کلنۍ کيک نه دی پرې کړی هم ستاسې په وړاندې پېر نه يم او د ماشومانو لپاره مو دومره څه کړي چې يوې مسؤلې دولتي ادارې به هم نه وي کړي.

کور له تېرو څلورو کلونو را په دېخوا د ماشومانو د ادبياتو په برخه کې فعاليت لري خو لکه څنګه مې چې وويل شول له رسمي فعاليت څخه يې لا يو کال نه اوړي.

مونږ په تشو لاسونو هغه څه کړي چې ډېريو ښايي په ډکو جيبونو نه وي کړي.

په دې اړه تفصيل به بيا د ماشومانو د ادبياتو د کور د کليزې په مناسبت له تاسې سره شريک کړم.

خو مشت نمونه خروار د کور رسمي فيس بوک پاڼه يې ښه ثبوت دی چې هيله من يم ګرانو ماشومانو خوښه کړې وي.

غواړم په دې توګه له خپلو درنو همکارانو هم مننه وکړم چې په هر حال کې يې کار ته نه، نه دي ويلي او په يو ډول د لا نورو کارنو لپاره هم وهڅول شي.

له ټولو هغو رسمي او غير رسمي ادارو او اشخاصو هم مننه چې د ماشومانو د ادبياتو د ودې او پراختيا په هدف چې زمونږ يواځنۍ موخه ده مرسته راسره کوي.

اوس همدومره

يار زنده صحبت باقي

د ماشومانو د ادبياتو د کور مسؤل

اجمل تورمان

۲/۲۸ /۱۳۹۵ کابل»



د ډېر وياړ او خوشالۍ ځای دی چې زموږ په هيواد کې، زموږ په ټولنه کې د نوي نسل د روزلو يوه پټه او يو اميد دومره شو چې اوس خپله پنځمه کليزه په خپله لمانځي او «د ماشوم د ادبياتو کور» په ماشومه ژبه، په هوښياری او په وياړ سره وايي:

ـ دا دی زه پنځه کلن شوم،

ـ په خپل پنځه کلن مزله کې مې دغومره کارونه کړي او هر پل مې د انسان له پاره، د افغان له پاره، د ماشوم له پاره، د کوچني له پاره او د راتلونکي نسل له پاره اوچت کړی دی،

ـ هم خوشاله يم، هم په خپلو تر سره کړو کارونو وياړم،

ـ د خپلو مشرانو او خپلې ټولنې او خپل تاريخ د مثبتو تجربو په رڼا کې غواړم پر همدې لارې باندې له نوي تکنالوژۍ نه په استفادې سره، د نوي ژوند له کاروان سره ګام په ګام مخ پر وړاندې ولاړ شم.

ما لا پخوا او تر ټولو مخکې يو کال وړاندې «د ماشوم د ادبياتو کور» په باب خپل نظر ځرګند کړی او خپل مسؤليت مې تر سره کړی دی؛ ما کولای شول چې هسې په يوې عادي مبارکۍ بسنه وکړم، خو نه، زه داسې نه کوم او بيا هم غواړم چې د دې بختورې کليزې په مناسبت، ماشومانو او کوچنيانو ته د لا پاملرنې په پار او د نوي نسل روزلو ته د لا جدي توجو په خاطر ځو کرښې وليکم:

ښايي زه به لومړی شخص وم چې د کوچنيانو د ادبياتو د دې پټي (د ماشوم د ادبياتو کور) په باب ما د خپلې علاقې پر اساس د خپلو لاس لرلو موادو او معلوماتو په رڼا کې په مفصل ډول مقالې ليکلی دي. ما تقريباً يو کال مخکې «د ماشوم د ادبياتو کور» تر سر ليک لاندې يوه ښايسته اوږده مقاله وليکله او هماغه وخت مې په شپږو برخو کې په:

ـ تاند پل دات کام،

ـ نهيمي دات ډي کا،

ـ افغان جرمن آنلاين کې خپره کړه.

په ياده مقاله کې ما په مستند ډول «د ماشوم د ادبياتو کور» په جوړيدو او په دولتي ادارو کې يې منظوريدل او په رسمي ډول يې د کار او فعاليت باندې پيل کولو پر ځرنګوالي او تاريخچه باندې خبرې کړې دي. د دې بنسټ عملي فعاليتونه مې په نښه کړي دي او له خپلو تجاربو نه په استفادې سره مې اړيني مشورې، هم په شفاهي ډول او هم په ليکلې بڼه، «د ماشوم د ادبياتو کور» له مسؤلينوسره شريکې کړې دي. زما د ليکلې او خپرې کړې مقالې په يوه برخه کې داسې راغلي دي:

«د ماشوم د ادبياتو کور» په نوي زمانه کې، د نوي ميديا په دايره کې، زموږ د نوي متعهد نسل نوې تجربې دي چې د زړه په وينو او خپلو مادي امکاناتو يې چلوي او د راتلونکي ژوند د نوي ارابې (ماشومان، کوچنيان) د پياوړې کولو او پر مخ بيولو له پاره، په اساسي ډول کار کوي.

زما هيله دا ده چې دا هڅې او دا تجربې د تيرو نسلونو او فرهنګيانو د مثبتو تجربو په رڼا کې د نوي تمدن له کاروان سره موازي پر مخ ولاړې شي او نورې هم پسې غني او عملي شي.»

ما په هغې مقالې کې، په هغه وخت کې د خپلو معلوماتو په دايره کې درنو لوستونکو ته خپل معلومات او نظر وړاندې کړی وو، درانه لوستونکي کولای شي ښودل شوو مآخذونو ته په مراجعې سره يې په مفصل ډول ولولي.

اوس د دې وخت را رسېدلی دی چې نور قلموال او په ټول کې فرهنګیان د نوي نسل د روزلو مسؤلیتونو ته په کتو سره خپل مسؤلیتونه درک، خپل نظرونه څرګند او په عملي ډول په دې لار کې قدمونه اوچت کړي او تر ټولو مخکې د نوي نسل د روزلو او د ماشومانو او کوچنیانو د دغې بلې شوې ډیوې (د ماشوم د ادبیاتو کور) د ژوندۍ ساتلو او لا ځلیدلو له پاره مادي او معنوي مرستې وکړي.

دا څو لاندنۍ جملې مې «د ماشوم د ادبیاتو کور» له پاره د پخوا خپرې کړې مقالې په کومه برخه کې لیکلې وې، او دلته یې «د ماشوم د ادبیاتو کور» د بختورې پنځمې کلیزې په ارتباط یو ځل بیا را اخلم:

د ماشومانو، کوچنیانو او په ټول کې د نوي نسل د روزلو په برخه کې زموږ د ټولو مسؤلیت دا دی چې: موږ باید له ځان نه وروسته، د اوسنۍ زماني له غوښتنو سره سم یو باسواده، چیز فهمه، په نویو علومو پوه، له نوي عصر سره پخلا او له نوي تکنالوژۍ سره ځنګ په ځنګ تلونکی نسل پرېږدو، نه داسې نسل چې فکراً په زر کاله پخوا زمانه کې ژوند وکړي او فزیکي شتوالی یې په اوسنۍ زمانه کې وي او د مغزو د فعالیت پر ځای یې د معدې فعالیت ډېر وي.

په هر صورت، ټول هدف په نوي بنه، د نوي نسل روزل دي او دې هدف ته د رسیدو له پاره «د ماشوم د ادبیاتو کور» خپله دنده تر هیلې او اندازې زیاته تر سره کړې ده او د همدغو بریالیتوبونو په رڼا کې په ویاړ سره خپله پنځمه کلیزه لمانځي.

دا بختوره کلیزه دې په لومړي سر کې ټولو ماشومانو او کوچنیانو ته مبارکه وي،

بیا دې ټولو افغانانو ته مبارکه وي،

ور پسې دې ټولو هغو قلموالو ته چې د ماشومانو او کوچنیانو او نوي نسل د روزلو له پاره فعالیت کوي،

بیا د «د ماشوم د ادبیاتو کور» ټولو مسؤلینو ته مبارکه وي،

او په پای کې دې په خاص ډول ما ته هم مبارکه وي.

# د تعلیم ارزښت

## د هغو خلکو او قوم تباهي ډېره نږدې ده چې
## له سواد، کتاب، مطالعې، تعلیم، ښونځي
## او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!

د ۲۰۱۷ عیسوي کال د فبرورۍ په دریمه نیټه په میډیا کې له پکتیکا څخه د هغې یوازینۍ متخصصې ډاکترې د بیرته وتلو خبر خپور شو چې د هغې سیمې د نیم میلیون وګړو له پاره یې د «ایک انار، سو بیمار» په ډول کار کاوه، دا چې د خلکو دې خدمتګارې په پکتیکا کې خپله دنده د کومو دلایلو او ستونزو له مخې ودرلوله او یا بیرته ورځي که نه ورځي، زه نه پرې غږېږم، دلته اصلي پوښتنه دا ده چې، په داسې یوه سیمه کې چې نیم میلیون وګړي په کې ژوند کوي، ولې په دې نیم میلیون وګړو کې یوه ډاکتره نه شته، سم ښونځی نه شته، یوه ښځینه ښونکې نه شته او ولې دا سیمه او د دې سیمې خلک له تعلیم سره داسې مرور دي، دلایل به یې کوم وي؟

سره له دې چې په لسګونو ځلې نه، په سلګونو ځلې هم نه، بلکې په زرګونو ځلې د مطالعې، زدکړو اوتعلیم مهم والی په نظري او عملي ډول ثابت شوی دی، خو زموږ ځینې هیوادوال بیا هم خپلې لوڼې او زامن ښوونځي ته له تګ نه منع کوي.

ما (آصف بهاند) پاسنیو ستونزو ته په پام سره، د ۲۰۱۶ کال په پنځمه میاشت کې د «چیرې چې ښوونکی نه وي» تر سر لیک لاندې یوه مقاله ولیکله او په تاند او افغان جرمن آنلاین کې د یادې میاشتې په دیارلسمې نیټې خپره کړه. په دې مقاله کې د همدې میرمنې یادونه هم شوې ده او ځینو نورو تعلیمي ستونزو او د زدکړو او ښوونځي پر ارزښت او مهم والي هم خبرې شوې دي. اوس غواړم د نیم میلیون وګړو د یوازینۍ ډاکترې د مرورتیا او پخلاینې په مناسبت یو ځل بیا دا مقاله د درنو لوستونکو مخې ته کېږدم، ګوندې یو وار یې سترګې پرې ولګېږي او د تعلیم ارزښت ته یې پام شي:

### چیرې چې ښوونکی نه وي

د هغو خلکو او قوم تباهي ډېره نږدې ده چې
له سواد، کتاب، مطالعې، تعلیم، ښونځي
او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!

په ټوله نړۍ کې دا یوه منل شوې خبره ده چې: چیرې چې ښونکی وي، هلته ډیوې وي، هلته رڼا وي او چیرې چې ښونکی نه وي، هلته نه ډیوې وي او نه د رڼا څرک.

یو وار مې په کابل کې د بي بي سي د تعلیمي پروژو(نوی کور، نوی ژوند) د خپرو کړو کتابونو له ډلې نه یو کتاب ولید چې عنوان یې و: «چیرې چې ښوونځی نه شته» دا کتاب مې واخست، له کابل نه مې اروپا ته، ډنمارک ته له ځان سره راوړو، ومې لوست، ګټور کتاب و او د لوستلو پر مهال مې ټولې هغه سیمې لکه برېښنا له نظره تیرېدې چې د تورو غرونو دیوال ور نه را تاو و او له هغه دیوال نه بل خطر ناک د نا پوهۍ غیر مرئي دیوال مې هم ور نه را تاو لیده، چې هغه سیمې په کې را ګیر دي.

دا چې چیرې ښونځی نه وي، غمیزه ده، خو اوس چې میډیا ثابته کړې ده چې په همداسې سیمو کې لا یوه ښځینه ښوونکې هم نه شته. دا نو باید داسې و انګیرل شي چې:

اوس خبره نوره هم پسې شرېدلې، چاړه له غوښې ور تیره او هډوکو ته رسیدلې ده.

اوس د ښوونځي د نه شتون کیسه پر ځای پاتې ده، خبره د ښونکو نه شتون ته رسیدلې ده، مانا دا چې په افغانستان کې په ځانګړي ډول په ډیرو پښتني سیمو کې لا یوه ښځینه ښونکې هم نه شته.

که یې د نه شتون په دلایلو پسې لټه وشي بیا هم دا خبره مخې راځي چې: «څه ژرنده پخه او څه غنم لامده» یعني څه دولت جان؟ ملامت او څه هم د ټولنې او خلکو وروسته پاتې والی. په دولت کې د ښې او سالمې اداری نه شتون دا زمینه برابره کړیده چې معارف د قاتل او غله په لاس کې وي. د معارف پیسې د دولت لوړ پوړو چارواکو په بډه وهلې دي او د خلکو د نا پوهۍ غم، خلک د کوم شي په لومه کې را بند دي چې هغه غیرت؟ نومیږي. یعنې دې غیرتیانو دومره د غیرت په ډندونو کې لمبلي دي چې یوه ښځینه تنفس کونکې هم، ښونځي او پوهنځي ته د تلو په نامه له کوره د باندې نه پریږدي؛ نو چې له کوره یې د باندې نه پریږدي؛ ښونکی، ښونځی، پوهه او پوهنځی خو کور ته ورتلای نه شي.

نو وه ماما! وه کاکا! وه پلاره! وه وروره! وه...!!! زه څه درباندې وکړم؟ «چې نه ځې په شا به دې کړم، چې نه خوري څه به دې کړم؟»

د ۲۰۱۶ کال د مې میاشتې په دولسمه نیټه مې د بي بي سي په پښتو او فارسي ویبپاڼو کې دا سر لیکونه تر سترګو شول:

ــ پکتیکا یوه ښځینه ښونکې هم نه لري،

ــ پکتیکا؛ ولایتی بدون معلم زن،

ــ د پکتیکا نژدې نیم میلیون وګړو ته یوازې یوه متخصصه ډاکتره،

ــ د تورخم دروازه نن په دویمه ورځ هم تړلې وه.

خدای حاضر دی خولې را باندې را ماتې شوې، وشرمیدم او ځان را ته له یوه سپین واښه نه هم سپک ښکاره شو. هڅه مې وکړه چې د «خود سانسورۍ» په سلسله کې ځان غلی ونیسم او ځان تیرباسم، خو و نه توانیدم. ځان سره مې و ویل چې سړیه د دې په مسؤلیت کې خو ته هم شامل یې.

په پکتیکا کې د یوې ښځینه ښونکې نه شتون، د لویې پکتیا یا لویې پکتیکا د نیم میلیون وګړو له پاره یوه ښځینه متخصصه او د دومره لویو او وړو ډله، ډله نا روغانو سره هم مهاله:

«د تورخم دروازه نن په دویمه ورځ هم تړلې وه»

نو د لويې پکتيا دا لوی والی په څه شی کې دی چې د الف بې د زدکړې له پاره یو ښځینه ښوونکی او یو د عادی ناروغ له پاره ډاکتر نه شته. داسې نه ده چې د هغې سیمې د ښځینه وو سرونه له وښو ډک دي او څه نه شي زده کولای، نه هغوی د «غیرت؟» په نامه له کوره د باندې نه پرېښودل کیږي چې څه زده کړي، بیا ښونکی او ډاکتر ور نه جوړ شي.

دلته دی چې دا ثابتیږي چې غیرت او لوی والی یعني د ښځینه مخلوق په کور کینول، له سواد او تعلیم نه یې را ستنول او بیا پر ټولو مریضانو باندې د غیرت د بې غیرتۍ تور ټیکری غوړول، پردي ملک ته یې بیول او د تداوۍ له پاره هغوی ته هم پیسې ورکول، هم غاړه ور ته پټول او هم زارۍ ور ته کول، دا شو غیرت!!

د غیرت د تورې پاسنی تفسیر نور نا سم دی، اوس زمانه بدله شوې، هر څه بدل شوي دي، له تکنالوژۍ سره افکار او عیني ژوندون هم بدلون موندلی دی؛ موږ ته هم اړینه ده چې د زماني له بدلون سره ځان بدل کړو، د پخواني غیرت او پخوانیو افکارو له دایرې نه ځان را وباسو. دا غیرت نه دی چې موږ خپل نوی نسل، په تیره نجونې له زدکړو را ستنوو. د اوسنی زماني له غوښتنو سره سم غیرت باید داسې تعریف شي: په هره کورنۍ کې چې ډېر تعلیم کړي ځوانان او پیغلې وې، هغه کورنۍ تر ټولو نورو دا غیرتي کورنی ده.

خو موږ دا څو پیړۍ لګیا یو د نا پوهۍ د تورو افکارو په دایره کې خپلې«ښځګلې» له زدکړو او تعلیم نه را ستنوو او هغه ته د غیرت نوم ورکوو.

زما وړاندیز خو دا دی چې:

ـ که د غیرت له نیلي نه را کوز شو او د سواد زدکړې، تعلیم ، ښونځي او پوهنځي دروازې وټکوو، دا به ډېره ښه وي،

ـ د لويې پکتيا له ډېر تکرار نه که لږ را ټیټ شو او د واړه ښونځي په حویلۍ کې د یو عادي سواد تورې تکرار او زده کړو او خپل بچي د ښوونځي په لور ولیږو، څه موده وروسته به مو په کلي کور او ښار کې د ښونکو او ډاکترانو ډلې ګرځي.

ـ د لویوالي او غیرت له دنګو منارو نه باید را ښکته شو او د تعلیم په واړه انګړ کې د سواد او پوهې ګدایي وکړو. دا به ډېره ښه وي، دا د رڼا پر لوري قدم اوچتول دي.

د غیرت مانا داسې نه ده چې څوک د خپلې کورنۍ ښځینه مخلوق له درس، تعلیم، ښوونځي او پوهنځي نه را وګرځوي، که له رواني پلوه او څه چې زموږ په تاریخ کې موږ ته زموږ جغرافیاي موقعیت او زموږ د ټولنې وروسته پاتې والي، د غیرت په نامه را په برخه کړي دي، کیدای شي هغه داسې تعریف شي:

«... افغانانو د خپل سیاسي اقتصادي موقعیت له امله خپل ناموسي حریم (ښځینه او کوچنیان)، عقیدوي حریم (مقدس ارزښتونه) اقتصادي حریم (زمکه ، کور او ځاروي) له ګواښ سره مخامخ لیدل، د همدې لپاره به یې ټول عمر د دغو مهمو حریمونو د ساتلو لپاره د (غیرت) حس او غریزه عمومي کوله.

د اروا پوهنې له نظره غیرت د خصوصي حریم د ساتلو عقده او پټ ځواک دی چې د تاوتریخوالي لپاره غبرګوني ځواک رامنځته کوي. د غیرت غوښتنه دا وه چې د حریم ساتلو لپاره باید وسله په لاس کې وي، په دې توګه وسله د غیرت نښه وګڼل شوه او په وسله سنبال نارینه تر ټولو غیرتي نارینه ګڼل کېده.»

سره له دې چې ما د نوي نسل د روزلو په موخه د خپلو ليکلو مقالو په ډېرو برخو کې، د دې غميزې له پېښېدو او رسوا کېدو نه لا پخوا، دې موضوع ته اشارې کړې وې. ما(آصف بهاند) د ۲۰۱۰ کال په نهمه مياشت کې د «اور او ګلان» تر سر ليک لاندې مقاله خپره کړه او په هغې مقالې کې مې دې موضوع ته ګوته نيولې وه چې که ښونځي او تعليم نه وي، پايله به يې څه وي. څو کرښې يې دا دي:

«وګورئ ! که ښه حقيقت ته ځير شو، بهرنيو هيوادونوته يې د کفر له ډاره نه ليږو، د وچوغرو لمن کې د قهريدلي شنه يا وريځ آسمان تر چتر لاندې، يا د پسونو، وزو او خرو په لکۍ پسې ټول عمر تيرولو سره خو د نوي عصر، نوي علوم زده کيدای نه شي او کله چې مو نوي علوم او فنون زده نه وي، نو له تمدن سره به بيګانه او له کاروان څخه به يې ډير وروسته پاتې اوسو، بيا نو نه پښتنو ته څه کولای شو او نه هم پښتو او نه هم پښتني فرهنګ ته.

له بده مرغه زموږ ښوونځي د کفر په تور يا سوځول کيږي او يا الوزول کيږي، ښوونکي او زده کوونکي مو يا په ډزو ويشتل کيږي يا حلاليږي او يا په دار ځړول کيږي. پښتنو د «نوکالج، نونالج» علمي مسا له هيره کړې ده. پخوابه روسی سکاد راکټ هم په پښتني سيمو لګيده او اوس بې دوه پنځوس ډوله الوتکه هم په پښتني سيمو بمونه غورځوي او وايي چې موږ اسامه لټوو، امريکايانو ستن په کاهدان کې اچولې او وايي چې موږ ستن لټوو. همدا اوس د جګړې ټول زور په پښتني سيمو او پښتنو باندې دی، آ خوا هم پښتون وژل کيږي او دا خوا هم.

دغه راز له بده مرغه زموږ د دوديزې ټولنې وياړ د علم او تمدن په ارابه پسې ځغا ستل نه دي، بلکې د دين په لمن پورې زوړنديدل دي، دا خبره د دې مانا نه لري چې په علم پسې تلل دې د دين د هيرولو په مانا وانګيرل شي. خپله ديندارې به هم کوو او د علم زده کړه به هم نه هيروو.» خو بيا هم بايد غلي کيننو او د خپل مسوليت د بار د دروند والي په اندازه يو څه و وايو او يو څه وکړو، که بل څه نه شو کولای، حد اقل خپل غږ خو وباسو.

په همدې سوچونو کې ډوب وم او پاڼې اړولې، چې په فيسبوک کې د تعليم د عاميدو د يو لوی پلوي، ښاغلي رحمت الله تنها يو ليکلی مطلب مخ ته راغی چې د غيرتيانو؟ پر نا سمو او کږو لارو باندې د تګ انځور په کې ايستل شوی او په استادانه ډول نقد شوی هم و،

دغو غيرتيانو؟ ته د قلموالو، روڼ اندو او چيز فهمه قشر خولې او ستوني وشکيدل چې د خدای پار دی د غيرت په دغه ډنډ کې خوسا کيږئ، ور نه را و وزئ، خو چا ته وايې. د همدې چيغو، نارو، سورو يوه بيلګه د استاد تنها خبرې دي چې د همداسې خلکو په آدرس يې ليکلې دي. دا يې بشپړ متن دی:

«پښتون لالا غږ مې اورې که د اسرافيل شپيلی درته وغږوم ؟؟؟

زما استاد ډاکتر صيب غوري وايي په لويه پکتيا کې پوهنتونونو ته څېرمه د نجونو ښايسته او نوې ليليې جوړې شوي خو يوه پښتنه پيغله په بسم الله نه پکې پيدا کېږئ، ټول د لرو پرتو سيمو ازبکې، تاجکې او هزاره خويندې محصلينې پکې اوسي، همدا حالت په لوی کندهار او لوی ننګرهار هم حاکم دی. دا تاجکې، ازبکې او هزاره پيغلې به فارغې سي، خپلو کليو ته به ولاړې سي، هلته به نورې پيغلې تحصيل ته وهڅوي، بلاخره به دا سيمې ټولې باسواده سي، له معلمه نيولې تر ډاکتر او انجنير به ټولې پکې وي خو ستا پيغله به په خوشايو کې پيدا، په خوشايو کې را لويه او په غوجله کې مړه سي. دا ټول ځکه چې ته غيرتي يې او خپل پت، غيرت او شمله د خوشايو په سمبالښت کې وينې!

پښتونه ! ایکي یوه لسیزه دې بله هم پکار ده، نور له خیره سره نابود یې، تباه یې، برباد یې، دا د ننګ او غیرت شمله به دې ډېر ژر له سره را کښته او د جولایتوب په پار تر ملا وتړې مړه دې وي بېغرته غیرتیان!»

خو پښتون غیرتي یې نه اوري، ښاغلي تنها له دې نه هم په تنده لهجه حقیقت په عین آدرس په مخ کې ور ته ایښی دی، وګورئ:

« دووس خو نو ښکر نه لري!

په خپل کور او کلي کې ښوونځي او پوهنځي ته تلونکي نجلۍ فاحشه او کافره ګڼي خو خپله ناروغه تور سري یې بیا په لاس ګاډي کې د تورخم پر پوله پکیستاني ډاکټر ته ور روانه کړې وي

مړه دې وي بېغرته غیرتیان!»

سره له دې چې د دوی په اصطلاح مسلمان ورور؟ پاکستاني دا دوې که درې ورځې د تورخم دروازه ور ته تړلې ده او د غیرتي پښتون مریضه ښځه، بوډا پلار او په نسناستي خوارځواکې اخته ماشوم د تړلې دروازې تر شا د پاکستاني ملیشه رحم ته خوله جینګه جینګه کوي، خو خپله خور، خپله لور او خپله لمسی د غیرت په وجه درس ته نه پرېږدي، او د خپل جهالت له مخې نه غواړي چې په خپل کور، کلي او ښار کې یې ډاکتراني، نرساني او ښوونکي و رورزل شي چې دی خپله او د ده غیرت له سوال زارۍ او مرګ نه خلاص شي، نه! ده ته له هر څه نه خپل غیرت ډېر عزیز دی او ارزښت ور ته لري.

غیرتي لالا؟ د غیرت منارې لوړوي، تر سیوري لاندې یې ډانګ په لاس کیني، خور، لور او لمسی له تعلیم، ښوونځي او پوهنځي نه را ګرځوي او په دې ډول په خپل کور کلي او ښار کې د ډاکترانو، ښوونکو او... مخه نیسي؛ چې غیرت یې داغداره نه شي، خو بله ورځ یې خپله مریضه ښځه، خپله مریضه مور او نا روغه لور په شا کړې وي او پردیو ډاکترانو ته یې د مداوا له پاره په عذرونو سره وروليي، خو هغوی یې دروازې پر مخ ور تړي.

دا هم د غیرت پایله!!!

د هغو خلکو او قوم تباهي ډېره نږدې ده چې
له سواد، کتاب، مطالعې، تعلیم، ښونځي
او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!

# بیا یو څو ترخې خبرې

## تعلیم او نوی نسل

افغانستان د عجایبو او استثنأتو هیواد دی، د افغانستان د بیلابیلو برخو د خلکو د ژوند، په بیلابیلو برخو کې د مځکې او آسمان د واټن په څیر فاصله موجوده ده. د پښتنو په ځینو سیمو کې دا رواج لا ویاړ دی چې د غیرت له مخې خپله خور، لور... ښونځي ته نه پرېږدی، خو په هرات ولایت کې یوې زدکونکې اپلیکیشن جوړ کړي دی: «دانش‌آموزان دختر در هرات اپلیکیشن می‌سازند»

غیرتي پښتون نه یوازې دا چې خپله خور و لور ښونځي ته نه پرېږدي، بلکې که یې د موبایل یا کمپیوتر نوم ورنه واورید نو بیا بله بلا بوتېږي. همدا پښتون لا بیا سبا وایي چې مونږ سره حکومت، دولت او لا ټولې دُنیا لوی ظلم کړی دی.

وه ماما!

په کلی، ولسوالۍ او ولایت کې دې ښونځی شته، ته یې ولې سوزوې او یا ولې درنه سوزول کېږي، په ښار کې دې پوهنتون درته جوړ شوی، خو ته یا د دولسم فارغ نه ورته لرې یا دې ښځینه مخلوق (خور، لور...) نه ور پرېږدې.

ښه مثال یې په خوست کې د شیخ زاید پوهنتون دی چې ته خور، لور نه ورپرېږدې، له نورو ولایتونو نه په زدکړو مین ځوانان ورته راځي. د اوریدو له قراره د یاد پوهنتون په لیله کې د افغانستان له نورو سیمو محصلین راغلي دي او درس په کې وایي، په خپله د سیمې غیرتیان خو خپلې خویندې او لونې د پوهنتون لوري ته لا نه ور پرېږدي، خو چې سبا یې بیا میرمن، وریندار یا ناوې ناروغه شي، پردي ډاکتر ته یې ور خوځولي وي، هغه یې په کوم ځای (کابل، پاکستان یا هند) پر میز څملولې وي او د معاینې په غرض یې پر بدن لاس وهي، غیرتي ماما د غیرتونو پیټي په شا، د باندې له کلینک نه ورته ولاړ وي.

په پښتنو کې د بې سوادۍ د سطحې جګوالی، د تعلیمي کچې ټیټوالی، له زدکړو سره مینه نه درلودل او په نورو داسې فکرونو کې د ژوند ډېره برخه تېرول چې څه په لاس نه ورکوي، د دې سبب شوي چې په کوڅه، کلي، ښار او هیواد کې یې سیالان د پیغورونو لښکر مخکې ورته ودروي.

څو ورځې مخکې د سیاسي او نظامي کړکیچونو او ستونزو په پایله کې ځینې کسان او ډلې د خپلو ناروا غوښتنو د تر سره کیدو له پاره د مظاهرې په نامه د کابل ښار واټونو ته ووتل او خیمې یې ودرلولې، د ستونزو د تبلیغاتي جګړې څپې یې تر فیسبوک پورې هم ورسیدې.

مظاهره په متمدنه او معاصره نړۍ کې په هره دیموکراتیکه ټولنه کې د خلکو حق دی، خو د قانون په چوکاټ کې، داسې نه شي چې ټول خلک پر سره تبۍ کینوي. په مظاهره کوونکو کې یو شمیر تندلارې چې ډیر ځلې د کابل خلک په تکلیفوي او حتی د ټپې کیدو او وژنو سبب یې هم کېږي. د دې ډلې افرادو ته ځینو پښتنو د «لنډغر» کلمه کارولې. د لنډغر مانا په قاموسونو کې داسې ښودل شوې ده:

لنډغر= لکۍ پرې کړی، بې شرمه، آواره، ایله ګرد (عبدالقیوم زاهد مشوانی، زاهد پښتو- پښتو سیند، ۹۱۷ ام مخ)

پرته له شکه چې د لنډغر د مانا او هغه کارونه چې دغې ډلې افرادو تر سره کړل، اړخ لګوي، خو په پښتنو کې د له حده ډیرو سیاسي او ټولنیزو نیمګړتیاوو، د شته والي په وجه ، په تیره د تعلیمي سطحې د ټیټوالي په پار، همدغو لنډغرو دوی ته د پیغورونو داسې لښکر مخکې ودراوه چې ځینې برخې یې په رښتیا سره په ډیره سلنه پښتنو کې موجود دي. د همدې یادو مظاهرو په ترڅ کې د فیسبوکې «تا ویل او ما ویل» په لړ کې مې د هغو پیغورونو لست تر سترګو شو چې کوم لنډغر ځوان د پښتنو په آدرس پوست کړي وو. ښه ده و وایم چې له زهرو ډک څو جامونه یې د ټولو پښتنو په مخ کې ایښي وو. ما هماغه شیبه وروسته له لوستلو دا توري ورته ولیکل:

پښتنو ته ریښتینی پیغور:

د پښتنو د نا پوهۍ او نه تحصیل په وجه یو پنجشیری ځوان چې پښتانه د لنډغر خطاب ورته کوي، ځانته حق ورکوي چې بیرته پښتنو ته ووایي او په پښتنو کې یوه شته نقیصه وپرسوي، څو نورې نا روا نیمګړتیاوې ور سره مل کړي او په مخ کې یې ورته کېږدي. داسې یوه نقیصه ورته وړاندې کړي چې په رښتیا په دې عصر کې د پښتنو د نا پوهۍ او جهالت په وجه په دوی کې شته او د دې حقیقي نقص تر څنګه سل نور تورونه د همدې یوې نقیصې په سیوري کې در باندې ټپي او ساده لوستونکي او اوریدونکي او لیدونکي د همدې رښتیانۍ نقیصې د شته والي په وجه هغه سل نور تپل شوي پیغورونه هم مني.

څو پیغورونه او څو ترخې خبرې یې دا دي:«...

ـ آری ما لندغر هستیم اما دختر و زن خود را با خر تبدیل نمیکنیم،

ـ آری ما لندغر هستیم اما ماستری داریم !

ـ آری ما لندغر هستیم اما قاتل ۱۰۰ ها هزار مردم بی گناه را برادر خطاب نمیکنیم،

ـ آری ما لندغر هستیم اما از قاتل و بی اصل و نصب امیرالمومنین جور نمیکنیم...»

دا پاسنې پیغورونه چې په پښتنو باندې وارد هم دي او رښتیا هم چې دغه نیمګړتیاوې شته، په خور او لور ولور اخلو لا یې په خاورپو بدلوو، ماستري او ډاکتري خو لا څه کوي چې اوس لا ډیرې خلک عادي لیک لوست نه شي کولای؛ نو دا ثابتېږي چې په پښتنو کې له تعلیم سره مینه یا نه شته او یا په ډیره ټیټه سطحه کې ده.

یوه وړه یادونه:

په تاند کې، د همدې مقالې د لومړۍ برخې په کامنټ کې د حمیدالرحمن کریمزي په نامه یوه ښاغلي په خوست کې د معارف او زدکړو د غوړېد او ښه کیدو په باب ډېر لنډ، خو بډای معلومات راته لیکلی دی چې د زړه له تله مننه ورنه کوم، داسې چې په لوستلو مې زړه وغوړېد؛ خو د خپل کامنټ په پای کې یې د ګیلې په ډول دا جمله هم را ته لیکلې ده:

«...نو تا دلته خوست سخت مضر معرفي کړی.»

ما په خپله لیکنه کې د خوست په باب هیڅ ډول منفي او مضر څه نه دي لیکلي، که ښاغلی حمیدالرحمن کریمزي بل ډول برداشت کړی وي، بیا هم زه بښنه غواړم.

ما په ټول کې د افغانانو او په تیره د پښتني سیمو او پښتنو دا وروسته پاتېوالی زوروي، ما په خوست کې د شیخ زاید د پوهنتون مثال ځکه ورکړ او د دې سیمې د ځوانانو پر حال مې دا و ویل چې په دې ښار کې له دغه شته چانس څخه باید استفاده وکړي.

زه نه یوازې ښاغلي حمیدالرحمن کریمزي ته، بلکې ټولو خوستیانو او هیواد والو ته په ښکاره وایم چې په ټول افغانستان مې زړه سوزي، په تیره په خوست باندې، او دلیل یې هم دا دی چې زه د خوست او خوستیانو پور وړی یم، زه د خوست او خوستیانو قرضداره یم. زه نه غواړم خپله بیوګرافي په چا ولولم، خو په لنډه توګه دومره وایم چې:

زه په ادبیاتو کې«MA» لرم، یعنې د ادبیاتو ماستر یم، علمي رتبه مې پوهندوی ده، پر قلم او کاغذ باندې دومره برلاسی یم چې لکه همدا توري دغسې نثر او کله، کله شعر هم لیکم او...

او دا ټول زما د کورنۍ او نورو استادانو تر څنګ، د خوست له برکته. زما د ماسترۍ د دورې مخامخ استاد چې په ټولګي کې ورته ناست یم او د ماسترۍ د تیزس لاربنود استاد مې د خوست بچی و، زما دانشمند استاد صدیق روهي نومیده او هغه بزرګوار د خوست د اسماعیل خیلو د کلي و او...

خوست یو وخت داسې بچیان او پوهان تولني ته او افغانستان ته وړاندې کول لکه روهي او اوس...

اوس راغلو ماشوم، کوچني او نوي نسل ته:

له بده مرغه چې دا اوس په پښتنو کې په یوه منلي دود بدله شوې خبره ده چې د دې پر ځای چې د ماشوم او کوچني د حقونو په رڼا کې کم تر کمه د هغه ورځني حقه حقوق په نظر کې ونیسي او د امکاناتو تر بریده یې تر سره کړي، بلکې د تاو تریخوالي ټول هغه ډولونه چې په بشریت کې تجربه شوي پښتانه یې پر خپلو کوچنیانو باندې تطبیقوي.

ما له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي او د هغو د ډولونو په باب اوږده څېړنه کړې ده او په لسو برخو کې مې خپره کړې ده، لسمه برخه مې د د ۲۰۱۷ کال د اپریل په اوه ویشتمه نیټه په تاند او افغان جرمن کې خپره کړې ده، نوځکه دلته نور پر تاوتریخوالي او ډولونو یې نه غږېږم، که ستاسو درنو لوستونکو د دې موضوع په باب مالومات په کار وي، په تاند او افغان جرمن کې یې تر لاسه کولای شئ.

ما د سواد د مهموالي، د تعلیم د اهمیت، د مطالعې د عامیدو او د تعلیم د نهضت د پیاړتیا په برخه کې تر اوسه پورې په لسګونه مقالې لیکلې دي او دا سلسله اوس هم جاري ده. زه په هسکه غاړه ویلای شم چې ما د یو قلموال په توګه او د یوه متعهد ښوونکي په ډول خپله دنده پرته له

کوم امتیاز څخه تر سره کړې ده؛ خو خبره په دې نه خلاصېږي چې ما خپل کار کړی، څه نور یې زما پر څه؟

خبره په دې کې ده چې څنګه کیدای شي چې په افغانانو کې، په تیره پښتنو کې د نا پوهۍ، بې سوادۍ او نه تعلیم حالت بدل کړو؟ څنګه کولای شو د دې خلکو د فکر مسیر ته بدلون ورکړو او د تعلیم پر لاره یې سیخ کړو؟ ځکه د ژوند په ټولو برخو کې تعلیم تر ټولو اساسي او مهم شی دی. د همدې له پاره زه په دې عقیده او فکر یم چې:

## د سواد زدکړې مسأله په هره ټولنه کې د پرمختګ یو بنسټیز شرط ګڼل کیږي.

زما د همدا ټیپ مقالو نه د یوې مقالې (د سواد زدکړه، تعلمي نصاب، امکانات او زموږ دریځ) په یوه برخه کې چې د ۲۰۱۶ کال د یولسمې میاشتې پر درویشتمه نیټه مې خپره کړې وه، داسې راغلي دي:

«د نوي نسل د روزلو په موخه زما د فعالیتونو او لیکنو یوه برخه د سواد د نهضت د پیاوړي کیدو او مطالعه په یوه منلې دود باندې بدلول دي.

د همدې هیلې د تر سره کیدو په موخه کله، کله د محسوسې اړتیا له مخې یا د ځینو مناسبتونو په پار داسې څه لیکم چې ټول دې د سواد او مطالعې حیاتي موضوع ته پام ور واړوي. همدا څو ورځې مخکې مې د سواد د نړیوالې ورځې په مناسبت د «شپیته سلنه بیسوادي، یو سلنه بودجه» تر سر لیک لاندې مقاله ولیکله. د هغې مقالې په یوه برخه کې راغلي دي: «په ژوند کې د بریالیتوب یو راز، بینا او رڼې سترګې دي. کله چې سواد نه وي، سترګې ړندې وي په هره ټولنه کې سواد او د سواد له لارې تر لاسه شوې پوهه، د هغه ځراغ حیثیت لري چې هر انسان کولای شي د ژوند تیاره لار پرې روښانه کړي او پرته له ستونزو په رڼو سترګو د ژوند پر لاره په استوار ډول قدم کیږدي.

د سپتمبر اتمه د سواد زدکړې نړیواله ورځ ده. په دې ورځو کې چې بیا د سواد د نړیوالې ورځې لمانځل او یادول را رسیدلي دي، زموږ په هیواد کې په لوړ غږ تبلیغ ورته کیږي، مسولې اداري د نوي بودجې د تر لاسه کولو په خاطر د سواد زدکړه مهمه ګڼي او په ژوند کې یې د پرمختګ تر ټولو مهم رکن ګڼي، خو په څنګ کې یې د میډیا په ځینو برخو کې داسې ارقام وړاندې کیږي چې د افغانستان د وګړو شپیته یا درې شپیته سلنه وګړي بیسواده دي او ځینې نورې رسنۍ بیا وایي چې د دې شپیته سلنه بیسواده وګړو د سواد زدکړې له پاره د معارف وزارت د بودجې یوازې یوه سلنه په نظر کې نیول شوې ده.

که یې د فورمول په ډول په نظر کې ونیسو، بیسوادي د ټولو ستونزو مور ده. کله چې سواد نه وي، مطالعه، پوهه او علم نه وي او کله چې پوهه نه وي د هغې ټولنې وګړي به تل له داسې ستونزو سره مخ وي، لکه اوس چې زموږ ټولنه او خلک عملاً ور سره لاس ګریوان دي.»

او که موږ د خیر پر غوندۍ لاس تر زنې د دولت یا بهرنیانو په تمه کینو، نو هیڅ به اوسو. یو وار د افغانستان دولت مسؤلینو ارقام خپاره کړي وو چې شپیته سلنه افغانان سواد نه لري او دوی دې شپـیـته سلنه بیسوادانو د سواد زدکړې ته د یادې ادارې یوه سلنه بودجه جلا کړې وه. د دولت دې کړنو ته په کتو سره له دولت نه څه تمه لرلای شئ؟

دا لاندې متن زموږ په ټولنه کې د علم، کتاب او مطالعې د ارزښت په باب د یو پر کاره لیکوال ښاغلي محمود مرهون ډیره تازه او نوې خاطره ده چې د دې مقالې د لیکلو په شیبه کې مې له نظره تیره شوه، دلته یې له دې مقالې سره اړوند د ارزښت له مخې را نقلوم:

« #زموږ په ټولنه کې ځوانان کتابونه په مغزو او کورو کې نه ساتي

په همدوپیغ تمځای کي یوه پخه ښځه ترم{یو رقم ښاري ریل ګاډۍ ده} ته را وختل مخامخ کښېنستل زما په غېږ کي زما یو کتاب پروت وو. پر کتاب مي عکس وو. کتاب ته یې څو واره و کتل اخیر یې زړه صبر نه سو ول:
دا کتاب تا لیکلی دئ؟
ما ول:وو.
ول:نو بیا ولي په ترم کي سپور یې ؟
ما ول:ولي؟
ول لیکوالان خو ټول میلونران یې او په ترم کي یې خلک په ډېرو رسمیاتو امضاو او عکس اخستلو ستړي کوي.
ما کرار و خندل نور مي څه نه وویل، یوازي مي له ځان سره وویل:
زه د داسي ټولني لیکوال یم چي کتاب به لیکې، بیا به یې په زحمت ډیزاین او کمپیوټر کوې، بیا به خلکو ته زارۍ کوي چي در اېډیټ یې کي، بیا به ځې پیسه دارانو ته به زارۍ کوې چي د چاپ له پاره یې پیسي در کي هغه به بیا ځان کنجوي، بیا به چاپخانې والا ته زارۍ کوې چي ژر او سم یې در چاپ کي هغه به بیا شل درواغان درته وایي، بیا چي چاپ سو خلک به اکثونه دربانديُ کوي څوک به یې مفت غواړي څوک به ریشخند در وهي، بیا نو که ته ډېر تکړه وې کتاب به دي په پوهنتون کي تدرسېږي یا به چپتر کېږي، هغه هم چي په کومه ورځ امتحان خلاص سو د پوهنتون په چمن یا د لښتي پر غاړه به پروت وي یا به بورګي والا بورګي پکښې پېچي.
هر سمیسټر په کابل پوهنتون کي شاوخوا شل زره چپتره کاپي کېږي او د امتحانو په پای کي د پوهنتونو په چمنونو کي غورځول کېږي او یا بخارۍ په ګرمېږي.
#د دې کمپاین راسره و
کئ چي چپټر له خلاصېدو وروسته یو ځای را ټول کړو.»



نو چي په ټولنه کې د علم، کتاب، ليکوال او مطالعې ارزښت دومره وي چي ليکوال يې ليکلی کتاب د ګدايي په پيسو چاپوي او په عذر او زاريو يې پر خلکو باندې لولي، خود به يې مادام العمر دغه حال وي لکه زموږ د خلکو او ټولنې چې دی.

که په ټول کې افغانان د نړۍ له نورو خلکو سره په مقايسوي ډول مطالعه شي، د نوري کلونو په شان توپيرونه لري. دا بيخي نوی ګزارش دی چي په نوره دنيا کې شپږ کلن کوچنی ويبپاڼې جوړوي او جهان ته د خپلو راتلونکو پروګرامونو او خوبونو پلانونه وړاندې کوي. دغو څو کرښو ته پام وکړئ:

«د اپل شرکت په کنفرانس کې د نړۍ له هر ګوټه پنځه زرو پروګرام (اپ) جوړونکو ګډون کړی و. په دوی کې تر ټولو کم عمره د استراليا لس کلن يوما سوېريانتو و. نوموړی وايي، "په شپږ کلنۍ کې مې د ګېم جوړولو لپاره کوډېنګ پيل کړ او وېبپاڼې مې هم جوړولې".
د ده په وينا غواړي داسې اپونه جوړ کړي چې په نړۍ کې "انقلاب" راولي.»

زه دا منم چي افغانانو اوږده جګړه تيره کړې او نا خوالې يې ليدلې دي، خو دومره توپير هم بايد منځ کې نه وي؛ او که بيا خپله افغانان په خپلو کې سره مقايسه کړل شي، بيا يې هم ډېر اوږد واټن په منځ کې شته. ښه مثال يې د يوې هراتۍ شاګردې او د جنوبي ولايتو د نجونو حال دی چي پاس ما خبرې پرې وکړې. په ډېری ښېنتني سيمو کې نجوني له کوره د باندې نه پرېږي. اغه ده د قلملار ټولنې مسؤلين کلي په کلي ولايت په ولايت پسې ګرځي، د حال پوښتنه يې له هغو نه وکړئ چي په کومو ښېنتني سيمو کې څومره نجوني ښونځي ته د تګ اجازه لري. د قلملار ټولنې مسؤلين همدا نن (۲۰۱۷/۰۶/۱۴) د پکتيکا په خيرکوټ ولسوالۍ کې د همدې مقدس هدف له پاره په هلوځلو بوخت دی، ده پخوا هم ليکلي وو، نن يې يو ځل بيا دا بيت که نيم بيتی په خپله فيسبوک پاڼه کې ليکلی و:

ويده قوم به را بيدار کړم
که وم، وم که نه وم، نه وم

د تعليمي نهضت په برخه کې هغه څه چي قلملار ټولنې او ويسا ورونو کړي او کوي يې، حکومت يې له خپلو ټولو امکاناتو سره نه شي کولای، دا ځکه چي فکر او پلان يې نه لري.
زما له نظره د حل او له غميزې نه د وتلو لار: تعليم دی، د ټولنې په فکري حالت کې د ژور بدلون راوستل دي، په نوي بنه د نوي نسل د روزلو مسأله ده چي بايد جدي پاملرنه ورته وشي، او دا په اوسني وخت کې له ټولو نه زيات د پوه قلموالو ستر رسالت دی.

لـويدلي يـاستئ، بـيـا راجـګـيـږئ
که راجګ نه شئ، پسې ورکيږئ!

# نوې ژوند او زوړ فکر

يو وخت چيرې چا په ډېر تينګار اړ ايستلم چې د ده له خوا يوې جوړې شوې سياسي غونډې ته ورشم. ورغلم، هلته مې وليدل چې يو شمير ښځې نر، زاړه واړه يې سره ر ا ټول کړي او په يوه سوالي سالون کې يې کينولي دي.

سياسي ښاغلي؟ د خپلې خوښې وړ يو پخواني مشرعکس پر ديواله را ځړولی او وينا کوونکي په نوبت سره بايد تر عکس لاندې ودرېږي او د خپلې مخالفې ډلې مشر ته بد رد ووايي.

زه يې په هماغه ټينګار چې غونډې ته وروستی وم، په هماغه ټينګار يې وينا کولو ته هم اړ ايستلم. ده هيله درلوده چې په ديواله باندې د راځړيدلي عکس خاوند صفت او د مخالف دا څه بد رد ووايم. ما ورته کړل چې راځئ زړې لارې پرېږدو، پر نوو لارو سر شو. له دې نه هيڅ نه جوړېږي چې د يو چا تر عکس لاندې بل چا ته ښکنځلې وکړو، ښکنځلې کول هيڅ چا ته ګټه نه رسوي او نه هم د ټپي وطن کوم ټپ ته پټۍ جوړولی شي او...

دوی ويل نو څه وکړو؟

ما ورته کړل چې: که سياست کوئ، نو نوی سياست وکړئ، که څه ليکئ هم پر نويو موضوعاتو اوسټونزو وغږېږئ او تر ټولو مهمه دا چې تاسو د دې پر ځای چې خپل وخت په دې زړو کليشه اي او له موده لويدلو او بې فايدې موضوعاتو باندې ضايع کوئ، د نوي نسل د روزلو په باب فکر وکړئ. د هغوی له پاره د ژدکړو زمينه برابره کړئ او د نوي عصر د نويو علومو زدکړې ته يې وهڅوئ او...

که سياست وال څه وايي، بايد د وخت له غوښتنو سره سم داسې څه ووايي چې د ده د وطن، خلکو او ملي ګټو په باب په کې څه تر لاسه شي، که قلموال هم څه ليکي ، نو د داسې موضوعاتو په باب بايد څه وليکي چې لوستونکو ته په لنډه او هنري بڼه حقايق وښيي او د حل لارې ورته په نښه کړي.

لکه د نعمان دوست دا لنډ مطلب:«

## تازه ميوه

څو اونۍ وړاندې راسره په کوڅه کې مخامخ شو. درې واړه اولادونه يې لکه بې وسلې باډي ګارډان، مخکې او وروسته ترې روان وو. ورته ويل مې: دې ورځو کې نه ښکارې؟

هغه، د پرې شوې پښې زور پر فلزي لکړه راوست، را مات شو او بيا يې ويل:

پيښور ته تللی وم. تور زيری مې دی.

- نو ډاکټران څه وايي؟

له ټنډې يې خوله پاکه کړه: ډاکټران وايي دوا خوره. تازه ميوه هم ډېره خوره. خو ډاکټران څه خبر دي چې يو معيوب څنګه ميوه خوړلی شي؟

تيره ورځ، څو کسان راټول وو. پوښتنه مې وکړه، هغه معيوب د تازه ميوې په ارمان ساه ورکړې وه او خپل واړه بادې ګارډان يې يوازې پرې ايښي وو.»

د ښاغلي نعمان دوست په دې څو هنري کرښو کې زما د اور اخيستي وطن د څو نسلونو د وير او غميزې کيسه په لنډه توګه را نغاړل شوې ده، خو افسوس دا دی چې هغه ښاغلی سياسي؟ بيا له دې ليکني او له دې درد سره ډېر واټن لري، دومره واټن چې لا به پرې خبر هم نه وي.

## د الفبا نوی کتاب او د محمود مرهون نوې هڅې

### (د نوی نسل د روزلو له پاره ګدايي)

د نــوي نسل د روزلو له پاره هــر پل چې
اوچــتــيږي، زه يــې داسي انګيرم چې
د نـوي ژوند د کلا پر ديواله يوه
نــوې او زريــنه خښته
اېښودل کيږي.




محمود مرهون په اوسنيو متعهدو قلموالو کې هغه ځوک دی چې تر ټولو نورو قلموالو يې د ماشومانو او کوچنيانو ادبياتو ته پاملرنه او عملي کار کړی دی. ما (آصف بهاند) د ده د عملي کارونو او ليکلو کتابونو په باب ځو مقالې ليکلې دي او د کوچنيانو د ادبياتو او نوي نسل د روزلو

په برخه کې مې د ده پر کړو کارونو مفصله رڼا اچولې ده.( د کوچنیانو ادبیات، دویم ټوک، ۹۸ ـ ۱۰۹ مخونه)

ما د مرهون په باب په خپله لومړنۍ مقاله کې داسې لیکلي وو:

«محمود مرهون په دې کم عمر کې د پاملرنې وړ فرهنګي کارونه تر سره کړي دي. له هغې ډلې نه یې څه چې د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې کړي دي، د ځانګړې پاملرنې وړ دي. د همدې له پاره ما د کوچنیانو ادبیاتو د مقالو په سلسله کې دا مقاله (شپاړسمه برخه) یوازې دې ته ځانګړې کړې ده چې د کوچنیانو د ادب په برخه کې د مرهون کړو کارونو ته یو ځغلند نظر وکړم.

ما محمود مرهون له نږدې نه و لیدلی، یوازې مې د میډیا له لارې پیژانده. کله، کله به یې مقالې په «لر او بر» ویبپاڼه کې راتلې.

کله مې چې د ۲۰۱۵ کال په اپریل کې کابل ته سفر وکړ، نومې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې ولید. سره ومو پیژندل، ښه روغبړ مو وکړ. ده اجمل ښکلي او د علمي کدر څو تنو نورو نوو او ځوانو غړو چې ما نه پیژندل په دقت سره غوږ نیولی و چې زه به څه وایم . کله چې لږ د استادانو او زده کوونکو ګڼه ګونه کمه شوه، مرهون مې ورو خوا ته راغی او را ته و یې ویل:

«استاده ما هم د کوچنیانو له پاره یو څه کار کړی دی، اوس هم لګیا یم کار کوم او...»
څو مجله ډوله... کتابونه یې په لاس کې را ته ونیول او وې ویل:

«دا مې د کار بیلګې دي، دا وړې کیسې مې د کوچنیانو له پاره ژباړلې دي او...»

ما کتابونه په مینه ور نه واخستل، عنوانونه مې له نظره تیر کړل. په رښتیا ډیر خوشاله شوم چې په یوه وار د کوچنیانو له پاره دومره کتابونه، هغه هم د لسو ټوکو په شمیر. نو سمدلاسه مې ورته و ویل:

مبارک دې شه، په ځوانۍ دې برکت شه چې تا دومره کار کړی دی، هغه هم د کوچنیانو له پاره چې د ډیرو هیر، خو ستا په یاد دي. د اوږدې مرکې په پای کې یې بیا را ته و ویل:
«دې ته ورته نور کتابونه مې هم تر کار لاندې دي، که ژوند باقي و، نو بشپړ به یې کړم.»
کله چې د ده خبرې خلاصې شوې، ما ورته وویل چې زه به د کوچنیانو له پاره ستا پر کارونو او په ځانګړي ډول پر دې کتابونو یوڅه لیکم.»

بیا مې په ډیرې حوصلې سره د مرهون د ټولو هغو کارونو په باب ګڼې مقالې ولیکلې چې ده د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې او د نوي نسل د روزلو له پاره کړي وو.

زما د معلوماتو له مخې محمود مرهون تر اوسه پورې د ماشومانو او کوچنیان له پاره شپږ پنځوس (۵۶) کتابونه لیکلي، ژباړلي او خپاره کړي دي. له دې نه ورآخوا د ډیرو نورو کتابونو د لیکلو او ژباړلو تر څنګ، د کابل پوهنتون په ادبیاتو پوهنځي کې تدریس کوي او د ژورنالیزم او خپرونو په برخه کې هم فعاله دی، په میډیا کې هم د خپل وطن او خلکو پر درد ناره سورې وهي.

اوس مرهون د ماشومانو، کوچنیانو او نوي نسل د روزلو له پاره یوه نوې تابیا کړې ده او د خلکو د غوښتنې له مخې یې له نویو او علمي اصولو سره سم د الفبا یو نوی کتاب برابر کړی دی. څومره یې چې خپل وس و، هغه یې کړي دي، د چاپ او ویشلو او د ماشومانو او کوچنیانو تر نازکو ګوتو پورې یې د رسولو په غرض، مرستې ته اړتیا لري. ده خپله غوښتنه دوه ځلې داسې مطرح کړې ده:

«#خیر له پښتنو څخه د پښتو له پاره غواړم
د کوچنیانو د ښځه څلوېښت کیسه ائیزو کتاب له چاپ او وېشلو وروسته ډېرو مشرانو او دوستان د الفبا په اړه د کتابونو له نشتون څخه شکایت کوی، په ډېرو تکلیفو او مشکلاتو مي دغه کتاب و لیکئ له خپل درویشت زره افغانی معاش څخه مي دیرلس زره ډیزاینر ته ورکړې چي کتاب یې را ډیزاین کړئ، ولې په دې خیر باقي باید تاسي راسره شریک سئ او مالي مرسته وکړی چي دا کتاب چاپ کړو، هغه پلرونه او مندي چي د اولادونو د ښئې راتلونکي فکر ورسره دئ دا د هغو له پاره یو ښه پیل کېدای سي، کتابفروشیانو ته مي ځکه ورنکړی چي یو کتاب تقریباً په دونیم سوه افغانۍ تمامېدی، نو کتابفروش به حتماً په درې سوه خرڅوی نو بیا هم زموږ بېچاره خلکو ته نه رسېږي، نو کومه دې نامیان او د افغاني نسل د باسواده کولو شوقیان بنده تر خپله وسه پر دئ هر څونه چي مو وس وي مرسته وکړئ.

#تاسي که بله مرسته نه سئ کولای شېر یې کړی چي تر نورو خلکو خو و رسېږي.»
او بیا یې یوه ورځ وروسته د پاسني پوست په ادامه، دا متن پوست کړ:

«#د یارانو صدقي لره یې غواړم
هسې نه چي په دنیا پسې زهیر یم

افغان کوچنیانو ته په فقر او مرسته غوښتنه کي چندان شرم نسته، د افغان کوچنیانو له پاره د کوچنیانو د الفبا د کتابونو سخته نیستي ده، دغه تشه مو نږدې ډکه کړې مالي مرستي ته اړتیا لرو دغه کتاب په یو سل او څلور څلوېښت رنګه اې فور مخونو کي چاپو... ستاسي سخت ملاتړ ته اړتیا ده...

#خپل کوچنیان مو روڼ سباوون له پاره په زده کړو سمبال کړئ»

زه یې د دې کار او دې وړاندیز ملاتړ کوم او په دې عقیده یم چې: د نوي نسل د روزلو له پاره هر پل چې اوچتیږي، زه یې داسې انګیرم چې د نوي ژوند د کلا پر دیواله یوه نوې او زرینه خښته اېښودل کیږي.

په دې کار کې د محمود مرهون ملاتړ یو اړین کار دی، هیله ده چې مرسته ورسره وکړې!

## د تعلیمي نصاب پښتو کتابونه




http://www.lwast.com/afghantextbooks/index.php

د دې لینک په کلیک کولو سره، د تعلیمي نصاب د دولسو ټولګیو پښتو کتابونه پرانستلای شئ!

په افغانستان غونديې ټولنه کې تر ټولو لومړنۍ بنسټیزه ستونزه د جګړې درول او بیا د نوي نسل روزلو ته په نوې او جدي بڼه پاملرنه ده. د دولت په لومړیتوبونو کې تر ټولو مخکې د ښوونې او روزنې په برخه کې د تحصیل کړو، متخصصو، پر وطن مینو زړه سواندو کادرونو پیدا کول او د ښوونې روزنې د اداري مسؤلیت ورسپارل دي، څو هغوی وکولای شي د وطن د نوي نسل د روزلو له پاره په نړیوالو علمي اصولو برابر پروګرام جوړ کړي، چې نوی نسل داسې وروزل شي چې په ټولو برخو کې په علمي معیارونو برابر او د وطن د آبادۍ په برخه کې خپل رول په سمه توګه تر سره کړي.

په رسمي او دولتي چوکاټ کې تر ټولو مخکې د ښوونې او روزنې وزارت دنده ده چې د ښوونځيو درسي نصاب د نويو علمي منل شوو نړيوالو معيارونو پر بنسټ جوړ او د افغان ټولنې د غوښتنو په چوکاټ کې يې تطبيق کړي.

له بده مرغه چې زموږ په هيواد کې د هر رژيم په راتګ سره هر څه په بل مخ اړول کيږي، پر تيرو مثبتو او منفي تجربو خاورې اړول کيږي او په ډير لوړو مصارفو سره نوی پروګرام د خپلو ګوندي، سياسی يا تنظيمي غوښتنو له مخې برابروي او تطبيقوي يې.

په ۲۰۰۱ کال کې د نوي دولت په رامنځ ته کيدو سره نوی تعلميي نصاب طرح او تطبيق شو او د هر وزير په بدليدو سره په هغه کې د نوي وزير د غوښتنو له مخې بدلونونه راوستل شول، فساد، اداري ستونزې ، غير مسلکي مسؤلين جګړه او... د معارف پروګرام نور هم ټکنی کړ او ګڼې ستونزې يې ور اضافه کړې.

د معارف پر تعليمي نصاب، له ۲۰۰۱ نه تر نن پورې ګڼې انتقادي مقالې او نظريات ليکل شوي او خپاره شوي دي، چې کله په ريښتيا د معارف په تعليمي نصاب کې د نيمګړتياوو د سمولو په غرض وړاندې شوي دی، او کله داسې هم شوي دي چې ځينو ښاغلو خپلو سياسي موخو ته د رسيدو په خاطر، ځينې مسولين په نښه کړي دي او د تعليمي نصاب نيمګړتياوې يې د يوې پلمې په توګه مخکې ورته ايښې ده.

پرته له شکه چې اوسنی تعليمي نصاب بيشميره ستونزې او نيمګړتياوې لري چې هغه بايد د سمون په نيت په نښه شي. زما د دې تورو ليکل دا مانا نه رسوي چې دا تعليمي نصاب زما د تائيد وړ دی، زه کولای شم چې د هر ټولګي د درسي کتابونو او تعلمي نصاب په باب مقاله نه، بلکې مقالې وليکم؛ خو د نه ليکلو يوه وجه يې دا ده چې نه يې څوک لولي او نه يې تطبيقوي.

په درسی نصاب کې د بهرنيانو په غوښتنه او لاسوهنې سره، د ګوندنونو اوتنظيمونو په فرمايش داسې درسي نصاب جوړ، چاپ او تطبيق کړای شوی چې له ګنو تيروتنو سره يې د ورې افغانستان په مليونونو ډالره په چاپ او خپرولو باندې ولګيدل. هر ډول چې دی، اوس خو د تعليمي نصاب په نامه د وطن نوي نسل ته په مخ کې ايښودل شوی دی.

اوس همدا له نيمګړتياو ډک تعلمي نصاب د ځوان کمپيوتر پوه اجمل حمزه په پوهه او مټ داسې آنلاين کړای شوی دی چې ټول په يوه کليک سره تر لاسه کيدای شي. زه د اجمل حمزه د دې کار ستاينه کوم او د زړه له کومې مننه ورنه کوم.

د احمد ولي اڅکزي د معلوماتو له مخې ښاغلي اجمل حمزه هغه تکړه کمپيوتر پوه دی چې کله، کله کمپيوتري پروګرامونه او اپيونه طرح کوي. د معارف وزارت د تعليمي نصاب د دولس واړو ټوليګيو ټول پښتو کتابونه يې په ښکلي بڼه داسې برابر او آنلاين کړي دي چې په آسانی سره خلاصيږي او بڼه استفاده ورنه کيږي.

دغه زيری ما د ښاغلي احمد ولي اڅکزي په فيسبوک پاڼه کې له يوه لينک سره وليد. بيا مې چې لومړي لاس يعنې د ښاغلي اجمل حمزه پاڼې ته سر ور ښکاره کړ، هلته هم همدا لينک له يوې بلې جملې سره ايښودل شوی و. زه دلته د دواړو له فيسبوک پاڼو نه دا زيری را نقلوم:

لومړی د اجمل حمزه له فيسبوک پاڼې نه:

«د افغانستان د ښوونځي کتابونه د لمړي ټولګي څخه تر دوولسم ټولګي پورې په نوي ښکلي بڼه په ليکه شول.

که کمپيوتر، iPad، tablet لرى نو دلته يې ليدلی شی:

http://www.lwast.com/afghantextbooks/index.php

دويم د احمد ولي اڅکزي له فيسبوک پاڼي څخه:

«د تکړه او خوږ ملګري اجمل حمزه يوه بله کارنامه چي مقصد يي د علم د رڼا خپرول دي. الله دي ورته د نورو کارنامو توفيق او حوصله هم ورکړي. آمين

په زياته هغه دوستان چي له افغانستان څخه ليري خپل ماشومان لويوي، کولای سي چي د دغو کتابونو په مرسته د افغانستان او ژبي سره د هغوی اړيکه لا ټينګه کړي.

http://www.lwast.com/afghantextbooks/index.php..

د افغانستان د ښوونځي کتابونه د لمړي ټولګي څخه تر دوولسم ټولګي پورې په نوي ښکلي بڼه په ليکه شول.

که کمپيوټر، iPad، tabletلری نو دلته يي ليدلی شی:

http://www.lwast.com/afghantextbooks/index.php

که د انډرويد موبايل لری نو له دې ځای څخه يي خپل موبايل ته راښکته کړی:

https://play.google.com/store/apps/details…

دا خبره بيا تکراروم چي د وطن د آبادی، ښيرازۍ او د خلکو د پرمختګ او آرامتيا له پاره د نوي نسل روزل ډير اړين دي او زموږ تر بحث لاندې موضوع يعني درسي نصاب يي د زيربنا او بنسټيز مسايل دي، که سمه پاملرنه ور ته ونه شي، هر څه به داسي خراب او برباد وي، لکه اوس چي دي؛ پر دې بنا اړينه ده چي د نوي عصر د نويو او علمي غوښتنو په رڼا کي د دغه نيمګړي نصاب د سمولو هر اړخيزه مرسته وشي او يا يي د بدلولو په باب له سره فکر او اقدام وشي.



# د سواد زدکړه، تعلمي نصاب، امکانات

# او زموږ دریځ

د سواد زدکړې مسأله په هره ټولنه کې
د پرمختګ یو بنسټیز شرط ګڼل کیږي.

د نوي نسل د روزلو په موخه زما د فعالیتونو او لیکنو یوه برخه د سواد د نهضت د پیاوړي کیدو او مطالعه په یوه منلي دود بانديږ بدلول دي. د همدې هیلې د تر سره کیدو په موخه کله، کله د محسوسي اړتیا له مخې یا د ځینو مناسبتونو په پار داسې څه لیکم چې ټول دې د سواد او مطالعې حیاتي موضوع ته پام واړوي. همدا څو ورځې مخکې مې د سواد د نړیوالې ورځې په مناسبت د «شپیته سلنه بیسوادي، یو سلنه بودجه» تر سر لیک لاندې مقاله ولیکله. د هغې مقالې په یوه برخه کې راغلي دي:

«په ژوند کې د بریالیتوب یو راز، بینا او رڼې سترګې دي. کله چې سواد نه وي، سترګې ړندې وي په هره ټولنه کې سواد او د سواد له لارې تر لاسه شوې پوهه، د هغه څراغ حیثیت لري چې هر انسان کولای شي د ژوند تیاره لار پرې روښانه کړي او پرته له ستونزو په رڼو سترګو د ژوند پر لاره په استوار ډول قدم کیږدي.

د سپټمبر اتمه د سواد زدکړې نړیواله ورځ ده. په دې ورځو کې چې بیا د سواد د نړیوالې ورځې لمانځل او یادول را رسیدلي دي، زموږ په هیواد کې په لوړ غږ تبلیغ ور ته کیږي، مسولې ادارې د نوې بودجې د تر لاسه کولو په خاطر سواد زدکړه مهمه ګڼي او په ژوند کې یې د پرمختګ تر ټولو مهم رکن ګڼي، خو په څنګ کې یې د میډیا په ځینو برخو کې داسې ارقام وړاندې کیږي چې د افغانستان د وګړو شپیته یا درې شپیته سلنه وګړي بیسواده دي او ځینې نورې رسنۍ بیا وایي چې د دې شپیته سلنه بیسواده وګړو د سواد زدکړې له پاره د معارف وزارت د بودجې یوازې یوه سلنه په نظر کې نیول شوې ده.

که یې د فورمول په ډول په نظر کې ونیسو، بیسوادي د ټولو ستونزو مور ده. کله چې سواد نه وي، مطالعه، پوهه او علم نه وي او کله چې پوهه نه وي د هغې ټولنې وګړي به تل له داسې ستونزو سره مخ وي، لکه اوس چې زموږ ټولنه او خلک عملاً ور سره لاس ګریوان دي.»
اوس بیا د ښوونې او روزنې وزارت د سواد د زدکړې مسأله را مخته کړیده، د جوړو شوو کورسونو شمیر، په کورس کې د شاملینو ارقام، د فارغانو شمیر او... وړاندې کوي.

په دې باب د بي بي سي په یوه ریوټ کې داسې راغلي دي:

«د افغانستان د پوهنې وزارت وايي؛ په هېواد کې د بېسوادۍ له منځه وړلو او د سواد زده کړې اجباري کولو طرحه يې جوړه کړې ده.

د افغانستان د پوهنې سلب صلاحيت شوي وزير اسدالله حنيف بلخي د يکشنبې په ورځ (عقرب/لړم ۳۰مه) په يوه ناسته کې وويل؛ د دغه هېواد ۶۰ سلنه خلک بېسواده دي او د دوی له ډلې ۸۰ سلنه ښځې دي.

ښاغلي بلخي زياته کړه؛ تر ۱۵ کلونو د ډېر عمرلرونکو ۱۱ میلیونه بېسواده کسانو له ډلې ۵۰۰ زره کسان په ټول افغانستان کې د سواد زده کړې په ۱۵ زره مرکزونو کې په زده کړو بوخت دي. د هغه په وینا، هرکال له ۳۰۰ تر ۳۵۰ زره کسان بریالي کېږي چې په دغو مرکزونو کې د سواد زده کړې پروګرام بشپړ کړي او د لیکلو او لوستلو جوګه شي...»

ما په خپله تیره یاده مقاله (شپېته سلنه بیسوادي، يو سلنه بودجه) کې ويلي و چې مسؤلين د ځه له پاره او په کومو ځانګړو وختونو کې ارقام وړاندې کوي او ولې.

ډيرى دغه کسان چې د افغانستان په حکومت او دولت کې لوى يا واړه منصبونه لري، دوى په خپله، يا هغه سياسي نظامي سازمانونه يا تنظيمونه چې دوى ور پورې اړه لري او يا يې دوى په سهميه کې پر ټاکلو ځوکيو ډېږي لګولي دي؛ دوی هغه ډلي او هغه کسان وو چې په کلونو، کلونو يي د سواد زدکړې ستې ړنګې کړې، ښونکي يې حلال کړي او د کورس شاملين يې په بمونو الوزولي دي، هغه وخت دوی دا کار د جهاد په نامه د ثواب د ګټلو په موخه تر سره کاوه؛ خو اوس د ديموکراسی شمال ته همدغه کسان شړقنده ځنې اړوي او غواړي هغه ځوک باسواده کړي چې د همدوی د ثواب ګټلو په اړودوړ کې د سواد زدکړې له نعمت نه محروم شوي دي او لکه د چا خبر ړانده دي او ځه لوستلای نه شي.

د سواد د نه درلودونکو د ارقامو په باب يو د افغانستان د اړوندو مقاماتو شميرې دي او بل د نړيوالې ټولنې د ځينو اړوندو مقاماتو ارقام. که دا دواړه سره پرتله شي، ډېر توپير په کې ليدل کيږي. دولتي مقامات يوازې د ښارونو د شميرنو له مخې ارقام وړاندې کوي چې د هغو له مخې د بيسوادو شمير شپيته سلنه ښودل کيږي، خو نړيوالي منابع په اټکلي ډول وايی چې په کلو او بانډو کې د بيسوادو سلنه ځو ځلې تر ښاري ارقامو لوړه ده.

په يوه ډير نوي راپور کې راغلي دي چې: «... د يونسکو رييسي او استازې پيټريشيا مک فيليپس وويل، د زده کړو په برخه کې له بې وقفې هڅو سره سره، لا هم تر ۱۵ کلونو کشر ۱۱ مليون تنه ليک لوست نه شي کولی او په ابتدايي حساب نه پوهيږي.

دې همداراز وويل، په افغانستان کې د سواد د ملي پلان پر اساس په سلو کې ۳۴ نارينه او په سلو کې ۱۸ ښځو په ټيټه سويه سواد زده کړی دی.

په کليوالي سيمو کې په سلو کې ۹۰ ښځې او په سلو کې ۶۳ نارينه ليک لوست نه شي کولی. په دې غونډه کې د افغانستان د پوهنې وزير اسد الله حنيف وويل چې په سلو کې ۴۰ افغانان بې سواده دي.»

دغه راز د ملګرو ملتونو د يونسکو ادارې په يوه راپور کې چې په همدې نږدې ورځو کې خپور شوی، داسې راغلي دي:

« يونيسکو: لاهم ۱۱ ميليونه افغانان له بې سواديه کړيږي،

د یونېسکو د شمېرو له مخې یوازې ۳۴ په سلو کې نارینه او ۱۸ په سلو کې ښځینه له کافي سواده برخمن دي. د یونېسکو یا د ملګرو ملتونو علمي او فرهنګي سازمان وايي ۱۱ میلیونه افغانان اوس هم له بې سوادۍ څخه کړېږي.»

له دې راپورونو او په ټولنه کې د عیني لیدنو او ستونزو د شتون له مخې لیدل کیږي چې د بیسوادۍ کچه څومره ده او پایلو یې څومره ستونزې رامنځ ته کړې دي؛ خو افغان مقامات د ستونزې د حل له پاره کوم خانګړی پروګرام او نوې پالیسي نه لري، همغه د څو کلونو زاړه پروګرامونه او شعارونه وړاندې کوي او د نویو ستونزو د حل له پاره د نویو امکاناتو نه د استفادې کومه نوې پالیسي، پروګرام او حل لاره نه لري.

د دې تر څنګه د ښوونځیو په تعلمي نصاب کې هم ګڼې ستونزې شته. تر ټولو لویه ستونزه دا ده چې په تعلمي نصاب کې د نورو هیوادونو، په تیره د ګاونډیو هیوادونو د تعلمي نصاب تاثیرات له وریه ښکاري.

له دوه زره لومړي (۲۰۰۱) کال نه بیا تر دوه زره څوارلسم (۲۰۱۴) کال پورې زماني واټن کې، که د افغانستان تعلمي نصاب پښتو او دري دواړو برخو ته نظر واچول شي، په هر ټولګي کې له شپږو نیولي تر لس دولس مضمونه چې د یو ټولګي له پاره په نظر کې نیول شوي دي، دوه، درې او کله لا څلور او پنځه په کې داسې مذهبي مضامین ځای پر ځای شوي دي چې له یوې خوا خپله ښونکي په هغه باندې سم نه پوهیږي او بل لوري ته که پوه هم شي د هغو مضامینو د محتویاتو د پوهیدو په پایله کې د ښونځیو له اتیا سلنې شاګردانو نه مذهبي افراطیون جوړیږي او اوس د همدې تبلیغاتو او تعلیمي نصاب د تطبیق په پایله کې، په ټولنه کې یې نظامي او غیر نظامي نتایج له ورایه محسوس دي چې هره ورځ څومره ورانی او وژنې رواني دي.
دغه راز په خصوصي ښونځیو کې، لیدل کیږي چې کټ مټ د نورو هیوادونو تعلمي نصاب تطبیقیږي، او د څارنې او پوښتنې یې هیڅ څوک نه شته. د روهي ویبپاڼې د ډیر نوي رپوټ له مخې همدا اوس د افغانستان په ځینو خصوصي ښونځیو کې پاکستانی نصاب تدرسیږي. په رپوټ کې راغلي دي:

«د طالبانو له سقوط راوروسته په افغانستان کې د ازاد بازار له برکته خصوصي ښوونځي دود شول، افغانستان، چې په دې برخه کې پوره کدر او ظرفیت نه درلود، نو هر خصوصي ښوونځي د پاکستاني ښوونکو سربېره، پاکستاني نصابونه هم له ځان سره راوړل.

ځینې داسې ښوونځي هم شته، چې د اکسفورډ او کمبرج د خصوصي ښوونځیو نصابونه، چې په پاکستان کې په ناقانونه توګه او په غلا بیا چاپ شوي، د ښوونځیو مالکینو په همدې پاکستانی بڼه دلته راوړل او په کابل او ولایتونو کې تدریسول.

اوس، چې خواله رسنیو کې د کوم خصوصي ښوونځي اړوند پاکستانی نصاب لاندې باندې کیږي دا نوې خبره نه ده، جمیل الکوزی د کابل ښار استوګن درې کاله وړاندې، د تکبیر له لیسې څخه خپل بچیان د همدې پاکستاني نصاب له کبله وویستل.

هلته د کمپیوټر ساینس په کتاب کې د قاید اعظم انځورونه او د ریاضي په کتاب کې کلداره انځور شوي وه، کله، چې یې یاده مساله د ښوونځي له اداري سره شریکه کړه، اداري ورته ویلي وو، دا مهمه ده، چې شاګرد څه زده کړي، نصاب پسې مه ګرځه.

د افغانستان ډیری خصوصي ښوونځي دا ستونزه لري، خو وزارت یې د کنترول وړتیا او امکانات نه لري، ان د پخواني وزیر فاروق وردګ په وخت کې ځینې پاکستانی نجوني د مشاور په توګه هم په یاد وزارت کې دندې درلودې، نو په داسې یو وضعیت کې به وزارت څرنګه څارنه وکړي.

د ښلګې په توګه په تایمني کې د هوسې اندړ اړوند د دانش په نوم خصوصي ښوونځی هم یادولي شو، چې په کابل کې دا حال وي په ولایتونو کې به وضعیت څنګه وی؟!»

خصوصي پوهنتونه او ښوونځي دا مانا نه لري چې هغه دي یا د پردیو د جاسوسۍ ځالي شي، یا دې د تروریستانو پټنځایونه او سلاح کوټنونه ورنه جوړ شي او یا دې د پردیو د تعلمي نصاب د تطبیق او د هغو د کلتور د خپرولو یوه پټه وګرځي. اړوندې اداري د دې مسولیت لري چې د هغوی ټول فعالیتونه او پروګرامونه د وطني ملي ګټو په نظر کې نیولو سره، تر نظر لاندې ونیسي.

په دې ډول لیدل کیږي چې په ټولنه کې د سواد د نه شته والي او په تعلیمي نصاب کې د نا اندولۍ او بې پروايۍ په پایله کې، ګڼ شمیر ستونزې رامنځ ته شوې دي او د تیرو څوارلسو کلنو په موده کې که د نړیوالې ټولنې د مرستو ګراف ته وکتل شي، لیدل کیږي چې د دې ستونزو د حل له پاره تر نورو وختونو افغانانو ښوامکاناتو ته لاسرسی درلود، خو سمه استفاده نه ده ور نه شوې.

اوس هم باید فکر وشي چې څنګه کیدای شي د دې ستونزو د لرې کولو له پاره له دې امکاناتو نه څنګه اعظمي استفاده وشي؟

زما له نطره يې بیرنۍ د حل لاره داسې ده چې:

ـ لومړی دې له میډیا سره په ګډې همکارۍ د سواد د ارزښت او ګټو له پاره په وطني کچه د تبلیغاتو یوه پراخه لړۍ د یوه ستر ملي او انساني نهضت په ډول په دوامداره توګه را پیل شي،

ـ په دویم ګام کې دې د تعلیمي او کلتوري ارګانونو د ادارو واک، له تنظیمي او سیاسي ویش(غنیمت) له دایرې را خلاص کړای شي،

ـ په دریم پړاو کې دې د تعلمي او کلتوري لوړو او عادي ادارو په رأس کې، د لوړو زدکړو او ښو تجربو درلودونکي مسلکي او زړه سواندي کسان وګمارل شي.

په دې ډول کیدای شي چې د سواد زدکړې نهضت داسې راپیل کړاي شي چې د وروستي بې سواده، د سواد تر زدکړې پورې دې، دې نهضت ته داسې دوام ورکړي چې په ټول هیواد کې یو نالوستی شخص پاتې نه شي او دا کار دې له یوې خوا اجباري کړي او له بل لوري دې د«غنم د کار په مقابل کې» د پروګرام په څیر داسې ټولګي ور ته جوړې کړې چې د سواد زدکړې د هر کورس مشمولینو ته یو څه د مرستې په نامه یا نقدې مرسته وکړل شي او یا دې یوه اندازه لومړني خوراکي مواد دولت پر ځان ومني او هر څومره چې د سواد د زدکړې د کورس ګډونکوني لوړ ټولګي ته ترقي کوي، په هماغه اندازې دې د مرستو اندازه هم لوړه کړای شي، څو ګډونکونکي په مینې سره د سواد زدکړې کوروسونه پای ته ورسوي.

په دې ډول به د سواد زدکړې د کورسونو د تعقیب په لړ کې هیڅ کله د کورس ګډونکونکي د دې شکایت و نه شي کړای چې دوی که د سواد زدکړې په کورس کې کیني، نو د کورنۍ او اولادونو د روزي پیدا کولو مسأله به څنګه شي؟

# د افغانستان تر حملو لاندې تعليمي نصاب

## او محکوم زدکوونکي

ويل کېږي چې د افغانستان په ځينو سيمو کې د بهرنيانو او طالبانو تعليمي نصاب تدريسېږي، زه دا د افغانستان د نوي نسل د روزلو په برخه يوه لويه او اساسي ستونزه گڼم. ما پخوا هم د معارف د تعليمي نصاب او اړوندو ستونزو باندې خپل نظريات د مقالو په ليکلو او خپرولو سره څرگند کړي وو، خو هغو ته نه يوازې پاملرنه و نه شوه، بلکې په لوستلو باندې يې هم ښايي چا خپل وخت نه وي ضايع کړی.

يو وطن، څو تعليمي نصابونه، څېرې دولتي، څېرې پاکستاني، څېرې امريکايي، څېرې طالبي او څېرې...

خوار زدکوني بد اقتصادي حالت او په يو وخت کې څو ډوله د ښوونځي يونيفورم، پاک ذهنه شاگردان او څو ډوله درسي کتابونه، جلا فکرونه او...

وا وا وطن، نوی نسل به ډېر ښه وروزل شي.

زما د يادو مقالو له ډلې نه په يوې مقالې کې چې سرليک مې ورته «نوی تعليمي نصاب، نوې ستونزې او د چارواکو دريځ» ټاکلی و، د تعليمي نصاب او ورسره اړوندو ستونزو په هکله داسې راغلي دي:

«... د ۱۳۹۶ ام کال په حمل کې مې په کابل کې يو فرهنگي دوست هيله را نه وکړه چې د معارف وزارت يو لوړ پوړی چارواکی غواړي درسره وگوري، هغه د ډېرو کاري مصروفيتونو په وجه نه شي کولای چې بل چيرې دې وگوري، هيله داسې ده چې ته به، معارف وزارت ته، د ده د کار دفتر ته ورشې. ما ومنله او د چاروکي له لوري په ټاکلي وخت ورغلم. سکرتر يې پرته له دې چې پاس وگوري، راته وويل:

ــ څه غواړې؟

ــ ښاغلي راغوښتی يم،

ــ هغه وخت نه لري،

ــ زه ده خپله په همدغو بجو او ساعت راغوښتی يم او...

ـ هغه په مجلس کې ناست دی،

ـ ته کېنه، انتظار وباسه!

زه هم څو شیبې کېناستم، خو ښاغلی رامالوم نه شو، له ځان سره مې وویل چې سړی به مصروف وي، وعده به یې هېره وي، څه په خپل کار پسې دي. له وزارت نه په وتو وم چې په دهلیز کې په مخه راغی. بېرته یې دفتر ته بوتلم او په ډېر حق په جانبه لهجه یې راته کړل چې مصرف وم.

دې ښاغلي ته زما د زدکړو او کاري تجربې کچه مالومه وه او زما د لیکنو په باب یې هم پوره مالومات درلود. ورسره کېناستم، راته وې ویل:

«موږ غواړو درسي نصاب ته نوې کتنه وکړو، ته له موږ سره مرسته وکړه او...»

ما هم د زړه له کومې او په مینې سره د مرستې وعده ورسره وکړه او ورته و مې ویل:

ـ کله، چېرې او څنګه مرسته؟

ـ ده قلم، کاغذ را واخیستل، زما ایمیل او تیلیفون یې یادداشت کړل او وې ویل چې بیا غږ دربانديې کوم. دا دی یو کال نه لږ ډېر وخت اوښتی، خو ښاغلي تر اوسه غږ نه دی کړی.

زما له نظره تر څو چې د یوې ټولنې نوی نسل، په نوې او عصري بڼه ونه روزل شي، د هغې ټولنې او هغو خلکو ژوند به همداسې وي لکه زموږ د ټولنې او خلکو روان ژوند. نوره مو خوښه! ښايي زه به تېروتی یم.»

سره له دې چې اکثریت هېوادوال هیله لري او ځینې مدني او خیریه ټولنې عملاً دې ته کار کوي چې په ټول هېواد کې تعلیم عام کړي او په هر ښار او لا هر کلي کې ښوونځی جوړ کړی چې یوه ډېره عملاً فعاله مدني ټولنه د قلملار ټولنه ده. د دې ټولنې فعالین ښار په ښار او کلي په کلي ګرځي، څو ترلې ښوونځي پرانیزي او د کتابتونونو په پرانستلو سره د سواد او پوهې کچه عامه کړي. دغه یې د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر د اومې نېټې یو پوست دی چې په ښکاره یې لیکلي دي چې ښوونځي ته تګ د ډېرو ستونزو د حل ډېره ښه او وړیا نسخه ده:

«له جګړې د خلاصون لاره،

د سولې او پرمختګ لاره،

له نړۍ سره د سیالۍ لاره،

د یو ودان افغانستان لاره،

نن یې وخت دی، په خپل کور کلي او سیمه کې کمپاین وکړئ چې یو ماشوم هم له زده کړو پاتې نسي.

دا د هر فرد مسولیت دی.»

#penpath




خو که یې د افغانستان دوښمنان او زموږ خپل ټوپکیان ارامه پرېږدي.

د افغانستان په ښونځیو او تعلیمي نصاب کې اوس نویو ستونزو سر راجګ کړی دی: اول ښوونځی نه وي، چې د ښوونځی او ښونکي په نامه څه پیدا شي او کار پیل کړي، بیا د جنسي تېري او بیلابیلو زوروونو ستونزې رامنځته کېږي، وروسته له دې د جنت او حورو شوقیان ښونځیو، زدکونکو او ښونکو ته بمونه او ماینونه ږدي، اوس لا د څو تعلیمي نصابونو او یونیفورمونو مالګه و مرچ هم وربانديې ودوړول شول. د بهرنیانو تعلیمي نصابونه که زموږ پر ښونځیو تطبیق شول، بیا د خپل کلتور، خپلې ژبې، خپل تاریخ، خپلو ملي ویاړونو او... تمه به له نوي نسل څخه، نه کوئ. مثلاً که زدکوني د پاکستانی تعلیمي نصاب له مخې وروزل شول، د هغه زدکونکي نه ته د زمري د اته ویشتمي او شاه امان الله د یادونو او نومونو تمه مه کوه، ځکه هغه به بیا د قاید اعظم؟ او چوده اګست؟ داستان درته بیانوي. دغسې نور مثالونه.

نو دغسې ده چې موږ افغانان د خپلې ناپوهۍ له مخې ځانونو ته ستونزې جوړوو او خپل نوی نسل هم د هغو ستونزو په جال بندوو.
کله چې د امریکا جمهور رئیس دونالد ترومپ د خپلو سیاسي تېروتنو په لړ کې طالبانو ته د مخامخ خبرو زمینه برابره کړه، د طالبانو د پوښتنو او غوښتنو ګراف ډېر لوړ لاړ او د خبرو، سیاست او ټوپک کارولو په ډګر کې زمریان ورنه جوړ شول، نو هماغه و چې د افغانستان هره سیمه به یې چې لاندې کړه، نو خپل قوانین به یې په کې جاري کړل چې له هغې ډلې نه یو هم په ښوونځیو کې د تعلیمي نصاب او یونیفورم موضوع ده.

د افغانستان دولت کور دننه او تر کور د باندې دومره ستونزې لري چې دې موضوعاتو ته یې پام هم نه وراوړي. بهرنۍ خیریه مؤسسې د خپلو سروې ګانو په پایله کې ښیي چې «لوی شمېر افغان ښوونځیو کې د طالبانو نصاب تدریسېږي»؛ د افغانستان د ښوني او روزنې وزارت د دې پر ځای چې د دې ستونزو مخه ونیسي، کرار پټه خوله ناست دی. تاند ویبپاڼې د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر پر شپږمې نېټې یو ریپوټ خپور کړ چې په دې اړوند داسې په کې راغلي دي:

«تاند، جمعه، د سنبلې ۱۵مه: د افغانستان لپاره د سویډن کمېټه وایي، لا هم د دغه هېواد لوی شمېر ښوونځیو کې د طالبانو نصاب تدریسېږي.

سویډن کمېټه وايي، طالبانو ترې ځو ځله غوښتي دي چې د دوی تر ولکې لاندې سیمو کې دې ښوونځیو ته د نصاب جوړولو کې ورسره مرسته وکړي.

افغانستان لپاره د سویډن کمېټې مشر اندریس وايي، د طالبانو تر ولکې لاندې سیمو کې چې دوی هم ځینې فعالیتونه کوي، ورته معلومه شوې چې ښوونځیو کې د طالبانو په خوښه نصاب تدریسېږي.

ښاغلي اندرس زیاته کړې چې دوی ته هم په لرې پرتو سیمو کې د طالبانو له لورې تر ټولو لویه ستونزه د امنیت ده ځکه ښکیل لورې د جګړې قوانین نه مراعاتوي.

سویډن کمېټه له ۴۰ کالو راهیسې په افغانستان کې بشري او ښوونې برخه کې مرستې کوي، خو په دې وروستیو کې یې د ځو کارمندانو د وژل کېدو له کبله په افغانستان کې خپل فعالیتونه تر نامعلومې مودې وځنډول.»

د تعلیمي نصاب د بدلون تر څنګه جنګي ډلې د نویو سیمو له نیولو وروسته د زدکونکو یونیفورم هم بدلوي. نو هغه کورنۍ او ماشومان چې د خپتې د مړولو او تن پټولو توان نه لري، څنګه کولای شي چې د دولتي قوانینو له مخې یو ډول یونیفورم برابر کړي او د طالب په فرمایش بل ډول یونیفورم. ښه مثال یې د طالبانو له خوا د غزني ولایت د ځینو سیمو لاندې کول او د یونیفورم د بدلولو امر. بیا یې هم په تاند کې لولو:«

## د غزني د ۲ ولسوالیو ښوونځیو ته د طالبانو یونیفورم

غزني کې ولایتي شورا او خلک وايي، د نوي ښوونیز کال پیلېدو سره وسلوال طالبانو د دې ولایت دوو ولسوالیو کې زدکوونکو او ښوونکو ته د یونیفورم په ګډون مختلف اصول وړاندې کړي دي.

د ولایتي شورا غړی حسن رضا یوسفی وايي: طالبان تر خپلې اداري او ولکې لاندې سیمو په تیره بیا خواجه عمري او جغتو ولسوالیو کې خپل تعلیمي نصاب پلی کول غواړي:

زدکوونکي به سپین کالي اغوندي او سپینه خولۍ به په سروي. زدکوونکي به هم په افغاني لباس کې له حجاب سره ښوونځیو ته حاضرېږي. له تنګو او د لنډو کالیو له اغوستلوبه ډډه کوي او ښوونکي به په ښوونځیو ځانونه نه سینګاروی.

د نومړي په خبره، طالبانو له ښوونځیو غوښتي چې نجونې باید سپینې جورابې په پښو نه کړي: په حجاب کې به وي. تور کالي به اغوندي. بله خبره دا ده چې د مدني معلوماتو کتاب په تیر کې لوستل کیده اوس یې هغه له مهالویش ایستلی دی.

د غزني اوسیدونکی ذاکرالله دا هم وايي،چې په خواجه عمري ولسوالي کې چې کوم استادان مقررېږي، باید د طالبانو معارف ته ورشي او امتحان ورکړي.

د غزني د پوهنې رییس محب الله انصار په دې باور دی چې د طالبانو له خوا دا ډول مقرراتو رامنځ ته کول، به په غزني کې د پوهنې په بهیر کوم منفی اغیز ونه کړي:

هغه لباس چې د طالبانو له لورې یې وړاندیز شوی دی. اسلامي او افغاني لباس دی. چې د افغانستان په کلیوالو سیمو کې یې اغوستل دود دي.

انصار د طالبانو د تعلیمي نصاب خبره نه مني، خو وايي، په جغتو ولسوالۍ کې د هلکانو او نجونو مختلط ټولګي تر دولسمو ټولګیو پورې موجود و. طالبانو ورته ویلي دي. چې دا ټولګي سره بیل کړي.

د غزني په زیاتره ولسوالیو کې لا هم ځیني داسې باورونه او دودونه واکمن دي، چې خلک نه پرېږدي خپلې لوڼه ښوونځیو ته ولیږي او که یې بیا اجازه هم ور کوي یوازې تر دریم ټولګي پورې وي.

په تیر کې هم د غزني د پوهنې رییس محب انصار ویلي چې د ۱۵ کلونو په موده کې له کابو څوارلسو ولسوالیو یوه نجلۍ هم نه ده فارغه شوې»

دا واقعاً د ژړا وړ ده چې دا خلک څه وکړي، چا ته ورچغې کړي او له چا نه مرسته وغواړي؟ دغو ستونزو ته په کتو سره، سړی دې هک حیران شي چې زموږ نوی نسل، زموږ ښونځي ته تلونکي ګلالي کوچنيان او د هغوی میندې پلرونه څه وکړي، سیمې او ولسوالۍ او ولایتونه خو هره ورځ، هره اونۍ او هره میاشت لاس په لاس کیږي؛ کله د دولت تر ولکې لاندې او کله یې هم د مخالفینو تر ولکې لاندې، کوچنیان او ښونکي څه وکړي د چا ومني، یو ورته وایي فزیک او کیمیا علم دي، د علم په زدکړې سره پرمختګ او د ښه ژوند زمینه برابرېدای شي؛ بل ورته وایي چې ساینسي مضامین کفر دی، تدریس یې منع دی.

زموږ کوچنیان او زموږ نوی نسل او د هغوی کورنۍ زدکړو ته دومره لیواله دي چې که په وچ ډاګ تر سره لمر لاندې او په سپیرو خاورو کې



هم درسي ټولګی او ښوونکی وي، د زدکړو له پاره حاضر دي، خو که یې زموږ نا اهله، ناپوه ځانغوښتونکي جګړمار په کرار پرېږدي چې د نوي ژوند «الف» او «ب» زده کړي، هغوی یې ځکه نه غواړي چې دا کوچنیان که په څه باندې پوه شي، بیا  به ټوپکیان خپل جنګیالي له کومه راولي، په پوهه سمبال نوی نسل خو د هغوی جګړو او وژنو ته «نه» وایي.

اوس چې بیا د افغانستان د جګړې تنور په تودېدو او لا سره کېدو دی، د دوښمنو هېوادونو او ټوپکي ډلو د لا نا وړه استفادو زمینه ښه برابره ده، نو هر څوک، هره ډله ، هر هېواد او لا هر مذهب هڅه کوي چې زموږ معصومو کوچنیانو ته په ذهن کې خپلې عقیدې او خپلې غوښتنې او خپل عقیدوي او لا نظامي پروګرانونه ترزیق کړي.

**د کرکې اور ته نور سونتوکي مه ور اچوئ!**

# د ښوونیز نصاب بدلون

## که تشي خبرې

«د افغانستان ښووونیز نصاب ته له سره کتنه کېږي» په دې اړوند په مستند ډول د ځينو ستونزو يادونه او د حل له پاره يې څو وړانديزونه:

زموږ په هيواد او ټولنه کې د سواد او پوهې د کچې د ټيټوالي په وجه د ژوند په هره برخه کې ګڼ شمير ستونزې رامنځ ته شوي او نورې هم رامنځ ته کيږي. له ټوپکواکۍ نه مخکې هر ګوند او هره ډله چې واکمنه شوې، هڅه يې کړې چې د خپل طرز تفکر له مخې تعليمي نصاب برابر او عملي کړي.

د چپي واکمنۍ له پای ته رسيدو وروسته، کله چې ښې لاسي پټنګان له خپلو ټوپکونو سره واکمن شول، دوی هم هڅه وکړه چې هر څه د خپلې ايډيالوژۍ له مخې عيار کړي، له هغې ډلې نه د معارف تعليمي نصاب؛ خو له تيرو تجربو سره يې توپير دا و چې د دوی په راتګ سره د تنظيمي ډلو او ګوندونو د ډير والي په وجه نه يوازې په تعليمي نصاب کې، بلکې د ژوند په ټولو برخو کې په تيره اداري، سياسي او نظامي برخو کې دومره ګډوډي را منځ ته شوه چې په خپله له دوی نه هم لاره ورکه شوه چې څه وکړي.

کله چې د ښووني روزني وزارت له لوري د نويو درسي کتابونو د برابرولو پروګرام پيل کيدونکی و، ښاغلی حنيف اتمر د ښووني روزني وزير و، څه قلموال يې په هيواد کې دننه او له هيواد نه د باندې سره په نښه کړل او له بيلابيلو لارو نه يې اړيکې ورسره ټينګې کړې، څو ک يې وغوښتل او څو ک د بيلابيلو دلايلو له مخې پاتې شول، چې يو په کې زه وم.

ما چې د پوهنتون په کچه د درسي کتابونو د ليکلو تجربه لرله او د شپيتمې لسيزې د پيل په کلونو کې مې شپږ درسي کتابونه ليکلي و او د کوچنيانو له روان او ښووني روزني سره مې د آشنايي تجربه څکه لرله چې د کوچنيانو ادبيات تر سر ليک لاندې مې يو کتاب ليکلی و او په دې برخه کې مې د خپلو مطالعاتو په پايله کې ګڼ شمير مقالې هم ليکلې او خپرې کړې وې، نو کوم خواخوږي دوست د درسي کتابونو د ليکوالو او برابرونکو په لست کې زما نوم هم ورکړی و.

ما سره هم د ښوونې روزنې وزارت له کوم آدرس نه يوې ميرمنې درې ځلې تيليفوني اړيکې ونيولې، هغې ميرمنې له ما سره داسې خبرې کولې لکه زه يې چې زر خريد نوکر يم او دا مې د کور دمزدورۍ له پاره استخداموي، وروستۍ پوښتنه يې له ما نه دا وه چې ته په ډنمارک کې څه کار کوې؟

ما لکه کلک راستګوې ورته و ويل چې زه په فزيکې کار لګيا يم او د يوه بنوال دنده تر سره کوم . د دې جملې په ويلو، له ما سره غړيدونکې ميرمنې يو ځو جملې راته و ويلې، له هغو جملو نه زه داسې پوه شوم چې دې ميرمنې پر ما باندې د کابل ښاروالۍ د جاروکش ګمان وکړ، بيا نو ميرمن لاړه چې لاړه.

وروسته له هغه نه هم زه مايوسه نه شوم او د تعليم د نهضت د يو فعاله غړي او د نوي نسل د روزلو د ډېر فعاله او زړه سواندي غړي په توګه مې خپل کار ته دوام ورکړ او د کوچنياو د ادبياتو په برخه کې، د مطالعې د نهضت د پراختيا له پاره او په ټول هيواد کې د تعليم د عاميدو په غرض مې په لسګونه مقالې وليکلې او خپرې مې کړې، خو د دغو کارونو په ترڅ کې مې چې ځومره ښيګڼې او ستونزې په نښه کړې، نه چا غوږ پرې وګراوه او نه هم چا ولوستلې.
کله چې د ښوونې روزنې وزارت د درسي کتابونو پروګرام بشپړ شو، د هر درسي کتاب له پاره يو لارښود کتاب هم برابر کړای شوی و، کتابونه چاپ شول په ميليونونه نه، بلکې په ميلياردونه ډالر پرې ولګيدل. کله چې ښاغلي فاروق ورک د ښوونې روزنې وزير و، دا درسي کتابونه ټول د ښووونې روزنې وزارت په ويبپاڼه کې آنلاين شول.

زه هم د همدې مسلک د يوه شاګرد، لاروي او مينه وال په توګه ورته کيناستم يو کال او ځو مياشتې مې ور ته وقف کړې او دا ټول کتابونه مې خپل شخصي آرشيف ته را کاپي او خوندي کړل، د يو نيم کتاب مطالعه مې هم وکړه او په عملي ډول پوه شوم چې ځومره ستونزې او تير وتنې په کې دي.

دا لاندې لست د معارف د وزارت د پښتو برخې د درسي کتابونو صنف وار فهرست دی:

| لومړی ټولګی | دويم ټولګی | دريم ټولګی | څلورم ټولګی |
|---|---|---|---|
| ديني علوم | ديني علوم ح | حسن خط | رسامي هنر |
| پښتو | ديني علوم ج | پښتو | ساينس |
| رياضي | پښتو | ديني علوم ح | انګليسي |
| مهارتونه | رياضي | ديني علوم ج | پښتو |
| رسامي هنر | رسامي هنر | رسامي هنر | اجتماعيات |
| حسن خط | مهارتونه | مهارتونه | حسن خط |
| | حسن خط | رياضي | دري |
| | | | ديني علوم ح |
| | | | ديني علوم ج |
| | | | رياضي |

| پنځم ټولګی | شپږم ټولګی | اووم ټولګی | اتم ټولګی |
|---|---|---|---|
| پشتو | دینی علوم ح | عربی | ریاضی |
| دری | دینی علوم ج | م. مدنی | عربی |
| انګلیسی | انګلیسی | حرفه | بیالوژی |
| اجتماعیات | ریاضی | رسامی هنر | پشتو |
| دینی علوم ح | پشتو | بیالوژی | جغرافیه |
| دینی علوم ج | رسامی هنر | پشتو | م. مدنی |
| ساینس | ساینس | جغرافیه | دری |
| ریاضی | دری | دینی علوم | دینی علوم |
| رسامی هنر | اجتماعیات | انګلیسی | انګلیسی |
| حسن خط | حسن خط | ریاضی | تاریخ |
| | | تجوید | رسامی هنر |
| | | تاریخ | تجوید |
| | | فزیک | حرفه |
| | | کیمیا | فزیک |
| | | دری | کیمیا |

| نهم ټولګی | لسم ټولګی | یوولسم ټولګی | دوولسم ټولګی |
|---|---|---|---|
| ریاضی | انګلسي | انګلسي | دینی علوم |
| عربی | بیولوژي | بیولوژي | تفسیر |
| انګلیسی | کیمیا | کیمیا | پشتو |
| بیالوژی | کمپیوتر | کمپیوتر | انګلیسی |
| پشتو | فرهنګ | فرهنګ | تاریخ |
| جغرافیه | دري | دري | جغرافیه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| م. مدنی | جغرافیه | جغرافیه | ریاضی |
| دینی علوم | جیولوژي | اسلامی تعلیمات | دری |
| دری | اسلامی تعلیمات | تفسیر شریف | بیالوژی |
| تاریخ | تفسیر | تاریخ | کیمیا |
| رسامی هنر | تاریخ | ریاضي | فزیک |
| تجوید | ریاضي | پشتو | |
| حرفه | پشتو | فزيك | |
| فزیک | فزيك | مدني معلومات | |
| کیمیا | | | |

د افغانستان د ښوونې او روزنې وزارت تعلیمي نصاب (پښتو ـ دري، له لومړي ټولګي نه تر دولسم ټولګي پورې) د کتابونو شمیر دوه سوه اته شپیتو (۲۶۸) ټوکو (عنوان) ته رسیږي. یوسلو څلور دیرش (۱۳۴) یې په پښتو برخه کې او یو سلو څلور دیرش (۱۳۴) یې په دري برخه کې دي، توپیر یې دا دی چې د دري برخې، په نهم ټولګي کې شپاږس عنوانه کتابونه دي او د پښتو برخې په نهم ټولګي کې پنځلس عنوانه کتابونه دي، دغه راز د دري برخې دولسم ټولګي کې لس عنوانه کتابونه دي او د پښتو برخې په دولسم کې بیا یولس عنوانه دي.

لومړی: خو باید دې موضوع ته پاملرنه وشي چې دا مضامین چې کوم ښونکي تدریسوي، د هغوی ژوند او روان څنګه دی، تر کومې کچې پورې زدکړې لري، مسلکي دي که اماتور یا معاش اخستونکي، په مورد نظر مضمون کې چې تدریس یې دوی ته سپارل شوی وي، زدکونکو ته څه ورکولای شي که نه؟
او نورې ډیرې پوښتنې.

دویم: دا چې هلته چې د هر ټولګي د مضامینو شمیر او تنوع ته پام وکړئ، هیڅکله یو کوچنی، زلمکی او یا هم زلمي د دې کتابونو د لوستلو او زده کولو له بوج او بار څخه نه شي وتلای. د هر ټولګي په نصاب کې دوه، دري مذهبي مضامین ځای کړای شوي دي. د ساری په توګه د همدې تنظیمي یا ټوپکي ګډوډۍ له مخې که اهل تسنن د فقه حنفي په نامه یو څه په تعلیمي نصاب کې ځای کړی دي، نو اهل تشیع د هغه په څنګ کې د فقه جعفري مضمون خامخا ایښی دی او بیا بل یې تعلیمات دیني او بل یې قرآن کریم او بل یې تجوید او...

نو چې په هر ټولګي کې دومره دیني مضامین یو شاګرد ته تدریس شي او دا مضامین هم داسي کسان ور ته تدریسوي چې یا د ایران له قم نه راغلي وي او یا هم د پاکستان له کومې مدرسي یا جومات نه، نو هغه شاګرد به څومره د خپل وطن ملي ګټو ته وفا داره وي او...

په دغسي یو چاپیریال کې څنګه له یو ځوان زده کونکي نه چې دولس کاله همدا د جنت، دوزخ، ثواب او عذاب کیسه ورته و ویل شي، توقع لرئ چې په بله لار به لاړ نه شي، څنګه به هغه نه طالب کیږي، څنګه به هغه نه افراطي کیږي. دغسي یو تعلیمي نصاب شاګرد هغه افراطیت ته

ور کشکاږي چې عیني بیلګې یې یو وار نه په زرګوني ځلې لیدل شوې دي او همدا اوس دا پروسه روانه ده.
که د افغانستان د تعلیمي نصاب کتابونه له شکلي پلوه په ځیر سره ولیدل شي، نو ډیرې تیروتنې لري، حتی د کتابونو په پشتیو کې د کتاب نومونه په غټو تورو سره نا سم لیکل شوي او چاپ شوي دی چې دا په خپله د مسولینو د نه پاملرنې یوه بیلګه کیدای شي. دغه یې دوې نمونې دي:




د افغانستان د پوهنې وزارت مقاماتو نوې څرګندونې کړې دي چې دوی غواړي اوس بیا پر دې تعلیمي نصاب باندې له سره کتنه وکړي.
د ښوونځیو د نصاب پر کتابونو باندې له سره کتنې خبر بي بي سي د ۲۰۱۷ کال د جولای په لومړۍ نیټه خپور کړ. د خبر په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«د افغانستان د پوهنې وزارت وایي د ښوونځیو د نصاب کتابونو ته له سره کتنه کیږي او په پام کې لري چې له ارزونې وروسته به نه یوازې د مضمونونو شمېر راکمېږي بلکې د ځینو کتابونو حجم به هم راکموي.

د افغانستان د پوهنې وزیر اسدالله حنیف بلخي وایي، ښونځیو کې ډېرو مضمنونو زدکونکو ته ستونزې راولاړې کړې دي.

اوسمهال د افغانستان ښوونځیو کې ګڼ شمېر مضمونه ښول کېږي. لومړی ټولګی اووه مضمونه او دوولسم ټولګی ۱۷ مضمونونه لري.

د افغانستان د پوهنې وازارت وایي، د نصاب بیا ارزونې او د ښوونځیو د مضمونونو شمېر ټاکلو ته یې یو کمسیون جوړ کړی دی.

د پوهنې وزیر اسدالله بلخي بي بي سي ته وویل، د دې کمسیون د کار په پای کې به پرېکړه وشي چې کومه مضمونونه ګټور او کوم نه دي.»

دغه راز په همدې پورې اړوند، د ښونې روزنې وزارت پخواني مرستیال ښاغلي صدیق پتمن له بي بي سي سره په یوه غږیزه مرکه کې خپل نظر ویلی دی چې زه یې مهم ټکي دلته را اخلم:

«د پوهنې وزارت څو ځلې هوډ کړی چې تعليمي نصاب بدل کړي او بدل کړی يې هم دی، خو نوی بدل کړای شوی نصاب يې په معياري بڼه نه دی جوړ کړی چې د نورې دنيا له ښوونځيو سره په برابرۍ کې راشي چې زموږ د دولسم ټولګي فارغان وکولای شي په بهر کې د دولسم د فارغ په توګه ومنل شي.

که د بدليدو دا اوسنۍ موخه که دا وي چې کتابونه او د کتابونو پاڼې راکمې شي او نړيوال ستندردونه په پام کې و نه نيول شي، زه فکر نه کوم چې دا به نتيجه ورکړي.

د ښوونې او روزنې نظام اوس بايد په نړيوالو ستندردونو باندې جوړ شي، ډيره کمه برخه فرهنګي او کلتوري مسايلو ته ور کړل شي او زياته برخه يې ساينس ته ورکړل شي.

**ـ دا معياري بدلون څنګه راتلای شي؟**

بايد په نړۍ کې له منل شوو تعليمي نصابونو څخه، په لړ بدلون سره ګټه واخلو. هند زموږ له پاره ښه ماډل کيدای شي، سنګاپور ښه ماډل کيدای شي او ترکيه زموږ له پاره ښه ماډل کيدای شي. دا منل شوي تعليمي نظامونه دي او موږ سره فرهنګي ورته والی هم لري، چې په خپلو هيوادونو کې يې نتيجه هم ورکړې ده.

**ـ زموږ په هيواد ګڼې ستونزې موجودې دي، تاسو د يادو هيوادونو د پروګرامونوتطبيق ته افغانستان کې شرايط مساعد ګڼئ؟**

ـ بلې، بلکل. ګورئ! فزيک هر چيرې فزيک دی، تاسو نه شئ کولای د افغانستان له پاره بل فزيک يا بله کيميا جوړه کړئ.

تعليمي نصاب موږ د دې له پاره جوړوو چې د فرد او ټولنې په ژوندانه کې فرق راولي او زموږ فارغ بايد په افغانستان او نړۍ کې د کار کولو جوګه وي.
که تعليمي نصاب هدف و نه لري، دا خو د وخت ضايع کول دي چې همدا اوس موږ وخت ضايع کوو.

**ـ په دغه اوسني تعليمي نصاب باندې دا شپاړس کاله تير شول، په دغه تعليمي نصاب باندې کار کيدلو، ستونزه چيرې وه چې دې ټکي ته پام نه کيده؟**

ـ ستونزه سياسي وه. امکانات په کافي اندازه موجود وو، نړيوالې ټولنې مرستې کولې، خو د پوهنې له سکتور سره سياسي برخورد کيده او اوس هم په سياسي جال کې ښکيل ده.

زه باوري نه يم چې د پوهنې اوسنۍ رهبري دې په دې بريالۍ شي چې دوی يو مناسب نصاب جوړ کړای شي چې هغه په درد وخوري. موږ مجبور يو له نړيوالو معيارونو سره ځان برابر کړو...

اوسنۍ حکومت ته زما وړانديز دا دی چې وخت ضايع نه کړي، نړيوالو ستندردونو ته لاړ شي. ملي ستندردونه يوازې په اجتماعياتو او اسلامي مسايلو کې تطبيقيږي، موږ بايد نړيوال منل شوي ستندردونه را واخلو، که يې را وانخلو مانا يې دا ده چې موږ وخت ضايع کوو.»

**او اوس دوې خبرې:**

**لومړی:**

اوس چې د افغانستان د ښوونې روزنې وزارت اعلان کړی چې:

«د افغانستان ښوونيز نصاب ته له سره کتنه کيږي»

دلته پوښتنې را منځته کېږي چې:

رژيم هماغه، خلک هماغه، پاليسي هماغه او په پای کې هر څه هماغه، په تعليمي نصاب باندې يې په ميلياردونو لګولي، خو سره له دې چې د نړيوالو مرستې د پخوا په پرتله لږې شوې دي، نو اوس يې بيا بدلوي او چې بدلوي يې، په چا او څنګه يې بدلوي؟

**دويم:**

په سلګونه او ښايي لا ډېر شخصي ښونځيو کې همدا اوس د پرديو تعليمي نصاب تدرسېږي، د دې مخ ولې نه نيول کېږي؟

دا افغانستان دی که پاکستان؟

دا افغانستان دی که ايران؟

ما په خپلو مقالو او لکچرونو کې د افغانستان په تعليمي نظام او ښونيز نصاب کې ستونزو ته په تکرار سره اشارې کړې دي او په خپلو ليکنو کې مې په تفصيل، له اسنادو سره خبرې ورباندې کړې دي.

په کندوزکې مې د څو ښځينه خپلسرو ښونځيو په باب «د افغانستان ښوونيز نظام، جامعة الصالحات، اشرف المدارس يا د نوي نسل... ؟» تر سرليک لاندې مقاله وليکله او د هغو خپلسرو ښونځيو د کارونو او تعليمي نصاب د پايلو په باب مې کوتښتنې وکړې، هلته ما ليکلي وو:

«... ترهغه ځايه چې زه په افغانستان کې دننه او له افغانستان څخه د باندې د افغان ماشومانو په ښوونه او روزنه باندې خبر يم، د دې ښوونې اوروزنې منفي اړخونه تر مثبتو دا ډېر دي، په تيره په افغانستان کې دننه. د همدې دليل له مخې ما ټينګار کړی دی او ټينګارکوم چې زموږ ښوونه او روزنه معيوبه ده، بايد سمه اوجدي پاملرنه ورته وشي...

زه د افغانستان د ښوونې او روزنې په برخه کې ځان مسول ګڼم او د دې برخې د يو مسول په توګه په زغرده وايم چې د وطن، خلکو او ښوونيز نظام د لا فاسديدو او لا بربادېدو په خاطربايد خپل غږ اوچت کړم او و وايم چې:

د تولنيزژوند په هيڅ برخه کې افراطيت ښه نه دي، په تيره د نوي نسل په ښوونه او روزنه کې. هيله ده چې نور بادرده فرهنګيان، سياسيون او په ځانګړي ډول د ښوونې او روزنې د ډګر مسولين په هر ممکن ډول چې وي، زما د غږ ملتيا وکړي، څو د دغه افراط مخه ونيول شي...»

زما دا خبرې او دا نظر چا نه واوريدل نه يې ولوستلې او نه هم چا ارزښت ورکړ، پايله يې دا شوه چې اوس د همغو افراطي ډلو د تدريس او تبليغاتو په نتيجه کې د کندز حال داسې دی چې ګورئ يې او اورئ يې.

بيا مې د همدې اوږدې مقالې په پای کې د ۲۰۱۴ کال د مارچ په اتمه نيټه په ټينګار سره ويلې و او ليکلي و چې:

«... په افغانستان کې ښوونيز او روزنيز نظام بايد بدل شي، له سره جوړ شي، داسې جوړشي چې د نوې نړۍ د پرمختګ د کاروان ټول اړين مسايل يې په لمن کې موجود وي.»

وروسته له دې چې د افغانستان د تعليمي سيستم د بدليدو له پاره زما نظريات خپاره شول، پرته لو يو څو منفي توهين ډوله خبرو نه چې زما په آدرس را حواله شوې وې، نور مې له هيڅ

رسمي او غير رسمي آدرس نه کوم غبرګون تر سترګو او غوږو نه شو. کله مې چې پاسنۍ یاده مقاله خپره شوه، د تکفیر حکم را باندې وشو، د دين فروش په نامه ياد شوم او په دغو جملاتو يې و نازولم:

«... د ليکنې د محتوياتو څخه داسې معلومیږي چې یا خو پخپله د مارکس، لینن او ستالین ګوډاکي يې او يا د مسيحيت او ديموکراسي حلقه بګوش او دين فروش غلام ...

... که د داسې ديني مدرسې پرخلاف کوم عکس العمل تر سره شي نو بيا به په دې وطن کې د کنړې سيند په ځير وينې وبهيږي چې په نتيجه کې به يې بيا ټول مسئوليت ستاسې په شان د دين او وطن پلورونکو پر غاړه وي...»

د دغسې مدرسو او د هغو د مسؤلينو د افکارو د خپرولو پايله وه چې کندوز يې درته په سره تناره بدل کړ او بهرنيانو په همدې مدرسو کې د روزل شوو ځوانانو په کارولو سره و غوښتل او غواړي په خپلې نيابتي جګړې کې دغه ځوانان د سون د موادو په ځير وکاروي او تر هغه وخته دې کار ته دوام ورکوي چې يا موږ افغانان د جهالت له خره څخه، د پوهې سيمې ته ور ښکته شو او يا دوی خپلې موخې تر لاسه کړي.

د افغانستان د معارف د تعليمي نصاب د بدلون د دمامو په دې ګرما ګرم کې زه وايم چې دوی دا کار نه کوي، هسې پر يخ يې ليکي او تاوده لمر ته يې ږدي او که په رښتيا سره دا کار کوي، نو د اوس له پاره دې دا څو ټکي نه هېروي:

**په لومړي ګام کې دې دولت د معارف د وزارت او د معارف د ټولو مهمو ادارو په رأس کې غير سياسي، غير ګوندي او غير تنظيمي، مسلکي او تجربه لرونکي اشخاص پيدا او و ګوماري.**

**دغه نوي نا پيلي مسؤلين دې په خورا زيار او زغم نور مسلکي، با تجربه او با تحصيله افراد پيدا او د معارف په نصاب دې داسې کتنه وکړي چې د ملي مسايلو تر څنګ، د نوي عصر ټولې غوښتنې او پوښتنې په کې په پام ونيول شي.**

# بیا د ښوونیز نصاب بدلون

## او بیا ټول کنګلونه لمر ته اېښودل

د ۲۰۱۹ ام کال د نومبر پر لسمه نېټه بي بي سي پښتو د يوه رپوټ په ترڅ کې خبر ورکړ چې:

**«د افغانستان ښوونيز نصاب تېروتني لري، عصري نصاب جوړېږي»**

د دې رپوټ په يوه برخه کې داسې راغلي دي:

«د افغانستان د پوهني وزارت وايي، په اوسني ښوونيز نصاب کې د مضامينو شمېر زيات دی او په يو شمېر کتابونو کې تېروتني هم شته. چارواکي وايي اوس اړتيا ده چې نوی او عصري ښوونيز نصاب جوړ شي.

ټاکل شوې چې د پوهنې وزارت د ښوونيز نصاب د اصلاح کولو په موخه له ښوونکو، د زدکوونکو د کورنيو له غړو او ځينو نورو بنسټونو سره ګډه غونډه جوړه کړي...»

زه نه پوهېږم چې د افغانستان په دې ورځو او په سلګونو مرضونو اخته ټولنه کې د معارف وزارت مقامات دومره پيسي د څه له پاره هر درې څلور کاله وروسته د تعليمي نصاب د بدلون په نامه مصرفوي؟ او د بدلون کوم محسوس څه، چې د معارف او د معارف د زده کوونکو په ګټه وي، نه تر سترګو کېږي؟

لږې هم نه د ۲۰۱۷ ام کال په جولای کې همدې بي بي سي کې خبر خپور شو چې د افغانستان د پوهني وزارت مقاماتو نوې ښرګندوني کړې دي چې دوی غواړي اوس بيا پر تعليمي نصاب باندې له سره کتنه وکړي.

دا د ياد رپوټ لومړی پرګراف دی:

«د افغانستان د پوهني وزارت وايي د ښوونځيو د نصاب کتابونو ته له سره کتنه کېږي او په پام کې لري چې له ارزوني وروسته به نه يوازې د مضمونونو شمېر راکمېږي بلکې د ځينو کتابونو حجم به هم راکموي.»

دا دی په تعليمي نصاب کې د هغه بدلون له خبر څخه شا و خوا اته ويشت مياشتي تېرې دي چې د اوسني بدلون خبر خپرېږي. دغه اوسنی نيمګړتياوې يا مشورې د معارف وزارت مسؤلينو هغه وخت ولې نه کولې؟

ما آصف بهاند د ۲۰۱۷ کال د نصاب د بدلون په برخه کې چې کوم څه لیکلي وو، اوس هم په هماغه نظر یم. له درنو لوستونکو او د ویبسایټونو له ښاغلو مسؤلینو څخه د هغو کرښو د بیا خپرولو بښنه غواړم، هغه وخت ما داسې لیکلي وو:

«او اوس دوې خبرې:

**لومړی:**

اوس چې د افغانستان د ښوونې روزنې وزارت اعلان کړی چې:

«د افغانستان ښوونیز نصاب ته له سره کتنه کیږي»

دلته پوښتنې را منځ ته کیږي چې:

رژیم هماغه، خلک هماغه، پالیسي هماغه او په پای کې هر څه هماغه، په تعلیمي نصاب باندې یې په میلیاردونو میلیونونو ډالر لګولي، خو سره له دې چې د نړیوالو مرستې د پخوا په پرتله لږې شوې دي، نو اوس یې بیا بدلوي او چې بدلوي یې، په چا او څنګه یې بدلوي؟

**دویم:**

په سلګونه او ښایي لا ډیر شخصي ښوونځیو کې همدا اوس د پردیو تعلیمي نصاب تدرسیږي، د دې مخ ولې نه نیول کیږي، دا افغانستان دی که پاکستان؟ دا افغانستان دی که ایران؟

ما په خپلو مقالو او لکچرونو کې د افغانستان په تعلیمي نظام او ښونیز نصاب کې ستونزو ته په تکرار سره اشارې کړې دي او په خپلو لیکنو کې مې په تفصیل، له اسنادو سره خبرې ورباندې کړې دي...»

وروسته له هغه نه ما په یاده مقاله کې خپلې خبرې او وړاندیزونه داسې غځولي وو:

«په کندوزکې مې د څو ښځینه خپلسرو ښونځیو په باب «د افغانستان ښوونیز نظام، جامعة الصالحات، اشرف المدارس یا د نوي نسل... ؟» تر سرلیک لاندې مقاله ولیکله او د هغو خپلسرو ښونځیو د کړنو او تعلیمي نصاب د پایلو په باب مې کوتښنې وکړې، هلته ما لیکلي وو:

«... ترهغه ځایه چې زه په افغانستان کې دننه او له افغانستان څخه د باندې د افغان ماشومانو په ښوونه او روزنه باندې خبر یم، د دې ښوونې اوروزنې منفي اړخونه تر مثبتو دا ډیر دي، په تیره په افغانستان کې دننه. د همدې دلیل له مخې ما ټینګار کړی دی او ټینګارکوم چې زموږ ښوونه او روزنه معیوبه ده، باید سمه او جدي پاملرنه ورته وشي...

زه د افغانستان د ښوونې او روزنې په برخه کې ځان مسؤل ګڼم او د دې برخې د یو مسؤل په توګه په زغرده وایم چې د وطن، خلکو او ښوونیز نظام د لا فاسدیدو او لا بربادیدو په خاطرباید خپل غږ اوچت کړم او و وایم چې:

د تولنیزژوند په هیڅ برخه کې افراطیت ښه نه دی، په تیره د نوي نسل په ښوونه او روزنه کې. هیله ده چې نور بادرده فرهنګیان، سیاسیون او په ځانګړې ډول د ښوونې او روزنې د دګر مسؤلین په هر ممکن ډول چې وي، زما د غږ ملتیا وکړي، څو د دغه افراط مخه ونیول شي...»

زما دا خبرې او دا نظر چا نه واوریده نه یې ولوست او نه هم چا ارزښت ورکړ، پایله یې دا شوه چې اوس د همغو افراطي ډلو  د تدریس او تبلیغاتو په نتیجه کې د کندز حال داسې دی چې ګورئ یې او اورئ یې.

بیا مې د همدې اوږدې مقالې په پای کې د ۲۰۱۴ کال د مارچ په اتمه نېټه په ټینګار سره ویلي و او لیکلي و چې:

«... په افغانستان کې ښوونیز او روزنیز نظام باید بدل شي، له سره جوړ شي، داسې جوړشي چې د نوې نړۍ د پرمختګ د کاروان ټول اړین مسایل یې په لمن کې موجود وي.»

وروسته له دې چې د افغانستان د تعلیمي سیستم د بدلیدو له پاره زما نظریات خپاره شول، پرته له یو ځو منفي توهین ډوله خبرو نه چې زما په آدرس را حواله شوې وې، نور مې له هیڅ رسمي او غیر رسمي آدرس نه کوم غبرګون تر سترګو او غوږو نه شو. کله مې چې پاسنۍ یاده مقاله خپره شوه، د تکفیر حکم را باندې وشو، د دین فروش په نامه یاد شوم او په دغو جملاتو یې و نازولم:

«... د لیکنې د محتویاتو څخه داسې معلومیږي چې یا خو پخپله د مارکس، لینن او سټالین ګوډاکي یې او یا د مسیحیت او دیموکراسي حلقه بګوش او دین فروش غلام...

... که د داسې دیني مدرسې پرخلاف کوم عکس العمل تر سره شي نو بیا به په دې وطن کې د کنړې سیند په ځیر وینې وبهیږي چې په نتیجه کې به یې بیا ټول مسئولیت ستاسې په شان د دین او وطن پلورونکو پر غاړه وي...»

د دغسې مدرسو او د هغو د مسؤلینو د افکارو د خپرولو پایله وه چې کندوز یې درته په سره تناره بدل کړ او بهرنیانو په همدې مدرسو کې د روزل شوو ځوانانو په کارولو سره و غوښتل او غواړي په خپلې نیابتي جګړې کې دغه ځوانان د سون د موادو په ځیر وکاروي او تر هغه وخته دې کار ته دوام ورکوي چې یا موږ افغانان د جهالت له خره څخه، د پوهې سیمې ته ور ښکته شو او یا دوی خپلې موخې تر لاسه کړي.

د افغانستان د معارف د تعلیمي نصاب د بدلون د ډمامو په دې ګرما ګرم کې زه وایم چې دوی دا کار نه کوي، هسې پر یخ یې لیکي او تاوده لمر ته یې ږدي او که په رښتیا سره دا کار کوي، نو د اوس له پاره دې دا ځو ټکي نه هیروي:

**په لومړي ګام کې دې دولت د معارف د وزارت او د معارف د ټولو مهمو ادارو په رأس کې غیر سیاسي، غیر ګوندي او غیر تنظیمي، مسلکي او تجربه لرونکي اشخاص پیدا او و ګوماري.**

**دغه نوي نا پیلي مسؤلین دې په خورا زیار او زغم نور مسلکي، با تجربه او با تحصیله افراد پیدا او د معارف په نصاب دې داسې کتنه وکړي چې د ملي مسایلو تر څنګ، د نوي عصر ټولې غوښتنې او پوښتنې په کې په پام ونیول شي.»**

همدا اوس هم د ښووني روزنې په وزارت کې په ډېر لوړ معاش سره، په لسګونو غیر مسلکي کسان مقرر شوي دي. زه دا خبره هوایي نه کوم، دا د پوهنتون د یو استاد، د کوچنیانو د ادبیاتو د یو پیاوړي مسلکي لیکوال، د لسګونو آثارو لیکوال او ژباړن او پر معارف باندې د یو زړه سواندي استاد محمود مرهون، د مستند شکایت متن دی:

«#نو وای معارف ولې نه جوړیږي؟

زموږ یو ملګری دئ د طب ډاکټر دئ

په معارف وزارت کې د پښتو ژبې د ارشد متخصص په توګه ټاکل سوی د ورځي معاش يې سل ډالره دئ.

شینواری صاحب مو یار دئ په دې موضوع خبر دئ.

دا کار د پښتو متخصصینو او د افغانستان د ولس پر حقوقو تیری دئ او دا کسان ځان روښن فکران او حق پلوي هم شماري.

دا یو مثال دئ په دغه ډبر لسګونه مشاورین او متخصصین په وزارتو کې دي چې اصلاً يې نه مسلک دئ نه کار.»

ما آصف بهاند تر یو بريده:

ــ د نوي نسل د روزلو په پار،

ــ په خلکو کې د سواد زدکړې د عامېدو په هیله،

ــ د تعلیم د عامېدو په غرض،

ــ لوړو زدکړو ته د ځوانانو د تشویق په خاطر،

ــ او د همدې تعلیمي نصاب د نیمګړتیاوو د رفع کېدو په موخه؛

په لسګونو مقالې لیکلې او خپرې کړې دي. د ځینو سر لیکونه او برېښنايي پتې دا دي:

ــ د ښوونيز نصاب بدلون که تشي خبرې ـ تاند،

ــ تعلیمي نصاب پښتو کتابونه ـ تاند،

ــ نوی تعلیمي نصاب، نوې ستونزې او د چارواکو دريځ ــ تاند،

ــ د سواد زدکړه، تعلمي نصاب، امکانات او زمونږ دريځ ـ تاند،

ــ تعلیم او نوی نسل ـ تاند،

ــ بیا یو څو ترخې خبرې؛ تعلیم او نوی نسل ـ تاند،

ــ د تعلیم ارزښت ـ تاند،

ــ د تعلیمي نصاب پښتو کتابونه ـ افغان جرمن آنلاین پورتال،

ــ یوه بله نیکنامي؟

«افغانستان د نجونو تعلیم لپاره خلورم ناوړه هېواد» ـ افغان جرمن آنلاین پورتال،

ــ د چاروکو ځانغوښتنه او د معارف د کوچنیانو چکچکې ـ افغان جرمن آنلاین پورتال،

ــ تعلیم، کتاب ویشنه، مطالعه او قلملار تولنه ـ افغان جرمن آنلاین پورتال،

ـ دغه راز «د تعليم ډيوه او د نوي نسل روزنه» تر سر ليک لاندې مې د مقالو يوه ټولگه چې په تعليم پورې اړوند مقالې او د تعليم د مخکښانو پېژندنه په کې راغلې دي، د ۲۰۱۹ کال په فبرورۍ مياشت کې په انلاين ډول خپره کړې ده.

نور زه څه کولای شم، دغومره مې له دې لرې ـ لرې وطنو نه له لاسه کېږي.

په بېلابيلو هېوادونو کې مې، موضوع پورې اړوند په جوړو شوو ځانگړو سيمينارونو کې د گډون په موقع، د يادو هېلو د مهموالي او تر سره کېدو غوښتنه او وړانديز کړی دی، د معارف له لوړ پوړو چارواکو سره مې د ليدو په وخت کې د نوي نسل د سمې روزنې او تعليمي نصاب د اصلاح په پار د خپلو هيلو او پروگرامونو يادونه او وړانديزونه کړي دي او...

خو له لومړي ورځې، بيا تر نن پورې له هېڅ يو رسمي او غير رسمي آدرس نه غږ نه دی شوی او کوم ځواب مې نه دی اورېدلی. د ښوونې او روزنې وزارت له ښاغلي معين ډاکتر شينواري او د اطلاعاتو او فرهنگ له درانه معين پوهاند رسول باوري سره مې، د دوی په خپله غوښتنه د ملاقاتونو په ترڅ کې د دوی پوښتنو ته ځوابونه وويل، وړانديزونه مې ورته مخکې کېښودل او... دې دواړو ښاغلو زما د تيليفون شميره او ايمل آدرس وليکه، خو تر نن پورې يوه هم بيا غږ نه دی کړی.

په افغانستان کې د معارف په نامه چې کوم کېړی موټر شته، لومړی بايد د هغه ډريوري يو مسلکي شخص ته وسپارل شي، بيا دې د هغه موټر د رنگولو او ترميم د مصارفو له پاره ملا وتړي.

**«د مينې کور يې زموږ**
**وطنه مور يې زموږ»**

# زموږ تعليمي نظام او د جهادي کتابونو لړۍ

د يوه هيواد او يوې ټولنې پر ښوونيز نظام باندې غږيدل، نه تماميدونکې او نه زړيدونکې خبره ده. هرکله بايد د وخت له غوښتنو سره سم د ملي او هيوادنيو ګټو په پام کې نيولوسره خبرې پرې وشي او اړين بدلونونه په کې راوستل شي.

د دې خبرې کول ښا ـ بيا اړينه ګڼم چې په ټول کې زموږ ښوونيز نظام نيمګړی دی. په رسمي او غير رسمي چاپيدونکو موادو کې ډيره سلنه داسې شيان زده کونکو ته، نوي نسل ته او د ټولنې راتلونکوو مسؤلينو ته په لاس کې ورکول کېږي، چې هغه شيان نه يوازې ټولنه او نوی نسل د زماني له نويو غوښتنو او پوښتنو سره نه شي برابرولای، بلکې داسې حالت ته يې رسوي چې د نوي وخت پر ضد يې دروي.

په افغانستان کې دننه په ښوونځيو کې ډېرې نيګړتياوې شته چې بايد نه وای، خو له هيوادنيو رسمياتو نه د باندې کړيو کې بيا بل څه روان دي. هغه څه چاپيږي او زموږ نوي نسل ته په لاس کې ورکول کېږي چې زموږ د ټولنې او خلکو د تباهۍ سبب شوي، کېږي او د دې وطن او خلکو د دښمنانو غوښتنه ده.

په افغانستان کې دننه او له افغانستان څخه د باندې د افغانانو د ژوند هره پانه چې راواړول شي، له نيمګړتياوو او ستونزو ډکه وي. هغه نيمګړتياوې چې ډيری يې بايد اوس زموږ په مخ کې نه وای، موږ هرکله ورسره لاس ګريوان يو، کړې تيروتنې بيا ـ بيا تکراروو او ملامتيا يې هم پر شرايطو، تيرو واکدارانو او جګړې باندې ورتپوو.

ښه مې په ياد دي چې رحيم الله يوسفزي په يوه مرکه کې د طالبانو په برخه کې د يوې پوښتنې په ځواب کې ويلي و:

«د چا په نس هم که درد شي، وايي چې دا د طالبانو له لاسه...»

اوس له بده مرغه که د چا په خپل کور کې له خپلې ښځې او کوچنيانو سره اړيکې خرابې شي، نو وايي دا د وخت او شرايطو، جګړې او... له لاسه.

د امريکايي ديموکراسۍ په دايره کې، د کرزي د واکمنۍ په لومړۍ دوره کې، په تيروتنه او نه پوهيدنه کې د وطن يو عالم او با درکه او بادرده شخصيت، د ښوونې روزنې د اداري (د ښوونې او روزنې وزارت) مسؤل شو، امين يادوم، رسول امين. دی هم په تيوريکې ډول او هم په عملي ډول د ښوونې روزنې متخصص و، ده په همدې څانګه کې لوړې زدکړې درلودې او عملاً يې د ښوونکې يا استاد په ډول کار کړی و. دا د اوريدلو يا لوستلو او د رواياتو خبره نه ده، ما خپله کله چې د کابل پوهنتون د ادبياتو په پوهنځي کې زدکړې کولې، د شاګردۍ وياړ يې راپه برخه شوی دی. ما په عملي ډول دی وليد چې ده څومره له وطن او خلکو سره مينه درلوده، په ښوونيز نظام باندې يې عقيده درلوده او د زړه له کومې يې کار ورته کاوه؛ خو له بده مرغه چې له څه

لنډې مودې وروسته له کار نه لرې کړای شو، ښايي چې د حاکم نظام د ټوپکوالو يو خصلت به همدا وي چې کار پوه خلک نه غواړي، ځکه چې د ټوپکوال له عالم او قلموال سره نه وي جوړه.

د استاد شپون په يادداشتونو کې داسې راغلي دي چې:

«... د کرزي په دربار کې يوه ورځ مارشال فهيم د ټولو وزيرانو په شتو کې، مخامخ ودرېد د کرزي ميز ته يې په سوک ګزار ورکړ او وې ويل:

«ميخواهي که يک قفاق بزنمت؟»

ولسمشر ورته ترې ـ ترې کتل. چې مارشال ووت، نو کرزي له امين صيب نه پوښتنه وکړه، که ته زما په ځای وای څه دې کول؟ امين ورته وويل:

«رئيس صيب که زه وای اول مې متې ورته شا ته تړلې، بيا مې په وهلو له ارګه ايسته چې باديګر دې خوا رانه شې.» (۱)

ښايي کاڼه ارګمشر ته د ښوونې روزنې د دې زړه سواندي همدا مصلحت به و چې نور يې کار ته پرېنښود او داسې يو څوک يې د هغه پرځای وټاکه چې نه يوازې په ښوونې روزنې خبر نه و، بلکې ټول کړه وړه يې د وطن او د وطن د تعليمي نظام پرضد و.

د نورو دلايلو ترڅنګه، دغسې دلايل دي چې تعليمي نظام مو تراوسه همداسې ګډوډ او ضد ملي دی او د ملي مسايلو پرځای په کې شخصي، ذوقي او تنظيمي شيان تدريسېږي.

د ذوقي شيانو په ډله کې يې لويه نمونه په تعليمي نظام کې د اړينو مسايلو (اساسي قانون، ترافيکي قانون، ملي ترمينالوژي، لومړنۍ طبي مرستې، د وطن پالنې روحيه او...) پرځای د کرکټ شاملول دي چې کوم ښاغلي به د مهاجرت په دوران کې يوځو ورځې په پاکستان کې د کرکټ په ميدانونو کې منډې کړې وې او اوس يې د خپل ذوق له مخې چې د ده خوښېږي او واک هم لري، نويي تعليمي نصاب کې د ملي مسايلو پر ځای د کرکټ د ځای پر ځای کولو هڅې پيل کړې.(۲)

زه د هيڅ ډول سپورت مخالف نه يم، خو نه داسې چې د ډېرو اړينو مسايلو د زدکړې او تدريس بودجه او وخت دې په هغه ولګول شي، هيله ده چې د کرکټ مينوال او- په تيره زما د ډېرې خوښې وړ کالم ليکونکی، چې زه ورته د اوسني زمانې د مسجع نثر مخکښ ليکوال هم وايم ـ مطيع الله عابد له ما نه خوا بده نه کړي.

په ۱۹۹۲کال کې چې جبراً په پېښورکې لنډ مهالی استوګن وم، په افغانستان کې ګډوډيو، ټوپکسالارۍ، چورتالان او ناخوالو داسې سربداله کړی وم، چې حتی له مطالعې نه مې هم زړه تورشوی و، خود يوې مجلې پرمخ مې پام داسې يو سرليک ورواړاوه چې نه مې شول کولای چې ويې نه لولم. «ما له کلمه نه راځي» دا د نورالبشر نويد په قلم د هغه افغان ماشوم رېښتينی انځورو، چې پلار يې د اسلام د ګټلو ترنامه لاندې خپل سرخوړلی و او ماشوم د خپلې مور او له پلارنه پاتې ماشومانو د ساتلو په خاطر سپيلني لوګي کولو ته اړ شوی و او د جهاديانو او د اسلام د مدعيانو په غيږ کې او د دوی ترړيرې لاندې په لويدو ـ لويدو يې، سواد څه چې کلمه يې هم نه وه زده.

د مضمون په لوستلو سره مې سترګې نمجنې شوې، خو د اوښکو د کوربه توب توان مې نه درلود، ځکه چې زه خپله نا بللی ميلمه وم. يوځو يادداشتونه مې په خپل زخمي ذهن او کاغذ باندې وليکل او هغه وخت مې سره له دې چې ذهن او ګوتې د څه ليکلو له پاره وتخنيدې، خو شرايط او زما ذهني حالت داسې نه و چې څه پرې وليکم.

مور لکه وچې پاڼې د سرو او شنو بادونو څپو پسې واخستو او چيرته لرې يې په يوه پردي پردي وطن کې وروغوځولو. په ماسکو کې چې بيرته قلم او کاغذ د پخلاينې موسکا راته وکړه، بيا نو په پيښورکې د هغه ماشوم د سپلنو لوګيو او په مسکو کې د آواره افغان ماشوم داسې حالت چې له خپلې مورنۍ ژبې او کلتور سره د پرديتوب پر لورې روان و، دې ته اړيستلم چې د «پردی چاپيريال او د کوچنيانو د زدکړې مسأله» ترسرليک لاندې د مقالو سلسله راپيل کړم. هلته مې د نورالبشر نويد همدا کالم«ماله کلمه نه راځي» د استناد له پاره رانقل کړ.(۳)

ډنمارک ته په راتګ سره مې د افغان کوچنيانو په روزنيز حالت کې د نورو نيګړتياوو او ناخوالو په ليدلو سره دغه لړۍ پسې وغځوله.

او ورسته له څومره کلونو دا دی بيا نويد صاحب دافغان کوچنيانودزدکړې په برخه کې يوې ستړې ستونزې ته د يوې عينې او ژوندۍ خاطرې په ليکلو سره اشاره کړې ده. د بي بي سي په پښتو ويبسايت کې د نويد د کالمونو په سلسله کې، د۲۰۱۳ کال د مۍ پر ۱۲ مه نيټه د «د جهاد په کتاب پسې يو ليواله ماشوم» (۴) يو کالم راغلی دی. په دې کالم کې د هماغې کيسې بله برخه راغلې ده، چې په ۱۹۹۱کې چې نويد د يوه افغان ماشوم د دودغړن ژوند انځور په کې ايستلی و. په دې توپير سره چې په ۱۹۹۱ م کال کې افغان ماشوم د ورونو او مور د نس مړولو له پاره منډې وهلې، خو دا بل ماشوم جنت ته د تللو په خاطر د جهاد کتاب لټوي.

دا ماشوم ښايي د هغه کتاب په لټون پسې راوتلی وي چې حقاني شبکې د «نظامي درسونه» تر سرليک لاندې چاپ او خپور کړی و چې پرته له معلم او تريننګه نه يې د جهاد طريقه ښووله.(۵)

دغه «ماشوم ته خپل استاد ويلي و چې د جهاد کتاب وګوره. څه ظالم، قاتل استاد دی چې خپل شاګرد ته هغه لار ښيي چې په خپله پرې د تلو جرات نه شي کولای.» (۴)

ځينې سياسيون او د نظر خاوندان لا داسې وايي چې نقص په نظام کې نه دی. له نن نه دوه درې ورځې مخکې ښاغلي مسکينيار په خپل تلويزيون کې، د خپلو سياسي تبصرو په لړ کې په زغرده وويل چې:

نيمګړتيا په نظام کې نه ده، نظام بايد بدل نه شي، نيمګړتيا په کرزي کې ده او د کرزي په کاري ټيم کې ده، دوی بايد بدل شي.

زه داسې فکر کوم چې تر ټولو ستره نيمګړتيا په نظام او سيستم کې ده. په سياسي او ښوونيز نظام کې. مور بايد د شخص يا اشخاصو تر بدلون مخکې، د تعليمي نظام اوسيستم د بدلون په فکر کې اوسو، د ټولنې طرز تفکر بايد بدل کړای شي، د ټوپک پرځای بايد ماشوم ته قلم او کتاب په لاس کې ورکړل شي او کتاب ته مو پام وي چې کوم کتاب په لاس کې ورکړو، هغه کتاب په لاس کې ورکړو چې د دنيا او آخرت د سميدو راز په کې نغښتی وي، نه دا چې يوازې جنت ته د تلو په پلمه د دنيا او آخرت د بربادۍ او د نوي نسل څه چې لا د څو نسلونو د تباهۍ راز په کې پټ وي.

همدا جنت ته د تګ د منفي او بدو تبليغاتو وجه ده چې زمونږ ډيری کوچنيانو ته، زمونږ ګلانو ته ويل شوي دي چې:

ټوپک دځوانانو ؛ګاڼه ده.

خو تر نن پورې نه دي ورته ويل شوي چې:

قلم د نوي نسل ګاڼه ده،

زدکړه او پوهه د نوي نسل زيور دی،

کمپيوتر د نوي نسل د وړاندې تګ او د علم او پوهې د زدکړې او لاس ته راوړلو ښه وسيله ده.

د تيارې د استازو مشرانو او رهبرانو په لوړ اواز په خپلو خبرو کې ويلي دي:

ګورئ!

پام کوئ چې فيسبوکي ځوانان مو چپه کوي.

دوی د خپل ژوند د اوږدولو له پاره له رڼا (پوهه) سره مخالفت کوي. دا ستره او د پام وړ خبره ده چې:

ترټولو ستره ګناه، ستر خيانت او ستره جفا دا ده چې نوی نسل له حقايقو لرې، له پوهې او تکنالوژۍ څخه ته، په تياروکې وساتل شي.

مور له بده مرغه د خپل افراط او تفريط د ناوړه عادت له مخې يو وار هرڅه سره کړل او بيا مو ورپسې له هغه نه په افراط سره شنه کړل او سپين بادونه مو داسې پسې راوالوزول چې نوی نسل څه چې، نوي نسلونه يې په تياروکې مخ په ښکته ټيل وهل، حتی ښوونه اوروزنه.

د باندې له افغانستانه که د ښوونې او روزنې سلسله تعقيب شي. له دې نه بد افراط په کې شوی دی. په هغو کتابونو کې چې په لومړي ځل ماشوم ته «الف - ب» ورزده کوي، وليکل شول:

ت= توپک

ټ = ټانک

ج = جهاد

و= وژل

م= مرګ

ک = کمونست

او...

داسې کتابونه او داسې تعليمي نظام کوچنيانوته، نوي نسل ته کرکه، جګړه او وژل ورزده کړي او ورزده کوي يې چې دا دی ترنن پورې يې پور همدا افغانان پسې ادا کوي.

مور ځان څه چې، حتی توري مو نوم بدي کړل.

همدا توري مو داسې هم کارولای شول:

و= وطن

م= مور

ک= کرل

او...

له بده مرغه په افغانانو کې خو اول سواد عام نه دی، بيا چې د سواد خاوند شو ملا صاحب؟ مولانا صاحب؟ جهادي صاحب؟ او افراطي صاحب؟ او پلانکی صاحب ورته د جهاد کتابونه

چاپوي او په لاس کې یې ورکوي، ورته وایي چې د دې لوستل تا ته د جنت دروازې خلاصوي، دا ولوله، بیا لاړ شه خپل وطن وران کړه، په اور کې یې وسوځوه او...

په مډیا کې به ډیر لږ داسې خبر واورې چې د نوي نسل د روزنې په برخه کې دې سړی ورته په تمه شي. ښځې مو د لنګون په وخت کې لومړی خپل ماشوم له لاسه ورکوي او بیا خپل ژوند. ناروغان مو پیسې روا ناروا ګټي او تداوئ له پاره پاکستان هند او... ته روان وي او هلته پرته له دې چې ناروغ پوه شي یا تداوي شي، یو پوښتورګی یې ورنه ایستل کېږي او دې ته ورته نورې ډېرې ستونزې. د دغو ستونزو ترټولو لوی عامل د سالم ښوونیز نظام نه شتون دی، د یوه عادي ډاکتر، روغتون او نرسې نه شتون دی چې ښځه ماشوم او نو رناروغان د لنګون او ناروغۍ په وخت کې ژوند له لاسه ورکوي.

داسې خبر به په میدیا کې ډیر لږ وګورې چې لیکلي یې وي د نرسنګ کورس نه یوه، دوې، لس، شل او... تنه فارغانې شوې او په کوم صحي کلنیک کې یې په کار پیل وکړ. یا د نرسنګ کوم کتاب یا د نورو ټولنیزو خدماتو لارښود کتاب له چاپه راووت، خو دا خبرونه یو ځل نه، څوځلې میدیا په ډیر کش او ځیږو تورو سره خپروي چې:

- شپاړس طالبانوته د فضیلت پګړۍ وروتړل شوې. (۶)

- پرتقوا ولاړه کورنۍ ګټور اسلامي کتاب له چاپه رووت. (۷)

- د درنو شاعرانو او نعت ویونکو د پام وړ... ټولنې د حمدونو او نعتونو یوه ټولګه (المزمل) خپره کړه. (۸)

- حقاني شبکې جنګي کتاب خپورکړ.

حقاني شبکې د جنګیالیو د جذبولو او روزنې له پاره د «نظامي درسونه» په نوم کتاب خپور کړ چې ۱۶۰ مخونه لري... (۵)

- او ...

دا جګړه او د دیني مسایلو تبلیغ او زدکړه، هغه هم په غیر علمي او غیرمعیاري ډول، زموږ د پلار نیکه میراث دی که څنګه؟ موږ باید دینداري وکړو، خو د ژوند د نورو اړینو مسایلو زدکړه هم باید هیره نه کړو. دې ستونزې ته ما په تفصیل سره په ۲۰۱۰ کال کې د سویډن په مالمو ښارکې د جوړ شوي سیمینارکې په خپله مقاله (اور او ګلان) کې اشاره کړې ده. (۹)

په اوسني وخت کې دا زموږ ښوونه او روزنه ده او دا زموږ درسي کتابونه دي. ولې د نرس قابله ګۍ کورسونه نه جوړیږي، چې دارالحفاظونه جوړوي او بیا د فضیلت پګړۍ ورتړل کېږي. خپلې ښځې د مرګ ترپولې وهو چې ولې زوی نه زېږوې، خو چې په اولاد تکلیف ورته پیښ شو، بیا نرس او ډاکتر درک نه لري چې د زیږون لارښوونه او مرسته ورسره وکړي، پګړۍ والا او فضیلت والا بیا په داسې حالاتو کې څه مرسته کولای شي؟

دا هماغه د چرچرک او میږي کیسه ده، چرچرک د کار وخت کې سندرې ویلې میږي کار کاوه کله چې ساړه شول سخت ژمي سره سختي راغله، بیا چرچرک د یوې دانې له پاره میږي ته عذرونه کول. موږ هم همداسې یو. سیاست، اقتصاد، علم، هنر او... رانه پاتې دی، یوازې نعتونه وایو او د فضیلت پګړۍ تړو، دوبی او سعودي ته د ولور د ګټلو له پاره ځو، نور خلک پرمخ تللو هیوادونو ته د علم په زدکړې پسې ځي او کله چې زموږ ماشوم او زموږ خویندې میندې مریضانې شي، بیا پردیو ته لاس غځوو او یا یې د غیرت تر چترلاندې په کور کې ساتو، د مرګ ترپولې یې رسوو او پردیو ډاکترانو ته یې هم نه ورښیو، ځکه چې غیرت مو داغداره نه شي.

اوس هم ناوخته نه ده، موږ باید د استاد ګل پاچا الفت دا توصیه تطبیق کړو:

**«کوچنیان باید په علم پسې ولاړشي او د علم رڼا له ځان سره راوړي.»**

مأخذونه:


-1http://www.taand.com/news/id-29759/cid-53 /
htmlلیکنه_ شپون_ سعدالدین_ استاد_ د_ امین _ ور_ خوله_ امین_ زړور.

-2http://www.bbc.co.uk/pashto/sport/2012/01/120124_hh-cricket-in-curriculum.shtml

-3http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha-PDF/bahand_ase_prade_chaperyal_aw_de_mahagero.pdf

-4http:/www.bbc.co.uk/Pashto/interactivity/2013/05/130512_ss-nawed-jihad-book.shtml
-5http://taand.com/index.php?mod=article&cat=c66&article=31248

-6http://www.larawbar.net/32071.html

-7http://www.taand.com/news/id-39599 /
htmlراووت_چاپه_له_کتاب_اسلامي_کتور_کورنۍ_ولاړه_تقوا_پر.

-8 http://www.larawbar.net/32148.html

-9 http://www.tolafghan.com/posts/19791

# د ښوونې او روزنې کال

## او له ښونځي نه د نيمايي افغان کوچنيانو محروميت



د افغامستان جمهور رئيس اشرف غني ۱۳۹۷ کال د ښوونې او روزنې کال اعلان کړ. ده د ۱۳۹۷ ام کال په مناسبت، په خپله وينا کې وويل چې اوه نوي ام کال د پوهنې کال دی او ټول بايد په ګډه د حشر په ډول کار ورته وکړو. هلته ولسمشر د ښوونې او روزنې په باب ځينو نورو مسايلو ته هم اشاره وکړه. هغه وخت په دې هکله په يوه رپوټ کې داسې راغلي و:

«افغان ولسمشر د نوي کال وينا کې ۱۳۹۷ لمريز کال ته د پوهنې کال نوم ور کړ او له ولس يې وغوښتل چې د پوهنې د پراختيا لپاره ملي پګړه (حشر) وکړي.

نوموړي ووېل، د کابينې او د ولس په مشوره دې کال ته د پوهنې نوم ور کړل شوی دی.

هغه دا هم ووېل چې په دې تړاو به د پوهنې په ورځ - چې بنايي د شنبې ورځ به وي - خپل پلان له افغان ولس سره شریک کړي.

محمد اشرف غني ارګ کې د وينا پر مهال له خلکو وغوښتل د هغو ماشومانو د زدکړو په برخه کې همکاري وکړي چې شمېر يې څو ميليونه دي او له زدکړو بې برخې دي.

"ټول به سړ کال ملا وتړو چې د افغانستان راتلونکی مطلب زموږ بچيان چې لوړه او نجونه دي د زدکړو برخه کې موقع ور کړو."

نوموړي په ښوونيز نصاب کې ستونزو ته په اشارې ووېل، چې ښوونيز نصاب کې بنسټيز سمون پکار دی:

"هغه بنيادي اصلاحات به د پوهنې نظام کې راشي چې ولس يې غواړي، زه په ټول ولس ناره کوم چې د پوهنې برخه کې ملي حشر وکړي."...»

د ښوونې اوروزنې په برخه کې د جمهور رئيس له دې ځانګړې پاملرنې نه ډېرو خلکو مننه وکړه او هيله يې څرګنده کړه چې اوس به اساسي کار پيل شي، خو داسې ښکاري چې هيڅ به هم ونه شي.

يو په دې چې دننه په نظام کې د دغسې مثبتو پلانونو په مقابل کې يو ه پنځمه ستن ولاړه چې د پنځوس سلنې د دليل له مخې، د خپلو شخصي ګټو او واک د ساتلو له پاره، ټول هغه اشخاص چې د وطن او خلکو له پاره کار کوي، دوی په بيلابيلو نومونو او پلمو خندونه ورته جوړوي.

بل دليل يې دا دی چې د افغانستان د ښوونې او روزنې پر سيستم باندې داسې فکر حاکم دی چې هلته د وړاندې تګ او مثبتو کارونو له پاره دومره زمينه نه ده مساعده. مانا دا چې کار په سمه توګه نه دی تر سره شوی او اوس چې د بل معتبر آدرس له لوري هم ووېل شول چې ډېره سلنه افغان ماشومان له ښونځې نه محرومه دي. دا خبره، هغه فکر قوي کوي چې:

په افغانستان کې د ښوونې او روزنې په برخه کې کار ډېر پڅ او ناسم روان دی.

اوس د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ صندوق «يونيسف» له خوا ويل شوي چې ډېره سلنه افغان ماشومان د ښونځې له تګ نه محرومه دي. د يونيسف په راپور کې ويل شوي دي:

«د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ صندوق "يونيسف" په يوه تازه رپوټ کې ويلي، په افغانستان کې د رواني جګړې او ناامنيو له کبله د دغه هېواد نيمايي ماشومان ښوونځي ته له تللو بې برخې کړې دي.

په ياد راپور کې راغلي، نيمايي ماشومان د ۷ او ۱۷ کلونو ترمنځ عمرونه لري، په دې معنا چې ۳/۷ ميليون ماشومان افغانستان کې ښوونځي ته له تللو محروم دي.

يونيسف وايي، له ۲۰۰۲ کال راپدېخوا ښوونځيو ته د ماشومانو د نه تګ چاره ډېره شوې ده. رپوټ وايي، له ښوونځي د محرومو شويو ماشومانو ۶۰ سلنه نجونې دي. دا شمېر په ولايتونو کې په ډېرېدا دی.

د يونيسف د راپور له مخې، په کندهار، هلمند، ميدان وردګو، پکتيکا، زابل او ارزګان ولايتونو کې ۸۴ سلنه نجونې ښوونځي ته نه ځي...»

زما په خیال تر څو چې دولتي څوکۍ، په تیره داسې څوکۍ لکه د ښوونې روزنې وزارت چې په دولتي واک، تنظیمونو او مسلح ګروپونو ته د غنیمت په ډول او د هغوی د خوشالولو او راضي ساتلو په بدل کې ورکول کیږي، هیڅکله دې، هیڅ څوک د مدرنې او ښې ښوونې روزنې هیله نه کوي.

د غنیمت ورکولو د معاملې د بنسټ ډبره، له بده مرغه د بن په کنفرانس کې کېښودل شوه چې د افغانستان هر څه د غنیمت په معامله کې لیلام شول، کرزي هم همدا پالیسۍ پسې وِغځوله، هر تنظیم به چې په هره څوکۍ لاس کېښود، ده به ورته ویل چې ستا شوه او اوس هم ټول تنظیمونه او مسلح ګروپونه له برحال حکومت نه هماغه هیله لري چې له کرزي یې لرله.

دا بده معامله به تر هغو پورې روانه وي چې د دولت واګې په ټوله مانا یو لاس نه شي او له یوه آدرسه رهبري نه شي. دغه راز د معارف په نصاب کې باید بنسټیز بدلون راوستل شي، د ښونکو د ژوند څرنګوالي او سویې ته په جدي ډول پاملرنه وشي.

که مو حد اقل پاسني بدلونونه په معارف کې راوستلای شول، نو بیا کولای شو ووایو چې موږ د معارف مخه په سم لوري برابره کړې ده او که نه نو هر څه به د شعار په برید کې پاتې وي.

نوره مو خوښه!

# پرانستي ښوونځي،

## له خندا او خوښۍ ډکې خولګۍ

سره په تقابل کې سیاسي ـ نظامي ډلې دي،
د خپلو سیاسي ـ نظامي موخو د تر لاسه
کولو له پاره، ښوونځي نه تړلي او نه دي
سوزوي. د ښوونځیو تړل او سوزول،
د نوي نسل د تباهۍ سبب کېږي.



څه موده مخکې مې په لوګر کې د یو ښوونځي د سوزیدو په وېر کې د «د رڼا او تیارې جګړه، د ښوونځي جوړونکو او ښوونځي سوزونکو تقابل» تر سرلیک لاندې مقاله خپره کړه، د سوزیدلي ښونځي او له تعلیم نه پاتې کوچنیانو پر حالت مې څو شیبې د سترګو انګړ رالوند هم شو.
زما د یادې مقالې د پیل جملې دا دي:

«پرون مې د نورو بدو خبرونو او راپورونو تر څنګ، په لوګر کې د یوه ښونځي د سوزولو خبر او د سوزېدو د جریان عکسونه هم له نظره تېر شول او داسې راباندې تمامه شوه لکه زه خپله چې سوزېدلې اوسم.»

زما د مقالې د لیکلو او خپرولو اصلي موخه دا وه چې ښونځی دې تل پرانستی وي، نه تړلی. اوس مې چې په میډیا کې د ښوونځیو د بیا پرانستنې خبر ولوست، خدای حاضر او ناضردی چې له خوښۍ نه مې زړه وترپېد او داسې مې وانګیرله چې زه خپله د اوو کلونو کوچنۍ یم او په لومړۍ ورځ، په خوشالۍ سره ښونځي ته روان یم.

په لوګر کې د ښونځیو د بیا پرانستنې په خبر:«لوګر: د ښوونځیو بیا پرانیستل کېدو د "اختر د اوربند په څېر خوښ کړم"» کې داسې راغلي دي:

«د افغانستان په لوګر ولایت کې ۱۰۳ ښوونځي تر شاوخوا دوو اونیو تړل کېدو وروسته بېرته پرانیستل شوي دي.

د لوګر د پوهنې ریاست د چارواکو په وینا، دغه ښوونځي د وسله والو مخالفینو له خوا تړل شوي وو او وایي په دغې مودې کې تر نیمایي ډېر زده کوونکي له زده کړو بې برخې شوي او یا یې څلور نیم میاشتنی ازموینې ځنډېدلې دي.

د لوګر ولایت د پوهنې رییس عبدالوکیل کلیوال بي بي سي ته وویل دا به سخته وي چې په راتلونکي کې د ښوونځیو د نه تړل کېدو ضمانت دې وشي.

د ښاغلي کلیوال په وینا د دغو ښوونځیو د تړل کېدو له امله تر ۶۰ زرو ډېر زده کوونکي له زده کړو لېرې پاتې شوي وو.

د لوګر د پوهنې رییس وایي د سیمې د سپین ږیرو او مخورو د ښوونځیو په بیا پرانیستلو کې ډېره مرسته ورسره کړې ده.

په لوګر ولایت کې ۳۱۸ ښوونځي او ښوونیز مرکزونه شته چې تر ۱۳۰ زره ډېر زده کوونکي پکې زده کړې کوي. چې تر څلویښت زرو ډېر یې نجونې دي.

د ښوونځیو د بیا پرانیستل کېدو له امله د زده کوونکي خوښ دي، عبدالخیل چې په لوګر ولایت کې د دولسم ټولګي زده کوونکی دی دا پرانیستل "د اختر په ورځو کې د اوربند" له خوښۍ سره پرتله کوي. دی وایي، دوې اوونۍ ډېرې په خپګان پرې تېرې شوې، خو خوښ دی چې نن یې د ښوونځي دروازه یو ځل بیا پر مخ پرانیستل شوې ده.

یو بل زده کوونکی الیاس نظري وایي، "د ښوونځیو پرانیستلو ته خوښ دی خو دې ته اندېښمن دی چې په راتلونکې کې بیا ښوونځي د ښکېلو خواو د دښمنۍ ښکار نه شي."»

د ښوونځیو د تړلو او سوزولو ستونزه یوازې په لوګر ولایت پورې نه ده خلاصه شوې، بلکې په نورو سیمو کې هم ډېر ځلې دا پېښې بیا، بیا تکرار شوې او تکراریږي پسې. زموږ قلموال هم لاس تر زنې نه دي ورته ناست، وخت نا وخت خپل غږ پورته کوي. د همدې رواني جولای میاشتې (۲۰۱۸ ام کال) پر اوه ویشتمه (۲۷ مه) نېټه په تاند وېبپاڼه کې د ښاغلي نعمت الله صدیقي په قلم لیکلې مقالې کې د ننګرهار د معارف حالت په ډېرو هنرمندانه تورو سره انځور شوی دی او د ښوونې روزنې حالت خورا بد ښودل شوی دی. لیکوال ټینګار کوي چې«... چې تعلیم، ښونځی او مدرسه زموږ ژوند دی...»

دا د ښاغلي نعمت الله صدیقي د مقالې ځینې برخې دي:

«له ځو اوونيو راهيسې د ننګرهار تعليمي ادارې د امينتي ګواښونو لامله ولاړې او حساس خلک د وحشت د انتها د يوې بوږنوونکي او زړه خوړونکي نارامی شاهد دي (خوله مې په خاورو) دا هغه ناهيلي او منحوسه جمله ده، چې په ويلو او ليکلو يې د وسلو او جګړو صنعتکاران من، من غوښه اخلي او مور له خپلو ټولو حواسو او عقلانيت سره (البته که لرو يې؟) ورته ټيټ سر، چلنج او ولچک ولاړ يو.

مور د نږدې تېرې مبارکې روژې اته واړه ازمويني د خوف او وېرې په داسې يوه ماحول کې ورکړې چې د امنيتي ځواکونو له يو شمير زغروالو رينجرو او امنيتي ځواکونو د تيارسي حالت راته ويل لکه مور چې د خورا ډېرې بدې فاجعي او ناوړه عمل ګناهګاران او مجرمين يو، داسې لکه مور چې د تيارو د زامنو په حيث د رڼا دلارويو رحم و کرم ته ناست يو.

هو!! د رڼا زامن دوی (جګړمار)، د تيارو زامن مور (زدکوونکي او ښوونکي).

دا دوه هغه قطبونه دي، چې اوښيار دوښمنان يې درک کولای شي، د هغه چا پر فکر او تحليل رحم پکار دی، چې دوی اوس هم زمور دوښمن محدود او احمق ګڼي، دوښمن کله احمق شو؟ چې ستا دا دومره حساس او بنيادي فکتور يې در ټارګيټ کړ. پر معارف او ښووني او روزني، پر دولتي او شخصي پوهنتونونو او انستيټيونو پرلپسې درانه بريدونه او ګواښونه هغه څه دي، چې دا د لويو استخباراتي او استعمارګرو ځواکونو او جالونو اوج ګڼلی شو.

... زمور له تعليمي نظام سره د سياسي واکمنو په اوښيارتيا څوک څه ويلی شي؟ د وسلوالو بيانيه څه غواړي؟ اولس چيرته دی؟ او نړيوال تناظر او تکون به څه راسره کوي؟ دا هغه پوښتني دي، چې مور (افغانانو) ته يې هيڅوک په اړه نه تحليل راکولای شي او نه يې حلاره!! دا ځکه چې مور بايد ووژل شو!!

د تعليمي ادارو په دې جدي ګواښ له حکومتونو د ساتني غوښتنه او پر ولسمشر د مخاطبې مخ نلرو، کنه په ننګرهار کې د ولسمشر مخته د مبارز او فکري ملګري ارشاد رغاند نسخه يې څه کړه؟ چې د ټولو ستونزه د حل درملنه پکې وه!!

جګړمارو ته که سل و زر واره هم ووايو، خيال يې بويه!! هغه بايد مور ووژني. په ننګرهار کې د ريکشو پر شا د هغې جنت مخې کوچنۍ نجلۍ تصوير به چا نه وي لېدلئ؟ چې په خورا معصومه څېره يې د ښونځي مخته ولاړه ده او وايي:

«کاکا مور مه وژنه!»

دا نو داسې جمله ده، چې د انسان ضمير تباه کوي، وجدان لړزوي، روان او مغز ته ټول عمري صدمې ورکوي؛ خو هغه چې ارام، خوند او لذت ترې اخلي، هغوی ته به څوک ووايي، چې د علم او عرفان دوښمني د خدای دوښمني ده، له علم سره جګړه له انسان سره جګړه ده، د جهالت ملګرتيا د تمامي انساني عظمت رانسکورول او بقا چلنج کول دي.

مور (ولس) يوازې د دې خوني بلا پر وړاندې يوازې همدا اراده او هوډ ژغورلی شي، چې د جنګ و جګړو دا ټولې ښکيلې غاړې پر دې چلنج کړو چې تعليم، ښونځی او مدرسه زمور ژوند دی، که ژوند وي نو دا به وي!! کنه د ژوند په هر پړاو کې مو چې هر ډول جهنم مخ او خوا ته راځي، لبيک لبيک!!

جنګ، وژل، بم، باد و باران، ستونزې،ګواښونه او ولچکونه هر څه زغملی شو؛ خو پر تعليمي نظام هيڅ ډول بنديز او مصلحت بايد ونه منو او نه يې هم بايد پر وړاندې د يوې زرې هومره ګوزارې ته زړه ښه کړو.»

خبره دا ده چې د تعلیم مخالفین او د ښوونځي سوزونکي وسله په لاس، پرته له ترحم نه دا کار کوي، تش لاسی ولس به د هغو مقابله څنګه وکولای شي؟ خو زه په دې عقیده یم چې: «د خلکو زور، د خدای زور» دی او اخر به رڼا پر تیارې غالبه شي.

په لوګر کې د ښوونځیو د بیا پرانستنې په چارو کې چې هر چا یو عملي ګام هم پورته کړی وي، خدای دې اجر ورکړي او زه د نوي نسل د روزنې کاروان د یو لاروي په توګه د زړه له کومې مننه ورنه کوم او هیله مې دا ده چې متخاصمې جنګې ډلې هیڅکله د کوچنیانو د روزنې خنډ نه شي او نه یوازې دا چې ښوونځي ونه نړي او ونه یې سوزوي، بلکې د هغو د ساتلو په چارو کې دې دایمي مرسته وکړي، ځکه چې ښوونځی هغه مقدس حریم دی چې نوی نسل په کې روزل کېږي او دغه نوی نسل سبا د همدې مشرانو لاس نیوی کوي او د دې وطن او خلکو سرنوشت به د همدې نسل په لاس کې وي. که ښوونځی پرانستی وي، نو دا اوسني زده کونکي به د راتلونکې ټولنې په ټولو برخو کې، پوه مشر او لارښوونکي وي، او که ښوونځي تړلي وي، دا زده کونکي به له سواد بې برخې او داسې نا پوه وي چې نه یوازې دا چې خلکو او وطن ته به څه نه شي کولای، بلکې د خلکو او وطن پر اوږو به د یو دروند پیټي په ډول بار وي.

سره په تقابل کې سیاسي ـ نظامي ډلې دې،
د خپلو سیاسي ـ نظامي موخو د تر لاسه
کولو له پاره، ښونځي نه تړلي او نه دې
سوزوي. د ښونځیو تړل او سوزول،
د نوي نسل د تباهۍ سبب کېږي.

*****

ښوونځي دې پرانستي او فعاله وي،
د ټولو کوچنیانو زړونه دې خوشاله
او خولګۍ له خنداوو ډکې وي!

*****

«د مینې کور یې زموږ
وطنه مور یې زموږ...»

# په علمي او مدرنه بڼه

## د افغانستان د نوي نسل روزنه

## د وخت اړتيا ده

د هغو خلکو او قوم تباهي ډېره نږدې ده چي
له سواد، کتاب، مطالعې، تعليم، ښوونځي
او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!

*****

په اوسني عصر کي، په نوي او علمي
بڼه، د نوي تکنالوژۍ په دايره کي،
د نوي نسل روزنه يوه اړتيا ده.

**د ۲۰۱۸ کال د جولای پر يويشتمه نېټه، د افغانستان د ملي تحريک ګوند په بلنه، د «افغانستان نن او سبا» تر سرليک لاندې يو علمي سيمينار جوړ شوی و. لاندې مقاله مې د همدې سيمينار له پاره ليکلې وه او په ياد سيمينار کي مې په لنډ ډول واوروله.**

(آصف بهاند)

پر افغانستان باندې د جګړې سونامي نه رازيږيدلې ګڼې نورې سونامي ګانې راغلي او زموږ ټولنه او خلک يې له هره اړخه ځپلي دي. زموږ د ټولني او هېواد د ټولو برخو بنسټونه يې ويجاړ کړي، په تيره ښوونه او روزنه چي پايله يې زموږ د هېواد د ځلورو نسلونو بې سواده يا کم سواده پاتې کېدل دي؛ خو له دې ټولو نا خوالو سره، سره زموږ نوی نسل د زدکړو ليوال و او دی او هر کله او هر چيري چي ډير لږ امکانات هم ورته برابر شوي دي، له هغو نه په استفادې سره يې، پر ځان هر رنګ زحمتونه ګاللي دي او د نوي عصر نويو زدکړو ته يې د خپل تېتر او ذهن کتاب پرانستی دی او زدکړې يې کړې دي.

ما څو ځلې په ټينګار سره ويلي دي:

د هغو خلکو او قوم تباهي ډېره نږدې ده چي له سواد، کتاب، مطالعې، تعليم، ښوونځي او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!

که په يوه ټولنه کي زدکړې لږ او د ګوتو په شمېر وي يا هيڅ نه وي، هغه ټولنه او هغه خلک هره ورځ لا هر ساعت له لسګونو ستونزو سره په عملي ډول لاس ګرېوان وي. دلته به يې يو ژوندی مثال وړاندې کړم:

د ۲۰۱۷ عیسوي کال د فبرورۍ په دریمه نیټه په میډیا کې له پکتیکا څخه د هغې یوازینۍ متخصصې ډاکترې د بیرته وتلو خبر خپور شو چې د هغې سیمې د نیم میلیون وګړو له پاره یې د «ایک انار، سو بیمار» په ډول کار کاوه، دا چې د خلکو دې خدمتګارې، په پکتیکا کې خپله دنده د کومو دلایلو او ستونزو له مخې ودرلوله او یا بیرته ورځې که نه ورځې، زه نه پرې غږېږم، دلته اصلي پوښتنه دا ده چې، په داسې یوه سیمه کې چې نیم میلیون وګړي په کې ژوند کوي، ولې په دې نیم میلیون وګړو کې یوه ډاکتره نه شته، سم ښوونځې نه شته، یوه ښځینه ښوونکې نه شته او ولې دا سیمه او د دې سیمې خلک له تعلیم سره داسې مرور دي، دلایل به یې کوم وي؟

سره له دې چې په لسګونو ځلې نه، په سلګونو ځلې هم نه، بلکې په زرګونو ځلې د مطالعې، زدکړو او تعلیم مهم والی په نظري او عملي ډول ثابت شوی دی، خو زموږ ځینې هیواد وال بیا هم خپلې لوڼې او زامن ښوونځې ته له تګ نه منع کوي.

ما (آصف بهاند) پاسنیو ستونزو ته په پام سره، د ۲۰۱۶ کال په پنځمه میاشت کې د «چیرې چې ښوونکی نه وي» تر سر لیک لاندې یوه مقاله ولیکله او په تاند او افغان جرمن آنلاین کې د یادې میاشتې په دیارلسمې نیټې خپره کړه. په دې مقاله کې د همدې میرمنې یادونه هم شوې ده او ځینو نورو تعلیمي ستونزو او د زدکړو او ښوونځې پر ارزښت او مهم والې هم خبرې شوې دي.

په ټوله نړۍ کې دا یوه متل شوې خبره ده چې: چیرې چې ښونکی وي، هلته ډیوې وي، هلته رڼا وي او چیرې چې ښونکی نه وي، هلته نه ډیوې وي او نه د رڼا څرک.

دا ښه په یاد ولرئ: تر څو نوی نسل په سمه توګه و نه روزل شي، هیڅکله د سمون تمه و نه کړئ. د نوي نسل له روزلو پرته به تل له ستونزو او بدمرغیو سره لاس ګریوان اوسئ!

د نـوي نسل د روزلو له پاره هـر پل چې اوچـتـیږي، زه یـې داسې انګیرم چې د نـوي ژوند د کلا پر دیواله یوه نـوې او زریـنه خښته ایښودل کیږي.

زه په دې عقیده یم چې د نوي نسل سمه روزنه، د ژوند نیالګي ته اوبه ورکول دي. که نوی نسل په علمي ډول، د اوسنۍ زمانې له غوښتنو سره سم و نه روزل شي، د ژوند چینه او د راتلونکې نسل ونه مو وچه وګڼئ!

اوس چې زموږ د هیواد ډیره سلنه وګړي د سواد له نعمت نه محروم دي، د هغوی د سواد زدکړه هم مهمه مسأله ده. د سواد زدکړې مسأله په هره ټولنه کې د پرمختګ یو بستیز شرط ګڼل کیږي. د نوي نسل روزل د سواد له زدکړې پیل کیږي، بیا ښونځی، ورپسې د مطالعې نهضت پیاوړې کیدو او مطالعه په یوه منلې دود باندې بدلول دي.

په ژوند کې د بریالیتوب یو راز، بینا او رڼې سترګې دي. کله چې سواد نه وي، سترګې ړندې وي په هره ټولنه کې سواد او د سواد له لارې تر لاسه شوې پوهه، د هغه څراغ حیثیت لري چې هر انسان کولای شي د ژوند تیاره لار پرې روښانه کړي او پرته له ستونزو په رڼو سترګو د ژوند پر لاره په استوار ډول قدم کیږدي.

که یې د فورمول په ډول په نظر کې ونیسو، بیسوادي د ټولو ستونزو مور ده. کله چې سواد نه وي، مطالعه، پوهه او علم نه وي او کله چې پوهه نه وي د هغې ټولنې وګړي به تل له داسې ستونزو سره مخ وي، لکه اوس چې زموږ ټولنه او خلک عملاً ور سره لاس ګریوان دي.

زه ټوپکوال وژونکی او قاتل قهرمان نه ګڼم، زما له پاره قهرمان هغه څوک دی د سواد، پوّي او نوي نسل په روزلو کې عملي کار کوي، زما قهرمانان هغه څوک دي چې د راکټونو په ځای کتابونه ویشي.

د نوي نسل د روزلو په سلسله کې ما په لومړي ګام کې د کوچنیانو ادبیاتو ته د اړینې پاملرنې په خاطر لومړی یو کتاب(د کوچنیانو ادبیات، ۱۳۶۶ کال چاپ) او وروسته مې د مهاجرت په چاپیریال کې «د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر او اوسنی حالت» تر نامه لاندې ګڼ شمیر مقالې لیکلې دي، چې اوس «د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر، اوسنی حالت، دویم ټوک» تر سرلیک لاندې په آنلاین بڼه تر لاسه کېدای شي.

د هغو تر څنګه مې، بیا هم د نوي نسل د روزلو په پار د مطالعې د عامیدو له پاره، د مطالعې د مهموالي، د مطالعې په برخه کې د شته ستونزو او د دې ستونزو د حللارو په باب ګڼې مقالې لیکلې دي، چې د ځینو سر لیکونه یې دا دي:

- زموږ تعلیمي نظام او د جهادي کتابونو لړۍ،
- د افغانستان ښوونیز نظام جامعة الصالحات، اشرف المدارس یا د نوي نسل... ؟
- نوی نسل، مطالعه ستونزې او نوې هیلې،
- کتاب، مطالعه او زموږ دریځ (د کتاب د نړیوالې ورځې په مناسبت) ،
- څو بیسواده نسلونه او زموږ مسوولیت،
- د مطالعې دود او دوې وروستۍ مقالې،
- کتاب سوځونه ونه،
- څو مقالې، څو څیړنې او یو یاد داشت،
- مشرانو تاسې د ټوپک تخم کرلی ولې؟
- یو تصویر، زر خبرې (د مطالعې د پلویانو نوي ګامونه)،
- قلم، ټوپک او چکچکې،
- تعلیم، کتاب ویشنه، مطالعه او قلملار ټولنه،
- «راتلونکی نسل بناد کړئ » (د نوی نسل نوي روزنه)،
- چیرې چې ښوونکی نه وي،

د دغو یادو مقالو په ترڅ کې مې وخت په وخت ټینګار کړی دی چې د نوي نسل روزنه یو اړین کار دی او که نوی نسل و نه روزل شي، ممکنه نه ده چې د یوې ټولنې د پرمختګ، آبادۍ او ښیرازۍ بنسټ دې کېښودل شي او د دې هیلې د پوره کېدو بنسټ سواد زدکړه او منظمه مطالعه جوړې.

نن سبا لیدل کیږي چې زما او ما ته ورته د نورو فرهنګي دوستانو د هیلو غو ږ ته په غوږیدو دي او په دې ورستیو کې په لومړي ګام کې د کوچنیانو د ادبیاتو په بر خه کې د پاملرنې وړ کارونه شوي دي.

په افغانستان کې د ورستیو څلورو لسیزو د ستونزو هر اړخ ته چې نظر واچول شي، د رامنځ ته کیدو عوامل او منفي پایلې یې موږ ته وایي چې د تعلیم نشتوالی د ټولو ستونزو د رامنځ ته کیدو مور او لامل ده. نو پر دې بنا د هر ډول تحلیل پایله دا وایي چې په افغانستان کې یو ژور تعلیمي بدلون ته اړتیا لیدل کیږي.

ډیرې روڼ اندي په دې فکر دي چې څو په ټولنه او خلکو کې بنیادي فکري بدلون را منځ ته نه شي، په ټولنه او عیني عملي ژوند کې د مثبت بدلون تمه یو نا سم کار دی. په مثبت لوري د خلکو د ژوند د هر اړخیز بدلون له پاره یوازینۍ لار تعلیم دی، د همدې دلیل له مخې باید په تعلیم او زدکړه باندې ډیر ټینګار وشي، که ډیر په ابتدایي بڼه هم وي.

له بده مرغه چې زموږ په ټولنه کې بې سوادي او د تعلیم ډیره ټیټه کچه عامه ده او پایله یې دا ده چې ټولنه او هیواد مو ورسته پاتې، د تمدن له کاروانه وروسته او په عیني ژوندانه کې له زرګونو ستونزو سره لاس ګریوان یو؛ خو د با تعلیمه او د زدکړو داسې بیلګې هم لرو چې د زدکړو، کارونو او لاسته راوړونو یادونه یې په ویاړ سره کولای شو. څو تنه د غوره بیلګو په توګه:

ـ استاد ډاکټر محمد تنها،

ـ ډاکتر وحید آرین،

ـ ثنا ساپی،

ـ مریم امرخیله،

ـ نجیبه لیمه،

ـ ویسا وروڼه،

ـ احمد ولي اڅکزی،

او...

ښکه چې لیدل شوي دي د نوي نسل د روزلو د انساني هیلې د پوره کیدو له پاره په عملي او نظري ډول یو شمیر فرهنګیانو له اوږدې مودې را په دې خوا هلې ځلې پیل کړې دي او هر کله یې خپل نظریات د رسنیو، بیلابیلو مجالسو، لکچرونو مقالو او کتابونو د لیکلو له لارې د نورو تر غوږونو او سترګو پورې رسولي دي او زما هیله دا ده چې د نوي نسل د نوي او متمدني روزنې په موخه دا کار نور هم عام شي.

دا ښه په یاد ولرئ:
تر څو نوی نسل په سمه توګه و نه روزل
شي، هیڅکله د سمون تمه و نه کړئ. د نوي نسل
له روزلو پرته به تل له ستونزو او بدمرغیو سره لاس ګریوان اوسئ!

دا لړۍ پای نه لري!

## «ماشومان ګلان دي، ګلان ښه وساتئ!»

### (د ماشوم د نړیوالې ورځې په پار)



په یوه ټولنه کې د قانون د نشتوالي په صورت کې هیڅ شی ارزښت نه لري، زور او زورواکي هر څه چې وغواړي هغه کوي. په داسې چاپیریال کې نه ماشوم ته څوک پام کوي، نه یې حقونو او روزنې ته او نه هم د ماشوم ورځ کوم ارزښت لري؛ خو بیا هم چیز فهمه خلک ماشومان یعنې د یوې ټولنې او یوه وطن راتلونکې نه هیروي او په هر ډول شرایطو کې هڅه کوي چې

پاملرنه ورته وشي. ډېرې ګوتنيوني او انتقادونه د اصلاح په پار او په دې موخه کېږي چې ګوندې د ماشوم او کوچني حقونو او روزلو ته هم پام وشي.

د ماشوم د ورځې په پار همدومره بس ده چې د يو ماشوم له خولې د دې راوتلې جملې په باب مشران فکر وکړي:

«تر هر څه مو تېر، له موږ سره تاوتريخوالی مه کوئ!»

د ماشوم د نړيوالې ورځې په مناسبت، د هر با احساسه انسان په ذهن کې هغه نادودې تداعي کېږي چې زموږ د وطن له ماشومانو او کوچنيانو سره شوي دي او اوس هم رواني دي.

په خواشينۍ سره بايد ووايو چې زموږ د ټولنې د ماشومانو په ذهنونو کې د جګړې او وژنو له ويرې سربېره ، د خپلې کورنۍ د مشرانو له خوا بيلابيلې ويرې هم وربانديې تحميلېږي، چې تر ډېرو کلونو پورې له همدې ويرې او ډار نه ، زموږ بې وزله ماشومان زښت زيات ځورېږي.

زموږ په ټولنه کې د ماشومانو اصلي ستونزه د هغوی د حقونو نه ورکول او له هغه نه هم وړاندې له هغو سره د بې اندازې تاوتريخوالي تر سره کېدل دي. ما په خپلو څو مقالو کې د دې خبرې يادونه کړې ده چې په اوسني وخت کې زموږ له ماشومانو سره د تاوتريخوالي دغه ډولونه ترسره کېږي:

«زموږ د ټولنې عيني ستونزو او تجاربو ته په کتو سره، د ماشومانو او کوچنيانو پر ضد تاوتريخوالی په لومړي ګام کې په دريو برخو بايد و ويشلای شو:

۱ ـ رواني تاوتريخوالی:

(ژبنی تاو تريخوالی، ډارول، ښکنځلې کول، بد رد ويل، تهديدول او ډول، ډول نور رواني فشارونه)،

۲ ـ جسمي تاوتريخوالی:

(وهل ټکول، شاقه کارونه،جګړو ته ﺍﺮﺍﻴﺴﺘﻞ)،

۳ ـ جنسي تاوتريخوال.»

په اوسني وخت او د دومره پرمختللې تکنالوژۍ په زمانه کې موږ هره ورځ د خپلې ټولنې او وطن د ماشومانو د وضعيت په باب داسې خبرونه او راپورونه اورو چې د ماشوانو يوه سلنه حقونه هم نه دي په کې مراعات شوي او له هغه نه هم بده دا چې ماشومان داسې په منفي ډول کارول کېږي چې له فزيکي او رواني پلوه د بربادۍ کندې ته ور پورې وهل کېږي. دا لاندې يې د ډېرو لنډو ورځو څو بدو خبرونو او لړزونکو رپوټونو سرليکونه دي چې له هر سرليک سره زه خپلې پوښتنې هم مطرح کوم:

د ا د ډېرې خواشينۍ ځای دی چې نړيوالې رسنۍ وايي:

«افغانستان کې کابو يو ميليون ماشومان يتيمان دي»

پوښتنه دا ده چې دا ماشومان چا يتيمان کړي دي؟

*****

يونيسف په زغرده ويلي دي چې:

«افغانستان کې پر ښوونځيو بريدونه درې برابره ډېر شوي»

پوښتنه دا ده چې بریدونه ولې پر ښونځیو، زده کونکو او ښونکو باندې کیږي؟

ځو میلیونه ماشومان له ښوونځي او زدکړو بې برخې دي؛ دا حالت چا او ولې راوستی دی؟

*****

د ملګرو ملتونو د دفترونو روایت دی چې:

«افغانستان کې ۲ میلیونه ماشومان په خوارځواکۍ اخته دي.»

د دوی روزي چا ورنه اخیستې ده؟

*****

د میډیا د تودو خبرونو په ډله کې دا هم تر سترګو کیږي:

«افغانستان کې تر ۴۰٪ ډېر ماشومان خوارځواکي دي»

زموږ د ټولنې پر ماشومانو دا حالت چا، ولې او څنګه راوست؟

*****

مونږ چې د نوې نړۍ د رڼایي، پوهې او سترګو غړولو ټولې دروازې او کړکۍ پر ماشومانو باندې ور وتړو، هره اونۍ یې د ثواب په پار سرونه هم وربانديې ورخییو او...

څنګه کولای شو له هغه نه حد اقل د نوې زمانې مبتکر نه، بلکې یو عادي انسان جوړ کړو؟



د دې ماشومانو سرونه په زوره رخيل شوي دي او دا څه يې چې پر سرونو ورته ليکلي دي دا ټول منع او زمونږ د ټولنې د ماشومانو پر ډېره سلنه باندې بند دي او له هغه نه د پاسه هغه کارونه وربانديې تر سره کېږي چې د نړې په هيڅ مذهب، هيڅ قانون او هيڅ ځای کې د منلو نه دي.

*****

تر ټولو وروستی او خواشونکي وحشانه پېښه يې د وړې «مهسا» وژنه ده. د د ې ماشومې د وژنې مسآلې ته ما «د افغانستان پر ماشومانو او کوچنيانو باندې د تاوتريخوالي سونامي» د مقالو يوه برخه بيله کړه، د هغې مقالې په پای کې مې د وړې مهسا  د زړه خبره  داسې ليکلې وه:

«زه اوس نه يم، چې تاسو هر څه کوئ، هغه مو خوښه؛ خو په ياد ولرئ: هر څه چې پر ما شوي دي او هر څه چې ما ليدلي دي، هغه به ټکي په ټکي خدای ته ووايم.»

(د مور او پلار سپينه سپوږمۍ)



او د غسې نورې وحشيانه بيلګې شته چې زمونږ د ټولنې پر ماشومانو او کوچنيانو باندې همدا اوس د ټولو نړيوالو قوانينو خلاف تطبيقيږي. اصلي پوښتنه دا ده چې دا حالت پر دې ټولنې او پر دې ماشومانو باندې چا او ولې راوست؟ او تر ټولو جالبه خبره خو لا دا ده چې پر ماشومانو باندې د دې حالت راوستونکي هم بيا د ماشومانو د حقونو چغې وهي او کېدای شي دا ورځ (د ماشوم نړيواله ورځ) ولمانځي. هغوی ته بايد په لوړ غږ سره وويل شي:

«هم مار يې، هم ګوګار يې»

د ماشوم او کوچني په ورځني ژوند کي د مشرانو او په ځانګړي ډول د میندو او پلرونو بې تفاوتي او نه پاملرنه ماشوم د ژوند له ښي او اصلي لارې نه په بدو او منفي لارو باندې روانولی شي او کله چې سمه لاروښوونه ورته ونه شي هغه حالتونه د ماشوم او کوچني پر ژوند د تل له پاره منفي اغیز کوي چې دا په خپله د تاوتریخوالي یو نا مریي ډول دی.

نړیوال منفي حوادث، نظامي او ټولنیز کشکړپ او ټولنیزې نابرابرۍ داسې پېښې رامنځته کوي چې د ټولو خلکو پر ژوند ډېر ژور ناوړه او منفي اغیز کوي، په تېره د ماشومانو او کوچنیانو پر ژوند باندې. دا یې د بشریت په تاریخ کې د شرم وړ ثبت شوو پېښو څو بېلګې دي:

په اوسنی زمانه کي له کوچنیانو سره د تاوتریخوالي څو غوره بیلګي چي د بشریت نامه ته یې تور داغ ګڼلی شو:

١ ــ د سوریي په جګړه کي یو ماشوم په زخمي حالات کي ډاکټر ته وایي: زه به خدای ته ټولي خبرې وکړم چي څه روان دي.

٢ ــ د موسل په ښار کي یوه عراقي جینۍ په زخمي حالات کي منډې وهي کمره مین ته وایي: کاکا زما ویډیو مه کوه بي حجابه یم.

٣ ــ یو فلسطیني ماشوم د ډیرې لوږې په وخت کي خدای ته سوال کوي: ما ژر واخله که جنت ته لاړم لږ څه خو به وخورم.

۴ ــ د افغانستان په جګړه کي د یو ماشوم لاس شدید زخمي وو، ډاکټر سره د لاس له پرې کیدو پرته بله لار نه وه. ماشوم ډاکټر ته وایي: ډاکټر صاحب د لاس پرې کیدو په وخت کي مې لستوڼی مه پرې کوه نورې جامې نلرم.

۵ ــ او په پای کي زموږ «مهسا»، چي د اسارت او مرګ شیبو کي به زموږ «مهسا» څه ویلي وي؟

په هر صورت ماشوم ته چې انسان دی، نوی نسل دی او د ټولنې او هېواد راتلونکی ښونکی او لاربنود دی، درناوی کوو، حقونه یې درانه ګڼو او د ورکړې پلوي یې کوو.

دا ورځ دې نیکمرغه او تل وي!

زه تل د خپلې کورنۍ د یو مشر دا خبره بیا، بیا تکراروم چې څه د پاسه پنځه دېرش کاله پخوا یې د یوه لیک په ترڅ کې راته لیکلې وه:

## «ماشومان ګلان دي، ګلان ښه وساتئ!»

(ډوکتور لطیف بهاند)

# د پلار په پته د يوه زوی څو خبرې

## (د پلار د ورځې په پلمه)

د نورو نړيوالو ورځو په څېر، د پلار ورځ هم زموږ په وطن کې دومره ارزښت نه لري، يادونکو او لمانځونکو باندې يې رنګارنګ ټاپې لګول کېږي.

دلته په اروپا کې هم په ټولو هېوادونو کې پر يوه ورځ نه لمانځل کېږي، بلکې هر هېواد يې په جلا ـ جلا ورځو لمانځي. په ډنمارک کې د همدې رواني اونۍ په لړ کې لمانځل کېږي. ما سږکال د پلار د ورځې په پار درې مطلبه خپرېدو ته برابر کړي دي چې يو يې همدا لاندې څو جملې دي چې يو پر خپلو پښو ولاړ زوی يې د خپل پلار په باب وايي:

دا څو لنډې جملې مې د يوه هندي فلم د يوه خورا په زړه پورې برخې څخه ځکه د پلار د ورځې په وياړ راژباړلې دي چې په دې جملو کې د پلار رښتيني مينه او د يوه پوه او با احساسه زوی درک، پرله پسې کار او بريا په کې ليدل کېږي. دا څو لنډې جملې ډېره ښه روزنيز پيام لېږدوي.

دا خبرې يو بريالی او پر خپلو پښو درېدلی زوی د خلکو يوې لوی ډلې ته په خطاب کې کوي:

«... په ژوند کې هيڅ داسې دروند کار نه و چې پلار به نه شو ترسره کولای.

بله خبره دا ده چې:

زه پلار له کوره نه يم شړلی، بلکې پر خپلو پښو د درېدو په موخه يې څه موده له ځانه لرې کړی ومه... او د دې لرېوالي درد دواړو ته ور په برخه شوی دی.

... که څوک د پټي د کولبه کولو پر وخت خپه او ناراضه وي، هغه هيڅ کله غله دانه، نشي ترلاسه کولای.

له پلار نه لرېوالي پر پښو باندې د درېدو جوګه کړم. که زه نن پر خپلو پښو باندې د درېدو وياړ لرم، دا ټول د پلار د ښه نيت او دعاګانو په وجه دی.

زما پلار له ما سره ډېره مينه کوي.

او...»

زه پر خپل پلار باندې وياړم

د پلار ورځ دې بختوره وي!

# د ښوونکوو نړیواله ورځ او څو غبرګونونه

ښونکي د نوي نسل روزنکي دي،
د دوی ژوند ته پام، نوي نسل
او د وطن راتلونکي
ته پام دی!




د تلې (میزان) دیارلسمه، د ملګرو ملتونو له خوا په نړیواله کچه د ښوونکوو د ورځې په نامه نومول شوې ده. په یوه ریوټ کې د دې ورځې د نومونې په باب داسې راغلي دي:

«د ملګرو ملتونو د زدکړو علمي فرهنګي اداري یونسکو، د ۱۹۹۴ ام کال د اکتوبر له دریمې نېټې تر اتمې نېټې پورې د ۱۳۵ هېوادونو د ښوني او روزني وزیرانو، څلورڅلوېښتمه غونډه په ژنیو کې جوړه کړه. په همدې غونډه کې د یونسکو د هغه وخت عمومي مدیر «فدریکو مایو» وړاندیز وکړ چې یوه ورځ دې د ښوونکوو د ورځې په نامه ونومول شي...»

د ښووونکوو د ورځې له نومونې او لمانځنې نه د یونسکو اصلي موخه دا وه چې دولتي او حکومتي مسؤلینو ته دا ورپه زړه کړي چې د زدکړو څرنګوالي او د ښونکو ژوند او ستونزو ته پاملرنه وشي، د زدکړو د پروسې د لا ښه کېدو په موخه، د ښونکو نظریاتو ته غوږ کېښودل شي او ورسره د ښونکو د ژوند ښه کېدو ته هم پاملرنه وشي.

دا ورځ دې ټولو ښونکو ته مبارک وي!

زه نه غواړم چي په افغانستان کي د ښونکوو په ډېر خراب ژوند او د ښوني روزني پر نيمګړتياوو څه ووايم، ځکه چي په دواړو برخو کي «آبۍ، ټوله بۍ» ده؛ خو د دې ورځي د لمانځلو موخي ته په پام سره د ښوونکوو د ورځي د لمانځلو او يادولو په برخه کي د بېلګې په ډول د ځينو قلموالو نظريات د دې په پار را اخلم چي په ټول افغانستان کي، له لوی نه نيولي تر واړه پوري د ټولو مسؤلينو پام د ښوني روزني د نيمګړتياوو اصلاح ته ور واوړي او د ښونکو د ژوند خوار حالت ته يې ورپام شي:

محمود مرهون د ښوونکوو د ورځې په پار داسي ليکلي دي:«

#په کومه ټولنه کي چي:

قلم د چای لړلو او پرتوګ ته د پرتوګاښ اچولو له پاره کارېږي،

ډرايور او کاريګر ته استاذ ويل کيږي،

معلم ته ماليم او مذدور ويل کيږي،

د کتابو پاڼي د باقلي، ډوډۍ او بولاني خرڅولو له پاره کارېږي،

د غلو معاش يي تر معلم لس چنده لوړ دئ، دولت ساتونکي، موټرونه او قضايي مصونيت ورکړئ او تر قانون يې لوړ بللي،

معلم او استاذ يي د سپرېدو له پاره بايسکل، د خوړو له پاره ډوډۍ، د اوسېدو له پاره کور نه لري، مګر د وطن غله يې د نړۍ په تر ټولو لوکسو مرمۍ ضد موټرونو کي سپرېږي، د سهار ناشته په کانتنيتال، د غرمي ډوډۍ په سرينا او د ماخستن ډوډۍ په کابل ستار کي خوري، د اوسېدو له پاره په لس دېواله ضد ټانک کورنو کي اوسېږي،

او هغه وطن چي پر غلو يي غتي - غتي ګونبدي ولاړي د قهرمان او اتل په نامه يادېږي د مرګ په ورځ يي ملي ماتم اعلانېږي او ټول ملک پسي چوک - چوک کوي؛ خو د استاد او معلم قبر يي معلوم نه دئ، په جنازه کي يي دري کسه وي د کټ پورته کولو له پاره يې څلورم کس نه وي او له مرګه خو يي له سره څوک خبرېږي هم نه.

هلته د معلم ورځ لمانځل په معلم ريشخند وهل او د پک په جيب کي د ږمونځو اچولو په مانا دي.»

محبوب شاه محبوب بيا د ښونکو د درناوي په پار د خپل کور د زدکونکو غړو هڅې او هيلې داسي انځور کړې دي:«

د ښوونکي ورځ،

تېره شپه مي وراره له مور پيسي غوښتي چي کېک پرې واخلي او د خپل معلم لپاره يې پرې کړي.

سهار چي له خوبه ويښ شوم ورېره مي په پخلنځي کي د خوړو په پخولو لګيا وه ويل يي نن د معلم ورځ ده ښوونځي ته خواړه وړم.

کوچنۍ خور مي د تحفي په منظم کولو بوخته وه ويل يي معلمي ته يي تحفه اخيستې، بله ورېره مي لګيا وه بوټان يې په زرين کاغذ کې تاوول ويل يې چي دا يې د خپلې ښوونکي لپاره تحفه ده.

کوچني وراره مې قلم په لاس کې نيولی و او ويل يې دا د ګل قلم يې خپل معلم ته اخيستی او همداسې نور هم لګيا وو...

ما له دې هر څه خوند اخيسته، که څه هم په دې پوهېدم چې زما د کور پېسې مصرفيږي خو له دې مصرفه مې خوند اخيسته، غوښتل مې چې بيا بيا يې ووينم.

پرېږدئ چې کوچنيان مو له خپلو معلمينو سره مينه وکړي، هغوی ته تحفې واخلي او هغوی ونازوي!
دا د وطن د ابادۍ زېرې دي!

دا د زده کړو سره د مينې پيلامه ده!

او دا وطن د همدغو مقدسو انسانانو سره په مينه جوړيږي!

ګرانه ښوونکيه ورځ دې مبارک شه!»

دغه راز د نعمان دوست دوه داسې پوستونه مې ترسترګو شول چې هم لمانځنه وه او هم يو نرۍ شانتې نقد. دا يې داوړه لنډ پوستونه دي:«

د ابوالمنتهي استاد مو و، چې غصه به شو عربي کنځلې يې کولې او ويل به يې:

د بقر زامنو!

که وفات وي، الله دې وبخښي، که ژوندی وي؛ هيله ده پوره عربي کنځلې يې زده کړې وي.

د معلم ورځ

*****

تازه يې ښوونځي کې داخل کړی وم؛ خو هيڅ مې نه خوښيده. په زور او جنجال يې ليږلم.

په هغه سهار په ژړا له خپلې خور سره له کوره راووتم؛ خو د مکتب په لور مې قدم نه پورته کيده.

کوڅه کې ښوونکی له اوږدې لښتې سره را روان و. وې پوښتل:

دا ولې ژاړې؟

خور مې، چې له ما ايله درې کاله مشره وه، ور ته وويل:

مکتب ته نه ځي.

ښوونکي لښته پورته کړه: منډه که، کنه پوستکی دې باسم.

ما چې قصابيو کې له خارويو په تېرو چړو د پوستکي ويستلو ننداره کړې وه، منډه مې کړه او آن ښوونځي کې ودريدم.

معلم صيب!

که ستا خشونت نه وای، اوس به مې لاره بدله وه او دا دوه درې ټکي ليک او لوست به مې هم زده نه و.

ورځ دې مبارک!»

انجنیر زهیر چې د ښوونکوو، ښوونکي پاتې شوی دی، بیا داسې وايي:«

وايي نن د ښوونکي نړیواله ورځ ده !

خو زه بیا د ښوونکو ښوونکۍ وم . څکه پنځه کاله (۱۳۶۳-۱۳۵۸)مې د معارف وزارت ، په تالیف او ترجمه کې د ښوونځیو لپاره د فزیکي جغرافیې او جیولوجي د کتابونو د تالیف په برخه کې کار کاوه . هر کتاب به چې تالیف او چاپ شو نو بیا به مو ږ د همغه کتاب په هکله ښونکو ته زده کړې ورکولې.»

د فیسبوک یو کارن چې عتیق الله اعظمي نومیږي، ښوونکی داسې لمانځي:

لایق د درناوي دی او لایق د احتـــرام دی
معلمه ستا مقـام ته زمـوږ سل ځله سلام دی

د ښوونکي ورځ د ټولو درنو ښوونکو ته مبارک وي.!»

دا هم د پرتونادری نظر:«

به شهرک معلمان که رسیدم، چیزی از شهرک برجای نبود.

گفتم بر این شهرک چه آمده است؟

گفتند: در پنج سال گذشته از بس که بر این شهرک باران دروغ بارید و همه ساله در ماه میزان سیلاب های خانه بر انداز آمدند ، بنیاد شهرک برکنده شد و از آن چیزی برجای نماند.

گفتم: معلمان خود کجا شدند؟

گفتند : رفتند به نزد حکیم الحکما و از نو زانوی شاگردی زدند تا فلسفهء دروغ بیاموزند. چون هرکس در مدینهء فاضله ء او سخن به راستی گوید نان از دسترخوانش گریزد و گرسنه گی سر پناهش شود.

روز معلمان مبارک!

پرتونادری»

او په پای کې احسان الله اریزی تدریس عبادت بولي، د ده لنډ نظر دا دی:«

روز خجسته معلم به تمام معلمین و اساتید گرانمایه کشور تبریک باشد. تدریس عبادت است، عبادت تان قبول درگاه الهی باد مادران و پدران دومی اولاد وطن!»

زما خپل نظر بیا داسې دی:

ښونکي د نوي نسل روزنکي دي،
د دوی ژوند ته پام، نوي نسل
او د وطن راتلونکي
ته پام دی!

# نوی نسل، نوې هیلې

## د پوهنتوني زدکړو له پاره سږنی کانکور

تر څلوېښت کلنې جګړې، اورونو ، وژنو، رنګارنګ تېرېو، د باروتو بویونو او له ګڼو ستونزو سره ـ سره؛ په خلکو کې د نوي نسل د روزلو زړې او امید لا ژوندی دی او هره ورځ نوې غوټۍ سپړي. دا دی سږکال (۱۳۹۹) د پوهنتون له پاره د کانکور ازموینې پیل او په دې ازموینه کې د ځوانانو (نجوني او هلکان) په ګڼشیر سره ګډون؛ دا ښیي چې دا ولس او دا خلک او دا نوی نسل په ریښتیا سره تر جګړې، وراني  وژلو او سوځوونو او...؛ د پوهې، زدکړو، نوی ژوند او نوې لار او ابادۍ پلویان دي.

په زدکړو پسې د ځوانانو  دا حرکت او خوځون، دا ثابتوي چې دوی نور نه غواړي چې د نیابتي جګړې سرتېري اوسي او د هغه څه او هغه چا له پاره خپلې وینې تویې کړي چې نه شتون لري او نه یې دوی ته ګټه رسېږي؛ دوی غواړي چې د پوهې په ترلاسه کولو سره خپل وطن، کور کلی خپله ورغوي، ټولنې او خلکو ته نیکمرغي ور په برخه کړي، چې نور د خیرات لاس اوږد نه کړي.

زموږ اوسنی نسل د رڼا او تیارې استازي پېژندلي دي او د  رڼا مشعل (زدکړو) د ترلاسه کولو تکل یې کړی دی. زه ډاډه یم چې د وطن نوی نسل په خپل دې تکل او مزل کې بریالي وي، ځکه چې دوی پر حقه لار روان دي.

د پوهې زدکړه د هر چا حق دی، په تېره د ځوانانو، هر څوک باید د دوی له دې انساني پروګرام سره تر خپلې وسې پورې مرسته وکړي او که څه مرسته نه شي کولای، باید خنډونه ورته رامنځته نه کړي.

زه چې سږ د کانکور په ازموینه کې د ځوانانو دې شوق او هېلو ته ګورم، د پوهې د ډېوو د لاډېرېدو او د وطن د ابادۍ هیلې را ته پیدا کېږي. د ځوانانو د شوق او هیلو تر څنګ د ګڼو روڼ اندو افغانانو نظریات، هیلې او خوښۍ مې نور هم په زړه کې د نوي نسل د روزلو هیلې پیاوړې کوي.

دلته به د سږني کانکور د پیل کېدو په مناسبت د ځینو روڼ اندو د خوښۍ څو بېلګې، چې په ټولنیزه میډیا کې یې سر اوچت کړی دی، د نویو هیلو او له علم سره د خلکو د مینې د کچې د څومره والي ښیي، د ځوانانو او نوي نسل د لا تشویق په خاطر راوخلم:

د کابل پوهنتون استاد محبوب شاه محبوب داسي لیکلي دي:

«په فیسبوک کې د ځوانانو او پېغلو د کانکور ازموینې انځورونه وینم، سم ورسره غټېږم.

دا سمه ده چې په لوکسو چوکیو او مفشنو کوټو کې به نه وي ناست، په سپیرو دښتو کې د دغو ځوانانو او پېغلو ناسته د وطن د ابادۍ تضمین دی.

دا د وطن د ابادۍ ډاډ دی.

دا د یو نوي او پرمختللي راتلونکي زېرى دى.»



یو نظر داسي هم دى:

«دا هزاره خویندی ورونه دی چی د پوهنتون د پاره کانکور ورکوی. د خوشحالئ خبره ده. خو د هغوی پر حال افسوس دی چی ،د جنګ په پلمه سهمیه غواړی.

دهیواد راتلونکی دقلم د خاوندانو دی، نه د وسله والو.»

ښاغلي Ehsanullah Zaheer Stanikzai بیا خپل نظر داسي څرګند کړی دی:

«دا میدان وردګ دی!

ګڼو پېغلو او ځوانانو لوړو زده کړو ته د لار موندني په موخه په کانکور آزموینه کي ګډون وکړ.

علم به مو له سیالانو سره سیال کړي.»



د فیسبوک یو بل کارن Ismail Ahmadzai بیا داسي لیکلي دي:

«لوګر کي د ۳۴۰ نجونو په ګډون له ۳۴۶۵ د دولسم ټولګیو فارغینو څخه د کانکور آزموینه واخیستل شوه.»



ته وګوره چې خلک څنګه د نوي نسل روزلو او پرمختګ ته سترګې پر لاره او خوشاله دي، د همدې خوشالتیا په لړ کې ښاغلی جان اغا بهار (Janagha Bahar) بیا د موضوع دواړو اړخونو باندې رڼا اچولې ده.

دا یې لیکلی متن دی:

نن څو ولایاتو کې د کانکور ازموینې واخېستل شوې او نورو کې دوام مومي؛ عکسونه چې د پیغلو او ځوانانو ګورم چې ازموینې ورکوي، زړه مې خوشاله شي. وایم چې خلک مو باسواد شي، نو شعوري به شي. د جګړې پر وړاندې به کرکه ولري، له دې بدتر حالت به ووځو؛ خو عیني وخت کې چې د وطني لوستو ځوانانو سره کوم ظلم په اداراتو کې د ګمارنو او تقرر برخه کې کیږي، زړه مې وایي چې دوی د زده کړو پر ځای نورو کسبونو، مهارتونو او مسلکونو ته مخه کړې وای، حداقل یوه مړۍ ډوډۍ به یې پرې موندله. نه به ځوربده. د هر دله ـ دووس پېښو ته به د دندو لپاره نه ورتېتېده، نه به یې هم تملق کاوه. مجبوره به نه ول، اداراتو کې به خوار ـ زار نه ګرځېدل. د خپلو تحصیلي اسنادو سوځولو ته به نه مجبوربده. او وویریږم چې حاکمه ـ دوامداره ټولنیزه بې عدالتي به دوی عُقده من کړي او بالاخره به جګړو کې ننوځي. خو څه مونږ به هرڅه په نیک شګون نیسو. خدای به وخت راولي.»

«تردې دمه ۱۷ ولایاتو کې د کانکور ازموینې ګډونوالو کې ۱۰۰۰۰ نجوني وې. زمونږ د وطن د اوږدې غمیزې یو علت د میندو بې سوادي ده. که میرمنې لوستي شي، فکر وکړئ؛ د ناخوالو لویه برخه ختمه ده.»



او په پای کې د حفیظ الله عمر خیل (Hafizullah Omarkhail) له لوري داسې هیله ښودنکې ټکي:

«د وطن د ابادۍ او پرمختګ لپاره هېڅ بله لار شتون نه لري, په هر حالت کې باید زده کړه او علم حاصل کړو.
د مرمیو په باروتو سوې دښتو کې د ځوان نسل د بدلون دا انځورونه د افغانستان د راتلونکي لپاره هیله ښونکې دي.»
اوس نو ټول باید پر دې ټکي باندې فکر وکړي چې:
ایا دا نسل غواړي د موهوماتو په خامو تارونو ځانونه وتړي او یا لکه د پخوا په څېر د نیابتي جګړې سرتېري شي؟

هېڅکله هم نه!

دوی د رڼا او تیارې په جګړه کې، د رڼا مشعل په لاس د نوي ژوند پر لوري د روان لښکر هغه سرتېري دي چې د سوو دښتو د تېرو او وچو ازغیو د پاسه ناست دي او د پوهې سیمې ته د ورننوتو فورمې ډکوي.
د دې هڅاند نسل د خوځوني او تحریک تومنه د اوسني او څو تېرو نسلونو د روڼ اندو د کار، زیار او قرباني پایله ګڼلای شو.
له پوهې او لوړو زدکړو سره د دې ځوانانو مینه د راتلونکو نسلونو له پاره، د لا هڅوني او خوځوني تومنه کېدای شي.
زما خوشالي په دې کې ده چې دا ځوانان په تشو لاسونو، خو ډکو ککریو، له تیارې سره په جګړه لګیا دي. د دوی ښوونځي د تیارو د استازو له لوري څو، څو ځلې سوځول شوي او ښونکې یې د ثواب په پار وژل شوي دي؛ خو بیا هم دوی د اور او وژنو په هماغه چاپېریال کې دولسم ټولګی پایته ورساوه او پوهنتون ته د داخلېدو دایرې ته یې ځان ورساوه. اوس نو امید دی چې د یوې ښې راتلونکې په هیله، دوی د لوړو زدکړو چانس تر لاسه کړي او د ژوند د ښېرازۍ او د وطن د ابادۍ هیلې یې پوره شي.

د مینې کور یې زمونږ

وطنه مور یې زمونږ!

# په پوهنتوني چاپېريال کې،

## غير پوهنتوني ستونزې

له ډېر پخوا څخه مې هڅه پيل کړې وه چې د خپل علمي چاپېريال (پوهنتون) په باب، د هغه ځای په هکله چې ما په کې زدکړې او کار کړی و، مواد را ټول او د هغو په رڼا کې يا يوه علمي رساله او يا کم له کمه د يو يا دوو مقالو په چوکاټ کې درنو لوستونکو ته خپل مالومات وړاندې کړم.

په افغانستان کې حالات داسې راغلل او داسې روان دي چې هر کال، هر شپږ مياشتې، هر درې مياشتې، هره مياشت، هره اونۍ او اوس لا هره ورځ او هر ساعت هر څه د بدليدو په حال کې دي؛ داسې بدليدل چې کله، کله هغه را ټول کړي مالومات، مواد ناسم او هغه پخواني ارقام غلط ثابتيږي.

د ناسمو او غير علمي کارونو، افراط او تفريط په مضر سيوري کې، په علمي چاپېريال کې هم سيالۍ را منځ ته شوې دي او د پوهنتون جوړولو مسابقه داسې په درز کې روانه ده. داسې چې د پوهنتون استاد او علمي کادرونه يې درک نه لري، مګر د کاغذ پر مخ پوهنتون جوړ دی، د ځوانانو د وخت ضايع کولو تر څنګ، د علمي اکاډميکو مرکزونو يعنې پوهنتونونو په جوړولو، تاسيس، تشکيلاتو او ودانيو په جوړولو باندې بودجې لګول کيږي.

دا ويرونه يوې خوا ته پرېږده، دا خو د اداري فساد نه د رازېرېدلو نا خوالو واړه، واړه سرطاني بچيان دي، د هيواد په ډېرو معتبرو او پخوانيو علمي مرکزونو کې لکه: کابل پوهنتون، ننګرهار پوهنتون، کندهار پوهنتون، علومو اکاډيمۍ او ځينو نورو پخوانيو علمي مرکزو کې داسې ناسمې او منفي سيالۍ ، فکري تضادونه، له بهرنيانو نه په پيروۍ سره نورې داسې ستونزې او تضادونه را منځ ته شوي دي، چې مهارول او را ګرځول يې د نا ممکن برید ته رسيدلي دي او په هره برخه کې د بنسټپالنې افکارو داسې وده کړې چې د هر ډول علمي هڅو مخه يې ډب کړې ده.

ما و نه شو کړای چې د خپل پلان له مخې داسې کتاب، رساله او يا هم مقاله وليکم چې د لوړو زدکړو او پوهنتونونو د پيژندنې او علمي پروګرامونو په برخه کې د لوستونکو له پاره د مالوماتو

بنه ولري، دلیل یې هم همدا و او دی چې هر څه هره ورځ په بیړه هر څه بدلیږي. خواشینونکې خوا لا دا ده چې د دې نویو بدلونو ډیره سلسله منفي جنبه لري چې دا نه یوازې اکادیمیکو کړیو او علمي آدرسونو ته ډیر تاوان رسوي، بلکې د افغانستان نامه او حېثیت ته په نړیواله کچه یې تاوان نه، بلکې تاوانونه رسولي دي او رسوي یې.

د افغانستان د علمي کړیو ډیر ښه استازې او د تعلیم او اکادیمیکو زدکړو د نهضت مبلغ او فعاله غړی، استاد محمد تنها د علمي مقالو ارزښت، د علم هر زدکړیال او لاروي ته مالوم دی، کله د خپل علمي مسلک د ځینو مغلقو ستونزو د پیژندنې او روښانولو په برخه کې او کله د پاس یادو ستونزو د غوټو د راسپړلو او هغوی ته د حل د لارو چارو د موندنې له پاره لارښود ډوله مقالې لیکي. په دې نږدې ورځو کې یې یوه داسې مقاله په بي بي سي پښتو کې آنلاین شوې ده چې د اکادیمیکو موسساتو پر عیني ستونزو رڼا اچول شوې ده. په دې مقاله «د افغانستان په اکاډمیکه کورنۍ کې نا اعلان شوې جګړه» کې یادې ستونزې ډیرې ښې په نښه شوې او څیړل شوې دي او د دې نا اعلان شوې جګړې پر بیلابیلو هغو اړخونو رڼا اچول شوې ده، چې همدا اوس د افغانستان ټولې اکادیمیکې کړۍ ور سره لاس ګریوان دي.

څنګه چې استاد تنها په ډیره لنډه مقاله کې د یادې موضوع مهموالي ته په کتو سره په ډیره ښه وجه د موضوع حق ادا کړی دی؛ نو ما و غوښتل چې دا مقاله له درنو لوستونکو سره شریکه کړم:«

## لوړې زده کړې:

### د افغانستان په اکاډمیکه کورنۍ کې نااعلان شوې جګړه

پوهنیار محمد تنها

د جرمني هانوور پوهنتون

۲۲ لیندۍ ۱۳۹۵ - ۱۲ ډیسمبر ۲۰۱۶

په ۲۰۱۱ کې د جرمني اکاډمیکو همکاریو اداري ملګرو په کابل کې له ما وغوښتل چې د یوڅه مودې لپاره دې هرات پوهنتون ته د تدریس په پار لاړ شم، ما ته دې خبرې چنداني خوند را نه کړ او وړاندیز مې زړه نا زړه رد کړ، د خوند نه راکړې دلیل یې دا وو چې نه یوازې د کابل او هرات پوهنتونونو بلکې د افغانستان ټولو پوهنتونونو او اکاډمیکو ادارو کدري کارکوونکي یو له بل سره په یوه نا اعلان شوې جګړه کې ښکېل دي.

د افغانستان ستر او زاړه علمي مرکزونه ډېرې وخت د داسې عمر خوړلو کدرونو په اوجره بدل شوي چې په انټرنېټ او نړیوالو خصوصاً انګرېزي ژبې نه پوهاوي دوی څنډې ته کړي او علمي کار یې په نشت حساب دی.

دې علمي انزوا دوی دې ته اړ ایستي چې له هرهغه چا او اداري سره دښمني وکړي چې د څېړنو عصري وسایلو په کارونې باندې پوه او په نړیوالو ژبو د اخځلیک په اخیستلو کې ستونزه و نه لري.

له بلې خوا په تېرو څو لسیزو کې د بل هر ځای په شان د افغانستان اکاډمیکې اداري هم د احزابو او ډلګیو تر منځ وېشل شوي، که څه هم فکري اختلاف باید د علمي کار خنډ و نه ګرځي خو متاسفانه زموږ په علمي مرکزونو کې د خنډ ستر لاملونه فکري او حزبي اختلافات وي.

ځينو هغو ته چې د کمونيستي نظام په وخت کې يې زدکړې کړې مجاهد او دين پلوو ته بې منطقه او ساده ښکاري او هغه چې بيا د مجاهدينو او له هغه وروسته نظامونو کې راغلي پخوانيو هغو ته سرناخلاصي او ماشيني ښکاري.

هره ډله هغه ايډيالوژي سمه بولي چې د دوی درسي چاپېريال باندې حاکمه وه، له عربو او ګاونډيو هېوادونو راغليو ځينو کدرونو ته يوازې عربيزم ښه ښکاري او له غربه راغليو هغو ته يې يوازې غربېزم، په داسې حال کې چې دواړه ناسم او تولېزه پرېکړه کوي.

دې چارې آن د چپترونو او کتابونو په ليکلو کې هم ستونزې را منځ ته کړې، د بېلګې په ډول که چېرته کمونيست پلوه کدرونه د ډاروين تيوري باندې څه ليکي نو هڅه کوي چې د تفريط او فکري غچ اخيستنې له وجهې د ډاروين تر تيوري هاخوا ووځي او که مجاهد پلوه بيا په دې تيوري څه ليکي هغه بيا نو د افراط له وجهې دا مسئله چورلټ حماقت بولي.

د جهاد وختونو کې به آن له د لمړيو ټولګيو حساب زدکړې د مرميو، مړيو او وسلو په شمېر باندې کېدلې چې دې چارې آن تر اوسه زموږ نسلونه جنګي، احساساتي او آن حرفوي قاتلين ګرځولي.

تراژيدي له همدې ځايه پيلېږي چې ساينس ته خلک د خپلو عقيدوي او حزبي درځو له چولې وګوري، په داسې وخت کې ساينس خپل ماهيت او علمي ليکنې خپله منځپانګه دلاسه ورکوي، پوهنتونونه او علمي مرکزونه په لوی لاس د افراطيت په لور کشول کېږي.

يوه ملګري استاد مې دا څو ورځې مخکې سر ټکاوه چې د افغانستان يوه ستر او نامتو پوهنتون د ټولګي په څوکيو ليکل شوي "داعش زنده باد" آيا دا پوښتنه چا وکړه چې دا فکر له کومه را منځ ته شو او چا تر پوهنتون پورې را ورساوه؟

خو همدې بنسټپاله استادانو د هغه بل غرب پاله استاد څخه د غچ اخيستنې او د خپل فکري ګروپ پنځونې په پار په لوی لاس دا فکر د پوهنتون تر ټولګي پورې را رسولی.
له بده مرغه چې يو وخت به مو په پوهنتونونو کې د مارکس او لېنن صفتونه کول، نن د ترهګرو ډلو کوو چې په دې اړه نظر څه آن له ځان سره هم خبره کول ستره ټابو ده چې بايد ماته شي، دا حالت زموږ اکاډميکي مينځپانګې خوساتوب پيغام راکوي، که يې مخه و نه نيسو ملت په لوی لاس ډوبوو.

په نړۍ او آن ګاونډيو اسلامي هېوادونو کې د ساينس او څېړنو د پراختيا او پرمختګ يو راز دا دی چې د هرې عقيدې او باور خلک په علمي موضوعاتو سره همغږي دي او که چېرې همغږي هم نه وي لږ تر لږه يو بل ته غوږ نيسي.

### فکري وده او زغم:

خپل فکري، اختلاف ته ناپوه او احساساتي ځوانانو پورې ټولګي ته نه را ځغلوي، همدا يو بل ته غوږ نيول او په يوه موضوع باندې له مختلفو اړخونو موافق او مخالف نظر ورکول د دې لامل کېږي چې يوه مثبت پرمختګ ته لاره هواره کړي.

په دې تړاو جرمنی فيلسوف هيګل وايي چې د نظر ورکړه او مخالفت فکري وده او پرمختګ را منځ ته کوي. له بده مرغه زموږ ټوپکوالو ډلو په شان زموږ د اکاډميکې کورنۍ غړی هم ديته لېواله نه دي چې يو بل واوري او وزغمي.

د نړۍ او سيمې په ټولو سترو او وړو علمي او څېړنيزو مرکزنو کې په اوونۍ کې لږ تر لږه يو علمي سمينار وي چې يو همکار خپل علمي کار نورو همکارانو او يا هم آن د بل ښار يا

هېواد ورته څېړنيز ګروپ ته وړاندې کوي، دا چاره د يوه اکاډميک کارکوونکي او څېړونکي د ورځنيو دندو څخه يوه ده خو په افغانستان کې دا دود هر چا ته نا آشنا ښکاري.

د افغانستان اکاډميکو ادارو د ډېريو په اصطلاح علمي سمينارونو کې چې په غير نړيوال کيفيت يوازې د علمي رتبې اخيستلو په پار تر سره کېږي د ګډون بلنې څخه وروسته د ګډونوال لومړنۍ پوښتنه دا نه وي چې موضوع څه او په کوم ميکانيزم څېړنه پرې شوې، بلکې موضوع دا وي چې چاى او ډوډۍ په کې شته او کنه؟ که دا نه وي په کې نو آن د ډېرې مهمې علمي څېړنې لپاره هم څوک لس دقيقې خپل وخت نه ورکوي.

زما ښه په ياد دي چې ما يو وخت له يوې اکاډميکې او څېړنيزې ادارې وغوښتل چې زه به ورشم او خپلې څېړنپايلې به ورسره شريکې او د دوی نظرونه به پرې واخلم خو د ادارې مشر راته وويل چې انډيواله دلته ټول په شخصي پوهنتونونو کې په تدريس بوخت دي، څوک نه درته کېني هسې خپل ځان مه په عذابوه.

## د حسادت ناروغي:

بله مسئله چې د افغانستان اکاډميکې کورنۍ غرې يې په داسې نااعلان شوې جګړه کې ښکېل او يو له بله سره پاشلي دي په افغاني ټولنه کې د حسادت ناروغي ده، آن زموږ په اکاډميکه کورنۍ کې تر ډېره د يو چا منډې ترړې نه يوازې چې نه ستايل کېږي بلکې غندل کېږي، په ټيټه سترګه ورته کتل کېږي، هڅه کېږي کار يې بې ارزښته وښوول شي او داسې وښيي چې دا کس د خپل ځان د مشهورولو په پار لګيا دی.

آن فرض يې کړه چې د ځان په مشهورتيا هم لګيا وي مګر کار ته خو يې بايد کار وويل شي ځکه انسان د پرمختګ په پار هڅونې ته اړ دی، ما له ډېرو ملګرو او آن اکاډميکو همکارانو اورېدلي چې زما او ماته ورته نورو ملګرو غړ پورته کول يې يوازې د ځان په ګټه د فېسبوکي شهرت په پار هڅه بللې.

دا په داسې حال کې ده چې دوی په خپله په دا ټولو ناخوالو خبر وي خو د ځان او موقف ساتنې په پار له ډاره خوله نه چوله کوي چې دا چاره په خپله د همدې تراژيک حالت غځونې بله غير ارادي هڅه ده.

## له فکري پلوه فلج:

دا او دېته ورته چارو د افغانستان اکاډميکه کورنۍ په بشپړه توګه فلج کړې.

اوس د څېړنيزو مقالو او په نړيوالو څېړنيزو فورمونو کې د فعالې ونډې پېر دی، د يوه هېواد اکاډميکه سويه د هغه له نړيوالو کلنيو چاپ شويو څېړنپايو څخه ښکاري چې له بده مرغه موږ په دې برخه کې په نشت حساب يوو.

زه يو وخت د خپلې يوې څېړنپانې مقدمې ليکلو لپاره په افغانستان کې د سمڅو اوسېدونکو وګړو شمېر اخځليک پسې ګرځېدم، د بي بي سي له يوه ريپوټ پرته مې هيڅ علمي اخځليک نه ومونډ.

دې ته ورته په هره برخه کې همداسې د کره څېړنيزو مالوماتو بحران لرو.

## ګاونډي هېوادونه او موږ:

زموږ ګاونډي هېوادونه په نړيوالو څېړنيزو مجلو کې په کال کې له ۵۰۰۰ څخه نيولې تر ۱۰۰۰۰ پورې څېړنيزې مقالې خپروي، له ټولنيز ساينس څخه نيولې بيا تر طبيعي ساينس پورې څېړونکي يې په نړيوالو کانفرانسونو، سمينارونو او غونډو کې برخې اخلي، څېړنې وړاندې

کوي او اکاډمېکې اړیکې تامینوي خو موږ چې کله هم په لس کاله کې یوې څېړنیزې او علمي ناستې ته ولاړ شو نو وخت یوازې په چکر او منظرو تېروو.

زه له ډېرو افغان همکارانو سره په ځینو پوره او نیمه څېړنیزو او تخنیکي سفرونو تللی یم، متاسفانه زموږ ونډه هر وخت یوازې د چکر او تفریح تر بریده وه، دا ځکه چې موږ علمي منځپانګه نه لرو، موږ علمي او څېړنیز کار نه دی کړی او د فکري انحراف طیف مو د نړۍ هېڅ هېواد له طیف سره اړخ نه لګوي.

موږ له نړۍ سره په اکاډمیکه ژبه نه پوهېږو، موږ اصلاً د وینا لپاره له سره څه نه لرو. دا پورته هر لیکل شوي څه د ټولو په اړه نه دي.

که د افغانستان اکاډمېکې کورنۍ تر منځ دا نااعلان شوې جګړه ختمه نه شي، که موږ لومړۍ په کور دننه بیا د سیمې او نړۍ په کچه د علمي ناستو او راکړې ورکړې پلونه و نه رغوو، که چېرې موږ په خپلو اکاډمیکو ادارو کې لږ تر لږه د فکري اختلاف زغم او علمي پرمختګ هڅو ستاینو ته لاره هواره نه کړو نو بویه چې تر قیامته به مو د سوال لاس بل ته غځولی وي.

که موږ اکاډمیکه کورنۍ سره پخلا نه کړو له ټوپکماره مو د پخلا کېدو تمه غیر منطقي ده.

زه په دې هیله یم چې د لوړو زدکړو وزارت او نورې اکاډمیکې ادارې به د نوي کال په بودیجه کې په کوردننه، سیمیزې او نړیوالې اکاډمیکې راکړې ورکړې په پار ځانګړې بودیجې ته ځای ورکړي.

# کابل پوهنتون

## پخواني ټپونه، اوسنۍ وینې

کابل پوهنتون د هېواد یو سترعلمي مرکز او زما د زړه حیثیت لري، زه د خپلې تاندې ځوانۍ په شلمه پوړۍ کې وم چې د علم دې بڼ ته ورننوتم او زما د علمي فرهنګي ژوند بډایه خزانه په همدې کلونو کې داسې شتمنه شوه چې تر نن پورې وربانديې ویاړم او ځان شتمن احساسوم؛ تر هغو په کې ګرځېدم چې د تیارو استازو خپل ناولي قدمونه په کې کېښودل.

نن د افغانستان د پوهې پر تېنده زړه کابل پوهنتون باندې د تيارو استازو داسې بريد وکړ چې د پوهې د دې مرکز ګڼ اولادونه يې په وينو کې ولمبول او په اور کې يې وسېځل.

زموږ په هېواد کې مسلح مخالفين داسې نظامي سياسي حرکتونه کوي چې په تاريخ کې سارى نه لري او داسې عملونه ترسره کوي چې د چا ورته پام هم نه وي او د دې وطن د تپې وجود داسې زخمونه راګروي چې په هره شېبه کې وينې دارې ورنه وهي.

جنجال دا دى چې د نيابتي جګړې مزدور سرتيري تر هغه څه هم زيات کوي چې بادارانو يې ورته ويلي وي، د يو دز پر ځای لس ډزې کوي او د پنځو تنو په ځای لس تنه وژني، د يوې وداني پر ځای دوه درې لا ډېرې سوځوي او په بمونو يې الوزوي.

د کابل پوهنتون نننۍ غميزه په هېڅ ډول د توجه وړ نه ده. نه د اسلامي رژيم د قايمولو په نامه، د سيکولرانو د وژنې په نامه، نه د مقدس جهاد په نامه، نه د امارت د جوړېدو په نامه او نه هم په بل نامه.

په هر نامه چې وي، اوس يې دا کار ترسره کړ او ګڼ ځوانان يې د ګور د تيارو ميلمانه کړل او تر دې هم رنځونکي دا ده په دې حملې سره يې د دې وطن بچيانو او ځوان نسل ته داسې ټکان ورکړ چې روح او روان يې ورته ټپي کړ او د داسې يوې راتلونکي انځور يې په مخ کې ورته کېښوده چې ورنږدې کېدل يې لا وحشتناکه دي.

د ټوپکي تنظيمي رژيم د راتګ په وخت کې زه له افغانستان نه بهر په يوه سفر بوخت وم. کله چې له سفر نه بېرته راوګرځېدم او په لومړۍ ورځ پوهنتون ته لاړم، څه مې چې وليدل او له څه سره چې مخ شوم؛ خپلو يادداشتونو کې مې وليکل او په خپل يو کتاب (لارورکي لارويان) کې مې خپاره کړل. دلته به يې داسې يوه لنډه برخه راوخلم چې د نننۍ تپې پوهنتون يوه پخوانۍ په وينو لړلې منظره ښيي:

## نوی پوهنتون:

... زموږ په ټولنه کې د دې ناڅاپي منفي بدلونونو په ليدلو سره، واقعاً پر ما باندې يو قوي شوک راغى او هره شيبه به مې په زړه کې همدا ګرځيدل:

يا خدايه!

دا څه وشول، څه به کيږي او...

خو لکه مريض چې له انستيزي څخه را بيداريږي؛ ورو، ورو را ويښيدم، په نويو خبرو او نويو روابطوباندې پوهيدم.

شپه تيره شوه، په سبا يې پوهنتون ته لاړم، په دفتر کې مې څه نا بشپړعلمي تحقيقي کارونه وو، چې هغه را ټول او کور ته يې راوړم. په لاره کې مې خپل همکاران، د پښتو څانګې استادان صابر خويشکی او خالـق رشيد وليدل. له خوږې ستړې مه شې نه وروسته يې په تنده لهجه را ته و ويل:

«دا هم د راتګ وخت و چې ته له بهر نه بيرته راغلې؟ دلته اور بل شوی، خلک له اوره تښتي، ته بيرته ورته راغلې، راځه اوس يې ګا له!»

زه او استاد خالـق رشيد په يوه دفتر کې سره کيناستو، هغه ته مې و ويل:

يو وار به دفتر ته لاړشو، چې زه خپل ياد داشتونه را واخلم. هغه له تمسخر او زړه خوږې نه ډکه خندا وکړه او وې ويل:

راځه!

دا وخت پوهنتون د ایران پلوه حزب وحدت د ټوپکیانوغنیمت شمیرل کیده. د ادبیاتو پوهنځي ودانۍ ته چي ور نږدې شوو، خالـق رشید را ته و ویل:

دفتر ته دې ګوره!

که ګورم کړکۍ ماتې او هر څه درې وړې وو.

له دفترنه هیڅ په لاس رانغلل. زما په یاد داشتونو او نیمه کارونو کې څو نیم کاره مقالې او یو نیم کاره کتاب و. دا کتاب «د خوشحال د کلاياتو نوملیک» نومیده. ما څو کاله په دې کتاب کار کړی و، ښایسته ډیر مواد مې را ټول کړي وو، څو نور کلونه یې غوښتل چي بشپړ شي، خو مخکي له بشپړیدو یې د ټوپکیانو چاې او نغري ور تاوده کړي وو. دغه راز د سلو عنوانونو په شاو خوا کې، زما شخصي کتابونه هم تالا شوي وو.

ما د کتابونو، پاڼو او یاد داشتونو غم کاوه، خو ورو، ورو پوهیدم چي دا خلک زما د کتابونو، پاڼو، علمي کارونو، زده کړو، پوهنتون او... نه یوازې دا چي خیال نه ساتي او په غم کې یې نه دي؛ بلکي اصلاً یې په رسمیت هم نه پیژني او په مقابل کې د انسان وژنه، غلا، د خلکو سپکاوی، د تاریخي آثارو لوټ یا ورانول، د خلکو په ناموس باندې تیری او... د دوی اصلي دنده او ورځنۍ کار دی.

لکه ځیني موجودات چي په ژمني خوب څو میاشتی درانده ویده کیږي، زه هم د پیل په غوږ کې ویده وم، خو د دې شیانو په لیدلو او اوریدلو، ورو ـ ورو له درانه خوبه را ویښیدم. لکه د شاعر خبره:

«... رقیبانو اورلړونی د تنورکړم»

ډیر خلک لکه وچ لرګي په تناره کې وسوځیدل، خو زه اور لړونی شوم، هره ورځ سوځیدم. زه ناڅاپي د ټوپکیانو د تناره اور لړونی شوم، هره ورځ د دوی په تناره کې سوځیدم. زما د کتابخانې کتابونه، زما لیکلي چاپ او نا چاپ آثار هم زما په شاني هره ورځ یوه، یوه پاڼه د ټوپکیانو د نغریو او بخاریو اورلړوني شول.

دا اورلګونه نه یوازې په کابل پوهنتون کې روانه وه، بلکي په ټولوهغو سیمو کې چي ټوپکیان حاکم وو، دا غمیزه د نورو غمیزو تر څنګ په خوند سره روانه وه. دا یوازې په پوهنتون پورې نه وه تړلې، بلکي د دې اور لمبې هره خوا بل کړای شوې وې...

په دې ډول له ټوپکیانونه انسانان لا څه چي کتابونه هم خلاص نه وو.

دا د دویم لاس خبره نه ده، زما د سترګو لیدلی حال دی. پوهنتون هسې په نامه پوهنتون و. یوازې تون یې پاتې و، او پوهه یې په خپل کار پسي تللې وه. وحدتي ټوپکیانو له پوهنتون څخه لیونتون جوړ کړی و.

اوږدې ببرې ږیرې، مردار ناولي مخونه ټوپکونه په اوږو؛ دلې، دلې هره خوا ګرځیدل. دا وخت پوهنتون د یو رینتیني زندان حیثیت درلود؛ خو د وحدتي ټوپکیانو اصلي زندان د ادبیاتو په پوهنځي کې روسي ډیپارتمنت و، ځکه چي د روسي څانګي د ژبې زدکړې د لابراتوار خوني اوسپنیزې پنجرې درلودې. د وحدتیانو له خوا ټول اسیر کړای شوی خلک په دې لابراتوار کې ساتل کیدل.

وحدتي ټوپکیانو (د ایران د نیابتي جګړې سرتیري) دا وخت دوو خواوو ته خوله اچوله:

د آسمايي د غره د پاسه د شورای نظار ليوانو ته او په ميرويس ميدان کې د سياف جان؟ توپکيانوته.

جګړه خو اصلاً وحشت دی. خو دوی دا وحشت، د کلمې په اصلي مفهوم تر سره کاوه. تر هغه جالبه خولا دا ده چې تر نن پورې وياړ هم پرې کوي او په بدل کې امتيازونه هم غواړي...

د دې غمېزې داستان ډېره اوږد دی.

«خرخوي يې رهبران په سوداګرو
خدای دې مل شي د وطن او د ملګرو»

# تاسو افغانان نه یاست

د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر د میاشتې ډیرې ورځې مې په کیف کې له لطیف لالا(ډاکتر صاحب لطیف بهاند) سره تیرې کړې. د کیف منې ښکلې و، خو دود غړن. دا لوګي د جګړې نه وو. سره له دې چې د جګړې تاثیرات د خلکو او ټولنې په ژوند کې له ورایه لیدل کیدل، خو تر اوسه کیف ته د روسیې او اوکراین په پوله کې د بل کړای شوې جګړې اور او لوګي نه وو را رسیدلي. دا د وچو پاڼو لوګي وو. په کیف کې هم د دیمو کراسی تر پردې لاندې ښاروالی خپل کارونه سم نه تر سره کول. مقامات د کار پر ځای په پچه سپاره وو او د امریکا ـ اروپا خوبونه یې لیدل. له ونو راتویې وچې پاڼې د دې پر ځای چې له ښاره ویستل شي، همالته د ښار په منځ کې د ونو او لارو په څنګونو کې سو ځول کیدې او لوګو یې د کیف آسمان او هوا سره لړلي وو.

زما لالا د اکراین په کیف کې د افغانستان د سفارت مرستیال سفیر دی. زه به هره کاري ورځ کې له ده سره د کار ځای ته تلمه. په سفارت کې دوی د «ملکه ثریا کتابتون» په نامه یوه کتابخانه پرانستې وه او ښایسته ډیر کتابونه یې په کې راټول کړي وو. لا لا به د کمپیوټر تنې شرقولي ا و زه به کرۍ ورځ د ده په دفتر کې مطالعې ته اړم وم:

د استاد خلیل الله خلیلي له خولې لیکل شوي یاد داشتونه راته په زړه پورې و، خو سل په سلو کې یې په نګه والي شک من شوم.

«افغانستان در آتش نفت» کتاب سره له دې چې په زړه پورې و، خو د یوې ډلې د پلویتوب تله په کې درنه وه، خو بیا مې هم د دې له پاره خوښ شو چې د تحقیق په اصولو کې لیکوال راته تر ډیره بریالی ښکاره شو او...

له دې نه وروسته به مو په فارغ وخت کې د کیف تاریخي ځایونه، موزیمونه، دکانونه، بازارونه، میترو، بڼونه، پارکونه او نور په زړه پورې ځایونه لیدل.

د سیاسی، نظامي او انقلابي اړو دوړ په سلسله کې خلک خوار بیکاره، سر ګردانه، زیر زبښلي وو او د نامالومي راتلونکې په باب یې فکر کاوه. نرخونه ډیر جګ او د خلکو جیبونه تش وو. د چکرونو په سلسله کې د ۲۰۱۴ کال د اګست په ۱۸ نیټه ماسپښین مهال یو پارک ته تلونکي وو، چې د لالا تلیفون غږ وکړ. که ګورم چې لالا ورته وویل: درغلو.

لالا ویل چې له ماسکو نه میرویس راغلی، غواړي چې ودې ګوري. ما ویل دا خو ښه وشول. میرویس زما یو پیژندګلو افغان دی چې همالته یې ماسکو کې درس ویلی و، ښه بلد و موږ سره یې په ګاونډ کې ژوند کاوه او یو څه خوږې ترخې مو سره په ګډه تیرې کړې وې.

څو شیبې وروسته که ګورم چې میرویس راغی، څوارلس کاله مو نه وو سره لیدلي. ښه بدل شوی وو، خو له خولې نه یې خندا ورکه نه وه .ستړې مه شې نه وروسته مو څو شیبې په هغه پارک کې چکر وواهه، بیا د ده د اوسیدو ځای ته وخوځیدو.

د لارې پر سر یوې اکرایینې میرمنې ترکاري او تازه میوه خرڅوله. میرویس ویل چې دلته به زه لږ ترکاري واخلم. زه او لالا هم ورسره ودریدو. ښځې کله چې رومیان په کڅوړه کې اچول،

د سترګو له کونجو نه يې په غلا موږ ته کتل. ښکاريدل چې څه يې په زړه کې ګرځي. له يوه سترې ستمهارې نه وروسته يې له ميرويس نه وپوښتل:

ترکان ياستئ؟

ميرويس په خندا ورته وويل:

نه موږ ترکان نه يو.

نو د کوم ځای ياستئ؟

ميرويس ورته وويل:

موږ افغانان يو.

ښځې په نا راضي لهجه وويل:

افغانانو ته ورته نه ياستئ. او بيا يې له خندا په ډکه خوله د خپلې لومړنۍ جملې په تاييد سره وويل:

هيڅ امکان نه لري چې تاسو دې افغانان و اوسئ.

ميرويس بيا ورته وويل چې موږ افغانان يو. ښځې بيا په ټينګار سره وويل چې تاسو افغانانو ته نه پاتې کيږئ.

موږ ورته وويل چې ته د کوم دليل له مخې دا خبره کوې چې موږ افغانانو ته نه پاتې کيږو؟ سم د لاسه يې په ډيره حق په جانبه لهجه او ډاډ سره وويل:

ولې لنګوټۍ نه لرئ؟

افغان خو له لرې پيژندل کيږي چې يوه ښه اوږده ټوټه يې له سره تاو کړې وي او برند روان وي.

موږ يو بل ته سره وکتل، او ورنه روان شوو.

# مشرانو تاسو د ټوپک تخم کرلی ولې؟

د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په لومړۍ نیټه په فیسبوک کې د دانشمند دوست، انجنیر زهیر شینواري له برکته، د ښاغلي شاه نواز باقر له دې شعر سره مخ شوم:

چې مې په کار و، په نوم کاڼی پـه چینه کې نـه و
په دغه ښار کـې زړه د هیچا پـه سینه کې نـه و

سترګي مې روباستي له ځانه ځان مې ولید په کي
ستا ملاقات تـه تـلم روغ ځـای پـه ایینه کې نه و

ای مشره! تـاسي د ټـوپک تـخم کـرلـی ولې؟
ای مشره! دا قلـم پـه تـېره زمانــه کې نــه و؟

یووهَ مــاشوم به شرنګولې خلـک حیران و ورته
سیکې پکې وې خـو، سـوری پـه خزانـه کې نه و

بــاقـره! داسې بــې ارزښتــه زنــدګي تېرېــده
چې هیڅ کردار د چا دژونـد په افسانه کې نه و

https://www.facebook.com/profile.php?id=100005151948618&fref=nf

شعر زما له پاره په زړه پورې و. ځو ځلې مې ولوست. نور شعر یوې خوا ته، دا یوه پوښتنه چې د شعر په یوه بیت کې مطرح شوې ده جدي او د ځواب غوښتونکې ده.

یوه خبره چې د اوسني وخت او اوسني نسل له پاره ډېره جدي ده هغه دا ده چې باید اوسنی نسل دومره چې د تیرو نسلونو په کړنو وياړي او دا مشران هم ځانونه واجب الاحترام ګڼي، همدومره باید د مسولیت احساس هم وکړي او د خپلو کړنو ځواب و وایي. زه خپله هیڅ د دې پلوی نه یم چې ځوک و وایي:

«ځه ځي کوي، تیر په هیره»

نه باید هر ځوک او هر نسل د خپل وخت او کړنو ځواب ولري، په تیره هغه ځوک چې له نوي نسل نه د درناوي هیله لري.

اوس د دې شاعر دغې مطرح کړې پوښتنې ته ځوک ځواب ویلای شي:

ای مشره! تاسي د ټوپک تخم کرلی ولې؟
ای مشره! دا قلم په تېره زمانه کې نــه و؟

که څوک غواړي که يي نه غواړي، نوی نسل حق لري چي دا او دي ته ورته پوښتني مطرح کړي په تيره له هغه چا نه چي له نوي نسل نه د بې اندازي درناوي اميد کوي.

د نورو هيوادونو مشرانو په خپل وخت کي د خپلو خلکو او وطن د پرمختک، آبادۍ او پوهيدني په موخه زدکړه، کار او مطالعه کړي ده، زموږ مشرانو او تير نسل يوازي هغه کارونه کړي دي چي د زدکړي او توليد نښنه او اميد په کي نه ښکاري. يا پيتاوي ته ناست دي، يا يي زرکان او سپي جنګولي دي، يا يي د تربره د وژلو له پاره وسله کارولي ده او تر ټولو بده لا دا چي د همدي وسلي د کارولو او انسان وژني او ورور وژني زړی يي د نوي نسل د ذهن په کرونده کي کرلی دی.

د دي خبرو له يادولو او د دي کرښو له ليکلو نه زما اصلي موخه د نوي نسل د روزلو په سلسله کي په سم لوري د هغوی لارښوونه، زموږ په کلتور کي د نا وړو دودونو د له منځه وړلو له پاره د هڅو په لړ کي د يو بل ګام اوچتول دي.

زه د خپل عمر او د خپل نسل د يو مسوول قلموال په توګه د اوسني او راتلونکو نسلونو د روزلو په موخه دا خپله دنده او مسووليت ګڼم چي پر ټولنه باندي د حاکمو منفي دودونو پر ضد غږ جګ کړم او د حل مثبتي لاري چاري ور ته په نښه کړم.

آيا په ربښتيا په تيرو زمانو کي قلم نه و چي زموږ پخوانيو يوازي ټوپک ته لاس ور تيراوه؟ که ربښتيا قلم نه و او يوازي ټوپک و، نو دا نورو خلکو د ليکلو او د خپلو بچو د باسواده کولو له پاره څه شی کارول؟

نه قلم و، خو موږ د قلم په ځای ټوپک انتخاب کړ او ليک لوست او نقاشۍ پر ځای مو ټوپک، ډزي وژل او ويني تويول انتخاب کړل او اوس دغه نسل بايد دي ته ملا وتړي چي اوسنيو او راتلونکو ته د ټوپک پر ځای قلم او د مرګ په ځای ژوند ور وښيي، که نه وي نو د بيسوادی او جهالت د وزرو له لا غږيدو نه به مو ښځي د قرآن د آيت پر ځای په لمانځه کي د ميړونو او ليورونو نومونه يادوي او د « إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ» پر ځای به «اِنک لکه دی لکه لالک» وايي.

http://www.taand.com/archives/54659

او لکه دا مثال چي ښځي د لمانځه په پای کي د اَسلام عليکم و رحمتَ الله پر ځای «اسلامالیکم د ماشومانو پلاره، اسلاماليکم د ماشومانو پلاره» وايي. او په دي ډول به د همدي ضدي او په يوه ټکي ولاړ نا پوه خلکو په وجي، ټولنه او خلک تر ډيرو نورو وختونو د ناپوهی په تيارو کي پراته وي او راتلونکي نسلونه به مو د پيغور په ډول له ځانه مشرانو ته بيا، بيا په خطاب کي وايي:

ای مشره! تاسي د ټوپک تخم کرلی ولي؟
ای مشره! دا قلم په تېره زمانه کي نـه و؟

# په کابل کې پنځه میلیونه وږي

## له غزې سره پنځه لکه مرسته

هغه څه چې د اسراییلو له جوړیدو نه تر نن پورې شوي دي او کیږي، ټولې نړۍ ته لکه لمر داسې ښکاره دي او نن دا دی هغه ناروا خپل معراج ته رسیدلې ده. پر فلسطنیانو باندې دا بشري غمیزه تپل شوې او باید هر با درده انسان وربانديې غمجن وي، خو نن دا دی زما په خپل کور، کلي او وطن کې یو نه، دوه نه درې نه، بلکې په سلګونو اوزرګونو داسې غمونه پراته دي چې که ټول عمر ورته دریابونه، دریابونه اوښکې تویې کړو، تمام به نه شي، مداوا به نه شي.
زموږ د وطن له دومره غمونو او دردونو سره ـ سره، هر افغان باید له فلسطینیانو سره په ورپېښ غم او درد کې ځان شریک وګڼي، خو دا غمشریکي دا مانا نه لري چې زما اولاد، زما سپینږیرې پلار، زما نا توانه ماشوم، زما خور، مور، کلیوال او وطندار تپې پراته وي او زه خپل لاس لرلي مرهم وروړم د بل چا په زخمونو باندې یې کیږدم.

د غزې د خلکو غم ولې د غزې ګاونډیان او د غزه والو د تره زامن نه خوري چې د سروالانو په افغانستان کې په خیټه ورته درد دی. له خپلو زخمونو نه یې لکه سیل داسې وینې بهیږي، خو دی مرهم او پټۍ غزې ته ور زغلوي.

عربي شتمنو هیوادونو د افغانستان د جګړې د تازه ساتلو له پاره پطرول او ګوګړ رالیږل، زموږ د وطن د نا روا جګړې له پاره یې «بندر بن سلطان» ته دنده وسپارله چې د عربستان له ذخیرو نه دومره تیل ور وشیندي چې لمبې یې آسمانو ته وخیژي. په میلیاردونو ډالر یې زموږ د هیواد د سوځولو له پاره مصرف کړل او اوس یې هم مصرفوي، د هغو پیسو که یوه سلنه د غزې مصیبت ځپلو ته ور ولیږي، ډیره به ښه وي.

دغه د فلسطینیانو تربرونه مخکې له دې چې غزه والو ته دغسې غمیزې ور پیښې شي، ولې له خپل سیاسي اقتصادي ځواک نه په استفادې سره یې د مخنیوي له پاره څه نه کوي؟ نور که هیڅ نه وي په سیمه او جهان باندې دې له خپل سیاسي موثریت نه په استفادې سره د دې نا روا پرضد خپل غږ اوچت کړي. دوی په رنو ورته ګوري، خو غلي ناست دي او...

مګر له یوې سوې سوځته، په جګړې الیل شوې سیمې نه، له افغانستان نه د افغانانو ستونې ورته څیرې شول. زموږ سروالان او ښاروالان په خپل کور کې لږ غمونه لري چې له ځانونو نه «حسن غم کش» جوړ کړي او نورو ته مرستې ورلیږي.

په خپل کور کې یې «شنه سپی» لنګه ده، اوه سري ښاماران یې زېږولي، هره ورځ د افغانستان په نامه یوه سپینږیري بوډا ته خوله وراچوي، ټول وطن تهدیدوي د ټول وطن د تیرولو او سوځولو ګواښونه کوي، خو دوی یې په فکر کې نه دي، غزې ته مرستې ورلیږي.

د خپلو وژل شوو هیوادالو بهول شوې وینې یې تر ځنګنو ورپورته شوي دي، دوی وایی خیر دی، اختر نږدې دی، پیټې به مو په نکریزو شي، خو غزې ته پنځه لکه ډالر له ملي بودجې نه حواله کوي.

د افغانستان سروالان او ښاروالان دې له غزې سره مرسته نه کوي، د بدخشان د طبیعي پیښو د غمیزې له قربانیانوسره دې مرسته وکړي، د پکتیا په وینولړلو هغو انسانانو سره دې مرسته

وکړي چې خپل په وینو لژند عزیزان یې لکه په داش کې خښتي، ځنګ په ځنګ خاورو ته وسپارل او اوس یې بچو ته او یادونو ته له سترګونه اوښکې نه، بلکې وینې تویوي.

د افغانستان سروالان او ښاروالان دې له هغې غزې سره مرسته نه کوي چې غزه والو د ګدایي په پیسو ځان ته په علمي معیارونو برابر ښار چې هر څه لري جوړ کړی دی، زموږ د وطن پلازمینه کابل، له میلیاردونو ډالرو مرستې سره ـ سره یو کانالیزاسیون نه لري.

ډکو او رنځو میتیازو، د ځان مینځلو او کالیو مینځلو له اوبو سره د کابل په سرکونو او کوڅو کې داسې نه تجزیه کیدونکې کیمیاوي ترکیب جوړ کړی دی چې اوس د دنیا کیمیا پوهان ورته لاس تر زنې دي. غزې سره دې د مرستې پر ځای دغه ککړتیا تر ټاکلي ځای پورې ورسوي.

پیشکه چې حیوان دی، خپل مرداری خاورو کې پټوي، خو زموږ سروالان او ښاروالان تر اوسه پورې په دې کار نه دي توانیدلي چې د خپلې پلازمینې د مرداریو د ایستلو له پاره یوه مناسبه لار وباسي، خو غزې سره پنځه لکه ډالره مرسته کوي.

ښاغلو سروالانو!

لطفاً غزې ته مرسته مه لیږئ، د ارګ په پنځوس متری کې افغان میرمن خپل تیخوری ماشوم د لارویانو د زړه سوي د جلبولو په خاطر، د مخدراتو په زور ویده کوي، د هغو په باب فکر وکړئ، نه د غزې د اوسیدونکو په باب.

هر کله مو چې د خپل کور د غوجلغمیو کار برابر کړ، ویرونه مو ورک کړل او د خلکو په خوله کې مو خندا ولیده، بیا د نړۍ د نورو دردیدلو او مظلومانو د اوښکو پاکولو تکل وکړئ.

افغانستان کې هر مشر چې راشي هغه څه نه کوي چې باید ویې کړي، بلکې هغه څه کوي چې باید ویې نه کړي.

زموږ د سروالانو د چپنو تر څنډو لاندې څه روان دي هغه ته یې پام نه دی، خو غزې ته مرستې ورلیږي.

سروال صاحب هره ورځ لا هر ساعت د خپلو وژل شوو هیواد والو، وژل کیدل په کلکو الفاظو غندي، چې اوس به د دې تقبیح نامې د کلیاتو د پانو شمیر لس ګونو زرو ته رسیدلی وي، بس تقبیح ده او غندنه، په عملي ډول هیڅ نه کوي، خو غزې ته پنځه لکه ډالره منظوروي.

کلونه پخوا استاد ګل پاچا الفت «د زیارت ډیوې» نومې نثر کې ویلي وو:

«... څوک چې په ثواب پسې ګرځیدل، ټولو د زیارت ډیوې ولګولې، د خوارانو، غریبانو له حاله نا خبره وو.

هو! د غریبانو په کورونو کې تیاره وه، څکه چا نه لیدل.

دوی باندې یوازې د خدای نظر و او بس.

د دوی ډیوې دې خدای ولګوي، موږ به د زیارت ډیوې بلوو.»

دلته افغانستان کې هم تیاره ده، هیڅ څوک په وینو لیت پیت خلک نه ویني چې مرسته ورسره وکړي یا ماتم ورته اعلان کړي.

موږ به د غزه والو ویر او وینو ته ژاړو او ډالرونه به ورلیږو، د مړو او ټپي افغانانو دې خدای مدد ګار شي.

# د لیکوال پېژندنه:



پوهندوی محمد آصف بهاند د محمد عمر زوی، د ۱۹۵۷م کال د دسمبر په ۲۳مه نېټه د کابل د چهاردهي په شکرالله خان نومي کلي کې زیږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د کابل د علاوالدین په تجربوي ښوونځي کې کړې دي، بیا یې د کابل په محمود طرزي لیسه کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ، خو دولسم ټولګی یې د میدان ښار د نرخ په لیسه کې پای ته ورساوه.

د ۱۳۵۵ کال د حمل په میاشت کې یې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې لوړې زده کړې پیل کړې او په ۱۳۵۸ کال یې د لیسانس سند تر لاسه کړ. له فراغت نه وروسته د کابل د روښان په دارالمعلمین کې د ښوونکي په توګه ومنل شو.

په ۱۳۶۰ کال په ژمي کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په علمي کدر کې ومنل شو. په ۱۳۶۶ کال کې یې د استاد صدیق روهي په لارښوونې د ماسترۍ د تیزس دفاع وکړه.

آصف بهاند له ۱۳۵۶ کال راهیسې شعر وایي، نوی شعر ډېر لیکي، کله، کله یوه نیمه غزله او قصیده هم لیکي. په سل ګونو علمي تحقیقي مقالې، شعرونه او کتابونه یې په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې په معتبرو علمي مجلو او بریښنایي خپرونو کې نشر شوي دي.

د هجري شمسي نېټې په شپېتمه لسیزه کې د څو کلونو له پاره د کابل پوهنتون د علمي مجلې (اجتماعي علوم) د مرستیالۍ دنده ورله غاړې وه.

دغه راز د هجري شمسي نیټې په شپیتمه لسیزه کې د اوږدې مودې له پاره د راډیو افغانستان د روزنې ادارې د علمي پروګرام «موږ او اوریدونکي» لیکوال پاتې شوی دی.

آصف بهاند د افغانستان د لیکوالو ټولنې د مرکزي شورا غړی و.

په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې یې په لسګونو علمي او فرهنګي سمینارونو کې ګډون کړی، مقالې یې ورته لیکلې دي او په یادو سیمینارونو کې یې لوستي دي.

په ماسکو کې د اوږدې مودې له پاره د افغانستان د فرهنګ ټولنې د منشیتوب او د یادې ټولنې د ادبیاتو د څانګې مسولیتونه ورله غاړې وو.

د سویډن په بیلابیلو ښارونو کې، د سویډن هیواد او په سویډن کې د میشتو افغانانو د فرهنګي ټولنو له خوا د مورنۍ ژبې سیمینارونو ته بلل شوی او د یو لکچرر په صفت یې کارنده او فعاله برخه په کې اخیستې، مقالې یې ورته لیکلې دي او له سکندنویایي هیوادونو څخه د مورنۍ ژبې

له راغلو ښوونکو سره يې د مورنۍ ژبې پر ستونزو او په پردي چاپېرپال کې د مورنۍ ژبې د زده کړې او ساتلو پر ستونزو او د حل پر لارو چارو غږېدلی، مشورې يې ورسره کړې او د سويډن په ستاکهولم، يوتيبوري او مالمو ښارونو کې يې ګڼ لکچرونه وړاندې کړي دي.

**آصف بهاند د خپل ادبي فعاليت په اوږدوکې دغه علمي کارونه تر سره کړي دي:**

۱ ـ پښتو ادب له ۱۲۵۰ څخه تر۱۲۹۷ پورې (د ليسانس دورې مونوګراف)،

۲ ـ شعر د پښتو کلاسيکو شاعرانو له نظره (د پوهنيارۍ علمي رتبې ته د لوړېدو له پاره علمي اثر)،

۳ ـ د معاصر پښتو شعر شکل او مضمون (د پوهنملی علمي رتبې ته د لوړېدو له پاره علمي اثر)،

۴ ـ په پښتو شعر کې د انځور او تخيل مسأ له (د پوهندويی علمي رتبې ته د لوړېدو له پاره علمي اثر)،

۵ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، لومړی کتاب، د کابل پوهنتون د نا پـښتو ځانګو له پاره درسي کتاب (ګستـتـنر چاپ)،

۶ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دويم کتاب، د کابل پوهنتون نا پښتو ځانګو له پاره درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۷ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دريم کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو ځانګو درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۸ ـ د پښتو ادبياتو د لرغوني دورې منظوم متون، د پښتو څانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۹ ـ د پښتو ادبياتو د اوسنی دورې منظوم متون، د پښتوڅانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۱۰ ـ د خوشال د دستارنامې منتخبات، د پښتو څانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۱۱ ـ د کوچنيانو ادبيات، د چاپ او خپرونو د دولتي کوميټې له خوا په ۱۳۶۶ کال کې خپورشوی دی او دويمه درجه مطبوعاتي جايزه يې ګټلې ده،

۱۲ ـ مرورہ مځکه (د شعرونو ټولګه) ، په ۲۰۰۹ کال په کابل کې د دانش خپرندويې ټولنې له خوا خپره شوې ده،

۱۳ ـ لاروركي لارويان، لومړی ځل په ۱۳۹۱ کال کې چاپ شوی دی، مومند خپرندويې ټولنې خپور کړی دی او دويم ځل د ۲۰۱۷ کال په جولای کې په افغان جرمن آنلاين کې پر ليکه شوی دی،

۱۴ ــ د سمندر وړه ښاپيری، ليکوال: هانس کريستين اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، په ۲۰۱۸ کال په کابل کې چاپ شوی دی، مومند خپرندويې ټولنې په جلال آباد کې خپور کړی دی،

۱۵ ــ د سمندر وړه ښاپيری او نه (۹) نورې کيسې، ليکوال: هانس کريستين اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۸ کال په جنوري کې په افغان جرمن آنلاين کې پر ليکه شوی دی،

۱۶ ــ لنډۍ او د ښتولو ستونزه، ، د ۲۰۱۸ کال په جون کې په افغان جرمن آنلاين کې پر ليکه شوی دی،

۱۷ ـ د کوچنیانو ادبیات،(د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر، اوسنی حالت) دویم ټوک، د دوه زره اوه لسم (۲۰۱۷) کال په اګست کې، په افغان جرمن آنلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی،

۱۸ ـ د باران سیوری (د شعرونو ټولګه)، ، د ۲۰۱۸ کال په اکتوبر میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی ده،

۱۹ ـ د تعلیم ډیوه او د نوي نسل روزنه (د مقالو ټولګه)، د ۲۰۱۹ کال په فبروری میاشت کې، په افغان جرمن آنلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی،

۲۰ ـ د امپراتور نوې جامې او شپږ نورې کیسې، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۹ کال په می میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۲۱ ـ د افغانستان له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه (د مقالو ټولګه)، د ۲۰۱۹ م کال په سپتمبر میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۲۲ ـ د ډنمارګي فرهنګ څو غوره بېلګې (د ډنمارک او ډنمارکیانو په باب د مقالو ټولګه)، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ م کال په جنوری میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۲۳ ـ یو ځل مې د لاس ورغوی وګوره! (شعري ټولګه)، د ۲۰۲۰ م کال په مارچ میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۲۴ ـ ژوندي یادونه، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ م کال په اپریل میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۲۵ ـ د تللو یادونه، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ م کال په جولای میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۲۶ ـ راشه! چې سترګې مې له مخکې نه راټولې کړمه، (څلورمه شعري ټولګه)، د ۲۰۲۰ کال په سپتمبر میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی،

۲۷ ـ ښځګلي، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ کال په نومبر میاشت کې په افغان جرمن پورټال کې پر لیکه شوی دی،

۲۸ ـ موري مننه چې ویده دې کړمه (پنځمه شعري ټولګه)، د ۲۰۲۱ کال په مارچ میاشت کې په افغان جرمن پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۲۹ ـ مورنی ژبه، تعلیمي نصاب او څو نورې مقالې، همدا کتاب.

**چاپ یا آنلاین کولو ته تیار:**

ـ د شعرونو دوې ټولګې،

ـ او درې عنوانه څېړنیز کتابونه.

پوهندوی آصف بهاند اوسمهال په ډنمارک کې ژوند کوي او لکه پخوا په فرهنګي کارونو کې فعال دی، خپلو څېړنیزو او تخلیقي کارونو ته دوام ور کوي.

پای